فتاوی رحیمیه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبد الرحیم لاجپوریؒ

خطیب بړی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل

حضرت مولانا غلام ربی

مکتبه فاروقیه
محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob 0300-9007550

فـــتـــاوی رحـــيـــمـــيه

(پنځم جلد)

كتاب الصلوة

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سيد عبدالرحـيم لاجپوري رحمة الله عليه
خطيب بوی جامع مســـجـد راندير ضلع سورت

پښتو ترجمه :

حضرت مــــــــولانا غلام ربي

مکتبه فاروقيه محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

٢٦ په قنوت نازله کی ... شي يا نه ؟ ٢٠
٢٧ د سړي او د ښځي په رکوع کی فرق ٢٠

فهرست

ګڼه	عنوان	صفحه
۱	باب الصلوات	۳
۲	په سجده او قعده کی د لاس ګوتی څه قسم کیږدي	۳
۳	کم عمره هلک د بالغانو په صف کی کله ودریږي ؟	۳
۴	که د سترګو بیماري وي نو د لمونځ څه حکم دی ؟	۳
۵	که متیازی سځیږي نو په ناسته لمونځ پکار دی ؟	۴
٦	که صف کی ځای نه وي نو وروسته چیرته ودریږي ؟	۴
۷	د بیمار سړي په ناسته لمونځ کول	۵
۸	تکبیر تحریمه ، رفع الیدین او د انتقال تکبیرونو صحیح طریقه	۷
۹	په لمانځه کی د رکوع او سجدی تسبیحات	۹
۱۰	له لمانځه نه وروسته دجای نماز د څنډی آړول	۱۰
۱۱	د فاتحی د انتظار فضیلت	۱۱
۱۲	شروع کړی لمونځ دی د اقامت په کیدو مات کړی او که نه ؟	۱۱
۱۳	دلمونځ په سلام کی د وبرکاته زیاتوالی	۱۲
۱۴	په ناسته لمونځ کولو کی د رکوع صحیح طریقه	۱۲
۱۵	په قومه او جلسه کی د دعا حکم	۱۳
۱٦	د مقتدي له کیناستو نه وروسته چی امام سلام وګرځوي	۱۴
۱۷	د سوره فاتحی په شروع او د فاتحی او سوره تر منځ اعوذ بالله ویل	۱۴
۱۸	که د ژبی نه غلط نیت راووځي نو څه حکم لري ؟	۱۵
۱۹	دلمونځ شروع کولو نه وروسته وریاد شو چی	۱۵
۲۰	په هوایي جهاز کی لمونځ کول	۱٦
۲۱	په سجده کی چی د پښو غټه ګوته په زمکه ولګیږي	۱٦
۲۲	چی د قیام په حالت کی تکبیر تحریمه ووایي او بیا فوراً رکوع ته لاړ شي	۱۷
۲۳	ناقص العقل سړی په کوم صف کی ودریږي ؟	۱۷
۲۴	اول صف څه ته وایي ؟	۱۸
۲۵	که یو یا له یو نه زیات مقتدیان وي ؟	۱۹
۲٦	په قنوت نازله کی لاسونه وتړل شي یا نه ؟	۲۰
۲۷	د سړي او د ښځی په رکوع کی فرق	۲۰

گڼه	عنوان	صفحه
۲۸	په تشهد کی اشاری	۲۱
۲۹	په تکبیر تحریمه کی غوږونو پوری لاس اوچتول	۲۲
۳۰	په لمانځه کی د نامه لاندی د لاسونو تړلو ثبوت	۲۳
۳۱	د غیر مقلدینو دعوی چی د حنفیانو لمونځ نه کیږي	۲۵
۳۲	قرائت خلف الامام متعلق تسلي بخش ځواب	۲۵
۳۳	دصحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو آثار	۳٦
۳۴	د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله آثار	۳۷
۳۵	د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه اثر	۳۸
۳٦	د حضرت جابر رضی الله عنه اثر	۳۹
۳۷	د علقمه بن قیس اثر	۳۹
۳۸	خلفای راشدین	۵۰
۳۹	لطائف او معارف	۵۰
۴۰	دعباده رضی الله عنه د حدیث ځواب	۵۵
۴۱	خلاصه د کلام	۵۷
۴۲	رفع الیدین	۵۹
۴۳	د رفع الیدین په باره کی	٦۲
۴۴	امین بالجهر	٦۴
۴۵	د شعبه د روایت د ترجیح اسباب	٦۹
۴٦	سجدی ته د تللو مسنونه طریقه	۷۰
۴۷	د سجدی کولو مسنونه طریقه	۷۰
۴۸	د سړي او د ښځی په لمانځه کی کوم کوم ځای فرق دی	۷۱
۴۹	د سجدی فرق	۷۲
۵۰	د جلسی او قعدی فرقچ	۷۳
۵۱	په قعده کی چی ښی پښه ونه درولی شي یا	۷۴
۵۲	دلمانځه نه په سلام ګرځولو کي دالسلام علیکم پر ځای	۷۴
۵۳	مقتدي تشهد پوره کړي او که د امام پیروي وکړي	۷۵
۵۴	په الله اکبر کی چی الف باندی مد وکړي	۷۵
۵۵	امام دی څومره زور سره قرائت ولولي؟	۷۷
۵٦	له تنوین نه وروسته الف لام راتلو سره قرائت کی پیدا کیدونکي صورتونه	۷۸

صفحه	عنوان	ګڼه
۸۱	که منفرد پسی څوک اقتداء وکړي	۵۷
۸۲	د الحمد لله او د سورت تر منځ بسم الله	۵۸
۸۲	یو سورت په دوه رکعتو کی لوستل	۵۹
۸۲	د علینا پر ځای الینا ویل	٦۰
۸۳	د قرائت د شروع کولو په وخت کی	٦۱
۸۳	په ایاک نستعین کی چی الف حذف کړي	٦۲
۸۴	په هر رکعت کی الحمد لله نه مخکی بسم الله	٦۳
۸۵	په صلوات کسوف کی قرائت خفیه پکار ده او که په زوره	٦۴
۸۵	په لمانځه کی سورتونه د ترتیب په خلاف لوستل	٦۵
۸۵	په قرائت کی د یو سورت فاصله	٦٦
۹٦	په لمانځه کی د قرائت مسنون مقدار	٦۷
۱۱۰	په قرائت کی بندیدو سره رکوع کله وکړي ؟	٦۸
۱۱۲	د ا لله اکبر په باء راکش کوونکي امام پسی کړی لمونځ راګرځول	٦۹
۱۱۳	امام د جنابت په حالت کی لمونځ ورکړی دی	۷۰
۱۱۳	په لمانځه کی د لستوڼو بدوهل	۷۱
۱۱۴	په څلور رکعتي لمونځ کی دری رکعتو باندی سلام وګرځوي	۷۲
۱۱۴	په لفظ د الله اکبر کی د باء او را تر منځ الف زیاتول	۷۳
۱۱۷	امام سهواً الحمدلله یا سورت پریږدي	۷۴
۱۱۷	دعاء قنوت هیریدل	۷۵
۱۱۸	اوله قعده سهواً پاتی شوه او	۷٦
۱۱۸	که په هیر سره سلام ګرځولو کی ناوخته شي ؟	۷۷
۱۱۹	په لمانځه کی چی وړوند راشي نو منع کړی شي یا نه ؟	۷۸
۱۱۹	په مری کی د خوړوالي په محسوسولو سره لمونځ کی فرق راځي او که نه ؟	۷۹
۱۱۹	د هلکانو د صف مخی ته تیریدل جائز دي	۸۰
۱۲۱	د رکعتونو په شمار کی چی شک پیدا شي	۸۱
۱۲۱	که په آخري قعده کی امام فوت شي	۸۲
۱۲۲	له لمونځ شروع کیدو نه بعد	۸۳
۱۲۲	که د ماسپښین په لمانځه کی آخره قعده ونکړي نو ؟	۸۴
۱۲۳	اسویلی کولو سره آواز ووځي او یوه دوه حرفونه ظاهر شي	۸۵

ګڼه	عنوان	صفحه
۸٦	د ستيارو بوتل چې جيب کې وي او لمونځ وکړي	۱۲۵
۸۷	بغير د فکر نه لمونځ کولو نه وروسته قبلې باندې پوهيدل	۱۲۵
۸۸	دخوراک نه وروسته خوله کنګاول	۱۲٦
۸۹	که د لمونځ په حالت کې ماشوم د مورتې وخکي	۱۲۷
۹۰	که په لمانځه کې ژړا راشي	۱۲۷
۹۱	د ماسختن لمانځه کې يې آخري قعده ونکړه	۱۲۷
۹۲	که دلمونځ په حالت کې د امام مرى ته مچ پرى اوځي	۱۲۸
۹۳	که په لمونځ کې وسوسه راشي د هغه علاج	۱۲۹
۹۴	لمانځه لپاره خلک بيداروول	۱۲۹
۹۵	که د تهجد کوونکي پسې خلک اقتداء وکړي نو	۱۳۱
۹٦	که يو مقتدي ګس يا شاته ودروي څه حکم يې دى ؟	۱۳۱
۹۷	په زوره اول صف کې ځاى پيدا کول	۱۳۱
۹۸	که مقتدي امام نه مخکې سلام وګرځوي	۱۳۲
۹۹	داول صف په وړاندې کولو باندې اشکال	۱۳۲
۱۰۰	په لمانځه کې پټکې وهل	۱۳۴
۱۰۱	په لمانځه کې د ږيرې او کپړې سره لوبې کول	۱۳۴
۱۰۲	په لنګ کې خطبه او لمونځ ورکول	۱۳۵
۱۰۳	د مقبرې په جومات کې جماعت ورکول	۱۳۵
۱۰۴	په غصب کړې زمکه کې د لمونځ حکم	۱۳۵
۱۰۵	په لمانخ کې چې توپې پرې اوځي	۱۳٦
۱۰٦	په لمانځه کې په زوره ياالله ويل	۱۳۷
۱۰۷	په يوه پښه باندې زور کولو سره ودريدل	۱۳۷
۱۰۸	د سجدې په وخت کې پرتوګ پورته کول	۱۳۸
۱۰۹	اذان کيدو نه وروسته له جومات څخه بغير د لمونځ نه وتل	۱۳۸
۱۱۰	د ښځو لمونځ په جومات کې	۱۳۹
۱۱۱	امام له مقتديانو څخه څومره اوچت ودريدى شي ؟	۱۴۰
۱۱۲	که امام يواځې په اوچت ځاى ولاړ وي ؟	۱۴۲
۱۱۳	متفرق مسائل	۱۴۳
۱۱۴	يوه تائيدي فتوه	۱۴۴

ګڼه	عنوان	صفحه
۱۱۵	په سر باندی رومال تاوولو سره لمونځ کول	۱۴۵
۱۱۶	په رکوع کی د شامليدو لپاره منډه وهل	۱۴۵
۱۱۷	رکعت او رکوع نيولو لپاره منډه وهل	۱۴۶
۱۱۸	حنفي امام به د شافعي مقتدي دآمين پوره کيدو پوری صبر کوي	۱۴۶
۱۱۹	د رکعت فوت کيدو له ويری د صف نه لری تکبير تحريمه ويل	۱۴۷
۱۲۰	ښځو لپاره په پرده کی جومات ته تلل جائز دي يا نه ؟	۱۴۷
۱۲۱	په لمانځه کی غاړه تازه کول	۱۴۹
۱۲۲	د ماسختن لمانځه نه وړاندی ويده کيدل څنګه دي ؟	۱۴۹
۱۲۳	د سجدی په حالت کی تندي باندی خاوره پری وتل	۱۴۹
۱۲۴	که په لمانځه کی غاړه تازه کړي څه حکم لري ؟	۱۵۰
۱۲۵	په لمانځه کی د بقری د سوری آخر او قل هو الله ا حد لوستل	۱۵۲
۱۲۶	قومه او جلسه په اطمنان سره کوئ	۱۵۳
۱۲۷	اول صف د امام سره برابر ودريدل	۱۵۶
۱۲۸	لوڅ سره لمونځ کول	۱۵۷
۱۲۹	دامام دعذر په وجه د سجدی په وخت کی پر زمکه لاس لګول	۱۵۹
۱۳۰	په لمانځه کی سترګی بندول څنګه دي ؟	۱۵۹
۱۳۱	په لمانځه کی د لستوني لاندی کول	۱۶۰
۱۳۲	د ګيټو لاندی د پنځو ساتل او پکی لمونځ کول	۱۶۱
۱۳۳	د سړو لپاره له ګيټو لاندی پرتوګ او لنګ تړل	۱۶۴
۱۳۴	د لمانځه په حالت کی د خط لوستل	۱۶۵
۱۳۵	په لمانځه کی خپل بدن او کپړی سره لوبی کول	۱۶۶
۱۳۶	که له فرض لمونځ نه وروسته امام پخپل ځای کی سنت وکړي	۱۶۷
۱۳۷	په محراب کی د امام ودريدل کله مکروه دي	۱۶۸
۱۳۸	مسبوق ، لاحق او مدرک	۱۷۰
۱۳۹	په حرم شريف کې د ګڼه ګونی په وجه مسبوق لپاره څه حکم دی ؟	۱۷۰
۱۴۰	د مسبوق تحريمه ويلو سره سم امام سلام وګرځاو	۱۷۱
۱۴۱	ايا مسبوق له امام سره سلام ګرځولی شي ؟	۱۷۱
۱۴۲	که رکوع ته ښکته کيدو سره تکبير تحريمه ووايي څه حکم لري ؟	۱۷۲
۱۴۳	که څلور رکعتي لمونځ کی له امام سره يو رکعت ونيسی نو	۱۷۳

گڼه	عنوان	صفحه
۱۴۴	که د امام لمانځه کی دوه رکعته پاتی شي نو ؟	۱۷۳
۱۴۵	که د یو مسبوق په لیدلو سره دویم مسبوق خپل پاتی شوي رکعتونه یاد کړي	۱۷٦
۱۴٦	د امام د سلام په وخت کی د مسبوق اقتداء حکم	۱۷٦
۱۴۷	که د رکوع او سجدی کولو سره بادخارجیږي نو په ناسته لمونځ کول ځنګه دي ؟	۱۸٦
۱۴۸	په ناسته لمونځ کوونکی رکوع کی زیات ښکته کیدل	۱۸٦
۱۴۹	د سفر او مسافر په باره کی	۱۸۷
۱۵۰	په سفر کی د سنت موکد حکم	۱۸۷
۱۵۱	د لمونځ قصر کولو لپاره څومره سفر شرط دی	۱۸۸
۱۵۲	د اقامت نیت صحیح کیدو لپاره د یوځای تعین شرط دی	۱۸۹
۱۵۳	لنډه او اوږده لاره	۱۸۹
۱۵۴	د سفر احکام کله جاري کیږي	۱۹۰
۱۵۵	څه وخت قصر وکړي او څه وخت ونکړي	۱۹۰
۱۵٦	اصلي وطن ته په رسیدو سره داتمام څه حکم دی ؟	۱۹۱
۱۵۷	وطن اقامت څخه چی اصل وطن ته راشي	۱۹۱
۱۵۸	د وطن اصلي ، وطن اقامت او د شرعي سفر تحقیق	۱۹۲
۱۵۹	مسافر ماسپښین څلور رکعته وکړل	۱۹۳
۱٦۰	که مسافر پوره لمونځ وکړي ؟	۱۹۳
۱٦۱	وطن اقامت په سفر سره باطلیږي	۱۹۴
۱٦۲	وطن اصلي په وطن اقامت سره باطلیږي	۱۹۵
۱٦۳	که م قیم د مسافر امام پسی اقتداء وکړي نو د قرائت څه حکم دی ؟	۱۹۷
۱٦۴	د سفر په حالت کی د سنتو حکم	۱۹۷
۱٦۵	که د شرعي مسافی نه وړاندی د واپسی اراده وکړي	۱۹۸
۱٦٦	وطن اقامت یواځی د سفر په نیت سره نه باطلیږي	۱۹۹
۱٦۷	قیدي لمونځ کله قصر کوي	۲۰۰
۱٦۸	وطن اصلي متعدد کیدلی شي او که نه	۲۰۱
۱٦۹	وطن امامت په شرعي سفر باطلیږي	۲۰۱
۱۷۰	صرف په یوځای کی واده کولو سره هغه ځای وطن اصلي ګرځي	۲۰۲
۱۷۱	که مسافر په غلطی سره څلور رکعته وکړي	۲۰۳
۱۷۲	که روزانه ملازمت لپاره ۵۰ میله سفر وکړي	۲۰۳

ګڼه	عنوان	صفحه
۱۷۳	د ترک دریور کله مسافر ګرځي ؟	۲۰۴
۱۷۴	مسافر مقیم پسې قضائي لمونځ کې اقتداء ولې نشي کولی	۲۰۵
۱۷۵	مسافر مقیم پسې اقتداء وکړ او بیا پته ولګیده	۲۰۵
۱۷۶	که آباديِ زیات شي نو د کوم ځای نه مسافر ګرځي ؟	۲۰۶
۱۷۷	شرعي مسافر کله ګرځي	۲۰۷
۱۷۸	دریور او کلینډر لمونځ پوره ولولي او که قصر یې کړي ؟	۲۰۷
۱۷۹	حنبلي مسافر امام قصر نه کوي نو د حنفي مقیم.....	۲۰۹
۱۸۰	سجده سهوه	۲۱۰
۱۸۱	د فرض لمونځ څلور رکعت الحمد لله سره سورت ویل	۲۱۰
۱۸۲	د الحمد لله په ځای التحیات	۲۱۱
۱۸۳	که په صلوات التسبیح کې تسبیح کم او زیات شي ؟	۲۱۲
۱۸۴	که امام په قرائت کې غلطي وکړي نو سجده سهوه شته ؟	۲۱۲
۱۸۵	سجده سهوه له دواړه طرفه سلام ګرځولوڅه وروسته	۲۱۲
۱۸۶	که سلام اړولو کې سهوه شي	۲۱۳
۱۸۷	که د څلور رکعتیفرض لمونځ کې آخري رکعتو کې سورت ووایي ؟	۲۱۳
۱۸۸	که په سجده سهوه کې د دوه سجدو پر ځای یو سجده وکړي ؟	۲۱۴
۱۸۹	که مسبوق سهواً امام سره سلام وګرځوي	۲۱۴
۱۹۰	که جهري لمونځ کې خفیه او خفیه لمونځ کې جهراً قرائت ووایي	۲۱۵
۱۹۱	که د الحمد لله نه مخکې سورت لوستل شروع کړي	۲۱۶
۱۹۲	د سلام ګرځولو نه مخکې سجده سهوه وکړه	۲۱۷
۱۹۳	که امام د سوره فاتحې نه وروسته فکر وکړي	۲۱۷
۱۹۴	که سلام ګرځولو کې تاخیر وشي نو سجده سهوه لازمیږي او که نه ؟	۲۱۸
۱۹۵	له الحمدلله او او څو ایتونو نه وروسته بیا الحمد لله لوستل	۲۱۸
۱۹۶	که دتشهد څه حصه پاتې شي څه حکم لري ؟	۲۱۹
۱۹۷	که په سجده سهوه کې مسبوق له امام سره سلام وګرځوي؟	۲۲۱
۱۹۸	که مسبوق امام سره سلام وګرځوي نو ؟	۲۲۲
۱۹۹	که رکوع پاتې شي یا یواځې یوه سجده وکړي څه حکم لري ؟	۲۲۳
۲۰۰	که په قرائت کې تکرار وکړي نو سجده سهوه لازمیږي یا نه ؟	۲۲۳
۲۰۱	که امام لومړی یا آخره قعده پریښوده	۲۲۴

صفحه	عنوان	ګڼه
۲۲۵	له سجدی سهوی نه وروسته تشهد ویل ضروري دي یا نه ؟	۲۰۲
۲۲۵	که امام د جهري لمونځ په آخري رکعتونو کی الحمدلله په زوره ووايي ؟	۲۰۳
۲۲۷	د مقتدي په سهوه باندی سجده سهوه	۲۰۴
۲۲۷	که په هیره سره سجده سهوه یو وکړي نو ؟	۲۰۵
۲۲۸	که امام د وتر آخري رکعت کی چپ ودریږي څه حکم لري ؟	۲۰۶
۲۲۹	د فرض آخري رکعتو کی په زوره قرایت کول	۲۰۷
۲۳۰	سجده تلاوت	۲۰۸
۲۳۰	د سجدی آیت مکرر لوستل	۲۰۹
۲۳۰	که د سجدی آیت په آوریدو سره رکوع ته لاړ شي	۲۱۰
۲۳۰	په لمانځه کی سجده تلاوت نه وروسته دوباره سجده لوستل	۲۱۱
۲۳۱	که څو حافظان پخپلو کی د سجدی آیت ولولي ؟	۲۱۲
۲۳۱	په تراویحو کی د سجده تلاوت اعلان وکړي یا نه ؟	۲۱۳
۲۳۲	که د مقتدي په فتح امام د سجدی آیت ولولي	۲۱۴
۲۳۲	په سوره (ص) کی د سجده تلاوت آیت کوم یو دی ؟	۲۱۵
۲۳۳	که د سجدی یو آیت دوه رکعتو کی ولولي ؟	۲۱۶
۲۳۳	لمانځه کی د سجدی تلاوت نه وروسته	۲۱۷
۲۳۴	په رکوع او سجده کی دسجده تلاوت نیت کول	۲۱۸
۲۳۵	د سجده تلاوت نه وروسته د ودریدو سره یوه دوه آیتونو	۲۱۹
۲۳۶	دسجده تلاوتد د یو آیت دتکرار مختلف صورتونه	۲۲۰
۲۳۸	د سجده تلاوت تکرار لوستل	۲۲۱
۲۳۸	ایا د سجده تلاوت د آیت ترجمه لوستلو سره ؟	۲۲۲
۲۳۹	د سجده تلاوت پر خای فدیه ورکول څنګه دي ؟	۲۲۳
۲۳۹	سجده تلاوت	۲۲۴
۲۳۹	دسجدی له آیت نه مخکی سجده کول	۲۲۵
۲۴۱	په یو مجلس کی سجده تلاوت تکرار لوستلو سره	۲۲۶
۲۴۲	ایا له رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ کله قضاء شوی و ؟	۲۲۷
۲۴۳	چی قضائي لمونځ پاتی وي او جماعت ودریږي څه به کوي ؟	۲۲۸
۲۴۳	که جماعت کی له شریکیدو نه وروسته قضا لمونځ وریاد شي ؟	۲۲۹
۲۴۶	بغیر د عذر نه لمونځ نه قضا کول	۲۳۰

ګڼه	عنوان	صفحه
۲۳۱	د بیمار د لمونځ قضاء او فدیه	۲۴۸
۲۳۲	نوافل او سنتونه	۲۴۹
۲۳۳	دماسپښین سنت یی شروع کړ او بیا جمع ودرید	۲۴۹
۲۳۴	په یوه شپه کی د قرآن کریم ختمول	۲۵۰
۲۳۵	د صلوات تسبیح طریقه	۲۵۱
۲۳۶	که تسبیح کم شي نو په سجده سهوه سره پوره کیږي یا نه ؟	۲۵۴
۲۳۷	تحیت المسجد څه حکم لري ؟	۲۵۴
۲۳۸	تحیت الوضوء کولو نه مخکی کیښناستل څنګه دي ؟	۲۵۴
۲۳۹	دباجماعت تهجد کولو حکم	۲۵٦
۲۴۰	که د تهجدو له دوه رکعتو نه وروسته اذان وشي	۲۵۸
۲۴۱	نفل لمونځ کور کی بهتر دی یا حرم شریف کی او یا	۲۵۸
۲۴۲	د ماسختن لمونځ نه مخکی څلور رکعته سنت موکدي دي یا	۲۵۹
۲۴۳	د تهجد د لمونځ صحیح وخت	۲۵۹
۲۴۴	فرض لمونځ یی پاتی وي او نفلو کی لګیا وي	۲٦۰
۲۴۵	داشراق لمونځ لپاره د مکان تعین شرط دی	۲٦۲
۲۴٦	که د سنت کولو نه بغیر فرض شروع کړي څه حکم لري ؟	۲٦۴
۲۴۷	له وترو نه وروسته نفل په ولاړه وکړي یا په ناسته ؟	۲٦۴
۲۴۸	د مازدیګر لمونځ نه مخکی دنفل لمونځ ثواب	۲٦۵
۲۴۹	له ماسپښین او جمعی نه مخکی څلور رکعته سنت په یو سلام سره	۲٦۷
۲۵۰	څوک چی تهجد لپاره نشي پاځیدلی	۲٦۹
۲۵۱	د تهجد په دوران کی د چا په لیدو خوشالیدل	۲٦۹
۲۵۲	صلوات الوتر	۲۷۳
۲۵۳	امام په وترو کی دعاء قنوت ونه لوست	۲۷۳
۲۵۴	د وترو په اول رکعت کی سوره اعلی ، دویم رکعت کی......	۲۷۵
۲۵۵	تهجد ګذارو لپاره هم رمضان کی وتر جمعی سره کول افضل دي	۲۷٦
۲۵٦	د وتر له ادا کولو نه وروسته پته ولګیده چی	۲۷۷
۲۵۷	د وتر په درم رکعت کی چی امام سره شریک شي	۲۷۸
۲۵۸	کوم امام چی تراویح ورکړي ، ایا هغه دی وتر هم ورکړي	۲۷۸
۲۵۹	ایا تهجد ګذار دی وتر جماعت سره وکړي	۲۷۸

ګڼه	عنوان	صفحه
۲٦۰	د وتر په لمانځه کی مسنون قرائت	۲۷۹
۲٦۱	جماعت سره وتر	۲۸۰
۲٦۲	که د وتر دعا چاته یاد نه وي	۲۸۰
۲٦۳	دعاء قنوت سره درود لوستل	۲۸۰
۲٦۴	ایا مقتدي دعاء قنوت پوره کړي یا نه	۲۸۱
۲٦۵	که دعاء قنوت پاتی شي ؟	۲۸۱
۲٦٦	که په وترو کی دعاء قنوت پاتی شي ؟	۲۸۱

باب صفة الصلوة

ـ په سجده او قعده کی د لاس ګوتی څه قسم کیږدي؟

(۱ سوال) اوله قعده او سجده کی دلاس ګوتی څه قسم کیږي کولاوی یا بندی؟

(جواب) سرو لپاره په رکوع د دواړو لاسونو ګوتی یو ځای کولو سره پدې شکل ځمکه باندې کیږدی چې د ګوتو سرونه قبلی طرف تـه وی، ددی دواړو حـالتونو نـه عـلاوه ګوتی باید د خپل عادت مطابق وساني نه کولاوی او نه بندی، ضاقا اصـباح يديـه (در مختار) ای ملصقا جنبات بعضها ببعض (فيها) ولا يندب الضم الاهنا ولا التفـريج الا فـی الركوع كما فی الزيلعی وغيره (شامی او ۴۶۵ فصل و اذا اراد الشروع فی الصلوة) فقط.

ـ کم عمره هلک د بالغانو صف کښې کله ودریږي او کلـه ونـه دریږي؟

(۲ سوال) که کم عمره هلک لمونځ کوي د ماسخوتن په لمانځه کی نـور ماشـومان نـه وي نو دغه هلک بالغانو صف کی ودریدلی شي او که يواځی شاته دی ودریږي؟

(جواب) که له يو نه زيات هلکان وي نو ددوی جدا صف جوړولی شـي او د بالغـانو (لويانو) صف کی ودريدل مکروه دی، او که يواځی يو هلک وي نو شاته به يـواځی نـه ودريږي، د سرو سره دی شريک شي، په بحرالرائـق کـی دي: ((ان الصـبی الواحـد لا يقوم منفرداً عن صف الرجال بل يدخل فی صفهم)). يعنی که يواځی يـو هلـک وي نـو يواځی به نه ودريږي بلکې د سړو سره به يواځی ودريږي (ار ۳۵۳ باب الامامه) او پـه درمختار کی دي ((فلوا واحداً دخل الصف)) يعنی که چيرته يو هلک وي نو سړو سـره به يو ځای ودريږی (شامی ار ۵۳۴ باب الامامه مطلب فـی کـلام علـی الصـف الاول)). پدې ذکر شوی مسئله کله چې يو هلک وي او هوښيار وي نـو د لويـانو صـف کـی دی ودريږي، فقط والله اعلم.

ـ که د سترګو بيماري وی نو د لمونځ څه حکم دی؟

(۳ سوال) سترګو کی بيماري ده چی اپريشن کول ضروری دی او که ونه کړي نو نظر يې ختميږي اوس تپوس دا دی چې د اپريشن وخت کی ځينی ورځی په اشاره بانـدې هم ډاکټر د لمونځ کولو اجازه نه کوی نو اپريشن وکړی يا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی دا عذر دی نو اپریشن دی وکړی که د سر په اشاره باندې لمونځ کولی شي نو د قضاء اجازه نشته او که د سر په اشاره سره په لمونځ کولو کی ورته نقصان وي نو پداسی مجبوری کی ورته د لمونځ د قضاء اجازت دی [1] فقط والله اعلم

که میتازی څڅېږي نو ناسته باندې لمونځ کول پکار دی.

(۴ سوال) که یو سړی په ولاړه لمونځ کوی نو د میتازو څاڅکي ترینه څي او په ناسته باندې داسې نه کېږي نو ایا دا سړی په ولاړه لمونځ وکړي یا په ناسته باندی؟

(جواب) داسې سړی دی په ناسته لمونځ وکړی (فتاوی سراجیه (۱۹) صفحه) فقط.

(۵ سوال) که په ولاړه یا ناسته باندې لمونځ کوي نو میتازو څاڅکی ترینه ځـي او په سینه باندې سملاستو سره دا عذر نه وی نو لمونځ څه قسم وکړي؟

(جواب) پدې صورت کی په ملاسته باندې په اشاره د لمونځ کولو اجـازت نشـته، په ولاړه به لمونځ کوی (فتح المفتی والسائل (۹۸))فقط.

که صف کی ځای نه وی نو وروسته کوم ځای کی ودریږي؟

(٦ سوال) که په صف کی ځای نه وي نو وروسته کوم ځای ودرېږي؟ په منځ کی او یا کنج کی؟

(جواب) که په صف کی ځای نه وی نو د امام تر رکوع کولو پورې دی انتظار وکړی که بل کس پیدا شو نو د هغه سره یو ځای د امام ښی طرف ته د صف شاته ودرېږي او که بل څوک رانغی نو بیا دې یواځی هغه ځای کی ودرېږي.

((و متی استوی جانباه یقوم عن یمن الامام ان امکنه و ان وجد فی الصف فرجه سدها والا ینتظر حتی یجیئ آخر فیقفان خلفه و ان لم یجئ حتی یرکع الامام یختار اعلم الناس بهذه المسائل فیجذ به و یقفان خلفه و لو لم یجد عالماً یقف خلف الصف بحذاء الامام للضروره (شامی ج ا ص ۵۳۱) و من اتی الجماعة یکره لـه القیام خلف الصف وحده متی وجد فی الصف فرجة و ان لم یوجد فی الصف فرجه ینتظر الی الرکوع فان جاء واحداً یقوم احدهما فی جنب الاخر بحذاء الامام و الا یجذب واحداً من الصف الی نفسه فیقف فی جنبه لکن الاولی فی زماننا القیام وحده بحذاء الامام لغلبه الجهل علی الناس فلو جرا حدایفسد الصلوه (مجالس الابرار م ۵۴ ص ۳۲۰).

---

[1] -ر ان تعذر القعود و لو حکماً اوما مستلقیاً علی ظهره (درمختار علی هامش شامی صلوة المریض ۲/ ۹۹)

د بیمار سړی په ناسته لمونځ کول:

(۷ سوال) یو بیمار سړی جومات کی له جمعې سره په ناسته لمونځ کوی ددې څه حکم دی ایا جائز دی یا نا جائز؟

(جواب) کوم بیمار چې ودرېدلی نشي یعنی که چیرته ودرېږي نو د راپرېوتو یا د بیماری زیاتېدو یا د زر نه ښه کېدو ویره وي یا ډېر زیات تکلیف ورته وي نو هغه لپاره په ناسته لمونځ کول جائز دی لیکن که د ودرېدو طاقت لری نو بیا ورته په ناسته لمونځ کول روا ندی او که لږ وخت لپاره ودرېدلی شي نو هومره وخت به ودرېږي تر دې پورې که چیرته په ولاړه د تکبیر تحریمې ویلو طاقت وی نو تکبیر تحریمه دی په ولاړه ووایی بیا به کینی، ځینی بیماران ودرېدی شي بیاهم په ناسته تکبیر تحریمه وایي دا جائز ندی، په درمختار کی دی:

((و ان قدر علی بعض القیام و لو متکئا علی عصا او حائط قام لزوماً بقدرما یقدرو لو قدر رآیة او تکبیرة علی المذهب لان البعض معتبر بالکل (درمختار) (قوله علی المذهب) فی شرح الحلوانی نقلا عن الهندوانی لو قدر علی بعض القیام دون تمامه او کان یقدر علی القیام لبعض القراة دون تمامها یومر بان یکبر قائما و یقرأ ما قدر علیه ثم یقعد ان عجزو هو المذهب الصحیح لا یروی خلافه عن اصحابنا و لو ترک هذا خفت ان لا تجوز صلوته (شامی ج ۱ ص ۷۱۰ باب صلوه المریض).

تکبیر تحریمه او رکوع و سجدی ته د تلو تکبیرو نه کله وویل شي؟

(۸ سوال) پدې مسئله کی علماء کرام څه فرمایي چې تکبیر تحریمه کله وویل شي، د لاسونو ترلو نه مخکی او یا لاسونو ترلو سره : (۱) که امام صاحب لاسونو اوچتولو نه وروسته نامه ته رسیدلی وی پدې وخت کی تکبیر تحریمه ووایی نو لمونځ صحیح کېږي یا نه ؟ (۲) که د امام صاحب لاسونه نامه ته رسیدلی وی پدې وخت کی تکبیر تحریمه یو جزء ووایی او د لاسونو ترلو نه وروسته دویم جزء ووایی نو لمونځ صحیح کېږي یا نه ؟ (۳) غرض دا چې تکبیر تحریمه کله شروع کړی او کله یې ختم کړی؟ (۴) د رکوع او د سجدی تکبیرونو صحیح طریقه څه ده؟ (۵) که چیرته امام د لمانځه تکبیرونه د سنت خلاف ووایي نو شرعي حکم څه دی؟

(جواب) تکبیر تحریمه یا تکبیر اولی او د رفع یدینو (لاسـونه پورتـه کـول) بـاره کـی دری قولونه دی (۱) اول دواړه لاسونه تر غوږونو پورې اوچت کړی او تکبیر (الله اکبر) شروع کړی او د ختمېدو سره لاسونه وتړي ، (۲) تکبیر او لاسونه پورته کول دواړه یو خای شروع کړی او یو خای ختم کړی، (۳) اول تکبیر شروع کولـو سـره فـوراً لاسـونه اوچت کړی او یو خای ختم کړی (بحر الرائـق ار ۳۰۵ فصـل و اذا اراد الـدخول فـی الصلوة . درمختار مع الشامی ار ۴۶۵ صفت الصلوه).

د ذکر شوی دریو صورتونو څخه اول او دویم صورت افضل دی، دریم صورت هم جـائز دی مګر معمول بها ندی (هدایه ار ۸۴ باب صفت الصلوه) (شامی و بحر الرائق).

او په جوهره کی دی : ((اصح دا دی چې اول مونځ ګذار دواړه لاسونه اوچت کـړی کله غوږ نو برابری ته ورسي نوتکبیر دی شروع کړي (جوهره ار ۴۹ باب صفت الصلوة) پدې ذکر شوی سوال کی مونځ شوی خو لیکن د لاسونو تر تړلو پـورې تکبیـر وروسـته کولو عادت غلط او مکروه دی دا د ثنا ویلو محل دی نه د تکبیر ویلو، تکبیر د لاسونو تر تړلو پورې ختمول پکار دی، تر لاسونو تړلو پورې وروسته کولو کـی یـو خرابـی دا هـم دی چې په غوږونو دروند او کوڼ مقتدی د امام رفع الیدین لیـدو سـره تکبیـر تحریمـه ووایی نو د امام نه مخکی تکبیر ویلو په وجه د هغه اقتداء او مونځ نـه صـحیح کېږي، څکه که چیرته د تکبیر اولنی لفظ (الله) ویلو کی مقتدی مخکی شي یا د ((الله)) لفظ سره شروع کړی مګر د ((اکبر)) لفظ د امام ختمولو نه مخکی ووایي بیـا هـم اقتـدا نـه صحیح کېږي (درمختار مع الشامی ار ۴۴۸ لهذا امام ته پکار دی چې دا عادت پرېدي ، فقط والله اعلم.

(۲) د رکوع او د سجدی تکبیرونو مسنون طریقه دا ده چې رکوع لپاره ښکته کېدو سره تکبیر شروع کړی او رکوع ته رسیدو سره ختم کړی، همدا شان سـجدی تـه تلـو وخـت کی تکبیر شروع کړی او سجدی ته رسیدو سره ختم کړی، رکوع او سـجدی تـه رسـیدو سره تکبیر ویل خلاف سنت او مکروه دی او دوه قسمه کراهت پکی لازمېږي یو کراهت د ترک محل څکه چې دېته د انتقال تکبیرونه ویل کېږي ، رکـوع او سـجدی طـرف تـه منتقل کېدو یعنی رکوع لپاره ښکته کېدو او سجدی ته د تلو پـه وخـت کـی ددې ویـل پکار دی . دا یې خای وء چې پرې یې ښودو، او دویـم کراهـت د بـې خایـه ادا کولـو دی، یعنی کوم وخت کی چې تکبیر وایې دا د سبحان ربی العظـیم یـا د سـبحان ربـی الاعلی ویلو وخت وء، د تکبیر ویلو وخت نه ؤ ، پدې وخت کی تکبیر بی محل دی، په

منية المصلي او کبيری کی دی [1] لنده دا چې د امام دغه عمل خلاف سنت دی . دغه ته د سنت مطابق عمل کول لازم دی فقط والله اعلم.

تکبير تحريمه ، رفع اليدين او د انتقال د تکبيرونو صحيح طريقه

(۹ سوال) پدې باره کی علماء کرام څه فرمايي . تکبير تحريمه چې فرض دی دا د لاسونو ترلو نه مخکی ووائي يا د لاسونو ترلو نه وروسته؟

(۱) که چيرته کوم امام غوږونو پورې لاس اوچتولو نه وروسته يا نامه پورې رسيدلو نه وروسته تکبير تحريمه ووايی نو مونځ صحيح کېږي يا نه؟

(۲) که چرته امام نامه پورې لاس رسيدو نه وروسته تکبير شروع کړی او لاس ترلو نه وروسته تکبير پوره کړی نو مونځ صحيح کېږي يا نه؟

(۳) مانځه لپاره تکبير تحريمه کله شروع او څه وخت مکمل کړي؟

(۴) د رکوع او سجدی د تکبيرونو صحيح وخت کوم يو دی؟

(۵) که چيرته امام هر مانځه کی تکبيرونه د سنت خلاف ووايي نو شرعي حکم څه دی؟

(جواب) تکبير تحريمه يعنی تکبير اولی باره کی درې اقوال دي :

(۱) اول به رفع اليدين يعنی دواړه لاسونه غوږونو پورې اوچت او تکبير شروع کړی او د تکبير په ختمېدو دواړه لاسونه وتړي.

(۲) تکبير او رفع اليدين دواړه يو ځای شروع کړي او دواړه يو ځای ختم کړي.

(۳) اول تکبير شروع کولو سره لاسونه اوچتولو سره يو ځای ختم کړي ((و فيه ثلاثه اقوال القول الاول :- انه يرفع مقارنا للتکبير وهو المروی عن ابی يوسف قولا و عن الطحاوی فعلاً و اختاره شيخ الاسلام و قاضی خان و صاحب الخلاصة والخفقد والبدائع والحيط حتی قال البقالی هذا قول اصحابنا جميعاً و يشهد له المروی عنه صلی الله عليه وعلم انه کان يکبر عند کل خفض و رفع و ما رواه ابو داؤد انه صلی الله عليه وسلم کان يرفع يدبه مع التکبير و فسر قاضی خان المقارنه بان تکون بداء ته عند بداته و ختمه عند ختمه.

---

[1] ((و ينبغی ان يکون ابتدآء التکبير عند اول الخرو والفراغ منه ، عندالستوآء راکعا و قال بعضهم يکبر قائما ثم يرکع..... و هذا يستلزم تاخير التکبير الی ان يصل الی الرکوع و ليس بشی والقول الاول وهو المقارنة اصح الاقوال صفة الصلوة ص ۳٤٥)

القول الثانی وقته قبل التکبیر و نسبه فی المجمع الی ابی حنیفه رحمه الله و محمـد رحمه الله وفی غایه البیان الی عامه علماً بنا و فی المبسوط الی اکثر مشـائخنا و صـححه فی الهدایه و یشهد له مافی الصحیحین عن ابن عمر قال کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا افتتح الصلوة رفع یدیه حتی یکونا حذاء منکبیه ثم کبر.
القول الثالث :- وقته بعد التکبیر فیکبر اولاً ثم یرفع یدیه و یشهد له ما فی صحیح المسلم انه کان اذا صلی کبر ثم رفع یدیه (رفع یدیه (بحرالرائق فصـل اذا اراد الـدخول فـی الصلوه الخ. ۳۰۵ ج ۱ درمختار مع الشامی صف صلوة ص ۴۶۵ ج ۱)).
ذکر شوي دریو صورتونو ځخه اول او دویم صورت افضل دی او دریم صورت هم جـائز دی لیکن معمول بها ندی، ((والاصح انه یرفع یدیه اولاً ثم یکبر لان فعله نفی الکبریـاء عن غیر الله والتقی مقدم علی الایجاب (هدایه ار ۶۸ صفة الصلوة ، شامی،بحرالرائق)).
په جوهره کی دی : ((اصح دا دی چې مونځ ګـدار اول دواړه لاسـونه اوچـت کـړی کله چې غوږونو برابری ته ورسيږ نو تکبیر به شروع کړی، والاصـح انـه یرفـع اولاً فـاذا استقرتا فی موضع المحاذاة کبر (جوهرة ار ۴۹ باب صفة الصلوة)).
پدې ذکر شوی سوال کی مونځ صحیح کېږي لیکن تر لاسونو ترلـو پـورې تـاخیر کـول عادت جوړول غلط او مکروه دی، دا د ثنا ویلو وخت دی نه د تکبیر ویلو، تکبیر بایـد د لاسونو ترلو پورې ختم کړی شي، د لاسونو تر ترلو پورې تاخیر کولو کی بـل نقصـان دا دی چې په غوږونو دروند او کوم مقتدی د امام پـه لاس اوچتولـو لیـدو بانـدې تکبیـر وایي نو د امام نه مخکی تکبیر ویلو په وجه ددهٔ اقتداء او مونځ نه صحیح کېـږي ، کـه چیرته د ((الله)) لفظ مقتدی مخکی ووایي بلکې د ((الله)) لفظ امام سره شروع کـړي لیکن د ((اکبر)) لفظ د امام د ختمولو نه مخکی ختم کړی بیا هـم اقتـداء نـه صـحیح کېږي ((فلو قال ((الله)) مع الامام و کبر قبله (ای قبل فراغه) لم یصح (درمختـار مـع الشامی ار ۴۴۸ صفة الصلوة فصل اذا اراد الخ) لهذا امام ته ددې عادت پرېښـودل پکـار دی، د رکوع او سجدی د تکبیرونو مسنون طریقه دا ده چې رکوع تـه تلـو وخـت کـی تکبیر هم شروع کړي او یو ځای ختم کړي همدا شان سجدی ته تلو وخـت تکبیـر هـم شروع کړي او یو ځای ختم کړي ، رکوع او سجدې ته رسیدو نه وروسـته تکبیـر ویـل د سنت خلاف دی او پدې کی دوه کراهتونه هم لازمېږي یو کراهت د تکبیـر وخـت پـه ضائع کولو سره او دویم کراهت د بې وخته تکبیر په ویلـو سـره ځکـه چـې دا وخـت د رکوع او سجدې تسبیح ویلو دی نه د تکبیر ویلو، ((فلما فرغ من من القراءة یخیر راکعا

مکبر او ینبغی ان یکون ابتداء تکبیره عند اول الخرور والفراغ منه عند الاستواء و قال بعضهم اذا اتم القراءة حالة الخرور لا باس به بعد ان یکون ما بقی من القراءة حرفاً او کلمة و الاول اصح (منیة المصلی ص ۸۸ صفة الصلوة) و فی موضع آخر و ان یاتی بالا ذکار المشروعة فی الا نتقالات بعد تمام الا نتقال و فیه کراهتان تکرها عن موضعه و تحصیلها فی غیر موضع (ص ۹۴ کبیری ص ۳۴۵ صفة الصلوة).

ـ په مانځه کی د رکوع او سجدی تسبیحات په زوره ولـولی یا په ورو؟

(۱۰ سوال) د خینو کسانو عادت دی چې فرض ، سنت وغیره مونځونو کی ثناء او رکوع و سجدی تسبیحات ، د انتقال تکبیرونه ، تشهد ، درود شریف او د مانځه نه دعاء او وظیفه وغیره په زوره وایي چې نزدی مونځ کونکو ته تکلیف وي او مانځه کی خطا کېږي ، خشوع او خضوع فوت کېږي نو د دومره اوچت ویلو شرعي حکم څه دی؟

(جواب) فرض مونځ وغیره کی ثناء او د رکوع او سجدی تسبیحات ، د قرآن پاک تلاوت ذکر ، درود او وظیفه وغیره دومره په زوره ویل چې د نورو توجه خراب شي د مونځ کونکو مونځ خطاء شي او یا ددوی په خشوع او خضوع کی فرق راشي او یا د اعتکاف کونکو په فکر کی نقصان وشي او د ویده کیدونکو په خوب کی خلل راشي دا قسم اوچت اواز سره لوستل صحیح ندی او موجب د ګناه دی لهذا داسي پرېښودل پکار دی .

((و فی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی ان اجمع العلماء سلفاً و خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصلی او قاری ، الخ (شامی ص ٦١٨ ج ۱ احکام مسجد مطلب فی رفع الصوت بالذکر)

و قد ذکر الشیخ عبدالوهاب الشعرانی فی کتابه المسمی . بیان ذکر الذاکر للمذکور والشاکر للمشکور، مانصه و اجمع العلماء سلفاً و خلفاً علی استحباب ذکر الله تعالی جماعة فی المساجد و غیرها من غیر نکیر الا ان یشوش جهرهم بالذکر علی نائم او مصلی او قاریٍ کما هو مقرر فی کتب الفقه (الاشباه والنظائر مع شرح الحموی ۵٦۰))

ـ د تکبیر تحریمی نه وروسته لاسونه وتړي یا زوړند پریدی؟

(۱۱ سوال) د تکبیر تحریمي په وخت دواړه لاسونه تر غوږونو پورې اوچتولو سره وتړي یا زوړند پرېښودو نه روستو وتړي، صحیح طریقه کومه ده؟

جواب : د تکبیر تحریمه نه وروسته او وترو کی دعاء قنوت. همدا شان د اختر په مانځه اول رکعت دریم تکبیر په وخت کی لاس اوچتولو سره ترل پکار دی ، لاسونه زوړند او بیا ترل د چا نه ثابت نه دی . اختلاف پدې کی دی چې ثناء او قرات ویلو په وخت کی لاسونه وتړي یا زوړند پریدی؟ د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف په نزد د ترلو حکم دی حکه چی دوی د لاسونو ترل د قیام سنت گنږي او د امام محمد (رح) په نزد د ثناء ویلو په وخت کی د زوړند پرېښودو حکم دی ، ددهٔ په نزد لاسونه ترل د قرات له آدابو څخه دی ((اذا اراد الرجل الدخول فی الصلوة اخرج کفیه من کمیه ثم رفعها خذاء اذنیه ثم کبر بلاحدٍ ناویاً ثم وضع یمینه علی یساره تحت سرته عقب التحریمة بلا مهلة مستفتحاً))

یعنی: کله چی سړی د مونځ شروع کولو اراده وکړي نو خپلی ورغوی به د لوستونو څخه را بهر کړي او بیا به د غوږونو برابر پورته کړي او بیا بغیر د دده نه تکبیر ووایی سره د نیت کولو او بیا به ښی لاس په گس لاس باندې د نامه لاندې کیدی او د تکبیر نه بغیر د تاخیر نه ثناء پیل کړي (نور الایضاح (٧٦) صفحه فصل فی کیفیة ترکیب الصلوة) او په مراقی الفلاح کی دی : (تحت سرة عقب التحریمة بلا مهلة) لانه سنة القیام فی ظاهر کحالة الثناء والقنوت وصلوة الجنازة و یرسل بین تکبیرات العیدین اذلیس فیه ذکر مسنون ص ٥٢ ایضاً).

فالاعتماد سنة القیم عندهما حتی لا یرسل حالة الثناء و عند محمد رحمه الله سنة القراءة حتی انه یرسل حالة قراة الثناء الخ)الجوهرة النیره ص ٥٠ ج اباب صفة الصلاة).

_ د مانځه نه وروسته د جای نماز د ښنډی را اړول څه حکم لري؟

(١٢ سوال) د مونځ کولو نه وروسته د جای نماز یو کنج (ښنډه) را اړوي او که نه شیطان ورباندې مونځ کوي. دا عقیده څنگه وه؟

(جواب) ددغه رواج هېڅ کوم اصل نشته او دا عقیده بالکل غلطه ده. فقط

قبلی طرف ته د ښپو کولو سره ویده کېدل

(١٣ سوال) مونږ سره یو مسلمان ورور قبلی طرف ته د ښپو کولو سره ویده کېږي مونږ ورته ووېل چې قبلی طرف ته پښې غځولو سره ویده کیدل گناه ده هغه ووېل چې

زمونږ د پېغمبر هم ويده کېدو او ويده کېدل ګناه نه دي. او وايي که د کلي مشرق طرف ته قبرستان وي نو مري به څنګه وري؟ داسې دليل وړاندې کوي نو تفصيلي جواب راکړي مهرباني.

(جواب) قبلې طرف ته د پښو په غځولو سره ويده کېدل مکروه تحريمي او حرامو ته نږدې دي. کوم سړی چې قصداً دا کار وکړي هغه فاسق او مردود الشهادت دی. يعنې شرعاً د هغه ګواهي مردود او نا مقبول دی (شامي)[1] جاهل او ضدي سړی د ديني بحث او د سوال و جواب قابل ندی. فقد والله اعلم.

د فاتحه د انتظار فضيلت

(۱۴ سوال) په حديث شريف کې چې خو پورې سړی د مونځ په انتظار ناست وي نو دغه انتظار يې هم مانځه کې حسابېږي نو هغه لپاره په اودس کې اوسيدل ضروري دی يا بې اودسه هم دومره ثواب لري؟

(جواب) ذکر شوی فضيلت لپاره اودس کې اوسيدل ضروري دی که اودس يې نه وي نو د مانځه په انتظار کې نه کمل کېږي ((و قد صرح النبي (ص) او لوح ان من المرجحات انه اذا توضاء فاحسن وضوءه ثم توجه الى المسجد لا ينهضه الا الصلوة كان مشيه في حكم الصلوة و خطواته مكفرات لذنوبه)) ترجمه: او نبي کريم (ص) صراحتاً يا اشارةً فرمايلي دي چې د مونځ فضيلت زياتونکي شئ يو دا هم دی چې کله يو سړی په ښه شان اودس وکړي (يعنې د اودس آداب مثلاً قبلې ته کيناستل) د دنيا خبرې نه کول. په مسنون طريقه مسواک کول وغيره خيال ساتل او پوره کول) او بيا يواځې د مونځ په نيت جومات روان شي نو د هغه تګ هم د مانځه په حکم کې دی او د هغه قدمونه د ګناهونو کفاره ګرځي (په هر قدم باندې ګناه معاف کېږي) والله اعلم. (حجة الله البالغة ۲ ۸۸).

شروع کړی مونځ دی د اقامت په کېدو مات کړي يا نه؟

(۱۵ سوال) په جومات کې د مونځ ادا کېدو په خيال کور کې مونځ شروع کړ او بيا يې د جومات اقامت واوريد نو مونځ پوره کړي يا مات کړي او جماعت کې شريک شي؟

---

(1) مدر حيبه في نوم او غيرها اى عمداً لانه اساءة ادب قال في الشامية تحت قوله لانه اساءة ادب افاد ان تكرهه تحريمية لكن قد مناعت الرحمة في باب الاستنجاء انه سياتي انه يعد الرجل اليها ترد شهادته قال و هذا يقتضي التحريم فيحرر. درمختار مع الشامي ج ا ص ٦١٣ مطلب في مكروهات الصلاة)

(جواب) پدې مسئله کې مونځ دې پوره کړي په ((خلاصة الفتاوی)) کې دی: ((و لـو افتتح الصلوة فی منزله ثم سمع الاقامة فی مسـجد آخـر او فـی مسـجده يـتم الصـلوة))
ترجمه : که چیرې کور کې مونځ شروع کړي او یا بل جومات یا د محلې په جومات کې اقامت واورید نو مونځ دې پوره کړي (ار ۲۲۹ الفصل السادس و العشرون فی المسجد و ما يتصل به) فقط والله اعلم.

د مونځ په سلام کې د وبرکاته زیاتوالی:

(۱٦ سوال) د مانځه په سلام کی ورحمة الله نه وروسته وبرکاته زیات کړی شي نو څه حکم لري ؟ وضاحت وکړی
(جواب) د وبرکاته اضافه متروک العمل دی.
((قوله السلام عليكم ورحمة الله) لم يقل و بركاته كما فی الهداية الاختلاف فيه قال المظهر فی شرح المصابيح لفظ بركاته لم يرد فی سـلام الصـلوة و فـی السـراج و انـه لا يقول و بركاته و صرح فی النووی بانه بدعة و ليس فيه شيئ ثابت و لكـن يـرده مـا فـی الحاوی القدسی من انه مروی و ايضاً قال امير الحاج رد اللنووی بانها جاءت فـی سـنن ابی داؤد من حديث و ائل بن حجر با سناد صحيح (حاشية الدرر علی الغرر (ج ۱ ص ٦۲)
قائلاً السلام عليكم ورحمة الله هو السـنة و درج الحـدادی علـيكم السـلام (و) انـه (لا يقول) هنا (و بركاته) و جعله النووی بدعة و رده الحلبی و فی الحاوی انـه حسـن (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۴۹۱ مطلب فی وقت ادراک فضيلة الافتتاح)

په ناسته لمونځ کولو کی د رکوع صحیح طریقه څه ده؟

(۱۷ سوال) که څوک په ناسته مونځ کوي نو د رکوع صحیح طریقه څـه ده؟ وضاحت وکړی.
(جواب) مستحب او صحیح طریقه دا ده چې ملا دومره ښکته کړی شي چـې تنـدی د زنګنو برابر شي د کوناتې اوچتولو ضرورت نشته، په نفع المفتي والسائل کـی دی: ((الا ستفسار و صلی النفل قاعداً فكيف يركع فيه .
الاستبسار . الركوع يتم بانحناء الظهر لكن المستحب ان يركع بحيث يحاذی جبهته قدام ركبتيه نقله الشامی عن حاشية الفتال عن البر جندی (ص ۷٦ و لـو كـان يصلی قاعداً

ینبغی ان یخفف جبتهه قدام رکبته لیحصل الرکوع (شامی ج ۱ ص ۴۱۶ مطلـب الـرکن الا صلی و الرکن الزاید) تحت بحث الرکوع والسجود))

ـ په قومه او جلسه کی د دعاء حکم :

(۱۸ سوال) په قومه او جلسه کی امام او مقتـدی دعـاء کـولی شـي یـا نـه ؟ وضـاحت وکړی.

(جواب) مقتدی د رکوع نه سر اوچتولو نه وروسته برابر ودرېدو سره (قومه کـی) ربنـا لک الحمد نه وروسته ((حمداً کثیراً طیباً مبارکاً فیه)) ویلی شي پدې شرط چـې وخـت وي او د امام نه وروسته نه پاتې کېږي ، همدا شان د دوه سجدو تر منځ په (جلسه کی) ((اللهم اغفرلی)) ووايي او که وخـت مـلاؤ شـي نـو ((وارحمنـی واهـدنی و عـافنی و ارزقنی)) هم ویلی شي منع نه دی.

((قوله لیس بینها ذکر مسنون) قال ابو یوسف سالت الامام ا یقول الرجل اذا رفع راسـه من الرکوع والسجود اللهم قال یقول ربنا لک الحمد و سکت و لقد احسن فـی الجـواب اذلم ینته عن الاستغفار نهر وغیره . اقول بل فیه اشآرة الی انه غیر مکـروه و اذ لـو کـان مکروهاً لنهی عنه کما ینهی عن القراة فی الرکوع والسجود و عدم کونه مسنوناً لا ینا فـی الجواز کالتسمیة بین الفاتحة والسورة بل ینبغی ان یندب الدعاء بالمغفرة بین السجدتین خروجاً من خلاف الامام احمد رحمه الله الخ (ج ۱ ص ۴۷۲ باب صـفة الصلـوة) (قولـه محمول علی النفل) و صرح به فی الحلیة فی الوارد فی القومة والجلسة و قال علی انـه ان ثبت فی المکتوبة فلیکن فـی حالـة الا نفـراد او الجماعـة والمـامون محصـورون لا یتثقلون بذلک کما نص علیه الشافعیة و لا ضرر فی التزامه و ان لم یصرح به مشائخنا فـان القواعد الشرعیة لو تنبؤ عنه کیف والصلوة والتسبیح والتکبیر والقرائة کما ثبت فـی السـنة اه (شامی ۴۷۲/۱ ، ۴۷۳ ایضاً).

په غاية الاذکار ترجمه د درمختار کی دی : ((شامی د حلیه نـه نقـل کـړی چـې ددی دعاءګانو التزام کوم ضرر او نقصان هم ندی خـو مشـائخو د دی تصـریح نـدی کـړی ، خکه چې شرعی قواعد د ذکر شوی التزام مخالف نه دی، او قرات ، تسبیح او تکبیر پـه فرضو او نفلو کی یو شان دی نو کـه دا دعاګـانی یـو شـان وي-خـه حـرج دی؟ (غایـة الاذکار ۲۳۵/۱) البته د رسول الله (ص) هدایت چی ((من ام قوماً فلیخفف فان فـیهم المریض والکبیر و ذا الحاجة او کما قال علیه السلام)) لحاظ سـاتلو سـره بایـد مقتـدیانو لپاره.د زحمت او مشقت سبب ونه ګرځي، فقط والله اعلم.

د مقتدی کیناستو نه وروسته چې امام سلام وګرځوی نو هغه التحیات ولولي یا نه؟

(۱۹ سوال) مقتدی تکبیر تحریمه وویل او امام سلام وګرځولو نو هغه اول کینی او بیا پورته شي او یا په ولاړه قرات شروع کړي؟ دویم صورت دا دی چې مقتدی کیناستو سره امام سلام وګرځوی نو اوس مقتدی ته سرد التحیات ویل پکار دی یا بغیر د ویلو نه ودریدل پکار دی؟ وضاحت وکړئ مهربانی

(جواب) مسبوق تکبیر تحریمه وویل او وروسته امام سلام وګرځولو نو دا سړی جماعت کی شامل شو نو خپل مونځ دې شروع کړی. د قعدی کولوضرورت نشته او که چیرته امام د ((السلام)) لفظ ویلی ؤ او د ((علیکم)) لفظ یې لا نه ؤ ویلی چې مسبوق تکبیر تحریمه وویل. او قعده کی ناست ؤ چې امام سلام وګرځولو نو بیا ورته تشهد ویلو نه وروسته ودریدل پکار دی. که چیرته بغیر د تشهد ویلو نه ودریدلو بیا هم مونځ یې صحیح دی. په شامی کی دی:

((قال فی التجنیس الامام اذا فرغ من صلاته فلما قال السلام جاء رجل و اقتدی به قبل ان یقول علیکم لا یصیر داخلاً فی صلاته لان هذا سلام (باب صفة الصلاة شامی ج ۱ ص ۴۳٦ و فتاوی رحیمیه ج ۱ ص ۲۰۵) و شمل با طلاقه ما لو اقتدی به فی اثناء التشهد الاول او الاخیر فحین قعد قام امامه او سلم و مقتضاه انه یتم التشهد ثم یقول و لم اراد صریحاً ثم رأیته فی الذخیرة ناقلاً عن ابی اللیث المختار عندی انه یتم التشهدو ان لم یفعل اجزاه ولله الحمد (شامی ج ۱ ص ۴٦۳ صفة الصلوة (بعد مطلب فی اطالة الرکوع لجائی))

د سورت فاتحی په شروع او د فاتحی او د سورت تر منځ اعوذ بالله او بسم الله ووایي یا نه؟

(۲۰ سوال) اول رکعت کی د ثناء ویلو نه وروسته د سورت فاتحی په شروع کی او همدا شان هر رکعت کی د فاتحی په شروع کی اعوذ بالله او بسم الله ویل پکار دی یا نه؟ او د سورت فاتحی نه وروسته د سورت یو ځای کولو نه وړاندې بسم الله ویل څنګه دی؟ وضاحت وکړئ مهربانی.

(جواب) اول رکعت کی (منفرد او امام لپاره) د ثناء نه وروسته اعوذ بالله او بسم الله دواړه ویل سنون دی او نورو رکعتو کی د سورت فاتحی په شروع کی یواځی بسم الله

ویل دی و یسن التعوذ للقراءة و تسن التسمیه اول کل رکعة قبل الفاتحة لانه صلی الله علیه وسلم کان یفتتح صلاته بسم الله الرحمن الرحیم (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۱۵۱) سمی سرا فی کل رکعة (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۴۵۷ (قبیل مطلب لفظة الفتوی آکد و ابلغ من لفظ المختار).

او د درمختار بل خای کی دی: ((والرکعة الثانیة کالاولی فیما مر غیر انه لا یاتی ثناء و لا تعوذ فیها اذ لم یشرع الامرةً (درمختار مع الشامیة ار ۴۷۳ صفة الصلوة)

د سورت فاتحی او بل سورت تر منځ بسم الله ویل بهتر دی، په شامی کی دي: ((ان سمی بین الفاتحة والسورة المقرونة سراً و جهراً کان حسناً عند ابی حنیفة رحمه الله)) یعنی د سورت فاتحی او د سورت تر منځ جهری وي یا سری د امام ابو حنیفه په نزد بسم الله ویل بهتر دی (شامی ار ۴۵۸ مطلب قراة البسمله بین الفاتحة والسورة حسن) فقط والله اعلم.

ـ که د ژبی نه غلط نیت راوځی نو څه حکم لري؟

(۲۱ سوال) د مونځ شروع کولو نه وروسته په یاد شو چې د ژبی نه نیت په مازدیګر فرض په خای د ماسپښین فرض راوتی ؤ نو اوس مونځ کېږي یا نه؟

(جواب) چې په زړه کی د مازدیګر نیت ؤ مګر د ژبی نه د ظهر لفظ ووت نو څه پروا نه لري مونځ یې کېږي. په درمختار کی دي:

((والمعتبر فیها عمل القلب اللازم للارادة فلا عبرة للذکر باللسان ان خالف القلب لانه کلام لانیة (درمختار) قوله ان خالف القلب) فلو قصد الظهر و تلفظ بالعصر سهواً اجزاه کما فی الزاهدی قهستانی (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۳۸۵، ۳۸۶ باب شروط الصلوة بحث النیة)). فقط والله اعلم بالصواب.

ـ د لمونځ شروع کولو نه وروسته وریاد شو چې نیت یې غلط کړی نو په مانځه کی صحیح کولی شي؟

(۲۲ سوال) د مونځ شروع کولو نه وروسته وریاد شو چې د مازدیګر په خای د ماسپښین او یا د فرض په خای د سنت نیت کړی دی نو اوس مونځ ماتولو سره دوباره تکبیر تحریمه ووایي او یا په مانځه کی نیت بدل کړي که په مانځه کی نیت بدلیدلی شي نو څو پورې د بدلولو اختیار دی د رکوع نه وروسته هم بدلولی شي؟ وضاحت وکړی مهربانی (حیدر آباد)

، جواب ، چې بغیر د نیت نه مونځ شروع کړي بیا وریاد شي چې نیت یې ندی کړی یـا یې نیت غلط کړی مثلاً د عصر په ځای د ظهر نیت یې کړی نو اوس د نیت وخـت تیر شوی، د مونځ شروع کولو نه وروسته نیت اعتبار نه لري نوی نیت کولو نه وروسته تکبیر تحریمه ویل پکار دی : ((ولا عبرة بنية متاخرة عنها على المذهب (قولـه ولا عبـرة بنية متاخرة) لان الجزء الخالى عن النية لا يقع عبادة فلا ينى الباقى عليه الخ (درمختار مع الشامي ار ۳۸۷) فقط والله اعلم .

ـ په هوايي جهاز کی لمونځ کول:

(۲۳ سوال) یو سړی هوايي جهاز کی حج لپاره لاړ او هغه د مازدیګر او ماښام مونځونه هوايي جهاز کی وکړی ، ایا دا خبره صحیح ده چې په کوم شئ باندې مـونځ کـوي د هغه ځمکی سره لګیدل ضروري دي؟ پدې وجه د مازدیګر او د ماښام مونځونو قضايي راګرځول پکار دی، وضاحت وکړی مهرباني

(جواب) هوائی جهاز کی چې د مونځ وخت راشي نو مونځ دې وکړي خو بیا وروسته په دوباره کوي، فقط.

ـ په سجده کی چې یواځی د ښپو غټه ګوته په ځمکـه ولګـوي نو سجده یې صحیح کېږي؟

(۲۴ سوال) پدې مسئله کې علماء کرام څه فرمايي چې یو سړی پـه سـده کـی د ښپو ګوتې په ځمکه نه لګوی یواځی غټه ګوته لګوي دا کار څنګه دی ایا سجده یې صحیح کېږي؟ وضاحت وکړی مهرباني

(جواب) په سجده کی یواځی د ښپو غټه ګوته په ځمکه باندې لګولو سره مونځ کېږي مګر یواځی د غټې ګوتې په لګولو باندې اکتفاء کـول او د نـورو ګوتـو پورتـه سـاتل د سنت خلاف دی نو پدې وجه مکروه دی ، سـنت دا دی چـې د دواړو ښپو ګـوتې په ځمکه باندې ولګوي او د ګوتو سرونه باید قبلی طرف ته وي:

((ووضع اصبع واحدة منهما شرط (درمختار) و افاد انه لو لم يضع شيئاً من القدمين لم يصح السجود الخ (شامي ج ا ص ۴۱۶ بحث الركوع والسجود) و المراد بوضع القدمين على ما ذكر فى الخلاصة وضع اصابعهما والمراد بوضـع الاصـابع توجيههمـا نحـو القبلة ليكون الاعتماد عليها حتى لو وضع ظهر القدمين و لم يوجهه اصابعهما او احـدهما نحو

القبلة لا يصح سجوده و هذا مما يجب حفظه واكثر الناس عنه غافلون (مجالس الابرار ص ۳۱۵ مجلس نمبر ۵۳)) فقط والله اعلم ۳ ذوالقعده سنه ۱۴۰ ه

ـ چې د قيام په حالت کی تکبير تحريمه وو ايي او بيا فوراً رکوع ته لاړ شي نو څه حکم لري؟

(۲۵ سوال) مقتدی د قيام په حالت کی تکبير وويل او بيا فوراً رکوع ته لاړ او امام سره رکوع کی شريک شو نو په دومره قدرئ قيام سره فرض قيام پوره کېږي؟ يا د تکبير تحريمې نه وروسته ودريدل ضروري دی؟ وضاحت وکړئ مهربانی

(جواب) د قيام په حالت کی د تکبير ويلو په مقدار قيام کافی دی، په مجالس الابرار کی دی: ((حتى لو كبر قائماً و لم يقف يصير مؤدياً فرضى التكبير والقيام جميعاً ولا يلزمه توقف بعده قائماً لان قدر ما وجد من القيام يكفيه)) ترجمه : تر دې چې په ولاړه تکبير وويلې او نور ونه دريد نو (په دومره مقدار ودريدو سره) د قيام او د تکبير دواړو فرض ادا شو، لدينه وروسته قيام کی توقف کول لازم ندی ځکه څومره اندازه قيام چې کړی همدومره کافی دی (مجالس الابرار ۳۰۷ ، ۳۰۸ (۵۲) مجلس)فقط.

ـ ناقص العقل سړی په کوم صف کی ودريږي؟

(۲٦ سوال) يو بالغ هلک دی ليکن هغه پاګل او ليونی غوندی دی او په مانځه کی په آرام نشي ودريدلی د ليونو په شان يو خوا بل خوا ګوري او د پاکی ناپاکی خيال هم نه کوي چې په دې وجه مونځ ګذار پريشانه کېږي ليکن ددی باوجود هغه اول صف کی ودريږي نو داسې هلک اول يا دويم صف کی پريښودل کېږي؟ او که ودرېږي نو وروسته کول يې پکار دی يا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) کوم بالغ هلک چې د ليونی په شان وي د مونځ عظمت ونه پېژني ، د پاکی او ناپاکی خيال نه کوي، د هغه په وجه لمونځ ګذارو ته تکليف وي نو هغه به د بالغانو صف نه منع کړی شي او که ودرېږي نو وروسته کول يې پکار دی، فقهاؤ داسې سړی د ماشومانو حکم کی داخل کړی دی : ((قوله او معتوه هوالناقص العقل و قيل المدهوش من غيرجنون كذافى المغرب و قد جعلوه فى حكم الصبى ،(شامی ۱/۵۴۱ باب الامامة))

فقط والله اعلم.

اول صف څه ته وايي؟

(۲۷) سؤال: اول صف څه ته وايي که چيرته د ځاى د کموالى په وجه يو صف وړاندې حوړ کړى شي او د منبر په وجه منقطع شي او مقتديان امام ته نـزدې څنګ پـه څنګ ودريږي نو دېته اول صف ويل کيږي يا ددينه وروستو صف، اول صف دى او مخکنـي صف باطل شو. او د ځاى د کمښت په وخت پدې شکل صف جوړول صحيح دى يا نه؟ وضاحت وکړئ مهرباني

(جواب) اول صف هغه دى کوم چې امام ته نـزدې وي. مـؤذن اقامـت لپـاره د امـام شانه ودريږي دې سره چې د مونځ ګذارو کوم صف دى هغه اول صف دى کـه چيرتـه د صف وړاندې امام ته نزدې کـړى شـي نـو بيـا هـم اول صـف همـدا دى. وروسـته جماعت صحن او بره هم چې ځاى نه وي نو د مونځ ګذارو امام ته نزدې کيـدل بـلا کراهت صحيح دى. او که ځاى ډېر وى نو د امام سره يو ځـاى صـف جـوړول مکـروه تحريمى دى.

(الزائد يقف خلفه فلو توسط اثنين كره تنزيها و تحريماً لو اكثر الخ (درمختار) قولـه و تحريماً الو اكثر (فاذا تقدم الامام امام الصف واجب كما افاده في الهداية والفتح))

يعنى که د يو نه زيات مقتديان وي نو د امام شاته به ودريږي. لهذا که دوه مقتديان وي او امام د هغوى منځ کې ودريږي نو مکروه تنزيهى دى او که دوو نـه زيـات وي نـو بيـا مکروه تحريمى دى (درمختار والشامى ۱/ ۵۳۱ هل الاساءة دون الكراهة او افحش منها) او بل امام سره برابر د مقتديانو ودريدو کى د ښځو د جماعت سره مشـابهت راځـي دا هم د کراهت يوه وجه ده. د صف اول باره کى چې څه ليکل شوى الشامى عبارت هم ددى تائيد کوي وګورى: ((و يعلم منه بالاولى ان مثل مقصورة دمشـق التـى هـى فـى وسط المسجد خارج الحائط القبلى يكون الصف الاول فيها ما يلى الامام فـى داخلهـا و ما اتصل به من طرفيها خارجاً من اول الجدار الى اخره فلا ينقطع الصف ببناءها كمـا لا ينقطع بالمنبر الذى هو داخلها فيما يظهر الخ (شامى ج ۱ ص ۵۳۲ مطلـب فـى الكـلام على الصف الاول تحت مطلب فى الكلام على الصف الاول. باب الامامة)).

ـ یو یا د یو نه زیات مقتدیان وي او ښځه هم پکې وي نو ددوی صف جوړول به څنګه وي؟

(۲۸ سوال) کله یواځې یو مقتدی وی یا یواځې نا بالغ هلک وی یا یواځې یوه ښځه وي یا د یو نه زیات مقتدیان وي خو خینې هلکان او ښځې هم وي نو صف به څنګه جوړ کړی شي؟ تفصیلی او دلیل سره وضاحت وکړی.

(جواب) که یو مقتدی وي نو د امام سره برابر ښی طرف لږ وروسته ودرېدل پکار دی. ((و یقف الواحد محاذیاً لیمین امامه (درمختار ار ۵۲۹، ۵۳۰) که ګس طرف نه ودرېدو نو مکروه تنزیهی دی، ((فلو وقف عن یساره کره اتفاقاً (درمختار ار ۵۳۰) ((الظاهر ان الکراهة تنزیهیة لتعلیلها فی الهدایة و غیرها بمخالفة السنة و لقوله فی الکافی جاز و اساء الخ (شامی ار ۵۳۰ ایضاً) همدا شان که یو مقتدی وي او هغه وروسته ودرېږي نو مکروه تنزیهی دی د خلاف سنت کېدو په وجه (وکذا یکره خلفه علی الاصح لمخالفة السنة (درمختار ار ۵۳۰)

او که چیرته یواځې یو نا بالغ هلک وي نو د امام ښی طرف ته برابر لږ غوندې وروسته به ودرېږي: ((و یقف الواحد و لو صبیاً... محاذیاً لیمین امامه علی المذهب (درمختار ار ۵۳۰) او که یواځې یوه ښځه مقتدیه وي نو هغه به د امام شاته ودرېږي: ((اما الواحدة فتتاخر (درمختار ار ۵۳۰) او که چیرته یو سړی او یوه ښځه وي نو سړی به امام سره برابر او ښځه به شاته ودرېږي. ((قوله ام الواحدة فتتاخر) فلو کان معه رجل ایضاً یقیمه عن یمینه والمراة خلفهما (شامی ج ۱ ص ۵۳ ایضاً) حتی لو کان خلفه رجل واحد و امراة یقوم الرجل بحذائه کما لو لم یکن معه امراة (عینی شرح کنز الدقائق باب الامامة ج ۱ ص ۳۹) او که امام سره دوه سړي او یوه ښځه وي نو دوه سړي به وروسته صف جوړوي او ښځه به د سړو نه وروسته ودرېږي. ((و لو رجلان یقفهما خلفه والمراة خلفهما (شامی ار ۵۳۰) او که یو نه زیات دوه مقتدیان د وروسته ودرېدو په ځای د امام دواړه طرفو ته برابر ودرېږي نو مکروه تنزیهی ګرځي او که دوه مقتدیانو څخه زیات وي بیا مکروه تحریمي ګرځي : ((والزائد یقف خلفه فلو توسط اثنین کره تنزیهاً . و تحریماً لو اکثر (درمختار ۵۳۹ ۱) او که یو مقتدی امام سره برابر ودرېد او امام نه وروسته جماعت وي نو دا بالاتفاق مکروه دی. دا کراهت د مقتدی په حق کې

دی نه د امام په حق کی: ((و لو قام واحد بجنب الامام و خلفه صف کره اجماعاً الخ (درمختار مع الشامی ۵۳۱/۱).

ـ په قنوت نازله کی لاسونه وتړل شي یا نه؟

(۲۹ سوال) په قنوت نازله کی لاسونه بندول پکار دی او که زوړند پریښودل، په دواړو کی غوره کوم یو دی؟ وضاحت وکړی

(جواب) لاسونه تړل راجح او قوی دی ځکه هر هغه قیام کی چې مسنون ذکر پکی وی نو د شیخینو په نزد لاسونه تړل سنت دی، نو پدې بناء د ثناء ویلو په وخت ، د وترو په قنوت کی ، د جنازې په مانځه کی او همدا شان په قنوت نازله کی هم لاسونه تړل پکار دی او که څوک زوړند پرېدي نو هغه سره جګړه نده پکار، په الجوهرة النيرة کی دی : ((قال في الهداية صل ان كل قيام فيه ذكر مسنون يعتمد فيه و ما لا فلا هو الصحيح فيعتمد فی حالة القنوت و صلاة الجنازة و يرسل فی القومة من الركوع و بين تكبيرات العيدين (الجوهرة النيرة ج ۱ ص ۵۰ صفحة الصلاة)) او په مراقی الفلاح کی دی: .

((و عندهما يعتمد فی كل قيام فيه ذكر مسنون كحالة الثناء والقنوت و صلوة و يرسل بين العيدين اذ ليس فيه ذكر مسنون (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۱۵۳ فصل فـی كيفية تركيب افعال الصلوة)) فقط.

ـ د سړي او د ښځې په رکوع کی فرق:

(۳۰ سوال) د سلام مسنون نه بعد عرض دا دی چې د سړی او د ښځی په رکـوع کـی څه فرق شته یا نه که فرق وي نو د کتابونو حوالو سره تفصيلاً وليکی مهربانی.

(جواب) د سړي او د ښځې په رکوع کی څو خبرو کی فرق دی : (۱) دا چې سړی به په رکوع کی دومره ښکته کیږي چې سر ، ملا او کوناتی سره برابر شـي او ښـځه بـه لـږ غوندې ښکته کیږي یعنی صرف دومره قدرې چې لاسونه تر زنګنو پورې ورسي خـو مـلا به نه سیده کوي، (۲) دا چې سړي په زنګنو باندې ګوتې کولاوې ږدي او په لاس سره زور کولو باندې زنګونونه مضبوط نیسي او ښځه به د ګوتو په یو ځای کولو سره لاسـونه په زنګنو باندې ږدي او په لاسونو باندې به زور نه کوي او ښپې به د سړو په شان سیده نه ساتي ، (۳) دا چې سړي به خپلې مټې د اړخ څخه بالکـل جـدا سـاتي او ښـځه بـه خپلی مټې اړخ سره ښه ملاووي او څومره چې کېدې شي غونډیدو سره رکوع وکړي: ((

قال فی المعراج و فی المجتبی هذا کله فی حق الرجل اما المراة فتخنی فـی الركـوع یسیراً او لا تفرج و لکن تضم و تضع یدیها علی رکبتیها وضعاً و تحنی رکبتیهـا و لا تجـافی عضدیها لان ذلک استرلها (امی ج ا ص ۴٦۱ فصل فی تالیف الصلوة))

او په فتاوی عالمګیری کی دی:-

((و یعتمد بیدیه علی رکبتیه کذا فی الهدایة وهو الصحیح هکذا فی البدائع و یفرج بین اصابعه و لا یندب الی التفریج الا فی هذه الحالة و لا الی الضم الا فی حالـة السـجود و فیما وراء ذلک یترک علی العادة کذا فی الهدایة و یبسط ظهره حتی لو وضع علی ظهـره و قدح من ماء لا ستقر ولا یـنکس راسـه ولا یرفـع یعنـی یسـوی راسـه بعجـزه کـذا فـی الخلاصة و یکره ان یحنی رکبتیه شبه القوس والمراة تحنی فی الرکوع یسیراً و لا تعتمـد و لا تفرج اصابعها و لکن تضم یدیها و تضع علی رکبتیها وضعاً و حنی رکبتیهـا و لا تجـافی عضدیها کذا فی الزاهدی (فتاوی عالمګیری ج ا ص ۲٦ کتاب الصلوة . الفصـل الثالـث فی سنن الصلوة و آدابها و کیفیتها)).

ـ په تشهد کی اشاری نه وروسته ګوته په زنګون باندې کېږدی یا ولاړ وساتي؟

(۳۱ سوال) په تشهد کی د شهادت په ګوتې سره اشاره کولو نه وروسته ګوته په زنګون باندې کېښودل پکار دی یا ولاړ ساتل پکار دی؟ دلته پدې بـاره کـې د خلکـو اخـتلاف دې لهذا که حوالو سره جواب راکړی نو مهربانی به وی (انګلینډ)

(جواب) قوی دا دی چې په تشهد کی د کلمی په وخت د بنی لاس دواړه وړی ګوتی بندی کړي او د منځنی ګوتې او غټې ګوتې نه حلقه جوړه کړي او پـه لا الـه بانـدې د شهادت ګوته اوچته کړي او په الا الله باندې بېرته کېږدي یعنـی پریـدي او دا حالـت (یعنی حلقه) تر آخره پورې وساتی همدا صـورت اولـی دی، شـامی کـی دي: ((و فـی المحیط انها (ای الاشارة) سنة یرفعها عند النفی و یضعها عنـد الاثبـات وهـو قـول ابـی حنیفه رحمه الله و محمد رحمه الله و کثرت به الآثار و الاخبـار فالعمـل بـه اولـی فهـو و صریح فی ان المفتی به هو الاشارة بالمسبحة ... و لذا قال فی منیة المصـلی فـان اشـار یعقد الخنصر والبنصر و یحلق الوسطی بالا : بهام و یقـیم السـبابة ... و صـحح فـی شـرح الهدایة انه یشیر و کذا فی الملتقط و غیره و صفتها ان یحلق من یده الیمنی عند الشهادة

الابهام والوسطى و يقبض الخنصر والبنصر و يشير بالمسبحة الـخ (شـامى ج ۱ ص ۴۷۵ تحت مطلب مهم فى عقد الا صابع عند التشهد))

مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد كفايت الله صاحب په تعليم الاسلام كـى ليكي: ((كله چي اشهد ان لا اله ته ورسى نو د ښى لاس غټه ګوته او منځنى ګوتى سـره حلقه كړى او دواړه وړى ګوتى بندې كړى او د شهادت ګوته اوچتولو سره اشاره وكړى پـه لا اله باندې اوچت او په الا الله باندې ښكته كړى او همـدا شـان تـر آخـره پـوره حلقه وساتى (تعليم الاسلام (٦٠) صفحه دريمه حصه د مونځ كولو پوره تركيب))

حكيم الامت حضرت تهانوى رحمه الله ليكي : ((او كله چى كلمى ته ورسى نو منځنى ګوته او غټه ګوته سره حلقه كړى د لا اله ويلو په وخت ګوته اوچته كـړى او ((الا الله)) په وخت ښكته كړى مګر د حلقى صورت او هيئت به د مونځ تر آخره پورې باقى ساتى (بهشتى زيور (۱۹) صفحه دويمه حصه د فرض مونځ كولو د طريقى بيان)

په عمدة الفقه كى دي : ((او كله چى اشهد ان لا اله الا الله ته ورسى نو د شـهادت په ګوتى سره اشاره وكړى او ددى طريقه دا ده چې د ى لاس غټـه ګوتـه منځنـى ګـوتى سره حلقه كړى او دواړه وړى ګوتى بندى كړى او د شـهادت ګـوتى پـه اوچتولـو سـره اشاره وكړى په لا اله باندې ګوته اوچته كړى او په الا الله باندې ښـكته كـړى او بيا د قعدى تر آخره پورې حلقه وساتي (عمدة الفقه ۱۱/۲ د مونځ پوره تركيب) فقط.

ـ په تكبير تحريمه كى غوږونو پورې لاس اوچتول د حديث نه ثبوت :

(۳۲ سوال) احناف په تكبير تحريمه كى غوږونـو پـورې لاسـونه اوچتـوي دا پـه كـوم حديث كى دى؟ غيرمقلدين وايي چې حنفيانو سره حديث نشه، وضاحت وكړئ

(جواب) په مشكوة شريف كى دى : ((عن مالك بن الحويرث رضى الله عنه قـال كـان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا كبر رفع يديه حتى يحـاذى بهمـا اذنيـه الـخ و فـى رواية حتى يحاذى بهما فروع اذنيه متفق عليه (مشكوة شريف ص ۷۵ باب صفة الصلوة)

ترجمه د حضرت مالك بن حويرث (رض) نه روايت دى چې رسـول الله (ص) بـه د تكبير ويلو په وخت لاسونه د غوږونو برابرى پورې اوچتول، او دا هم مشكوة كـى دى ((عن وائل بن حجر انه ابصر النبى صلى الله عليه وسلم حين قام الى الصلوة رفع يديه

حتی کانتا بحیال منکبیه و حاذی ابهامیه اذنیه ثم کبر (رواه ابو داؤد . و فی روایة له یرفع ابهامیه الی شحمة اذنیه))
یعنی حضرت وائل بن حجر (رض) نه روایت دی چې دهٔ رسول الله (ص) په مانځه باندې ودریدو کی ولید چې دواړه لاسونه یې تراوږو پورې اوچت کړل او دواړه غټې ګوتې یې د خپلو غوږونو تر نرمو پورې برابرې کړلی (ابو داؤد) او بل روایت کی دی چې دواړه غټې ګوتې یې د غوږونو تر نرمو سره برابر کړلی (مشکوة شریف (۷٦) صفحه باب صفة الصلوة) او په زجاجة المصابیح کی دی :
((عن عبدالجبار بن وائل عن ابیه انه رای النبی صلی الله علیه وسلم اذا افتتح الصلوة رفع یدیه حتی تکاد ابها ماه تحاذی شحمة اذنیه ، روان النسائی و لا بی داؤد و روی الحاکم فی المستدرک و الدار قطنی و البیهقی فی سننه عن انس نحوه و قال الحاکم اسناده صحیح علی شرط الشیخین و لا اعلم له علة و فی روایة لا بی داؤد والنسائی و الطبرانی و الدار قطنی و مسلم عن وائل بن حجر قال رایت النبی صلی الله علیه وسلم حین افتتح الصلوة رفع یدیه حیال اذنیه (زجاجة المصابیح ، ص ۲۲۷ ج ۱ ، باب صفة الصلوة)

ـ په لمانځه کی د نامه نه لاندې د لاسونو تړلو ثبوت:

(۳۳ سوال) حنفیان نامه نه لاندې لاسونه تړي دا په کوم حدیث کی دی؟ غیر مقلدین وایي چې حنفیان د حدیث خلاف ورزی کوي، وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) مولانا نواب قطب الدین محدث دهلوی رحمه الله (د مظاهر حق شرح مشکوة شریف مصنف) په نظام الاسلام کی لیکی : ((و تیسیر الوصول (۲۱٦) صفحه کی حدیث دی : ((عن ابی حنیفة رضی الله عنه ان علیاً (رض) قال السنة وضع الکف فی الصلوة و ان یضعها تحت السرة ، (اخرجه رزین) یعنی د حضرت ابو حنیفه رضی الله عنه نه روایت دی چې حضرت علی (رض) فرمایلی دی، په مانځه کی د نامه نه لاندې لاسونه کیښودل سنت دی، او د احمد ، ابو داؤد ، دار قطنی او بیهقی په روایت کی دی چې رسول الله فرمایلی دی : ((السنة وضع الکف علی الکف تحت السرة))
یعنی د نامه نه لاندې لاس باندې لاس کیښودل سنت دی ، په هدایه ، بحر الرائق ، کفایه عنایه ، نهایه او کافی کی هم د همدې مضمون حدیث دی ، صرف په لفظ کی اختلاف دی او په معنی کی اتفاق دی، او په بحرالرائق کی دی ((عن النبی (ص) انه قال ثلث من سنن المرسلین و ذکر من جملتها وضع الیمنی علی الشمال تحت السرة))

یعنی نبی اکرم (ص) فرمایلی دی درې شیان د پیغمبرانو سنت دی او یدې دریو کی یو دا دی چې د نامه لاندې ښی لاس په ګس لاس باندې کېښودل (نظام الاسلام (۲٦) صفحه) دا رساله د حضرت د توفیر الحق او تنبیه الضالین سره یو ځای چاپ شوې ده. په زجاجة المصابیح کی دی :-

((عن علقمة بن وائل بن حجر عن ابیه قال رایت رسول الله صلی الله علیه وسلم وضع یمینه علی شماله فی الصلوة تحت السرة رواه ابن ابی شیبة و فی عمدة الرعایة سنده جید و رواته کلهم ثقات کذا قال الحافظ قاسم بن قطلوبغا والشیخ عابد السندی و قال العلامة ابو الطیب المدنی هذا حدیث قوی من حیث السند (زجاجة المصابیح ص ۲۳۲ باب صفة الصلوة جلد اول))

په نور المصابیح ترجمة زجاجة المصابیح کی دی : علقمه بن وائل بن حجر (رض) د خپل پلار وائل نه روایت کړی چې ددۀ پلار وائل ویلی دی چې ما رسول الله (ص) ولید چې په مانځه کی ښی لاس یې چپ لاس باندې نامه تـه لانـدې کېښـودل ، ددی حدیث روایت ابن ابی شیبة کړی دی او په عمدة الرعایة کـی لیکلـی دی چـې ددې حدیث سند جید دی او ددې ټـول راویـان ثقـه (معتمـد) دی، او حـافظ قاسم ابن قطلوبغا او شیخ عابد سندی هم همدا شان ویلي دي او علامه ابو الطیب المدنی ویلي دي چې دا حدیث د سند پـه اعتبـار سره قـوی دی (نـور المصـابیح ترجمـة زجاجة المصابیح ۲۲۲/۲)).

او په زجاجة المصابیح کی دا هم دی : ((عن علی قال مـن السـنة وضـع الکـف علی الکف فی الصلوة تحت السرة)) رواه ابوداؤد و احمد و ابن ابی شـیبة والـدار قطنی و البیهقی (زجاجة المصابیح ۲۳۳/۱ ، ایضاً) یعنی د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دی چې دۀ فرمایلي دي په مانځه کی نامه لاندې یو لاس په بل لاس باندې کېښودل سنت دی ، دا روایت ابو داؤد ، امام احمد ، ابن ابی شیبة ، دارقطنی او بیهقـی کـړی دی ، (نور المصابیح ۲۲۲/۱) او په زجاجة المصابیح کی دا هـم دی : ((عـن ابـراهیم النخعی انه کان یضع یده الیمنی علی یده الیسری تحت السرة ، رواه محمد فی الاثار (زجاجة المصابیح ۲۳۳/۱ باب صفة الصلوة) یعنی د ابراهیم نخعی رحمه الله نه روایت دی چې دۀ به مانځه کی نامه نه لاندې خپل ښی لاس پـه ګـس بانـدې کېښـودو ، دا روایت امام محمد (رح) په الاثار کی کړی دی (نور المصابیح ۲۲۲/۱ دویمـه حصه)

فقط والله اعلم.

ـ د غیر مقلدینو دعوی چې د حنفیانو مونځ نه کېږي ځکه چې دوی سورت فاتحه نه لولی:

(۳۴ سوال) غیر مقلدین دا دعوی کوی چې مقتدی باندې سورت فاتحه ویل لازمی او ضروری دی او بغیر ددینه مونځ نه صحیح کېږي ایا ددوی دا دعوی صحیح ده؟ وضاحت وکړئ مهربانی.

(جواب) د غیر مقلدینو دا دعوی چې په جهری مانځه کی د فاتحې لوستلو نه بغیر د مقتدی مونځ نه کېږي باطل او غلط ده، لکه چې مشهور محدث او فقیه حضرت شیخ موفق الدین ابن قدامه حنبلی ۶۲۰ هـ چې د شیخ عبدالقادر جیلانی ۵۶۱ هـ تکړه شاگرد دی خپل مشهور کتاب المغنی ۶۴/۱ کی لیکي:-

((ما سمعنا احداً من اهل الاسلام یقول اذا جهر الامام بالقراءة فلا تجزئ صلوة من خلفه اذا لم یقرا و قال هذا النبی صلی الله علیه وسلم و اصحابه والتابعون ، و هذا مالک فی اهل الحجاز، و هذا الثوری فی اهل العراق ، و هذا الاوزاعی فی اهل الشام و هذا اللیث فی اهل مصر ما قالوا لرجل صلی خلف الامام و لم یقرا صلاته باطلة (المغنی ص ۵۶۴ ج ۱ مکروهات الصلاة)).

یعنی امام احمد بن حنبل فرمایي چې مونږ په مسلمانانو کی د چا نه هم دا ندی اورېدلی چې دا خبره کړی وی چې امام جهر سره قرات کوی او مقتدی ورپسې قرات نه کوی نو د مقتدی مونځ باطل گرځي لکه چې رسول اکرم (ص) او دوه صحابه کرام (رض) او تابعین ، او اهل حجاز کی امام مالک ، او اهل عراق کی سفیان ثوری او اهل شام کی امام ازاعی او اهل مصر کی امام لیث بن سعد (رح) پشان جلیل القدر محدیثینو کی څوک هم ددی قائل ندی چې چا امام پسې قرات ونه کړ د هغه مونځ باطل دی (فقط والله اعلم).

ـ قرات خلف الامام متعلق تسلی بخش جواب:

(۳۵ سوال) غیر مقلدین قرات خلف فرض گڼي او د بخاری و مسلم روایت ((لا صلوة لمن لم یقرا بفاتحة الکتاب)) وړاندې کولو عوامو ته دا باور ورکوی چې حنفیان د حدیث نه بالکل خلاف کوي ، عوامو کی ځینې خلکو ته شک پیدا شوی او دوی هم دا خبره کوی چې کله د بخاری او مسلم دا روایت دی نو ددی خلاف عمل کول نه دی پکار ، له تاسو څخه درخواست دی چې د حدیثو په رڼا کی تفصیلی جواب ولیکئ.

خاص طور سره د حنفیانو دلائل ذکر کړی او ددی حدیث نه څه جوابونه کوی هغه هم ولیکئ دا به مو ډیره مهربانی وی او مونږ لپاره به د غمی لاربنونی سبب جوړ شي او د عوامو غلط فهمی به هم لرې شي.

جواب ، دا یوه اختلافی او معرکة الاراء مسئله ده ، یواخی د حدیث یوی ټکړی وړاندې کولو سره دعوی نشي ثابتیدی ، ددی متعلق په ټولو روایتونو باندې نظر کولو سره فیصله کول پکار دی ، په ذکر شوی حدیث کی د ((لا صلوة)) نه مراد د منفرد مونځ دی د کوم چې د امام مونځ ته هم شامل دی) مقتدی پدې کی شامل ندی او پدې دعوی چې د لا صلوة نه د مقتدی مونځ مراد ندی د مشهور محدث و مجتهد امام احمد بن حنبل رحمه الله بیان چی ترمذی شریف کی دی د رڼا ورځ پشان واضح ثبوت او دلیل دی ، د ترمذی شریف عبارت دا دی: -

((و اما احمد بن حنبل فقال معنی قول النبی صلی الله علیه وسلم لا صلوة لمن لم یقرا بفاتحة الکتاب اذا کان وحده و احتج بحدیث جابر بن عبدالله حیث قال من صلی رکعة لم یقرا فیها بام القران فلم یصل الا ان یکون وراءالامام قال احمد فهذا رجل من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم تاول قول النبی صلی الله علیه وسلم لا صلوة لمن لم یقرا بفاتحة الکتاب ان هذا اذا کان وحده .... حدثنا اسحق بن موسی الانصاری حدثنا مالک عن ابی نعیم و هب بن کیسان انه سمع جابر بن عبدالله یقول من صی رکعة لم یقرافیها بام القرآن فلم یصل الا ان یکون وراء الامام هذا حدیث حسن صحیح (ترمذی شریف ج ا ص ۴۲ باب ماجاء فی ترک القراءة))

ترجمه: امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمایي چې د نبوی فرمان ((لا صلوة لمن لم یقرا بفاتحة الکتاب)) نه مراد منفرد دی (مقتدی پدی کی شامل نه دی) او امام احمد (رح) پدې قول باندې د حضرت جابر بن عبدالله (رض) حدیث نه استدلال کړی، حضرت جابر (رض) فرمایي : چا چې په یو رکعت کی هم سورت فاتحه ونه لوست هغه مونځ ندی کړی ، مګر چې هغه امام پسې ولاړ وي، امام احمد فرمایي چې دا د رسول الله (ص) صحابی دی چې دهٔ د رسول الله (ص) د مبارک قول ((لا صلوة لمن لم یقرا بفاتحة الکتاب مطلب بیان کړی چې دا حدیث د یواخی مونځ کونکی باره کی دی (ترمذی شریف ۱/۴۲)

د حضرت جابر (رض) دا روایت موقوف دی، امام طحاوی (رح) دا حدیث موضوع هم روایت کړی دی ، په طحاوی شریف کی دی : ((حدثنا بحر بن نصر قال حدثنا

يحيى بن سلام قال حدثنا مالك عن وهب بن كيسان عن جابر بـن عبدالله عـن النبـي صلى الله عليه وسلم انه قال من صلى ركعة فلم يقرا فيها بام القرآن فلـم يصـل الا وراء الامام (طحاوى شريف ص ١٠٧ ج ١ . باب القراءة خلف الامام)

امام ابو داؤد خپل سنن کی د سفيان بن عيينة څخه نقل کړی چې ددی حديث معـنی دا ده ((لمن يصلى وحده)) يعنی دا حديث د هغه چا باره کی دی چې يواځی مـونځ کوي (مقتدی باره کی ندی) په ابو داؤد شريف کی دی:

((حدثنا قتيبة بن سعيد و ابن السراج قال حدثنا سفيان عـن الزهـری عـن محمـود بـن الربيع عن عبادة بن الصامت يبلغ به النبی صلى الله عليه وسلم قـال لا صلوة لمـن لـم يقرا بفاتحة الكتاب فصاعداً قال سفيان لمن يصلى وحده (ابو داؤد شريف ص ١٢٦ ج ١، باب من ترک القراءة فی صلوته)

حنفی مذهب د قرآن ، حديث او د صحابه کرامو او تابعينو له آثـارو نـه ثابـت دی، پـه قرآن مجيد کی دی (و اذا قرئ القرآن ما ستمعوا له و انصتوا لعلكم ترحمون) ترجمـه : او کله چې قرآن پاک لوستل کېږي نو په غور سـره واورئ او چـپ اوسـئ څـو رحـم در باندې وشي (سورة اعراف ٢٠٤ ايت)

رئيس المفسرين حضرت عبدالله بن عباس (رض) او حضرت عبدالله بـن مغفـل (رض) فرمايي چې دا ايت د فرض مانځه باره کی نازله شوی ، په ابن کثير کی دی :

((و قال علی بن طلحة عن ابی عباس فی الاية قوله (و اذا قـرئ القـرآن فاسـتمعوا لـه وانصتوا) يعنی فی الصلوة المفروضة و كذا روی عن عبدالله بن مغفل (تفسير ابن كثير ج ٣ ص ٦٢٣ سوره اعراف)

او په تفسير ابن کثير کی دا هـم دی : ((و کـذا قـال سـفيان الثـوری عـن ابـی هاشـم اسمعيل بن كثير عن مجاهد فی قوله (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا و انصـتوا) قـال فـی الصلوة و كذا رواه غير واحد عن مجاهد الی قوله و كذا قال سعيد بن جبير والضـحاک و ابراهيم النخعی و قتادة والشعبی والسدی و عبدالرحمان بن زيـد بـن اسـلم ان المـراد بذلک فی الصلوة يعنی همدا شان سفيان ثوری له اسمعيل بن کثير او هغه له مجاهد نـه د الله تعالی ددی قول متعلق (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا و انصتوا) روايت کـړی دی چې دا ايت مانځه باره کی دی او ډېرو حضراتو له مجاهد نه همدا شان روايـت کـړی دی . الی قوله او همدا شان سعيد بن جبير ، ضحاک ، ابراهيم نخعی ، قتـاده ، شـعبی ،

سدی او عبدالرحمن بن زيد بن اسلم فرمايلی دی چې لدينه مراد سونخ دی (تفسير ابن كثير ۳ ۶۲۳)

د امام بغوى تفسير معالم التنزيل كې دی :

((روی زيد بن اسلم عن ابيه عن ابی هريرة قال نزلت هذه الاية فی رفع الاصوات و هم خلف رسول الله صلی الله عليه وسلم فی الصلوة . الی قوله . و عن ابن مسعود رضی الله عنه انه سمع ناسا يقرؤن مع الامام فلما انصرف قال اما ان لكم ان تفقهوا (و اذا قری القرآن فاستمعوا له و انصتوا) كما امركم الله ، و هذا قوله الحسن و الزهری و النخعی ان الا ية ففی القراءة فی الصلوة))

يعنی : د حضرت ابو هريره (رض) نه روايت دی چې په مانځه كې رسول الله (ص) پسی د قرآت كولو په وجه د خلكو اواز اوچت شو نو دا ايت نازل شو _ الی قوله _ ابن مسعود (رض) د خلكو نه امام پسی قرآت لوستل واوريدل كله چې مانځه نه فارغ شو نو وی فرمايل ايا اوس ددی وخت ندی راغلی چې تاسو په (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا) باندې پوهه شی ، حسن زهری او نخعی فرمايي چې دا ايت د مانځه د قرآن باره كې دی (تفسير معالم التنزيل مع ابن كثير ۶۲۳/۳) امام احمد بن حنبل (رح) فرمايي : ((اجمع لناس علی ان هذا الاية فی الصلوة)) يعنی ټول خلک پدې متفق دی چې دا ايت كريمه د مانځه باره كې نازل شوی دی ، (المغنی ۶۰۱/۱ قراة الماموم خلف الامام ، مكروهات الصلوة)

امام زيد بن اسلم او ابو الغاليه فرمايي ((كانوا يقرؤن خلف الامام فنزلت (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا لعلكم ترحمون))) يعنی ځينی خلكو امام پسې قرات كولو نو دا ايت نازل شو (و اذا قرئ القرآن الخ (المغنی و الشرح الكبير (۶۰۱) صفحه ، مصری مكروهات الصلوة)

په تفسير ابن كثير كې يو بل روايت دی ((عن بشير بن جابر رضی الله عنه قال صلی ابن مسعود رضی الله عنه فسمع ناساً يقرؤن مع الامام فلما انصرف قال اما آن لكم ان تفقهوا ما آن لكم ان تعقلوا (و اذا قرئ القران فاستمعوا له و انصتوا) كما امركم الله .))

يعنی حضرت بشير بن جابر (رض) فرمايي چې ابن مسعود (رض) خلكو ته مونځ وركړ نو دۀ محسوس كړ چې ځينی خلک امام سره قرات كوي ، د مانځه وروسته هغو خلكو نه وفرمايل ((د الله تعالی حكم دی چې كله قرآن پاک لوستل كېږي نو دا په غور سره واوری او چپ اوسی ، ددې باوجود هم تاسو پدې خبره نه پوهېږی ايا اوس هم ستاسو

د پوهيدو وخت ندی راغلی (تفسير ابن كثير ۳ ۶۲۳ پـه الاختيـار لتعليـل المختـار كـی دی: ((و ان كان ماموناً لا يقرا) لقوله تعالى و اذا قرئ القران فاستمعوا له و انصتوا قال ابن عباس و ابو هريرة رضى الله عنهما و جماعة من المفسرين : نزلـت فـی الصـلوة خاصة حين كانوا يقرؤن خلفه عليه الصلوة والسلام))

يعنی كه چيرته مقتدی وی نو قرات دی نه كوی د الله تعالى ددی قول په وجـه (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا) د حضرت ابـن عبـاس (رض) ابـوهريرة (رض) او د مفسرينو د يوی ډلی قول دا دی چې دا ايت د مانځه باره كی نـازل شـوی كلـه چـې خلكو د رسول الله (ص) پسی قرات كولو (الاختيـار لتعليـل المختـار ۱ ۵۲) د زجاجـة المصابيح ۲۴۱/۱ كی هم ددی مضمون متعدد (ګڼ) روايتونـه نقـل كـړی شـوی دی . پدې تفصيل سره دا خبره مكمل واضحه شوه چې ذكر شوی ايت د مانځه بره كی نازل شوی، لهذا كله چې امام قرات كوی د جهری مونځ وی يا سری) نـو مقتـديانو بانـدی لازم دی چې چپ اوسی او په غور سره واوری ځكه چی د قرآن پاک دوه حكمونه دی يو استعموا (د امام قرات واوری) دا خو جهری مـونځ سـره خـاص دی ، دويـم حكـم انصتوا (د امام د قرات په وخت كی چپ اوسئ) دا جهری او خفيه دواړو مونځونو تـه شامل دی .

علامه ابن همام رحمه الله ليكي : ((و حاصل الاسـتدلال بالايـة ان المطلـوب امـران : الاستماع والسكوت فيعمل بكل منهما و الاول يخص الجهرية ، و الثانی لا فيجـری علـی اطلاقه فيجب السكوت عند القراءة مطلقاً ، و هذا بناء على ان ورود الاية فی القراءة فی الصلوة (فتح القدير مع عنايه ج ۱ ص ۳۴۲ فصل فی القراءة))

ـ نبوی حديثونه

(۱) ((عن ابی موسی الاشعری برواية جرير عن سليمان التيمـی ان رسـول الله صـلی الله عليه وسلم خطبنا فبين لنا سنتنا و علمنا صلوتنا فقال اذا صليتم فاقيموا صـفوفكم ثـم ليؤ مكم احدكم فاذا كبر فكبروا و اذا قرا فانصتوا و اذا قـال غيـر المغضـوب علـيهم و لا الضآلين فقولوا آمين الخ. (مسلم شريف ص ۱۷۴ ج ۱ ، باب التشهد فی الصلوة)

حضرت ابو موسی اشعری (رض) فرمايي چې د الله رسول (ص) خطبه وركړه مونږ تـه يې سنت وښودل او د مونځ كولو طريقه يې راته ښانولو او وی فرمائل : كله چې مـونځ كوئ نو اول صفونه برابر كړی او بيا تاسو كی يو تن امام شئ كله چې امام تكبير ووايی

نو تاسو هم تکبیر ووایی او کله چې هغه قرات کوی نو تاسو چپ شئ او کله چې هغه غیر المغضوب علیهم ووایی نو تاسو آمین ووایی

د امام مسلم رحمه الله یو شاګرد سوال وکړ چې پدې حدیث کی ((اذا قرئ فانصتوا)) اضافه صحیح ده ؟ دا اضافه سلیمان تیمی کړی ده د نورو په روایت کی دا جمله نشته . خو امام مسلم جواب ورکړ ((ترید احفظ من سلیمان ؟)) ایا ته د سلیمان نه اوچت د حدیث حافظ غواړی؟ یعنی هغه کامل الحفظ تام الضبط دی ، ددی تفرد نقصانی ندی (مسلم شریف ۱/۱۷۴)

حقیقت دا دی چې د سلیمان تیمی متابعت او موافقت کونکی نور حفاظ او ثقات موجود دی ، لکه چې مولانا ظفر احمد تهانوی رحمه الله فرمایي ((په صحیح ابو عوانه کی دا حدیث د عبدالله بن رشید د ابو عبید (مجاعه بن زبیر عتکی) نه ده له قتاده نه او ده له یونس بن جبیر نه او دهٔ له حطان بن عبدالله رقاشی نه او ده له ابوموسی اشعری (رض) نه روایت کړی دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : کله چې امام قرات کوی نو تاسو چپ اوسی او کله چې غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ووایی نو تاسو آمین ووایی ، پدې کی د سلیمان تیمی متابعت ابو عبیده کړی ده هم د قتاده نه د سلیمان تیمی پشان ((و اذا قرا الامام فانصتوا)) روایت کړی دی او ابو عبیده ثقه دی، په النساب سمعانی کی عبدالله بن رشید او ابو عبید دواړو ته مستقیم الحدیث ویلی دی ، دار قطنی هم خپل سنن کی دا حدیث نقل کړی دی ، ددی په سند کی عمر بن عامل او سعید بن عروبة له قتاده نه د سلیمان تیمی پشان ((و اذا قرا فانصتوا)) روایت کړی دی ، عمر بن عامر د امام مسلم له روایانو څخه دی همدا شان ددهٔ شاګرد سالم بن نوح هم د امام مسلم له راویانو څخه دی ، امام مسلم ، ابن خزیمه او ابن حبان خپل صحیح کی له دهٔ څخه روایت کړی دی ، نو د ځینو محدثینو دا وینا چې د قتاده په شاګردانو کی یواځی سلیمان تیمی پدې حدیث کی ((و اذا قرا الامام فانصتوا)) زیاد کړی دی . غلطه ده ، د قتاده دری شاګردانو کوم چې ثقه دی ، د سلیمان تیمی موافقت کړی دی (فاتحة الکلام فی القراة خلف الامام (۲۴/۲۵) صفحی.

(۲) نسایي شریف کی دي : ((تاویل قوله عز و جل و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا لعلکم ترحمون ، عن ابی صالح بن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انما جعل الامام لیؤتم به فاذا کبر فکبروا اذا قرا فانصتوا و اذا قال سمع الله لمن

حمده فقولوا اللهم ربنا لک الحمد (باب تاویل و اذا قری القرآن نسائی شریف ص ۹۳ ج ۱ ، باب القراءة فی الصلوة مشکوة شریف ص ۸۱))
یعنی د ارشاد خداوندی (اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا لعلکم ترحمون) تاویل د حضرت ابو هریرة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) ارشاد فرمایلی دی : امام دې لپاره جوړ شوی چې ددهٔ اتباع (اقتدا) وکړی شی نو کله چې هغه تکبیر ووایی تاسو هم تکبیر ووایئ او کله چې هغه قراءت کوی نو تاسو چپ اوسئ او کله چې سمع الله لمن حمده ووایی نو تاسو ربنا لک الحمد ووایی .
(۳) ((له ابی هریرة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) ارشاد فرمایلی دی : امام دی لپاره جوړ کړی شوی چې دده اقتدا وکړی شی نو کله چې هغه تکبر ووایی نو تاسو هم تکبیر ووایی او کله چې هغه قرات کوي نو تاسو چپ اوسئ او کله چې هغه غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ووایی نو تاسو آمین ووایئ او کله چې رکوع کوی تاسو هم رکوع کوئ او کله چې هغه سمع الله لمن حمده ووایی نو تاسو اللهم ربنا لک الحمد ووایی .
د نسائی او ابن ماجه ذکر شوی د ابو هریرة (رض) حدیث صحیح دی ، د امام مسلم رحمه الله یو شاګرد ابوبکر د امام مسلم نه د حضرت ابو هریرة (رض) د حدیث باره کی تپوس وکړ نو هغه جواب وفرمائل چې دا زما په نزد باندې صحیح دی ، په مسلم شریف کی دی ((فقال له ابوبکر فحدیث ابی هریرة فقال هو صحیح یعنی و اذا قرا فانصتوا فقال هو عندی صحیح (مسلم شریف ۱۷۴/۱ باب التشهد فی الصلوة)
له دی حدیث نه صفا ثابتېږي چې مقتدی ته امام پسې څه لوستل ندی پکار، لیکن چپ پاتی کېدل پکار دی ، او همدا راز ذکر شوی حدیث نه د قرآن مجید ایت (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا) تشریح هم کېږي چې ددی تعلق مانځه سره دی .
(۴) د ترمذی حدیث کی دی : ((حدثنا اسحق بن موسی الانصاری نامعن نا مالک عن ابی نعیم و هب بن کیسان انه سمع جابر بن عبدالله یقول من صلی رکعة لم یقرا فیها بام القرآن فلم یصل الا ان یکون وراء الامام هذا حدیث حسن صحیح . (ترمذی شریف ج ۱ ص ۴۲ باب ماجاء فی ترک القراءة خلف الامام))
حضرت جابر (رض) فرمایي : چا چې کوم یو رکعت بغیر د سورت فاتحې نه ادا کړ هغه مونځ ندی کړی مګر که امام پسې ولاړ وي ، امام ترمذی فرمایی دا حدیث حسن او صحیح دی.

(۵) امام طحاوی رحمه الله دا حدیث په معانی الآثار کی مرفوعاً روایت کړی دی : ((حدثنا بحر بن نصر قال حدثنا یحیی بن سلام قال ثنا مالک عن و هب بـن کیسـان عـن جابر بن عبد الله عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال من صلی رکعة فلم یقرا فیها بام القران فلم یصل الاوراء الامام .

حضرت جابر (رض) د نبی اکرم (ص) نه روایت کوی چې رسول الله (ص) فرمـایلي دي : چا چې کوم رکعت بغیر د سورت فاتحی نه ادا کړ نو هغه مونځ ندی کړی مگر که امام پسـی ولاړ وي ، (طحـاوی شـریف ۱۰۷/۱ بـاب القـراة خلـف الامـام) ددی دواړو حدیثو څخه خاص طور سره دا ثابتیږي چې مقتدی باندې امام پسې سورت فاتحه ویل واجب ندی.

(٦) په موطاء امام مالک کی دی : ((مالک عن نافع عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه کان اذا سئل هل یقرء احد خلف الامام قال اذا صلی احـد کـم خلـف الامـام فحسبه قراءة الامام و اذا صلی وحده فلیقرا قال و کان عبد الله بن عمر رضـی الله عنـه لا یقـرا خلف الامام (موطا امام مالک ص ۲۹))

نافع فرمایی کله چې د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه سوال کیـدو چـې ایـا امـام پسې څوک قرات کولی شي ؟ نو دهٔ به فرمائل کله چې تاسو کی څوک امام پسـې مـونځ کوي نو د امام قرات ورته کافی دی لکه څنګه چې د امام ستره ټولو مقتدیانو ته کـافی کیږي او کله چې ځانته مونځ کوی نو قرات دی وکړی او پخپله عبد الله بن عمر (رض) به هم امام پسې قرات نه کولو ،

په زجاجة المصابیح کی دی ((و قال العینی و کان ابن عمر رضی الله عنه لا یقرا خلف الامام و کان اعظم الناس اقتداء رسول الله (ص) انتهی)) علامه عینـی فرمـایي : ابـن عمر (رض) به امام پسې قرات نه کولو او دې د رسول الله (ص) په اقتدا کـی د ټولـو نه زیات او وړاندې ؤ (زجاجة المصابیح ۲۵۱/۱ باب القراة فی الصلوة).

(۷) ابن ماجه کی دی ((حدثنا علی بن معبد ....عـن جـابر رضـی الله عنـه قـال قـال رسول الله (ص) من کان له امام فقراة الامام له قراة (ابن ماجه (٦١) صفحه بـاب اذا قرا الامام فانتصوا) د حضرت جابر نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمـایلی دی د چا چې امام وی نو د امام قرات د هغه قرات هم دی (یعنی د امام قـرات ورتـه کـافی دی).

(۸) په مسند امام اعظم کې دی : ((ابو حنیفه عن موسی عن عبد الله بـن شـداد عـن جابر بن عبدالله عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من کان له امام فقراة الامام له قرائة)) (مسند امام اعظم (۱۲۳) صفحه مترجم) یعنی د جابر بن عبـد الله نـه روایـت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : د چا چې امام وي (یعنی جماعت سره مـونځ کوی) نو د امام قرات د هغه قرائت هم دی.

(۹) په موطاء امام محمد کې دی : ((قال محمـد اخبرنـا ابـو حنیفـة قـال حـدثنا ابـو الحسن موسی بن ابی عائشة عن عبد الله بن شداد بن الهاد عن جابر بن عبـد الله عـن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال من صلی خلف الامام فان قـراءة الامـام لـه قـراءة (موطا امام محمد ص ۷۷ باب قراءة فی الصلوة خلف الامام))

امام محمد فرمایی : مونږ ته امام ابو حنیفه د ابو الحسن موسی بن ابی عائشة نـه او دهٔ د عبد الله بن شداد بن الهاد او دهٔ د جابر بن عبد الله (ص) نه روایت کړی دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی کوم سړی چې امام پسی مونځ کـوی نـو د امـام قرائـت هغه لپاره قرائت دی.

(۱۰) زجاجة المصابیح کې دی : ((عن جابر بن عبـد الله عـن النبـی صـلی الله علیـه وسلم انه قال من صلی خلف الامام فان قراءة الامام له قرءة. رواه محمد، والدار قطنـی و البیهقی عن امامنا ابی حنیفة وهو احسن طرقه حکم علیه ابن الهمام بآنه صحیح علـی شرط الشیخین و قال العینی هو حدیث صحیح امام ابو حنیفة فابو حنیفـة و موسـی بـن عائشة الکوفی من الثقات الاثبات من رجال الصحیحین و عبد الله بـن شـداد مـن کبـار الشامین و ثقاتهم وهـو حـدیث صـحیح ، انتهـی ، (بـاب القـراءة فـی الصـلوة زجاجـة المصابیح ص ۲۴۸ ، ص ۲۴۹)).

حضرت جابر (رض) د نبی اکرم (ص) نه روایت کـوی چـې فرمـایلی یـې دي : کـوم سړی چې امام پسی مونځ کوی نو د امام قرائت د هغه هم قرائت دی ، دا حدیث امام محمد ، دار قطنی او بیهقی زمونږ د امـام ابـو حنیفـه (رح) نـه روایـت کـړی او ددی حدیث سند د ټولو نه احسن دی او پدې هکله علامه ابن الهمام فرمایی چې دا حدیث صحیح دی د امام بخاری او امام مسلم د شرط موافق دی او علامه عینی فرمـایی چـې دا حدیث صحیح دی ، ابو حنیفه خو ابو حنیفه دی ، ددی به څه وایی ، او موسی بن عائشة نه یواځی ثقه او معتبر دی بلکې د بخاری او مسلم له راویـانو څخـه دی او عبـد

الله بن شداد د شام لوی محدث او ثقه دی او ددی سند مذکوره تحقیق نه ثابت شو چې دا حدیث صحیح دی

(۱۱) په موطاء امام محمد کی یو بل روایت دی : ((قال محمد اخبرنا اسرائیل حدثنی موسی بن ابی عائشة عن عبد الله بن شداد بن الهاد قال ام رسول الله صلی الله علیه وسلم فی العصر قال فقرا رجل خلف فغمزه الذی یلیه فلما ان صلی قال لم غمزتنی قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم قدامک فکرهت ان تقرا خلفه فسمعه النبی صلی الله علیه وسلم قال من کان له امام فان قراته له قراة (مؤطا امام محمد ص ۷۸ ، ص ۷۹ باب القراة فی الصلوة خلف الامام)

یعنی د عبد الله بن شداد نه روایت دی چې رسول الله (ص) د مازدیگر مونځ ورکولو یو سړی ورپسې قرائت وکړ د هغه خواته سړی په لاس لګولو سره د چپ پاتې کېدو اشاره ورته وکړه ، د مانځه نه وروسته هغه سړی وویل چې ماته دی د چپ پاتې کېدو اشاره ولې راکړه؟ هغه وویل : رسول الله (ص) درته امامت کوی پدې وجه دا راته نا مناسب ښکاره شو چې رسول الله (ص) پسی قرائت وکړی ، ددی خبرو په اوریدو سره رسول الله (ص) ارشاد وفرمایل: کوم سړی چې امام وی نو بیشکه د امام قرائت د هغه (مقتدی) قرائت دی .

(۱۲) په کتاب الآثار کی دی : ((محمد قال اخبرنا ابو حنیفة قال حدثنا ابو الحسن موسی بن ابی عائشة عن عبد الله بن شداد بن الهاد عن جابر بن عبد الله الانصاری قال صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم و رجل یقرا خلفه فجعل رجل من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم ینهاه عن القراة فی الصلوة فقال اتنهانی عن القراءة خلف نبی صلی الله علیه وسلم فتنازعا حتی ذکر ذلک للنبی صلی الله علیه وسلم فقال النبی صلی الله علیه وسلم من صلی خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة قال محمد و به ناخذ وهو قول ابی حنیفة (کتاب الآثار ص ۲۳ باب القراة خلف الامام)

د حضرت جابر بن عبد الله انصاری (رض) نه روایت دی ، دې فرمایی : رسول الله (ص) مونځ ورکړ او یو سړی ورپسی قرائت کولو نو د نبی اکرم یو صحابی هغه د قرائت کولو نه منع کولو هغه ورته وویل : ایا ته ما رسول الله (ص) پسی د قرائت کولو نه منع کوې؟ نو پدې وجه دواړو تر منځ نزاع او لانجه وشوه تر دې چې رسول الله (ص) نه ددی تذکره وشوه نو رسول الله (ص) ارشاد وفرمایل : کوم سړی چې امام پسی مونځ

کوی نو د امام قرائت هغه لپاره هم قرائت دی . امام محمد فرمایي : په همدې باندې زمونږ عمل دی او همدا د امام ابو حنیفه قول دی

(۱۳) زجاجة المصابیح کی دی : ((عن علی رضی الله عنه قال سئال رجل النبی صلی الله علیه وسلم اقرا خلف الامام او انصت قال لا بل انصت فانه یکفیک رواه البیهقی . (زجاجة المصابیح ص ۲۵۰ ج ۱ باب القراة فی الصلوة)).

د حضرت علی نه روایت دی چې یو سړی د رسول الله (ص) نه تپوس وکړ چې زه امام پسې قرائت وکړم او یا چپ پاتی شم ؟ رسول الله (ص) وفرمائل : قرائت مه کوه بلکې چپ اوسه ځکه چې د امام قرائت تاته کافي دی ، د حضرت ابن عباس (ر ض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) وفرمایل : تا لپاره د امام قرائت کافی دی خفیه مونځ وی او که جهری وی .

(۱۴) زجاجة المصابیح کی دی : ((عن ابن عباس (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم و تکفیک قراة الامام خافت او جهر رواه الدار قطنی (زجاجة المصابیح ا ص ۲۵۰ باب القرائة فی الصلوة)).

(۱۵) په مسلم شریف کی دی : ((حدثنا قتیبة بن سعید قال نا یعقوب ابن عبد الرحمن عن سهیل عن ابیه عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اذا قال القاری غیر المغضوب علیهم ولا الضآلین فقال من خلفه امین فوافق قوله قول اهل السماء غفر له ما تقدم من ذنبه (مسلم شریف ج ۱ ص ۱۷۲ باب التسمیع و التحمید والتامین)).

د حضرت ابو هریرة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی کله چې قاری غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ووایی نو څوک چې ده پسې (یعنی مقتدیان) دی هغوی آمین ووایی نو د چا آمین چې د ملائکو له آمین سره موافق شو د هغه مخکنی ګناهونه معاف کیږي.

دا حدیث د با جماعت مونځ باره کی دی او پدې حدیث کی قرآن لوستونکو یواځی امام ته ویل شوی دی لدینه ثابتیږي چې قرائت کول یواځی د امام ذمه واری ده که په مقتدی باندې هم قرائت لازم وای نو د امام تخصیص به نه کیدو او ددی حدیث نه دا هم معلوم شو چې سورت فاتحه به یواځی امام وایی پدې وجه ارشاد فرمایلی چې کله قرآن لوستونکی یعنی امام غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ووایی نو مقتدی به آمین وایي.

(١٦) په بخاری شریف کی دی : ((حدثنا علی بن عبـد الله قـال حـدثنا سـفیان قـال الزهری حدثنا سعید بن المسیب عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قـال اذا امن القاری فامنوا فان الملائکة تؤمن فمن وافق تامینه تامین الملئکة غفر له ما تقدم من ذنبه (بخاری شریف ج ۲ ص ۹۴۷ کتاب الدعوات . باب التامین).

د ابو هریرة (رض) نه روایت د ی چې رسول اکرم (ص) فرمایلی دی : کله چې قاری (یعنی امام) امین ووایی نو تاسو هم آمین ووایی ځکه چې ملائکیهم آمین وایي نو د چا آمین چې د ملائکو له آمین سره موافق شو نو د هغه تیر شوی ګناهونه معـاف کـولی شی . پدې حدیث کیهم د قاری نه امام مراد دی نو معلوم شـو چـې قرائـت یـواځی امام کوی او مقتدی چپ پاتې کیږي ، که مقتدی باندې هم قرائت وای نو بیا به داسې فرمائل : کله چې تاسو ولا الضالین ووایی نو بیا وروسته آمین وایی ،

لدینه علاوه د ګنو جلیل القدر صحابه کرامو او تابعینو اقوال د احنافو تائید کوی یو څه اقوال دلته وړاندی کیږي :

ــ د صحابه کرامو او تابعینو آثار :

په مصنف عبد الرزاق کی دی : ((عبدالرزاق عن معمر قـال .... و اخبرنـی موسـی بـن عقبة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم و ابو بکر و عمر و عثمان کانوا ینهون عن القراءة خلف الامام (مصنف عبد الرزاق ص ۱۳۹ ج ۲) (باب القراءة خلف الامام)).

موسی بن عقبه بیان کوی چې رسول الله (ص) ابو بکر ، عمر او عثمان رضی الله عهنم به امام پسې د قرائت کولو نه منع کولو (زجاجة المصابیح ۲۵۰/۱)

په مصنف عبد الرزاق کی دی : ((عبد الرزاق عن منصور عن ابی وائل قال : جاء رجل الی عبد الله فقال : یا ابا عبد الرحمن ! اقرا خلف الامام ؟ قال انصت للقـرآن فـان فـی الصلاة شغلاً و سیکفیک ذلک الامام (باب القراة خلف الامام مصنف عبد الرزاق ص ۱۲۸ ج ۲) (موطا امام محمد ص ۷۸)).

یو سړی بیان کوی چې حضرت عمر (رض) موږ نه وعده واخسته چې امام پسې قرئـت ونه کړو.

ــ د حضرت علی (رض) آثار :

طحاوی شریف کی دی : ((جدثنا فهد ......قال سمعت ابی لیلی قال قـال علـی رضـی الله عنه من قرا خلف الامام فلیس علی الفطرة (طحاوی شریف ۱۰۷)حضرت علی (رض)

فرمایي ځوک چې امام پسی قرأت کوی هغه په فطرت باندی نه دی (زجاجة المصابیح ۱\۲۵۱)

په مصنف عبدالرزاق کی دی: ((عبدالرزاق عن الحسن ... عن عبدالله بن ابی لیلی، قال سمعت علیاً یقول: من قرا خلف الامام فقد اخطا الفطرة)) د حضرت علی (رض) ارشاد دی کوم سړی چې امام پسې قرائت کوی هغه د فطرت نه د خلاف کوي مصنف عبدالرزاق باب القراة خلف الامام ۱۳۷/۱)

ـ د حضرت عبد الله بن مسعود (رض) آثار:

په مصنف عبدالرزاق کی دی: ((عبد الرزاق عن منصور عن ابی وائل قال. جاء رجل الی عبد الله فقال: یا ابا عبدالرحمن! اقرا خلف الامام ؟ قال انصت للقرآن فان فی الصلاة شغلاً و سیکفیک ذلک الامام (باب القراة خلف الامام مصنف عبدالرزاق ص ۱۳۸ ج ۲) (موطا امام محمد ص ۷۸)

د ابو وائل نه روایت دی چې یو سړی عبدالله بن مسعود (رض) په خدمت کی حاضر شو او وی ویل: زه امام پسی قرائت وکړم؟ وی فرمائل: قرآن لپاره چپ اوسه ځکه چې مانځه کی مشغولتیا ده (یعنی د قرآن په اوامرو) نواهی، او وعده او وعید باندې غور کول) او قرآت لپاره تاته امام کافی دی.

په موطاء امام محمد کی دی: ((قال محمد اخبرنا محمد بن ابان بن صالح القرشی عن حماد عن ابراهیم نخعی عن علقمة بن قیس ان عبدالله بن مسعود کان لا یقرا خلف الامام فیما یجهر فیه و فیما یخافت فیه فی الاولین و لا فی الا خریین و اذا صلی وحده قرافی الاولیین بفاتحة الکتاب و سورة و لم یقرافی الا خریین شیئا (باب القراة خلف الامام) موطا امام محمد ص ۷۸).

علقمه بن قیس نه روایت دی چې عبدالله بن مسعود (رض) به امام پسی قرائت نه کولو نه په جهری مونځ کی او نه خفیه مونځ کی نه اولنو دوه رکعتو کی او نه په روستنی دوه رکعتو کی، او کله چې به خانته مونځ کولو نو اولنو دوه رکعتو کی سورت فاتحه او بل کوم سورت لوستلو او په وروستنی دوه رکعتو کی به یې هېڅ نه لوستل.

ـ د حضرت عبد الله بن عباس (رض) اثر:

((عن ابی حمزة قال قلت لابن عباس اقرا و الامام بین یدی فقال: لا)) طحاوی شریف ۱۰۸/۱ باب القراة خلف الامام) د ابو حمزه نه روایت دی چې فرمایی: ما د ابن عباس

(رض) نه تپوس وکړ چې امام سی مخکی ولاړ وی او قرائت کوی پدې وخت کی زه قرائت وکړم؟ هغه وفرمایل : نه (قرائت مه کوه).

د حضرت ابن (رض) اثر:

(۱) عبدالرزاق عن هشام بن حسان عن انس بن سیرین قال سالت ابن عمر (رض) اقرا مع الامام؟ فقال انک لضخم البطن یکفیک قراة الامام)) (مصنف عبدالرزاق ۱ * ۱۴۰)
ابن سیرین وایي ما د ابن عمر (رض) نه تپوس وکړ چی امام پسې قرائت وکړم ؟ وی فرمایل ستا ګیډه لویه ده تاته د امام قرائت کافی دی.
(۲) عبدالرزاق قال اخبرنا داؤد بن قیس عن زید بن اسلم عن ابن عمر (رض کان ینهی عن القراة خلف الامام (مصنف عبد الرزاق ۱۴۰/۲ باب القراة خلف الامام) د زید بن اسلم نه روایت دی چې ابن عمر (رض) به امام پسې قرائت نه منع کولو.
(۳) په موطاء امام محمد کی دی : ((قال محمد اخبرنا عبید الله بن عمر بن عاصم بن عمر بن الخطاب عن نافع عن ابن عمر قال من صلی خلف الامام کفته قراته (مؤطا امام محمد ص ۷۶ ایضاً).
د نافع نه روایت دی چې ابن عمر (رض) فرمایلی دی کوم سړی چې امام پسی مونځ کوی هغه لپاره د امام قرائت کافی دی.
(۴) ((قال محمد اخبرنا عبدالرحمن بن عبد الله المسعودی اخبرنی انس بن سیرین عن ابن عمر رضی الله عنه انه سائل عن القراة خلف الامام قال تکفیک قراة الامام (موطا امام محد ص ۷۷ ایضاً)
دحضرت ابن عمر (رض) نه د قرائت خلف الامام باره کی تپوس وشو نو دی وفرمایل : تا لپاره د امام قرائت کافی دی.

د حضرت زید بن ثابت (رض) اثر:

((عن عطاء بن یسار انه سال زیداً عن القراءة مع الامام فقال لا قراءة مع الامام فی شئ رواه مسلم فی باب سجود التلاوة (زجاجة المصابیح ج ا ص ۲۵۱ باب القراة فی الصلوة مسلم شریف ص ۲۱۵ ج ا)).
د عطاء بن یسار نه روایت دی چې دوی د زید بن ثابت نه امام سره د قرائت کولو باره کی تپوس وکړ نو هغه ورته وفرمایل : امام سره په هیڅ حالت کی قرائت نشته ، دا روایت امام مسلم خپل صحیح باب سجود التلاوة کی نقل کړی دی.

په مصنف عبد الرزاق کی دی . ((عبدالرزاق عن الثوری عن ابن ذکو ان عن زید ابـن ثابت و ابن عمر کانا لا یقرآن خلف الامام)) (مصنف عبد الرزاق ۱ ۱۴۰).
امام ثوری نه ابن ذکوان نه روایت کوی چې زید بن ثابت او ابـن عمـر (رض) دواړه امام پسی قرائت نه کولو ،
په طحاوی شریف کی دی : ((عن عطاء بن یسار عن زید بن ثابت سـمعه یقـول لا تقـرا خلف الامام فی شیئ من الصلوات)) (طحاوی شریف ۱ ،۱۰۸ باب القراة خلف الامام).
عطاء بن یسار د زید بن ثابت نه دا اوریدلی چې امام پسی هېڅ یو مانځه کی قرائت مه کوه.

(د حضرت جابر (رض) اثر :

((عن جابر قال لا یقرء خلف الامام لا ان جهر و لا ان خافت)) رواه ابن ابی شـیبة فـی مصنفه ، (زجاجة المصابیح باب القراة فی الصلوة ۲۵۱/۱)
حضرت جابر (رض) فرمایي : امام پسی دی قرائت نشی کولی نه جهـری مانځـه او نـه خفیه مانځه کی ((عن عبید الله بن مقسم انه سال عبد الله بن عمـر و زیـد بـن ثابـت و جابر بن عبد الله فقالوا لا تقرؤا خلف الامام فی شیئ مـن الصـلوة)) (طحـاوی شـریف ۱۰۷/۱) یعنی : عبید الله بن مقسم د عبدالله بن عمر ، زید بن ثابت او جابر بن عبد الله (رض) (قرائت خلف الامام باره کی) تپوس وکړ ، درې واړو حضراتو وفرمایل چې امام پسی په هیڅ یو مانځهٔ کی قرائت مه کوئ.
((عبدالرزاق عن داؤد بن قیس عن عبید الله بن مقسم قال : سـئلت جـابر بـن عبـد الله اتقرا خلف الامام فی الظهر والعصر شیئاً ؟ فقال : لا)) (مصنف عبد الرزاق ۱۴۱/۲) بـاب القراة خلف الامام) عبید الله بن مقسم فرمایی چې ما د جابر بن عبد الله نه تپوس وکـړ چې تاسو ماسپښین او مازدیګر کې امام پسی قرائت کوی ، هغه وفرمایل : نه.

ـــ د علقمه بن قیس اثر :

((قال محمد اخبرنا بکیر بن عامر حدثنا ابراهیم النخعی عن علقمة بـن قـیس قـال لان اعض علی جمرة احب الی من ان اقرء خلف الامام (مؤطا امام محمد ص ۷۸) (بـاب القراءة فی الصلوة خلف الامام).

يعنی امام ابو حنيفه (رح) له حماد او ده له ابراهيم نخعی نه روايت كـړی دی چـې علقمه بن قيس كله هم امام پسی قرائت نه دی كړی نه جهری مانځه كـی او نـه خفيـه مانځه كی نه يې سورت فاتحه لوستی او نه كوم بل سورت.

ـ د محمد بن سيرين اثر :

((حدثنا التقض عن محمد قال لا اعلم القراة خلف الامام من السنة)) (مصنف ابن ابی شيبة ۱ ۳۷۷ من كره القراة خلف الامام) يعنی د محمد بن سيرين نه روايت دی فرمايی : زهٔ امام پسی قرائت كول مسنون نه ګنم .

ـ د سويد بن غفله اثر :

حدثنا لثقفی عن زهير عن الوليد بن قيس قال سالت سويد بن غفلة اقرا خلف الامام فی الظهر والعصر فقال لا)) (مصنف ابن ابی شيبة ۳۷۷/۱ من كره القراة خلف الامام) يعنی فضل له زهير او دهٔ له وليد بن قيس روايت كړی دوی فرمايلی چی ما د سويد بن غفلـه نه (چی د لوی درجی تابعی او ځينو ورته صحابی هم ويلي دي) تپوس وكـړ چـې زه ماسپښين او مازديګر كی امام پسی قرائت وكړم ، هغه وفرمايل : نه .

ـ د ابراهيم نخعی اثر :

قال محمد اخبرنا اسرائيل بن يونس حدثنا منصور عـن ابـراهيم قـال ان اول مـن قـرا خلف الامام رجل اتهم (مؤطا امام محمد (۷۹) صفحه باب القراة خلف الامام) منصـور د ابراهيم نخعی نه روايت كوی : چې كوم امام پسی د ټولو نه مخكی قرائت كړی هغه په دين كي متهم ؤ .

مولانا ظفر احمد تهانوی ليکي : ف :- ابراهيم نخعی د كـوفی لـه فقهـاؤ څخـه دی پـه ظاهره داسی معلوميږي چې په كوفه كی د ټولو نـه وړانـدی كـوم سـړی قـرات خلـف الامام شروع كړی هغه متهم ؤ كيدی شي چې څوک خارجی يا قدری وی لدينه وړاندي د اهل كوفه ؤ عمل د عبد الله بن مسعود (رض) موافق ؤ چی دهٔ امام پسی قرائـت نـه كولو ، د ابراهيم نخعی دا مطلب ندی چی په مكـه او حجـاز كـی هـم قرائـت خلـف الامام كونكی مبتدع يا متهم ؤ (فاتحة الكلام فی القراة خلف الامام (۴۱، ۴۲) .

لدينه علاوه نور روايتونه هم شته چی مونږه مصلحتاً پريښی دی .

زجاجة المصابيح كی دی : ((قال الشيخ ابـن الهمـام وغيـره ان المـامور بـه اثنـان الا ستماع و الانصات فا الاول فی الجهريـة والثـانی فـی السرية فـالمعنی اذ قـرئ القـرآن

فاستمعوا له ان جهرية و انصتوا و اسكتوا ان اسر به انتهى و به اخذ امامنا ابو حنيفه و اصحابه و قال به جابر بن عبد الله و زيد بن ثابت و على بن ابى طالب . و عمر بن الخطاب و عبد الله بن مسعود على ما هو الا رجح فى الرواية عنهما . و سفيان الثورى و سفيان بن عيينة و ابن ابى ليلى والحسن بن صالح بن حيى و ابراهيم النخعى و اصحاب ابن مسعود وغير هم من مشاهير الصحابة والتابعين كذا ذكره ابن عبدالبرفى الا ستذكار والتمهيد و قال العينى و قد روى منع القراة عن ثمانين نفرا من كبار الصحابة منهم المرتضى و العبادلة الثلاثة و اساميهم عند اهل الحديث و قيل تجاوز عدد من افتى فى ذلك الزمان عن الثمانين فكان اتفاقهم بمنزلة الا جماع و ذكر الشيخ الامام عبد الله بن يعقوب الحارثى السبذمو نى فى كتاب كشف الا سرار عن عبد الله بن زيد بد اسلم عن ابيه قال عشرة من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ينهون عن القراءة خلف الامام اشد النهى ابوبكر الصديق و عمر بن الخطاب و عثمان بن عفان و على بن ابى طالب و عبد الرحمن بن عوف و سعد بن ابى وقاص و عبد الله بن مسعود و زيد بن ثابت و عبد الله بن عمرو عبد الله بن عباس رضى الله عنهم الخ (باب القراة فى الصلاة زجاجة المصابيح ص ۲۴۲ ج ۱)).

ترجمه : شيخ ابن همام او نور فقهاء فرمايي: مانځه كى مقتدى ته د قرائت باره كى دوه حكمونه دى يو استماع يعنى اوريدل او دويم حكم انصات يعنى چپ اوسيدل ، اوسنى حكم (يعنى استماع) جهرى مونځونو سره متعلق دى او دويم حكم (يعنى انصات) خفيه مونځونو سره متعلق دى نو د ايت معنى دا ده چې كله قرآن پاک لوستل كېږي نو ښه په غور سره واورئ كه چيرته اوچت آواز سره لولى ، او چپ اوسئ كه چيرته په ورو لولى ، خمونږه امام ابو حنيفه او ددهٔ شاګردانو همدا اختيار كړى دى چې مقتدى يا په غور سره واورى يا چپ پاتى شى او پخپله قرائت خلف (الا مام ونه كړى) او د حضرت جابر بن عبد الله ، زيد بن ثابت او د حضرت على بن ابى طالب (رض) هم همدا قول دى او د حضرعمر بن خطاب له حضرت عبد الله بن مسعود (رض) نه راجح روايت هم همدا قول دى ، او د سفيان ثورى ، سفيان بن عيينة ابن ابى ليلى ، حسن ابن صالح بن يحيى ، ابراهيم نخعى او د عبد الله بن مسعود (رض) د ټولو شاګردانو او ددوى نه علاوه چې كوم مشهور صحابه كرام او تابعين دى دوى ټول د قرائت خلف الامام د ممانعت قائل دى ، ابن عبد البر رحمه الله په په استذكار او تمهيد كى همدا شان بيان كړى دى ، علامه عينى رحمه الله فرمايى : د قرائت خلف

الامام ممانعت د (۸۰) جليل القدر صحابه كرامو نه نقل دى چې پدوى كى حضرت علي مرتضى ، عبادله ثلاثة يعني عبد الله بن مسعود ، عبد الله بن عمر او عبد الله بن عباس رضى الله عنهم دى او ددى (۸۰) صحابه كرامو نومونه محدثينو سره محفوظ دى ، او نقل دى چې د قرائت خلف الامام د ممانعت په باره كى هغه وخت د فتوى وركونكو تعداد له (۸۰) نه بره ؤ او ددى ټولو حضراتو د قرائت خلف الامام په ممانعت باندې متفق كيدل د اجماع پشان دى او شيخ امام عبد الله بن يعقوب حارثي السبذموني په كشف الاسرار كتاب كى د عبد الله ابن زيد ابن اسلم (رض) نه نقل كړى چې دى د خپل پلار (زيد بن اسلم (رض) نه روايت كوى او ده (يعني زيد بن اسلم) فرمايى چې د رسول الله (ص) په صحابه كرامو كى لس صحابه كرامو به د قرائت خلف الامام څخه ډېر سختي سره منع كولو او هغه لس صحابه كرام دا دى : - حضرت ابو بكر صديق ، حضرت عمر بن الخطاب ، حضرت عثمان ، حضرت على بن ابى طالب حضرت عبدالرحمان بن عوف ، حضرت سعد بن ابى وقاص ، حضرت عبد الله بن مسعود ، حضرت زيد بن ثابت ، حضرت عبد الله بن عمر او حضرت عبد الله بن عباس رضى الله عنهم ، په الاختيار لتعليل المختار كى دى : ((و ان كان ماموماً لا يقرا لقوله تعالى و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتو، قال ابن عباس و ابو هريرة رضى الله عنهما و جماعة من المفسرين نزلت فى الصلوة خاصة حين كانوا يقرؤن خلفه عليه الصلوة والسلام و عن ابى هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انما جعل الامام ليوتم به فاذا قرء فانصتوا ، و قال صلى الله عليه سلم من كان ماموماً فقراة ، و روى الشعبى عن النبى صلى الله عليه وسلم لا قراة خلف الامام (الاختيار لتعليل المختار ص ۵۰ ج ۱)).

ترجمه : او كه مقتدى وى نو قرائت به نه كوى د الله تعالى ددى قول په وجه (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا) د حضرت ابن عباس (رض) او حضرت ابو هريرة (رض) او د مفسرينو د يوى ډلى قول دا دى چې دا ايت مانځه باره كى نازل شوى هغه وخت كى چې خلكو به رسول الله (ص) پسى قرائت كولو ، او د حضرت ابو هريرة (رض) نه روايت دى چې رسول الله (ص) ارشاد فرمايي : امام دې لپاره جوړ شوى چې ددهٔ اقتداء وكړى شى نو كله چې امام قرائت كوى نو تاسو چپ اوسئ ، او رسول الله (ص) ارشاد فرمايي : كوم سړى چې مقتدى وى نو د امام قرائت د هغه

قرائت هم دی ، او شعبی د رسول الله (ص) نه روایت کړی چې امام پسې قرائت نشته.

په رسائل الارکان کې دی : ((و لیس علی المقتدی قراءة و یکفیه قراة امامه عندنا و عند الامامین احمد رحمه الله و مالک رحمه الله . الی قوله : و حجتنا ما روی جابر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کان له امام فقراءة الامام له قراءة هذا حدیث صحیح رواه الامام ابو حنیفة و قد ذکر الامام محمد فی المؤطا ان اخبره ذکر السند . و ابن عدی بسنده عن ابی حنیفه و حکم بصحته ابن الجوزی و قد اطال الکلام ههنا فی فتح القدیر و ذکر اسانید هذا الحدیث و بین صحة سندین متصلین الی رسول الله صلی الله علیه وسلم و سند ابی حنیفة اصح و قد ثبت عن اکابر الصحابة مثل مذهبنا .... الخ)).

ترجمه : په مقتدی باندې قرائت نشته او دا زمونږ په نزد او د امام احمد او امام مالک په نزد ، د امام قرائت ورته کافی دی ، الی قوله ، زمونږ دلیل د حضرت جابر (رض) روایت دی چې رسول الله (ص) ارشاد مبارک دی : د چا چې امام وی نو د امام قرائت د هغه قرائت دی او دا حدیث صحیح دی او ددی روایت امام ابو حنیفه (رح) کړی دی او امام محمد (رح) په موطاء کې بیان کړی دی چې دا روایت ورته امام ابو حنیفه (رح) کړی دی ، او ابن عدی خپل سند سره دا روایت د امام ابو حنیفه نه نقل کړی او ابن جوزی ورباندې د صحت حکم کړی دی په فتح القدیر کې پدې ځای باندې ډېر تفصیلی کلام کړی او ددی حدیث سندونه بیان کړی او تر رسول الله (ص) پوری د دواړو متصل سندونو صحت بیان کړی ، او د امام ابو حنیفه (رح) سند اصح دی او د اکابرو صحابه کرامو نه څمونږ مذهب ثابت دی ... الخ .

حافظ ابن تیمیه (رح) چې غیر مقلدین خپل امام منی لیکي :

((فالنزاع من الطرفین لکن الذین ینهون عن القراءة خلف الامام جمهور السلف والخلف و معهم الکتاب والسنة الصحیحة والذین او جبوها علی الماموم فحدیثهم ضعفه الائمة (تنوع العبادات ص ۸۶)).

یعنی پدې زیر بحث مسئله کې د دواړو اړخونو نزاع ده، لیکن کوم خلک چې قرائت خلف الامام نه منع کوی هغه جمهور سلف او خلف دی او دوی سره کتاب الله او صحیح سنت دی او کوم خلک چې قرائت خلف الامام مقتدی باندې واجب ګڼی ددوی حدیث د حدیث امامانو ضعیف ګرځولی دی .

په تفسیر حقانی کی دی ((کله چی امام اوچت اواز سره قرآن پـاک لـولی نـو مقتـدیانو لپاره چپ اوسیدو سره اوریدو لپاره دا ایت نازل شوی دی لکه چی ترمذی د ابو هریرة (رض) نه روایت کړی دی چې یـو ځـل رسـول الله (ص) جهـری مـونځ ورکولـو د فارغیدو نه وروسته تپوس وکړ ایا چا ما سره قرائت کولو ؟ وی ویل : هو یـا رسـول الله ، رسول اکرم وفرمایل : ما هم ویل چی ما سره څوک په قرآن پـاک کـی جګـړه کـوی لـه همدی وخت نه خلک رسول الله (ص) سره په جهری مانځه کی قرائت کولو نـه منـع شول ، دې حدیث ته ترمذی حسن صحیح ویلـی دی ، او دا مضـمون د ابـن مسـعود ، عمران بن حصین او جابر بن عبد الله نه نقـل دی ، او همـدا شـان مسـلم یـو حـدیث روایت کړی ((انما جعل الامام الخ)) چی ددی په آخر کی د رسـول الله (ص) نـه دا هم نقل دی چی ((اذا قرا فانصتوا)) کله چی امام قرائت کوی نـو مقتـدیانو تـه چـپ چاپ اوسیدل پکار دی ، او همدا شان ترمذی د جابر بن عبد الله نه روایـت کـړی دی چې څوک په مانځه کی الحمد لله ونه لولی د هغه مونځ نه کیږي مگر که هغه امام پسی وی دې حدیث ته هم ترمذی حسن صحیح ویلی دی او همدا حـدیث امـام طحـاوی مرفوعاً روایت کړی دی او احمـد او مالـک هـم دا حـدیث روایـت کـړی دی او نـورو محدثینو هم او ددی مضون زیات حدیثونه امام محمد او ابو بکر بن شیبة وغیره روایت کړی دی ، لهذا ددی ایت او دغو حدیثونو له مخی امام ابو حنیفـه (رح) مقتـدی تـه امام پسی د قرائت کولو اجازه نه ورکوی بلکی د اوریدو او چپ پاتی کیدو حکم کـوی او په صحابه کرامو کی عبد الله بن مسعود ، جابر بن عبد الله او ابن عمر (رض) وغیـره هم امام پسی الحمد لله نه لوستلو ، امـام شـافعی او ځینـی محـدثین مـذکوره ایـت او حدیثونو د مخصوص کولو سره امام پسی یواځی د الحمد لله د لوستلو تاکید کوي خـو پدې شکل نه چی امام هم ولولی او مقتدیان هم ولـولی بلکـی کلـه چـی امـام سـکته وکړی نو بیا به لولئ ، ترمذی وایي : اختار اصحاب الحدیث ان لا یقرا الرجل اذا جهر الامام بالقراة و قالوا یتبع سکتات الامام)) او دلیل یې د ابو هریـرة (رض) حـدیث دی چی ((من صلی صلوة لم یقرا فیها بام القرآن فهی خداج غیر تمام)) یعنـی څـوک چـی مانځه کی الحمد لله ونه لولی د هغه مـونځ نـاقص دی ، مګـر محـدثینو خصوصاً امـام احمد چی د حدیثو امام دی دغه حدیث په حالـت د انفـراد (یـواځی مـونځ کـول) باندې حمل کړی یعنی د الحمد لله ویل چی ضروری دی په هغه حالت کی دی چـی خانته مونځ کوی او امام پسی ولاړ نه وی لکه چی ترمـذی وایـي ((و امـام احمـد بـن

حنبل فقال معنی قول النبی (ص) ((لا صلوة لمن لم يقرا بفاتحة الكتاب اذا كان وحده و احتج بحديث جابر بن عبد الله حيث قال من صلی رکعة لم يقرا فيها بام القرآن فلم يصل الا ان يكون وراء الامام)) نو کله چی امام المحدثین په نزد ددی حدیث (کوم چی الحمد لله ویل پری ضروری ثابتولی شی) دا معنی شوه نو بیا پدې سره د ایت خاص کول (کوم چی د بیهقی په فول بالاجماع د مانځه باره کی نازل شوی) محض تکلف دی او دا مکی ایت د خطبی په وخت سکوت باندې حمل کول کوم چی مدینی ته په راتلو سره شروع شوی نور هم تکلف دی ، نظر پدې ایت په جماعت کی مقتدی ته چپ کیدل او په زړه سره قرآن اوریدل پکار دی (تفسیر حانی ۱۸۲/۴ ، ۱۸۳ سورت اعراف)

شیخ الاسلام حضرت العلامه مولانا سید حسین احمد مدنی رحمه الله فرمایي : د حنفیانو یو دلیل دا دی چی صحیح قیاس په څو وجوه او طریقو سره ددوی تائید کوی ، اول خو دا چی په مقتدی باندی قرائت خلف الامام صراحتاً په کوم روایت سره ثابت ندی او حالدا چی دا معامله نهایت کثیر الوقوع او اهمه ده پداسې معامله کی د قرائت د وجوب صریح حکم نه موجودیدل پخپله ددی خبری دلیل دی چې د مقتدی په ذمه قرائت واجب ندی ، او بله دا که د مقتدی په ذمه باندې قرائت وای نو ددی بۀ کوم موقع او محل متعین وای مثلاً امام ته به دا حکم وای چی دی د الحمد لله لوستلو نه وروسته یا ددی په ایتونو باندې وقف کولو نه وروسته دومره سکته وکړی چی مقتدی پکی قرائت وکړی لیکن داسی حکم چیرته نشته لدینه معلوم شو چی د مقتدی په ذمه قرائت نشته او که نه کله چی د مستحباتو لکه ربنا لک الحمد او د آمین ویلو موقع او محل متعین کړی شوی نو د الحمد لله ویلو ولی ندی متعین شوی او دا فرض هم دی ... الخ (معارف مدینه (۱۰٦) صفحه پنځم حصه).

(۱) د عبادة (رض) د حدیث متعلق د جواب په ابتداء کی د امام سفیان بن عیینة او امام احمد بن حنبل رحمهما الله په حواله دا عرض کړی شوی ؤ چی دا حدیث مقتدی ته شامل ندی ، لهذا پدې حدیث کی عموم نشته او که دا روایت عام ومنلی شي نو په روایتو کی تعارض راځی نو ((الا ان يكون وراء الامام)) او د ((من کان له امام فقراءة الامام له قراة)) محمل به څه وی ؟ ددغو حدیثو ترک لازمیږي او ددی برعکس د احنافو چی کوم مسلک دی که پدې عمل وکړی شی نو په روایاتو کی تعرض

هم نه راځی او د هر یو محمل متعین کیږي چی حدیث د عبادة (رض) منفرد او امام په حق کی دی او نور حدیثونه د مقتدی په حق کی دی .
(۲) مدرک د رکوع (یعنی هغه سړی چی امام په رکوع کی لاندی کړی) متعلق جمهور صحابه او ټول امامان فرمایی چی ده رکعت نیولی دی او دا خبره د حدیث نه هم ثابتیږي لکه چی په مشکوة شریف کی یو حدیث دی : ((عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله (ص) اذا جئتم الی الصلوة و نحن سجود فاسجدوا و لا تعدوه شیئاً و من ادرک رکعة (ای رکوعاً مع الامام) فقد ادرک الصلوة)) (رواه ابو داؤد) د ابو هریرة (رض) نه روایت دی چی رسول الله (ص) فرمایی : کله چی تاسو مانځه ته راشئ او مونږه په سجده کی یو نو تاسو هم سجده وکړئ خو دا سجده مه شمیرئ او کوم سړی چی (امام سره) رکوع ونیسي نو هغه رکعت یی ونیوله ، ابو داؤد (مشکوة شریف (۱۰۲) صفحه باب ما علی المأموم) او حال دا چی د رکوع رانیونکی سړی فاتحه ندی لوستلی ، کوم خلک چی د فاتحی لوستل فرض ګڼی هغوی هم دا ومنلو چی دی سړی رکعت نیولی اګر که سورت فاتحه نه دی لوستلی ، دا دی څوک نه وایی چی د رکوع نیولو سره دا رکعت نیول یوازی د هغوی خلکو قول دی چی د قرائت خلف الامام قائل ندی ، مګر د مذکوره مرفوع حدیث له مخی دا خبره منل پکار دی چی دا خبره د مرفوع حدیث نه ثابت ده پدې وجه دا قول قابل قبول نشي کیدلی د هر چا قول چی وی .
(۳) غیر مقلدین په ((لا صلوة لمن یقرا بفاتحة الکتاب)) باندې استدلال کولو سره په مقتدی باندې هم د سورت فاتحی لوستل فرض ګرځوی مګر پدې حدیث کی د ((فصاعداً)) زیاتی هم نقل دی چی امام مسلم پخپل صحیح کی روایت کړی دی او ددی مطلب دا دی چی کوم سړی سورت فاتحه او څه زیات ونه لولی نو دهغه مونځ نه کیږي د مسلم شریف ۱۶۹/۱ باب وجوب قراة الفاتحة) (مشکوة شریف (۸۷) صفحه باب القراة فی الصلوة) ځینی محدثین فرمایی چی د ((فصاعداً)) په زیادت کی معمر منفرد دی ، مګر دا خبره صحیح نه ده ددی متابعت او موافقت کونکی نور ثقه موجود دی ، حضرت مولانا ظفر احمد تهانوی رحمه الله لیکی : ((پدې باندې د ځینو محدثینو دا وینا چی د فصاعداً لفظ یوازی معمر زیات کړی صحیح نه ده ځکه چی د ابو داؤد په سند کی سفیان بن عیینة هم د معمر موافقت کړی دی دی هم د زهری نه معمر پشان روایت کوی او فصاعداً ورسره زیاتوی او بیا صالح بن کیسان ، امام اوزاعی او

عبد الرحمن بن اسحاق وغیره پشان ثقهٔ و هم زهری نه همدا شان روایت کړی دی لکه معمر چی بیان کړی (فاتحة الکتاب فی القراة خلف الامام (۵۱) صفحه) ، او ددی (فصاعداً) تائید د نورو حدیثونو څخه هم کېږي لکه ابو داؤد شریف کـې چـی دی : ((عن ابی سعید قال امرنا ان نقرا بفاتحة الکتاب و ما تیسر)) یعنی رسول الله (ص) مـونږ ته د سورت فاتحی او دی سره چی کـوم اسـان وی د لوسـتلو حکـم کـړی دی او بـل روایت کی داسی دی ((الا بقراءة فاتحة الکتاب فمازاد)) یعنی مونځ نه کېږي مګـر د سورت فاتحی او څه زیاتی لوستلو سره (ابو داؤد شریف ۱/۱۲۵ باب من ترک القراة فـی الصلوة) او ددی تائید لاندې مذکوره روایتونو څخه هم کېږي ، په ابو داؤد شریف کی دی ((عن ابی سعید قال امرنا ان نقرا بفاتحة الکتاب و ما تیسره)) د ابو سعید خدری نه روایت دی چی فرمایی : د رسول الله (ص) له طرفه مونږ ته د سورت فاتحی او ورسره چی کوم آسان وی د لوستلو حکم کړی شوی دی او په بل روایت کی داسی راځـی ((عن ابی هریرة قال امرنی رسـول الله (ص) ان انـادی انـه لا صلوة الا بقـراة فاتحـه الکتاب فمازاد)) ابو هریرة فرمایي چی ماته رسول الله (ص) دا حکم کړی چـی زهٔ دا اعلان وکړم چی بغیر د سورت فاتحی او څه زیاتی لوستلو نه مونځ نه کېږی (ابـو داؤد شریف ۱/۱۲۵ باب من ترک القراة فی الصلوة) او په ابن ماجه شریف کی روایـت دی ((عن ابی سعید قال قال رسول الله (ص) لا صلوة لمن لم یقرا فی کل رکعة و سورة فـی فریضة او غیرها)) ابو سعید خدری (رض) نه روایت دی چی رسول الله (ص) فرمایلی دی : د هغه سړی مونځ نه دی چی فرض یا غیر فرض کی الحمد او سورت ونه لـولی (ابن ماجه شریف (٦١) صفحه باب القراة خلف الامام) ددغو روایتونو په رڼا کی مقتدی باندې سورت فاتحه او ورسره یو بل سورت یا یو دوه ایتونه لوستل هـم فـرض ګرځـول پکاردی او حال دا چی هغوی ددی قائل ندی نو څه وجه ده،چی د حدیث یـو جـزء باندې عمل کوی او دویم جزء یې بغیر د څه دلیل نه پرېښـودل کـېږي ؟ لدینـه خـو د حنفیانو مدعی ثابتېږي چی دا حدیث مقتدی بـاره کـی بالکـل نـه دی بلکـی امـام او منفرد باره کی دی چی په دوی باندې سورتفاتحه او ورسره یو بل سـورت یـا دوه دری ایتونه لوستل واجب دی ، حاصل دا چی په مقتدی باندې د فاتحـه لوسـتلو د لـزوم او وجوب دعوی صحیح نه ده ، د امام قرائت د مقتدیانو قرائت دی جهـری مـونځ وی او که خفیه مونځ وی لکه څنګه چی د امام ستره د مقتدیانو ستره ده ، د ((الامام ضامن)) (ابن ماجه (۷۰) صفحه) حدیث هم ددی تائید کوی چی ضمانت په وجـوب د حـق

باندي دلالت کوی او ظاهره ده چی د ضامن په ادا کولو سره د اصل مدیون ذمه بری کېږي ، لهذا د حنفیانو د مونځ نه کیدو خیال قطعاً غلط دی
د حضرت امام شافعی رحمه الله متعلق دا ګمان کېږي چی دی مقتدی لپاره پـه هـره مانځه کی جهری وي یا خفیه قرائت خلف الامـام واجـب او ضـروری ګنـی مګـر دده آخری تصنیف کتاب الام چی ډېر مشهور کتاب دی ، پدې کی لیکـی : ((قـال الشـافعی فواجب علی من صلی منفرداً و اماماً ان یقرء بام القرآن فی کـل رکعـة لا یجزیـه غیرهـا واحب ان یقرء معها شیئاً آیة او اکثر و ساذکرالماموم انشاء الله (کتاب امام ص ۹۳ ج ا)).
یعنی په منفرد او امام باندی واجب دی چی هر رکعـت کـی سـورت فاتحـه ولـولی او ددینه غیر بل کوم سورت نه کافی کېږي ، او ماته دا هم زیـات خوښـه ده چـی سـورت فاتحه سره څه نور هم ولولی یو ایت دی او یـا زیـات ، او زه د مقتـدی حکـم وړانـدی بیانوم انشاء الله))
پدې عبارت کی امام شافعی (رح) د امام او منفرد فریضه بیانوی چی دوی ته د مانځه په هر رکعت کی سورت فاتحه لوستل ضروری دی او د مقتـدی څـه وظیفـه ده ؟ ددی متعلق فرمایلی چی زه پخپله انشاء الله العزیز ددی حکم بیانوم لکـه چـی پـه اوم جلـد کی لیکل دی : ((و نحن نقول کل صلوة صلیت خلاف الامام و الامام یقر قراةً لا یسـمع فیها قرا فیها)) (کتاب الام ۱۵۳/۷) یعنی مونږه وایو هر هغه مـونځ چـی امـام پسـی ادا کړی شی او امام داسی قرائت کوی چی نه اوریدل کېږي (یعنی خفیه مونځ وی) نو مقتدی دی پداسې مونځ کی قرائت وکړی ، د امام شـافعی (رح) دا عبـارت دا خبـره بالکل په ډاګه کوی چی مقتدی ته په جهری مانځه کی امام پسی سورت فاتحه لوسـتل درست ندی او نه واجب دی بلکی مقتدی په هغـو مونځونـو کـی یـواځی امـام پسـی سورت فاتحه لوستلی شی چی په کومو کی د امام قرائت نه اوریدل کېږي او هغه خفیه مونځوه دی ، پدې وجه دوی ((قراةً لا یسمع)) ارشاد فرمایلو سره پـه جهـری او خفیـه مونځونو کی د مقتدی وظیفه متعین کړې ده .
د پورته ذکر شوی جواب د تکمیل نه وروسته د حضرت مولانـا محمـد ادریـس صـاحب کاندهلوی رحمه الله په مضمون باندې نظر پریـوت ، حضـرت مرحـوم ډېـره عمـده او اطمینان بښونکی مضمون لیکلی دی ، مناسب راته ښکاری چی د لوستونکو په خـدمت وړاندی کړی شی ، پدې مضمون سره د مذکوره مسئلی پوهیدو کی مزید کومک کوی ، په ابتداء کی خو دا ارده وه چی مختصراً یو څه ولیکل شی مګر جواب لږ اوږد شـو او

پدې مضمون سره د مزید اوږدیدو ویره ده ځکه د مفید کیدو په خیال باندې نقل کولی شي ، که چیرته مخکې مې نظر ته راغلې وای نو د مختصر جـواب نـه وروسـتـه بـه مـې پدې مضمون باندې اکتفاء کولو ، مضمون ملاحظه کړئ :-

امام ابو حنیفه دا فرمایي چې د جهری او د خفیه دواړه قسمه مونځونو حکـم یـو شـان دی مقتدی لپاره په کوم یو مونځ کې هم قرائت جـائز نـدی ، او امـام احمـد او امـام مالک چې دوی جهری او خفیه مونځونو کې فرق کړی دا ددوی اجتهاد دی ، بـاقي د قرآن ایت یعنی (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا) جهری او خفیه دواړو ته شامل دی لکه چې واضح شوی دی او په همدی بناء احادیثو کې هم د قرآن پشان پـه ټولـو ځایو کې د استماع او انصات عام حکم راغلی دی ، د نبوی ارشاداتو په هیڅ یو ځـای د جهری او خفیه فرق نه ظاهرېږي فرق د واقعی دی ، چیرته مقتدی ته د قرائت واقعـه د سهار مانځه کې وړاندی شوی او چجیرته په ماسپښین کې وړاندی شوی ، او پـه ټولـو ځایو کې رسول الله (ص) د مقتدی په قرائت باندې تپوس کړی او د نا خوښی اظهـار یې کړی دی ، چیرته د مخاطب په لفظ سره کړی په هر ځای مطلقاً د مقتدی امام پسی قرائت کول د ناخوښی او د تپوس سبب جوړ شوی د جهر او د سر پدې کې هېڅ دخل نشته ، او همداسی یوه واقعه د مازدیګر له مانځه نه وړاندی شوه چې رسول الله (ص) د مازدیګر مونځ ورکولو چې یو سړی ورپسې قرائت وکړ یو سړی چې د هغـه خـوا کـې ولاړ د چپ پاتې کېدو اشاره ورته وکړه چې کله مونځ وشو نو هغه سړی وویـل چـې زه دی په اشاری سره ولې منع کولم ؟ نو هغهٔ منع کونکی ورته وویل کله چې رسـول الله (ص) ستا په مخکې امامت کوی نو ما بد وګڼل چې ته رسول اکرم پسی څه ولولی ، نـو رسول الله (ص) ددوی دا خبرې اترې واوریدی نو وی فرمائل : چـا لپاره چـې امـام وی نو یقیناً د امام قرائت د هغه قرائت دی ، وګوری موطاء امام محمد (۹۸) صفحه او کتاب الاثار الامام محمد) .

مطلب دا دی چې د امام قرائت مقتدی لپـاره کـافي دی او مقتـدی تـه جـدا قرائـت لوستل ضروری ندی لکه چې په قـرآن کـریم کـې دی (اولـم یکفهـم انـا انزلنـا علیـک الکتاب) یعنی قرآن کریم د الله تعالی کتاب هدایت لپاره کافي دی ددی په موجودګی کې کوم بل کتاب طرف ته د رجوع کولو ضرورت نشته ، نو پدې حدیث کې امام پسـې د قرائت کولو کراهت او خفګان او ناخوی رسول اکرم (ص) د کفایت په عنـوان ذکـر کړی او کوم سړی چې امام پسې قرائت کونکی منع کـړی ؤ رسـول الله (ص) د هغـه

تصديق او تائيد و فرمائلو او دا د مازديګر واقعه ده يعنی د خفيه مونځ ده ، معلومه شـوه چې رسول الله (ص) ته مطلقاً امام پسې قرائت کول نـا خوښـې ؤ ، غـرض دا چـې دا واقعه کله د سحر په مانځه کی وړاندې شوی او کله ماسپښين او کله مازديګر کـی او پـه هر ځای او هره موقعه باندې رسول الله (ص) د ناخوښی او د کراهت اظهار کړی دی پدې وجه امام ابو حنيفه دا ارشاد فرمايلی چې نه په جهری مانځه کـی قرائـت خلـف الامام شته او نه په سری (خفيه) مانځه کی .

دا د جابر بن عبد الله (رض) د حديث مضمون ؤ کوم چې بلا شـک او شـبهی صـحيح دی او ددی هم معنی د ابو الدرداء (رض) حديث دی چې رسـول الله (ص) ارشـاد فرمايلی : ((ما اری الامام اذا قرا الا کان کافياً)) (رواه الطبرانی و اسناده جسن) يعنی زه نه پوهېږم چې کله امام قرائت کوی مګر دا چې هغه مقتدی لپاره هم کافی او وافی دی .

ـ خلفاء راشدين :

امام عبد الرزاق خپل مصنف کی د امام المغازی موسی بن عقبـه څخـه مرسـلاً روايـت کړی دی چې رسول الله (ص) ، ابو بکر صديق ، عمر فاروق او عثمان غنی (رض) بـه امام پسی قرائت کولو نه منع کولو (حمدة القاری) حافظ عينی فرمايي چـې دا مرسـل صحيح دی او د عبد الرزاق سماع د موسی بن عقبه نه ممکن دی .

فاروق اعظم :

امام محمد بن حسن د موطاء (۹۸) صفحه کی فرمايي : ((ان عمـر بـن الخطـاب قـال ليث فی فم الذی يقرا خلف الامام حجراً فقد اخطاء الفطـرة)) څـوک چـې امـام پسـی قرائت کوی هغه د فطرت نه خطاء شوی يعنی قرائت خلف الامام د فطرت خلاف فعـل دی .

اوس مونږ دا بيان ختمووو ، مونږ يواځی تحقيق باندی اکتفاء کړی او د روايتونو جرح او تعديل څخه مو ډډه کړې ده ځکه چې ددی ځای د حديثو او د فقه کتابو نه دی امید دی چې د زړهٔ دتسلی لپاره دا بيان کافی وی .

ـ لطائف او معارف:

امام نسائی خپل سنن کی پدې عنوان سره ليکلي دی :

((تاویل قوله عز و جل و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا لعلکم ترحمـون ، اخبرنـا الجارود عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انما جعل الامام لیـؤتم به فاذا کبرو اواذا قرء فانصتوا و اذا قال سمع الله لمن حمده فقولو ربنـا لـک الحمـد))

امام نسائی د باب په عنوان کی د قرآنی ایـت پـه نقـل کولـو سـره ددی لانـدې ددی حدیث ذکر کولو مطلب دا دی چې دا حدیث ددی ایت تفسیر دی او ظاهره ده چـې پدی حدیث سره د مقتدی حکم بیانول دی او د حدیث ابتداء د ((انما جعـل الامـام لیؤتم به)) سره شوی معلومه شوه چې قرآنی ایت (اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا) سره د مقتدی حکم بیانول دی چې امام پسې مقتدی باندې مطلقاً استماع او انصات واجب او لازم دی او مقتدی ته امام پسې خپل قرائت کول جائز ندی او دا حکـم عـام دی سـورت پورې مقید او خاص ندی .

نکته : د اعراف ایت یعنی (اذا قرئ القرآن فاستمعوا لـه و انصـتوا لعلکـم ترحمـون) او حدیث د انصات کی یو لطیف او باریک فرق دی او هغه دا چې د انصـات پـه حـدیث کی مقصود یواځې د امامت او اقتداء احکام ښودل ی‌د او د اعراف په ایت کی اصـل مقصود د قرائت قرآن حکم ښودل دی پدې وجه د اعراف په ایـت کـی دوه حکمونـه ذکر کړی یو د استماع او بل د انصات ځکه چې د قرآن پاک قرائـت کلـه جهـراً وی او کله سراً او خفیتاً نو پدې وجه د جهري قرائت متعلق د استماع حکـم ورکـړی شـوی او خفیه قرائت متعلق د انصات حکم ورکړی شوی یعنی که چیرته امام جهراً قرائـت کولـو او تاسو اوریدلو نو پدې وخت کی تاسو لپاره د (فاسـتمعوا) حکـم دی یعنـی د امـام قرائت پوره توجه او غور سره واوری او که چیرته امام سراً او خفیه قرائت کولو او تاسـو د هغه قرائت نه اوریدلو نو دی وخت کی تاسـو لپاره د (انصتوا) حکم دی یعنی چـپ اوسی ، غرض دا چې په ایت سره د قرآن د قرائت حکم بیانول مقصود دی پدې وجـه ددی متعلق دوه حکمونه بیان کړل او په مذکور حـدیث کـی اصـل مقصـود د امـام او مقتدی حکم بیانول دی پدې وجه د مقتـدی متعلـق یـواځې یـو حکـم انصـات یعنـی سکوت ذکر کړ چې مقتدی باندې د مقتدی کیدو په حیثیت هر حالت کی انصات یعنی چپ کیدل واجب دی او پدې کی د امام جهر یا عدم جهر او د مقتدی استماع یا عدم استماع سره هیڅ دخل نشته پدې وجه حدیث صرف یو حکـم یعنـی انصـات (چپتیـا) باندې اکتفاء کړی او د استماع حکم یې ندی ذکر کړی ځکه چې د حدیث مقصـود د قرائت حکم بیانول ندی بلکی یواځې د مقتدی فریضه بیانول دی چې د مقتدی فرض

دا دی امام پسې بالکل خاموش او چپ ودرېږی پـدې بنـاء خـومره حدیثونـه چـی د اقتداء د حکامو باره کی راځی په ټولو کی یواځی د ((فانصتوا)) لفظ راغلی دی چې جهری او سری دواړوم ته شامل دی .

او د امامت د مشروعیت له ابتداء نه واخله تر وفات نبوی پورې په کوم وخت کـی هم مقتدی باندې قرائت ندی فرض شوی ، بلکی سنت دا پاتې شوی چې امام بـه قرائـت کولو او مقتدی به اوریدلو او چپ به اوسیدو ، په لیلة الاسراء کی کله چی نبـی اکـرم (ص) مسجد اقصی ته ورسید نو حضرات انبیاء المرسلین او مقربین ملائکه د رسول الله (ص) په انتظار مسجد اقصی کی راټول وو د جبرئیل په حکم سره رسـول اکـرم امامـت لپاره وړاندی شو او امامت یې وکړ ، د قرآن پاک تلاوت او قرائت یې وکړ او انبیاء کرامو او ملائکو د رسول اکرم اقتداء وکړ او ټولو دده قرائت واوریدو هیڅ یو کـس یـا ملائـک رسول اکرم (ص) سورت فاتحه ندی لوستی ، د معراج پـه شـپه پنځـه مونځونـه فـرض شول او ددینه وروسته د امامت او د اقتداء سلسله شروع شوه ، همیشه لپاره طریقه دا وه چی امام به قرائت کولو او مقتدی به اوریدلو تر دی چې کله ځینو خلکو اتفاقاً یـواځی خپلی رای سره قرائت وکړ نو پدې باندې د سورت اعراف دا ایت (و اذا قـرئ القـرآن فاستمعوا له و انصتوا) نازل شو چې ددی مقصد د قرائت خلف الامـام ممانعـت ؤ چـې مقتدی باندې استماع او انصات واجب دی او مقتدی ته امام پسی قرائت کـول هرگـز جائز ندی ، په اکابرو صحابه ؤ کی چې چا هم رسول اکرم (ص) پسی فاتحه یا سـورت لوستی نو رسول اکرم (ص) د مانځه څخه فارغیدو نه وروسته د هغه نه تپـوس کـړی او فرمایلی یې دی ((لعلکم تقرؤن خلف اماکم)) نو معلومه شوه چی ((قرآن نـه د رسـول اکرم په حکم او اجازی سره ؤ او نه ورته پته وه او قرائت خلف الامام باندې تنبیه لپاره دا ایت نازل شو (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا) چی پدې کی مطلقـاً قرائـت قرآن په وخت د استماع او د انصات حکم ورکړی شـوی او دا حکـم یـې سـورت سـره ندی مقید کړی ، او دا رنګه په مرض الاوقات کی داسی وشو چې د رسول اکرم (.ص) په حکم سره ابوبکرصدیق مسجد نبوی کی امامت کولو د سهار مونځ یـې ورکولـو چـې رسول الله (ص) لږ غوندی اسانی محسوس کړ نو جومات ته تشریف یووړ صـدیق اکبـر وروسته شو او رسول اکرم (ص) امام شو په مسند احمـد ۶۳۲/۱) او سـنن دار قطنـی (۱۵۳) صفحه کی د ابن عباس (رض) نـه روایـت دی چـې رسـول الله (ص) د هغـه خای نه قرائت شروع کړ کوم خای ته چی ابوبکر صدیق رسیدلی ؤ او ابو بکـر صـدیق

پدې وخت کې سورت لوستلو ، نو رسول الله (ص) پدې خپل آخری مونځ کې سورت فاتحه ونه لوست او څومره مقدار قرائت او سورت فاتحه چې د رسول اکرم نه پدې مانځه کې پاتې شوی ؤ د هغه اعاده یې ونه کړه ، او ددی وجه لدینه علاوه بل هیڅ نشی کیدی چې ابو بکر صدیق پدې مانځه کې اول کې امام ؤ او ده سورت فاتحه لوستلی وه نو ددهٔ قرائت ټولو لپاره کافي شو ، لکه چې بل حدیث کې راځي : ((من کان له امام فقراة الامام له قراة)) یعنی د امام قرائت حکماً د مقتدی قرائت هم دی ، لدی حدیث نه معلوم شو چې د شریعت له نظره قرائت دوه قسمه دی یو حقیقی او بل حکمي په مانځه کې د امام قرائت حقیقي دی او د مقتدی قرائت حکمي دی.
او درسول اکرم دا ارشاد ((لا صلوة لمن لم یقرا بفاتحة الکتاب)) بالفرض که عام وی امام او مقتدی دواړو ته شامل وی نو پدې حدیث کې د فاتحې قرائت هم عام دی حقیقي وی او که حکمي وی نو کوم مقتدی چې د الله تعالی په حکم امام پسې استماع او انصات کې مشغول وی همدا مقتدی د نبوی ارشاد مطابق حکماً قرائت هم کوی ((من کان له امام فقراة الامام له قراة)) او دا مقتدی امام پسې استماع او انصات په حالت کې فاتحه هم لولي او ده دا حکمي قرائت د استماع او انصات پر دی لاندی مستور دی او پدې شکل مقتدی په یو وخت کې د الله تعالی د حکم استماع او انصات او په ((لا صلوة لمن لم یقرا بفاتحة الکتاب)) باندې عمل کوی ، او کوم سړی چې امام پسې قرائت کوی هغه د الله تعالی د حکم د استماع او انصات ، نه هم خلاف ورزی کوی او د کوم منازعت او مخالجت نه چې رسول الله (ص) منع کړی ددی هم مرتکب کیږي ، قرائت خلف الامام کونکی په یو وخت کې د الله او د رسول (ص) د حکم خلاف ورزی کوی ، بنه پوهه شی چې دی د استماع او د انصات په ځای د امام په منازعت او مخالجت کې مشغول دی د کوم نه چې رسول اکرم منع فرمایلی دی ، که چیرته رسول الله (ص) کوم وخت کې د قرائت خلف الامام حکم ورکړی وای نو بیا به یې کله هم ددی تپوس نه کولو.
بله نکته : په مانځه کې د قرآن پاک نه مقصد یا د الهی احکامو اوریدل دی او یا الله تعالی سره مناجات ، که اولنی خبره وی نو امام د حق تعالی له طرفه خلیفه دی چې الهی احکام ورسوی او که مقصود مناجات ، استدعا ، او نیاز وی نو امام د قوم له طرفه وکیل دی چې د ټولو مقتدیانو له طرفه الهی بارګاه کې استدعا ، او نیاز پیش کوی او ظاهره ده چې د خلافت او وکالت فریضه یو کس ادا کولی شی پدې وجه د قرائت

وظیفه به یواځی امام ادا کوی او مقتدی ددهٔ په قرائت باندې آمین وایي . او پاتی شو د عبودیت او بندګی آداب دا په ټولو باندې لازم دی، مثلاً رکوع ، سـجده ، تسبیح او تحمید دا ټول د الهی بارګاه او دعبادت آداب دی دا ټول تر سره کول پکار دی پـدې کی وکالت او نیابت نه چلېږي پدې وجه ددې آدابو مقصد د الله تعالی تعظیم دی او د الله تعالی تعظیم په ټولو باندې لازم دی ، سورت فاتحه چې د نیاز یوه عریضه ده چې د صراط مستقیم د هدایت غوښتلو باندې مشتمل دی او د مطلـب پـه پـیش کولـو کـی وکالت چلیدلی شی یعنی د یوی ډلی له طرفه مدعی او مطلب وړاندی کولـو لپـاره یـو شخص کافی دی او هغه امام دی.

(۴) په نصوصو کی غور او فکر سره دا په نظر راځی چې د جماعت مونځ په حقیقت کی یو مونځ دی چې پدې سره امام موصوف بالذات دی او مقتدی موصـوف بـالعرض دی لکه چی حدیث د ((الامام ضامن)) پدې باندې ګواه دې چې د امام مـونځ مقتـدیانو مونځ ته هم شامل او متضمن دی پدې بناء که د امام مونځ فاسـد شـی نـو د مقتـدیانو مونځ هم فاسدیږي او د مقتدی مونځ په فاسد کیدو سره د امام مونځ نـه فاسـدیږي ، د امام ستره مقتدیانو لپاره هم کافی ده ، په رکوع او سجده کی مقتدیانو لپاره د امـام نـه تقدیم او تاخیر منع دی او دا ټول احکام ددی شاهد دی چی اصل مصلی امام دی او مقتدی د امام نه مستفیض او مستفید کېږي او اصل عبـادت یعنـی مـونځ یـو دی ،او پـه قرآن او حدیث کی د جماعت مونځ یو مونځ ګرځول شوی دی کمـا قـال تعـالی (اذا قاموا الی الصلوة قامو کسالی) او په حدیث کی دی ((اذا اتیـتم الصـلوة فـلا تاتوهـا و انتم تسعون)) په ټولو ځایو کی د صلوة لفظ مفرد راغلـی دی نـو معلـوم شـوی چـی د جماعت مونځ یو دی او مقتدی پدې شئ واحد باندې حاضریدونکی دی نو که چیرتـه هر یو مقتدی مانځه کی خپل خپل قرائت وکړی نو بیا د جماعت مـونځ یـو مـونځ نـه پاتی کېږي بلکی ((صلوات متعددة فی مکان واحد)) مجموعه ګرځی یعنی څـو کسـانو یو ځای جمع کیدو سره خپل خپل جـدا جـدا مونځونـه ادا کـړل ، نـو د جماعـت او یواځی مونځ کی در حقیقت کوم فرق پاتی نشو ، د جماعت د مونځ حاصل او محصول یواځی دومره پاتی شو چې یو څو کسانو یو ځای جمع کیدو سره خپل خپـل مونځونـه ادا کړل او دې سره ذوق سلیم نشی قبلولی ، پـه صـحیح بخـاری کـی د عبـد الله بـن عباس (رض) نه د (ولا تجهر بصلوتک ولا تخافت بها و ابتغ بین ذلک سبیلاً) پـه تفسیر او شان نزول کی نقل دی چې رسول الله (ص) په مکـه مکرمـه کـی پـټ ؤ یعنـی پـه

مخفی او پټه توګه به یې تبلیغ کولو او کله چې به رسول الله (ص) خپلو صحابه کرامو ته مونځ ورکولو نو اوچت آواز سره به یې د قرآن پاک قرائت کولو نو مشرکانو به د قرآن په اوریدو سره قرآن پاک او د قرآن نازلونکی ته بدرد ویل پدې باندې دا ایت نازل شو او الله تعالی خپل نبی ته دا حکم ورکړ چې ته دومره اوچت اواز سره قرائت مه کوه چې مشرکان یې په اوریدو سره ورته بدرد ووایي او مه دومره په ورو اواز سره قرائت کوه چې مشرکان یې په اوریدو سره ورته بدرد ووایی او مه دومره په ورو وایه چې خپل ملګری او صحابه کرام هم وا نه وری ددی دواړو تر منځ لاره غوره کړه یعنی په دومره آواز سره قرائت کوه چې مقتدیان یې واوري ، نو معلوم شو چې د امام کار خپلو مقتدیانو ته اورول دی او د مقتدیانو کار د امام قرائت اوریدل دی نه پخپله لوستل .

ـ د عبادة (رض) د حدیث جواب :

د امام شافعی (رح) د ټولو نه قوی او صحیح دلیل د عبادة (رض) حدیث دی چې ((لا صلوة لمن یقرا بفاتحة الکتاب)) (رواه البخاری و مسلم) یعنی کوم سړی چې مانځه کی فاتحه ونه لولی د هغه مونځ نه کیږي .

(جواب) د امام شافعی ددی استدلال نه د امام ابو حنیفه له طرفه جواب دا دی چې پدې حدیث کی صراحتاً د مقتدی هیڅ ذکر نشته یواځی د حسن د کلمی له عموم نه استدلال دی او د سورت اعراف دا ایت (و اذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا) خاص مقتدی باره کی نازل شوی کومو مقتدیانو چې رسول الله (ص) پسی په لا علمی او غلط فهمی کی فاتحه او یا سورت لوستلې ؤ د هغوی د زجر او تنبیه لپاره دا ایت نازل شوی او د امام شافعی په نزد د کتاب د عموم تخصیص په خبر واحد سره جائز دی ، نو د خبر واحد د عموم تخصیص په کتاب الله سره په طریقهٔ اولی سی جائز دی ، او هغه صحیح حدیثونه چې خاص مقتدی باره کی وارد شوی دی یو مشهور حدیث دا هم دی ((من کان له امام فقراة الامام له قراءة)) یعنی کوم سړی چې امام پسی مونځ کوی نو د امام قراة د هغه قرائت دی مقتدی ته د جدا قرائت ضرورت نشته او دا حدیث په موطاء امام محمد کی په دوه سندونو سره ذکر دی یو سند کی پخپله امام ابو حنیفه (رح) راوی دی او حافظ عینی او شیخ ابن همام نهایت مفصل طریقی سره دا حدیث د بخاری او د مسلم په شرطونو باندې صحیح ثابت کړی ، دا دی په عمدة القاری او فتح القدیر کی وکتل شي . نو معلوم شو چې د عبادة (رض) حدیث مقتدی باره کی ندی بلکی د امام او د منفرد په حق کی دی ، امام ابو داؤد خپل سنن کی د

امام شافعي استاذ سفيان بن عيينه (رح) نه نقل كړى چې ددى حديث معنـى دا ده ((لمن يصلي وحده)) يعنى دا حديث د هغه چا باره كې دى چې خانته مونځ كـوى ، د مقتدى باره كې ندى ، او امام ترمذى د حضرت جابر (رض) نه نقل كـوى چـې كـوم سړى سورت فاتحه ونه لولى د هغه مونځ نه كېږي مگـر دا چـې امـام پسـى وى ، امـام ترمذى ددى حديث په نقل كولو سره فرمايي چې امام احمد بن حنبل (رح) (چې د امام بخارى استاذ دى) فرمايى : چې دا حديث مقتدى باره كې نـدى بلكـې يـواځې مونځ كونكى باره كې دى (يا نورو ته مونځ وركوى) او امام احمـد پـدې خپـل قـول باندې د جابر (رض) په حديث باندې استدلال كړى دى او فرمايى : وگـورى جـابر (رح) د نبى كريم د صحابه كرامو څخه يـو صـحابى دى ، دهٔ د دى حـديث دا مطلـب بيان كړى دى چې كه امام پسى مونځ كوى نو بيا د سورت فـاتحى د لوسـتلو ضـرورت نشته ، امام احمد (رح) فرمايى : مونږه په مسلمانانو كې د چا نه هم دا ندى اوريـدلى چې كله امام قرائت كوى نو د مقتديانو مونځ بغير د قرائت څخه نه صحيح كېږي ، لكه چې رسول الله او د صحابه كرام او تابعين او اهل حجاز كې امام مالـک ، اهـل عـراق كې سفيان ثورى او د اهل شام څخه اوزاعى او اهل مصر څخه ليث بـن سـعد رحمهـم الله ددين ددغو امامانو څخه چا هم دا ندى ويلى چې كله امام قرائت كوى او مقتدى وريسى قرائت ونه كړى نو د هغه مونځ نه كېږي او باطل دى ، وگورى فعنى ابن قدامه (٦٠٦/١) اهل علم دى ددى خـاى د تحقيـق لپـاره فتـاوى ابـن تيميـه (١٤١/٢-١٥٠ وگورى .

نو معلوم شو چې جهرى مانځه كې مقتدى باندې د قرائت خلاف الامام د وجوب لپـاره صحابه كرام او تابعين او سلف صالحينو كې هيڅوک قائل ندى ، پدې وجه امام ترمذى فرمايى چې امام شافعى (رح) قرائت خلاف الامام باره كې تشـدد كـړى چـې مقتـدى باندې يې قرائت واجب كړى او حال دا چې په سلفو كـې هيڅـوک ددى قائـل نـدى چې مقتدى باندې قرائت فرض دى ، او حافظ ابـن تيميـه پـه نهايـت شـد و مـد سـره جهرى مانځه كې د قرائت خلف الامام ناجائز او حرام كيدل په عقلـى او نقلـى دلائلـو سره بيان كړى دى ، خاص كه زمونږ د زمانى د حديثو په مدعيانو باندې لازم دى چې فتاوى ابن تيميه ضرور مطالعه كړى كوم چـې حنفيـانو ، مالكيـانو او حنبليـانو مونځونـو باطل كېدو جهراً او سراً فتوى وركوى.

ـ خلاصه د کلام

د امام ابو حنیفه مذهب نهایت درجه قوی دی چې د قرآنی ایتونو او صریح او صحیح حدیثونو څخه ثابت د ی کوم چې خاص مقتدیانو باره کی وارد شوی دی ، اهـل علـم او مدرسین حضرات دی د هدایه او بخاری شروحو ته مراجعه وکړی او ددی نا چیـز د مشکوۃ او د بخاری شرح وګوری انشاء الله تعالی زړه ته به یې سکون او اطمینان حاصل شی اود ذوق په خاوندانو باندې به دا خبره واضحه کېږي چی د امام اعظـم مسلک د عقل او د فطرت عین مطابق دی (معارف القرآن ۱۹۱/۵-۱۹۷ مکتبـه عثمانیـه پاکستان) فقط.

(رفع الیدین او آمین بالجهر :

(۳٦ سوال) فضیلة النفس حضرت مفتی عبد الرحیم راجپوری صاحب ... السلام علیکم ستاسو د فتاوی رحیمیه څلورم جلد ۱۲۹-۱۴۷ صفحی (نـوی ترتیـب کـی د ایمـان او عقائد په باب کی د (۷۰ – ۱۴۳ صفحی) باندې د تقلید متعلق ډېر فاضـلانه او محققانـه جواب دی د تقلید حقیقت او ددی ضرورت په ډاګه شوی او د تقلید متعلق چـی کـوم اعتراضات وړاندی کولی سی د هغو جوابونه هم ډېر اعلی او اطمینان بخش دی ، الله تعالی دې تاسو ته جزاء خیر درکړی ، البته په سوال کی د رفع الیدین او د آمین بالجهر تذکره هم ده او د هدایهٔ حواله هم ورکړی شوی مګر ستاسو په جواب کی ددی متعلق کوم وضاحت نشته که پدې دواړو مسئلو باندې مو هم رڼا اچولی وای نو زمونږ لپاره بـه لویه لاربنونه وه ، په سوال کی چې د هدایهٔ حواله ورکړی شوی ایا په هدایه کـی هـم همداسی دی ؟ امید دی چې ددی متعلق هم حقیقت په ډاګه کړی ، ډېره مهربانی (له حیدر آباد نه).

(جواب) ستاسو سوال ورسید د الله تعالی فضل و کرم دی او دده په توفیق سره د تقلید متعلق جواب مرتب کړی شـو لله الحمـد والشـکر کـومی خبـری طـرف تـه چـې توجـه راوګرځوله پدې باندې د زړه له کومی شکریه جزاکم الله خیر الجزاء .

اول به مونږه انشاء الله د هدایهٔ اصل عبارت وړاندی کولو سره ددی توجیـه او د دواړو مسئلو متعلق مختصر تحقیق پیش کړو پدې سره به انشاء الله د حنفی مسلک دلائـل هـم مخی ته راشی او وروسته د دواړو مسئلو متعلق حدیثونه وړاندی کوو ، په سوال کی ذکر شوی چې مانځه کی رفع الیدین کول د نبی کریم (ص) او د خلفاء راشدینو له سـنت څخه ثابت دی او دا مسئله د حنفی مذهب کتاب هدایه اول جلد (۳۷۹) صـفحه کـی

دی چې رسول الله (ص) تر آخره پورې رفع الیدین کړی دی او د آمین بالجهر مسئله هم هدایه اول جلد (۳٦۲) صفحه موجود ده، مستفتی دغه دوه حوالی وړاندی کولو سره ددی باور ورکولو ناکام کوشش کړی چې د فقه حنفی مشهور کتاب هدایه کی رفع الیدین او آمین بالجهر ته سنت لیکلی دی او حال دا چی په سوال کی د کومو صفحو حواله ورکړی شوې ده پدې صفحو باندې یا ددینه وړاندې وروسته چیرته هم ددی بیان نشته لهذا دا خبره صاحب هدایة ته منسوب کول قطعاً غلط ده، افتراء او دروغ ده او خلکو ته دوکه ورکول دی.

ـ د رفع الیدین متعلق د هدایه عبارت وګورئ:

((ولا یرفع یدیه الا فی تکبیرة الاولی خلافا للشافعی رحمه الله فی رکوع و فی الرفع منه لقوله علیه السلام لا ترفع الا یدی الا فی سبع مواطن تکبیرة الافتتاح و تکبیرة القنوت و تکبیرات العیدین و ذکر الا ربع فی الحج و الذی یروی من الرفع محمول علی الا بتداء کذا نقل عن ابن الزبیر. (هدایه اولین ص ۹۲، ص ۹۳ باب صفة الصلوة)

ترجمه او مطلب: خپل دواړه لاسونه په تکبیر افتتاح (یعنی تکبیر تحریمه) نه علاوه بل کوم موقع باندې به نه اوچتوی، پدې کی امام شافعی صاحب مخالف دی، امام شافعی رحمه الله په نزد رکوع ته تللو او د رکوع نه پورته کیدو کی رفع الیدین کوی، زمونږه دلیل دا حدیث دی چی رسول اکرم فرمایی: ((لا ترفع الایدی ... د اوه ځایونو څخه علاوه کوم بل ځای کی رفع الیدین به نه کیږي (۱) تکبیر افتتاح په وخت (۲) دعاء قنوت لپاره (۳) د اخترونو زاید تکبیرونو په وخت (د پاتی څلور ځایونه په حج کی دی او د رفع الیدین باره کی چې کوم نقل دی هغه د اسلام په ابتداء باندی محمول دی (یعنی د اسلام په ابتداء کی دا طریقه وه بیا متروک شوه) د حضرت ابن زبیر (رض) نه همدا نقل دی، په حاشیه کی دی: ((فان عبد الله بن الزبیر رای رجلاً یصلی فی المسجد الحرام کان یرفع یدیه عند الرکوع و عند رفع الراس منه فلما فرغ من صلاته قال لا تفعل فان هذا شیئ فعله النبی (ص) ثم ترک)) یعنی عبد الله بن زبیر (رض) په مسجد حرام کی یو سړی په مونځ کولو ولید چې د رکوع کولو او د رکوع نه پورته کیدو په وخت کی رفع الیدین کوی کله چی د مانځه نه فارغ شو نو ورته یی وفرمایل ((لا تفعل)) ته رفع الیدین مه کوه، رسول الله (ص) اول رفع الیدین کولو بیا یې پرېښودو (حاشیه ۲، هدایه اولین (۹۳) صفحه همدا شان د آمین بالجهر متعلق د هدایه عبارت وګورئ: ((و اذا قال الامام ولا الضالین قال آمین و یقولها

المؤتم الی قوله و یخفونها لی روینا من حدیث ابن مسعود و لا نه دعاء فیکون مبناه علی الا خفاء)) (هدایه اولین (۸۷) صفحه باب صفة الصلوة) یعنی کله چې امام ولا الضالین ووایی نو آمین دی وایی او مقتدی به هم آمین وایی او ټول حضرات به آمین په ورو وایی ځکه چی د ابن مسعود د حدیث نه ثابتیږي (د حضرت ابن مسعود حدیث ، صاحب د هدایه په همدی صفحه کی پورته نقل کړی) ((لقول ابن مسعود اربع یخفیهن الامام و ذکر من جملتها التعوذ و التسمیة و آمین)) یعنی ابن مسعود (رض) فرمایی چې امام به څلور څیزونه خفیه او پټ وایئ او پدې څلورو کی تعوذ ، تسمیه او آمین ذکر کړی دی ، ((ولا نه دعاء)) او دلیل عقلی دا دی چې آمین دعاء ده او د دعاء مبنی په اخفاء ده (یعنی دعاء په ورو او پټ اواز سره غوښتل پکار دی) (هدایه اولین (۸۷) صفحه باب صفة الصلوة) کتونکی دی ، د رفع الیدین او آمین بالجهر متعلق د صاحب هدایة عبارت او دده فیصله وګوری ، په سوال کی چې کومه خبره دده طرف ته منسوب کړی شوی ده ، په هدایه کی ددی څیز نوم او نښه هم نشته بلکی ددی برعکس ثابتیږي ، لهذا همدا ویل کېدی شی چې دا په صاحب د هدایه باندې بهتان دی ، سبحانک هذا بهتان عظیم .

اوس مونږ په لنډ ډول د دواړو مسئلو مزید تحقیق وړاندې کوو:-

ـ رفع الیدین :

سکون او خشوع د مانځه روح دی لکه چې د رسول الله (ص) ارشاد دی ((اسکنوا فی الصلوة)) په مانځه کی ارام او سکون اختیار کړی (مسلم شریف ۱۸۱/۱ باب الامر بالسکون فی الصلوة و النهی عن الاشارة) لهذا په مانځه کی چی څومره د سکون لحاظ وی هومره به مونځ مقبول وی ، په ابتداء د اسلام کی ځینی داسی کارونه وو چې د سکون خلاف وو او په مانځه کی مشروع وو مثلاً په مانځه کی لاس اوچتولو سره سلام کول ، د سلام جواب ورکول ، په مانځه کی خبرې اترې کول ، په مانځه یو خوا بل خوا کتل مګر وروسته دا کارونه په تدریج سره منسوخ شول ، همدا حال د رفع الیدین دی ، د رسول الله (ص) نه د تکبیر تحریمی نه علاوه رکوع ته تللو او د رکوع نه پورته کیدو د سجده کولو او د سجدی نه پورته کیدو اون دریم رکعت ته پورته کیدو په وخت هم رفع الیدین کول ثابت دی لکه چی په نسائی شریف کی حدیث دی :-

((عن مالک بن الحویرث ان نبی صلی الله علیه وسلم کان اذا دخل فی الصلوة یعنی رفع یده و اذا رکع فعل مثل ذلک و اذا رفع راسه من الرکوع فعل مثل ذلک و اذا رفع راسه من السجود فعل مثل ذلک کله یعنی رفع یدیه (نسائی شریف ج ا ص ۱۱۴))
او په طحاوی شریف کی دی : ((حدثنا ابن ابی داؤد ... عن الا عرج عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یرفع یدیه اذا افتتح الصلوة و حین یرکع و حین یسجد (طحاوی شریف ص ۱۰۹ ج ا باب التکبیر للرکوع و التکبیر للسجود والرفع من الرکوع هل مع ذلک رفع ام لا))
او بل حدیث کی دی : ((قال ابو حمید انا اعلمکم بصلوة النبی (ص) ... فاذا قام من الرکعتین کبر و رفع یدیه حتی یحاذی بهما منکبیه)) د طحاوی شریف (۱۰۹) صفحه) مګر رو رو د سجدی وړاندې او وروسته او دریم همدا شان رکوع ته تللو او رکوع نه پورته کیدو وخت کی هم رفع الیدین متروک شو (یعنی پدې باندې عمل پاتی نشو) یواځی د تکبیر تحریمه په وخت کی پاتی شو د رفع الیدین متعلق چی د احنافو کوم مسلک دی دا د حدیثونو خلاف ندی د مذهب حنفی موافق ډېر حدیثونه دی ، وګورئ په ترمذی شریف کی دی ((حدثنا هناد .... عن علقمة قال قال عبد الله بن مسعود الا اصلی بکم صلوة رسول الله صلی الله علیه وسلم فصلی فلم یرفع یدیه الا فی اول مرة ، و فی الباب عن البراء بن عازب قال ابو عیسی حدیث ابن مسعود حدیث حسن و به یقول غیر واحد من اهل العلم من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم والتابعین وهو قول سفیان و اهل الکوفة (ترمذی شریف ص ۳۵ ج ۱ باب رفع الیدین عند الرکوع) ترجمه : علقمه نه روایت دی چې حضرت عبد الله بن مسعود (رض) فرمایلی دی ، ایا زه تاسو د رسول الله (ص) مونځ ورنکړم ؟ نو بیا هغه مونځ ورکړ نو یواځی یو ځل یعنی په تکبیر تحریمه کی رفع الیدین وکړ ، امام ترمذی دی حدیث ته حسن ویلی دی او دا یی هم فرمایلی دی چې ددی مضمون حدیث د حضرت براء بن عازب (رض) نه هم نقل دی ، او په صحابه کرامو او تابعینو کی ډېر اهل علم ددی قائل دی او همدا قول د سفیان ثوری او د اهل کوفه هم دی ، د حضرت براء بن عازب (رض) حدیث ابو داؤد راوړی دی :
((حدثنا محمد بن الصباح ... عن البراء (بن عازب) ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان اذا افتتح الصلوة رفع یدیه الی قریب من اذنیه ثم لا یعود . (ابو داؤد شریف ص ۱۱٦ ج ۱ مجتبائی باب من لم یذکر الرفع عند الرفع) .

ترجمه حضرت براء (رض) نه روایت دی چې کله به رسول الله (ص) مـونځ شروع کولو نو نزدی غوږونو پورې به یې لاسونه پورته کول (رفع الیدین کولو) او نور به یې نه کولو ، حضرت عبد الله بـن مسعود (رض) د رسـول الله (ص) راز دار او د خلـوت اوجلوت ملګری او په مانځه کی هم رسول اکرم (ص) سره نزدی ودریدو ۰ د رسول الله (ص) په افعالو باندې چې دی خومره با خبر ؤ هغه ښکاره ده او خـاص طـور د مـونځ افعال او طریقی چې دی به وریسی ولاړ ؤ پـدې وجـه د حضـرت عبـد الله بـن مسـعود (رض) حدیث پدې باره کی ډېر قوی دلیل دی ، امام طحاوی د حضرت علی (رض) عمل نقل کړی دی :

((فان ابا بکرة قد حدثنا قال حدثنا ابو احمد ... عن ابیه ان علیا رضـی الله عنـه کـان یرفع فی اول تکبیرة من الصلوة ثم لا یرفع بعده (باب التکبیر للرکوع والتکبیر للسجود و الرفع من الرکوع هل مع ذلک رفع ام لا طحاوی شریف ص ۱۱۰)

ترجمه : یعنی حضرت علی (رض) به د مونځ په اول تکبیر کی لاسونه اوچتـول او نـور به نه اوچتول .

په موطاء امام محمد کی دی : ((قال محمد اخبر ابـو بکـر بـن عبـد الله النهشـلی عـن عاصم بن کلیب الجرمی عن ابیه و کان من اصحاب علی ان علیا بن ابی طالب کرم الله وجهه کان یرفع یدیه فی التکبیرة الاولی التی یفتتح بها الصلوة ثم لا یرفعها فی شی مـن الصلوة (مؤطا امام محمد ص ۷۳ ، ص ۷۴ باب افتتاح الصلوة)

د حضرت علی (رض) نه د رفع الیدین حدیث نقل دی ، دهٔ بـه رسـول الله (ص) پـه رفع الیدین کولو لیدلی وي ، بیا حضـرت علـی (رض) د رسـول الله نـه وروسـته رفـع الیدین ترک کړی دا هغه وخت کیدی شی چـې د حضـرت علـی (رض) پـه نـزد رفـع الیدین منسوخ کیدل ثابت دی (که نه علی (رض) به رفع الیدین نه ترکول او د خپل روایت خلاف به یې نه کولو) .

امام طحاوی فرمایی : ((فان علیاً لم یکن لیری النبی صلی الله علیه وسلم یرفع ثم یترک هو الرفع بعده الا و قد ثبت عند نسخ الرفع فحدیث علی رضی الله عنـه اذا صـح ففیـه اکثر الحجه لقول من لا یری الرفع (طحاوی شریف حواله بالا ص ۱۱۰)

د حضرت عمر (رض) نه هم همدا شان نقل دی لکـه چـې طحـاوی کـې دی ((و قـد روی مثل ذلک ایضاً عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه کما حدثنا ابن ابـی داؤد قـال

ثنا الحمانی قال حدثنا یحیی ابن ادم ... عن الاسود قال رایت عمر بن الخطاب رضی الله عنه یرفع یدیه فی اول تکبیرة ثم لا یعود)
د حضرت عمر بن خطاب (رض) نه هم ترک د رفع الیدین نقل دی . اسود فرمایی ما عمر فاروق (رض) اول تکبیر کی لاس اوچتونکی ولید او نور به یې لاسونه . نه اوچتول، امام طحاوی فرمایی ((وهو حدیث صحیح)) دا حدیث صحیح دی ، د پورتنی حواله طحاوی شریف (۱۱۱) صفحه) ((قال ثنا ابوبکر بن عیاش عن حصین عن مجاهد قال صلیت خلف بن عمر رضی الله عنه فلم یکن یرفع یدیه الا فی التکبیرة الاولی من الصلوة)) مجاهد فرمایی چې ما ابن عمر (رض) پسې مونځ وکړ نو ده صرف د اولنی تکبیر وخت کی لاسونه اوچتول ، لدینه وروسته امام طحاوی فرمایی : ((فهذا ابن عمر قدر ای النبی صلی الله علیه وسلم یرفع ثم قد ترک هو الرفع بعد النبی صلی الله علیه وسلم فلا یکون الا و قد ثبت عنده نسخ ما قد رای النبی صلی الله علیه وسلم فعله و قامت الحجة علیه بذلک (طحاوی شریف ص ۱۱۰)
په زجاجة المصابیح کی دی : ((عن عبد العزیز بن حکیم قال رایت ابن عمر یرفع یدیه حذاء اذنیه فی اول تکبیرة افتتاح الصلوةو لم یرفعهما فیما سوی ذلک)) (رواه محمد)
یعنی : عبدالعزیز بن حکیم فرمایی : ما ابن عمر (رض) به د تکبیر تحریمه په وخت دواړو غوږونو په برابری لاسونه ، نه اوچتول ، (زجاجة المصابیح ۲۲۸/۱ ، (مؤطاء امام محمد (۷۳) صفحه باب افتتاح الصلوة)

ـ رفع الیدین باره کی د امام اوزاعی او د امام ابو حنیفه مناظره :-

په زجاجة المصابیح کی دی : ((و فی مسند امامنا ابی حنیفه عن سفیان بن عیینة قال اجتمع ابو حنیفة و الاوزاعی فی دار الحناطین بمکة فقال الاوزاعی لا بی حنیفة ما بالکم لا ترفعون ایدیکم فی الصلوة عنه الرکوع و عند الرفع منه فقال ابو حنیفة لا جل انه لم یصح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم شئ قال کیف لا یصح و قد حدثنی الزهری عن سالم عن ابیه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه کان یرفع یدیه اذا افتتح الصلوة و عند الرکوع و عند الرفع منه ، فقال له ابو حنیفة و حدثنا حماد عن ابراهیم عن علقمة والاسود عن ابن مسعود ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان لا یرفع یدیه الا عند افتتاح الصلوة و لا یعود لشئ من ذلک فقال الاوزاعی احدثک عن

الزهری عن سالم عن ابیه و تقول حدثنی حماد عن ابراهیم فقال له ابو حنیفة کان حماد افقه من الزهری و کان ابراهیم افقه من سالم و علقمة لیس بدون ابن عمر (رضی الله عنه) فی الفقه و ان کانت لا بن عمر رضی الله عنه صحبة و له فضل صحبة فالاسود له فضل کثیر و عبد الله هو عبد الله فسکت الاوزاعی . (باب صفة الصلوة زجاجة المصابیح ص ۲۲۹ ج ۱) (نور المصابیح ترجمه زجاجة المصابیح ص ۲۱۱ حصهٔ دوم جلد اول)

د زجاجة المصابیح ترجمه نور المصابیح کی دی : د سفیان بن عیینة څخه نقل دی چې وایی : د مکی معظمی په دار حناطین (د غمنو منډی) کی امام ابو حنیفه (رح) او امام اوزاعی رحمهما الله سره یو ځای شول ، امام اوزاعی امام ابو حنیفه (رح) ته وویل تاسو په مانځه کی رکوع په وخت او د رکوع نه پورته کیدو په وخت کی رفع الیدین ولی نه کوی ؟ امام ابو حنیفه ورته جواب ورکړ ، مونږه ځکه رفع الیدین نه کوو چی ددی متعلق د رسول الله (ص) کوم صحیح روایت ثابت ندی امام اوزاعی وفرمایل : دا څنګه کیدی شی خال دا چې ماته حدیث بیان کړی دی زهری د سالم نه او هغه د ابن عمر (رض) نه او هغه د نبی اکرم (ص) نه چی رسول الله (ص) به کله مونځ شروع کولو نو تکبیر تحریمه لپاره به یې دواړه لاسونه اوچتول او رکوع ته تللو وخت کی به رفع الیدین کولو او د رکوع نه پورته کیدو وخت کی‌هم رفع الیدین کولو (د امام اوزاعی په جواب کی) امام ابو حنیفه وفرمایل : مونږ ته حماد حدیث بیان کړی او حماد ته ابراهیم او ابراهیم ته علقمه او اسود او دی دواړو ته ابن مسعود (رض) چی رسول الله (ص) په شروع د مونځ کی (یعنی تکبیر تحریمه) لپاره خو لاسونه اوچتول او نور باقی مونځ کی به یې رفع الیدین نه کولو ، امام اوزاعی (رح) وفرمایل : زه حدیث بیانوم د زهری نه او زهری د سالم نه روایت کوی او سالم د خپل پلار ابن عمر (رض) نه روایت کوی او ته (ددې په مقابل کی) د حماد حدیث بیانوی چی د ابراهیم نه روایت کوی ، امام ابو حنیفه وفرمایل : حماد د زهری نه زیات فقیه دی او ابراهیم د سالم نه زیات فقیه دی او علقمه په فقه کی د ابن عمر نه کم ندی اګر که ابن عمر ته د رسول الله (ص) د صحبت شرف حاصل دی او د صحابیت فضیلت لري . او پاتی شو اسود نو دی هم ډېر فضیلتونه لري او عبد الله بن مسعود خو ابن مسعود دی دده به څه وایی ، ددی خبرې په اوریدو سره امام اوزاعی چپ شو (دا روایت امام ابو حنیفه خپل مسند کی د سفیان ابن عیینة څخه کړی دی)

د رفع الیدین نه کونو باره کی د غیر مقلدینو پیشوا مولانا ثناء الله امرتسری بیان
((لکه چې رسول الله مذهب دی رفع الیدین یو مستحب کار دی چې ددی په کولو بانـدې ثواب ملاویږي او په نه کولو سره د مونځ په صحت کی هیڅ نقصان نه راځـی)) (اهـل حدیث کا مذهب (۷۹) صفحه مولانا ثناء الله امرتسری)

بهت شور سنتی تهے پهلو مي دل کا- جو چیرا تو ایک قطره خون نه نکلا

د مذکور بیان څخه واضح شو چې د مولانا ثناء الله صاحب پـه قـول رفـع الیـدین یـو مستحب کار دی‌او په نه کلو سره یې د منځ په صحت باندې هیڅ خلل نه راځی ، لهذا د غیر مقلدینو دې سره معرکة الآراء مسئله جوړول او د حنفیانو خلاف باندې طعن او بد ربانی کول چې، دا خلک دحدیثو نه خـلاف کـوی (حـال دا چـې د حنفیـانو عمـل د حدیثو موافق دی لکه چې پورته بیان شو) نو دا طعـن بالکـل بـې بنیـاد او ضـد عنـاد باندې بنا دی او خامخا علامو سره دومه ورکول دی

_ امین بالجهر : - د اسلام په ابتدا کی د رسول الله (ص) تعلیم یواځی قـولاً نه ؤ عملاً به هم ؤ ، ددی څو مثالونه شته دی مـثلاً د جنـازې مانځـه کـی چـې کـومی دعاګانی لوستلی کیږي ظاهره ده چې ددی خفیه ویل مشروع دی خو دا هم ثابت دی چې رسول الله (ص) کله کله د تعلیم په غرض جهراً (په زوره) هم ویل ، لکه چـې پـه مسلم شریف، کی ((حدثنی هارون بن سعید .... یقول سمعت عوف بن مالک یقول صلی رسول الله (ص) علی جنازة فحفظت من دعائه وهو یقول اللهم اغفر له و ارحمه و عافه و اعف عنه ... الخ))

یعنی عوف بن مالک نـه نقـل دی چـې رسـول الله (ص) د جنـازی مـونځ ورکـړ او د جنازی په مانځه کی چې کومه دعا وکړه هغه ما یاده کړه ، دعاء دا وه ((اللهم اغفر له و ارحمه و عافه و اعف عنه و اکرم نزله و وسع مد خله ،و اغسله بالماء و الثلج و البردو نقـه من الخطایا کما نقیت الثوب الآبیض من الدنس و ابـد لـه داراً خیـراً مـن داره و اهـلاً خیراً من اهله و زوجاً خیراً من زوجه و ادخله الجنة و اعذه من عذاب القبر و من عذاب النار (مسلم شریف ج ا ص ۳۱۱ کتاب الجنائز))

همدا شان ماسپښین او مازدیګر مانځه قرائت خفیه ویل کیږي مګر کله نا کله رسـول الله (ص) یو نیم ایت جهراً (اوچت اواز سره) هم لوستلی دی تر څو مقتـدیانو تـه معلـوم شی چې کوم سورت یې ولوست (مشکوة شریف (۷۹) صفحه باب القراة فی الصلوة)

غرض دا چې ددی ډېر مثالونه پیدا کېږي ، همدا شان د اسلام په شروع کی رسول الله (ص) آمین په جهر او زوره باندې ویلو ، په معارف السنن کی دی :
((قال الشیخ رحمه الله : و قد یجاب عن الجهر بانه کان للتعلم .... الی قوله .... قال الشیخ : و یویده ما اخرجه الحافظ ابو بشر الدولا بی في کتاب الاسماء والکنی (۱۹۷،۱) من حدیث وائل و فیه : و قرء غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فقال آمین یمدبها صوته ماراه الا لیعلمنا فهذا القول منه صریح فی انه اراد ان یعلمهم سنة التامین .))
یعنی شیخ انور شاه کشمیری قدس سره فرمایی د جهراً امین ویلو متعلق یو جواب دا دی چې دا دتعلیم په غرض ؤ او ددی تائید هغه حدیث کوی کوم چې حافظ ابو بشر دولابی په کتاب د ((الاسماء والکنی)) ۱۹۷,۱ باب ماجاء فی التامین کی د حضرت وائل نه نقر کړی دی پدې روایت کی دی چې رسول اکرم (ص) غیر المغضوب علیهم ولا الضالین لوستو سره آمین وویل او آواز یې اوچت کړ زما خیال دا دی چې رسول اکرم (ص) مونږ د تعلیم راکولو لپاره اوچت آواز سره آمین وویل
د معارف السنن شرح ترمذی باب ماجاء فی التامین ۴۰٦/۲ مولانا یوسف بنوری) نو پته ولګېده چې په زور آمین ویل د امت د تعلیم لپاره ؤ او کله چې امت ته تعلیم حاصل شو نو بیا رسول الله (ص) خفیه ویل شروع کړل لکه چې د شعبه روایت دی کوم چې ترمذی وغیره روایت کړی دی : ((روی شعبة هذا الحدیث عن سلمة بن کهیل عن حجرابی عن علقمة بن وائل عن ابیه ان النبی صلی الله علیه وسلم قرا غیر المغضوب علیه ولا الضالین فقال آمین و خفض بها صوته))
ترجمه : دا حدیث شعبه د سلمه بن کهیل نه روایت کړی ... علمه د خپل پلار حضرت وائل نه روایت کوی چې رسول الله (ص) غیر المغضوب علیهم ولا الضالین لوستلو سره په ورو آواز سره آمین وویل (ترمذی شریف ۳۴/۱ باب ماجاء فی التامین) او په زجاجة المصابیح کی دی : ((عن علقمة بن وائل عن ابیة انه صلی مع النبی صلی الله علیه وسلم فلما بلغ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین قال آمین و خفض بها صوته روا الحاکم و قال صحیح الاسناد ولم یخرجاه))
یعنی علقمه د خپل پلار نه روایت کوی چې دوی رسول اکرم (ص) پسی مونځ وکړ کله چې رسول الله (ص) غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ته ورسید نو په ورو آواز سره یې آمین وویل ، دا حدیث امام احمد ، ابو داؤد طیاسی ، ابو یعلی ، طبرانی او دارقطنی روایت کړی دی ، (زجاجة المصابیح ۲۵۸/۱ او په زجاجة المصابیح کی دا

هم دی ((و عن ابی وائل قال لم یکن عمر و علی رضی الله عنهما یجهـران بسم الله الرحمن الرحیم ولا بآمین)) د رواه الطبرانی فی تهذیب الآثار) یعنی د حضرت وائل نه روایت دی چې فرمایی : حضرت عمر او حضرت علی (رض) (مانځه کی سورت فاتحې نه مخکی) بسم الله الرحمن الرحیم په زوره نه ویل او (د سورت فـاتحی نـه وروسته) آمین هم په زوره نه ویل ، دا روایـت طبرانـی پـه تهـذیب الآثـار کـی راوړی (زجاجة المصابیح ۲۵۹/۱) او دا اثر امام طحاوی هم په معانی الآثار کی بیان کړی دی ((حدثنا سلیمان بن شعیب قال حدثنا علی ن معبد قال حدثنا ابو بکر بن عیاش بـن ابـی سـعید عن ابی وائل قال کان عمرو علی لا یجهران بسم الله الـرحمن الـرحیم ولا بـالتعوذ و لا بالتامین))

یعنی حضرت عمر او علی (رض) به بسم الله الرحمن الرحیم ، اعـوذ بـالله او آمـین پـه زوره باندې نه ویلو ، (معانی الآثار المعروف به طحاوی (۹۹) صفحه باب قراة بسم الله الرحمن الرحیم فی الصلوة)

په مصنف عبد الرزاق کی دی : ((عبد الرزاق عن الثوری عن منصور عن ابـراهیم قـال خمس یخفیهن سبحانک اللهم و بحمدک و التعـوذ بسـم الله الـرحمن الـرحیم و آمـین و اللهم ربنا و لک لحمد)) د ابراهیم نخعی نه روایت دی چې پنځه شیان امام ته ورو ویل پکار دی :- سبحانک اللهم و بحمدک ، اعوذ بالله ، بسم الله الـرحمن الـرحیم او اللهـم ربنا و لک الحمد ، (مصنف عبد الرزاق ۸۷/۲) او دا هم په مصنف عبد الرزاق کی دی : ((عبد الرزاق عن معمر والثوری عن منصور عـن ابـراهیم انـه کـان یسـر آمـین)) یعنـی ابراهیم نخعی رحمه الله په آمین په ورو آواز سره ویلو (مصنف عبد الرزاق ۹٦/۲)

محدث کبیر علامه یوسف بنوری ((معارف السنن)) کی لیکی : -

((عن ابراهیم قال قال عمر رضـی الله عنـه اربـع یخفـیهن الامـام ، التعـوذ و بسـم الله الرحمن الرحیم و آمین و اللهم ربنا و لک الحمد (ابن جریر) فتخلص ان اخفاء التـامین هو مذهب عمرو علی و عبد الله و ابراهیم النخعی و جمهور الصحابة والتـابعین و سـائر اهل الکوفة))

یعنی د ابراهیم نخعی نه نقل دی چې حضرت عمر (رض) فرمایلی دی : امام به څلور څیزونه په ورو اواز سره وایي : اعوذ بالله ، بسم الله الرحمن الرحیم ، آمین او اللهم ربنا و لک الحمد ، (ابن جریر) خلاصه و کلان دا دی چـې آمـین پـه ورو آواز سـره ویـل د حضرت عمر ، حضرت علی ، حضرت عبد الله ، ابراهیم نخعی ، جمهور صـحابه ، تـابعین

او د ټولو کوفیانو مذهب دی . (معارف السنن شرح ترمذی ۲ / ۴۱۳ باب ما جاء فی التامین)

_ شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدنی قدس سره تحقیق :

((د خلفاء راشدینو او د اکابرو صحابه کرامو عمل د آمین ورو ویل ؤ لکه چې د حضرت عمر ، حضرت علی ، ابن مسعود رضی الله عنهم نه اخفاء (پټوالی) نقل دی ، دا ددی خبرې دلیل دی چې د رسول اکرم طریقه هم همدا وه او که نه جلیل القدر صحابه کرامو به د رسول اکرم نه خلاف څنګه کولی شو ؟ (معارف مدینه (۳۳) صفحه پنځمه حصه) او د ا هم په معارف مدینه کی دی (د شعبه او د سفیان والا روایتونو د جمع او تطبیق) یو صورت خو هغه دی چې مخکی تېر شو او بله دا چی جهر د جواز بیانولو لپاره ؤ او دریم ، د امت د تعلیم لپاره ؤ ، څلورم ، په ابتداء کی ؤ او بیا پاتې نه شو ، ددی قرینه دا ده چی په طبرانی کی دی ((انه امن ثلاث مرات)) یعنی حضور اکرم (ص) دری ځلی په زوره آمین ویلی دی او ابو بشر دولابی هم په ((الاسماء والکنی)) کی د حضرت وائل نه نقل کړی : رسول الله (ص) چې کوم په زوره آمین ویلی دی دا مونږ ته د تعلیم لپاره ؤ لدینه زیات واضحه قرینه نوُر څه کیدی شی ؟ ددی خبری چې اهل سنت اخفاء دی او جهر عارضی ؤ لکه چی سبحانک اللهم یا التحیات وغیره خینی وختو کی د امت د تعلیم لپاره به په زور سره لوستل کیدل ، همدا شان دا هم دی او دریم دا چی په ابو داؤد کی دی : حضرت وائل (رض) دوه ځلی د رسول الله (ص) په خدمت کی حاضر شوی یو ځل په جهر سره آمین اوریدی او بل ځل په ورو سره اوریدلی دی لهذا دواړه یې نقل کړی دی لدینه معلومېږي چې ابتداء کی جهر سره ؤ خو وروسته بیا اخفاء شو او که نه حضرت عمر او حضرت علی رضی الله عنهما جهر نه ترک کولو دا د جمع او د تطبیق صورتونه دی (معارف مدینه پنځمه حصه (۳۲) صفحه)).

د ورو آمین ویلو یو بل دلیل:

پدې باندې د ټولو اتفاق دی چې آمین د سورت فاتحی یا د قرآن پاک جزء نه دی ، همدا وجه ده چې قرآن پاک کی امین نه لیکل کېږي ، آمین دعاء ده او دعاء په پټه او ورو اواز سره کیدل پکار ده ، په قرآن پاک کی دی (ادعوا ربکم تضرعا و خفیة) خپل

رب په عاجری او په پټه سره راوبلی ، ددی ایت نه ددی خبرې تائید کیږي چې آمین په ورو سره ویل پکار دی ، په زجاجة المصابیح کی دی : ((و بالقیاس علی سائر الـذکار و الادعیة و لان امین لیس من القرآن اجماعاً فلا ینبغی ان یکون علی صوت القرآن و با خفائها یقع التمییز بین القرآن وغیره فانه اذا جهر بها مع الجهر بالفاتحة یلـبس انهـا مـن القرآن کما انه لا یجوز کتابته فی المصحف و لهذا اجمعو علی اخفاء التعوذ لکونه لـیس من القرآن (زجاجة المصابیح حاشیه ج ۱ ص ۲۵۸ باب القراة فی الصلوة))

په نور المصابیح کی دی : په عقلی دلائلو سره هم په ورو امـین ویـل پـدې شـان سـره ثابتیږي چې امین هم په مانځه کی د نورو دعاګانو او اذکارو نه دی لکـه چـې مانځـه کی نور دعاء ګانی او اذکار ورو لولو همدا شان آمین هم ورو ویل پکـار دی او د آمـین ورو ویلو یو عقلی دلیل دا هم دی چې د اعوذ بالله پشان آمین هم د قرآن جزء ندی که چیرته آمین د قرآن جزء وای نو دا به په قرآن کی لیکـل شـوی وای ، د آمـین جهـر او خفیه متعلق ترمذی دوه روایتونه بیان کړی او دواړه روایتونه د حضرت وائـل نـه نقل دی ، سفیان د جهراً ویلو روایت کوی او شعبه د خفیه ویلو روایت کوی

چونکی اعوذ بالله او آمین دواړه په قرآن کی نه لیکل کېږي پدې وجه ثابـت شـو چـې دواړه د قرآن جزء ندی او کوم شئ چې د قرآن جزء نـه وی هغـه پـه پټـه او ورو ویـل کېږي نو پدې بناء اعوذ بالله پشان امین هم ورو ویـل پکـار دی ، (دا مضـمون مرقـاة ، بنایه او التعلیق الحسن نه اخستل شوی ، (نـور المصـابیح ترجمـه د زجاجـة المصـابیح (۳۰۳) صفحه اول جلد دویمه حصه)

د شعبه په روایت باندې امام ترمذی یو څو شبهی وړاندی کړی دی لیکي : ((و اخطاء شعبة مواضع من هذا الحدیث فقال من حجر ابی العنبس انما هو حجر بـن العنـبس و یکنی ابا السکن و زاد فیه عن علقمة بن وائل و لیس فیـه علقمـة و انمـا هـو حجر بـن العنبس عن وائل ... الخ))

یعنی شعبه پدې حدیث کی څو غلطیانی کړی دی (۱) شعبه خپل روایت کی حجر ابو العنبس ویلی دی حال دا چې حجر ابن العنبس دی (۲) شعبه ددی کنیه ابـو العنـبس بیان کړی او حال دا چې دده کنیه ابو السکن دی (۳) شعبه خپل روایت کـی علقمـه زیات کړی او حالدا چې پدې روایت کی علقمه نشته (ترمذی شریف ۳۴/۱ بـاب ماجـاء فی التامین)

جواب دا دی : چی د حجر د پلار او د خوی دواړو نوم عنبس دی دا خبره ګویا په هندوستان کی عیب دی لیکن په عربو کی دیر خوښ او زیات رواج دی (معارف مدینه ۳۱/۵ باب القراة فی الصلوة) لهذا لکه څنګه چې حجر بن العنبس صحیح دی همدا شان حجر ابو العنبس هم صحیح دی .

(۲) د حجر کنیه ابو السکن هم ؤ او ابو العنبس د یو سړی دوه کنیه کیدو باندې اعتراض کول څه خبره نده (معارف مدینه)

(۳) حجر د علقمه او وائل دواړو نه اوریدلی دی لکه چې په ابو داؤد طیالسی کی تصریح دی حجر ویلی‌دی : ما د دواړو نه اوریدلی دی (معارف مدینه (۳۱) صفحه پنځمه حصه) په زجاجة المصابیح کی دی : ((و حجر اسم ابیه عنبس و کنیته ککنیة ابیه ابو العنبس و لا مانع من ان یکون له کنیة اخری ابو السکن لا نه یکون لشخص واحد کنیتان و بهذا جزم ابن حبان فی کتاب الثقات و زاد فیه علقمة لا یضر لان الزیادة کان من الثقة مقبولة و لا سیما من قبل شعبة (زجاجة المصابیح ج ۱ ص ۲۵٦ باب القراة فی الصلوة) .

ـ د شعبه د روایت د ترجیح اسباب :

په معارف مدینه کی دی :- علاوه لدینه سفیان مدلس دی او د مدلس روایت په معنعن کی د تدلیس امکان او شائبه پیدا کېږي ، او دا روایت همدغسی دی پدې وجه د تدلیس شائبه موجوده ده او ددی بر عکس د شعبه روایت ددی کمزوری نه پاک دی ، ځکه چې شعبه مدلس ندی او بل ددی روایت مسلسل بالتحدیث دی او دسفیان روایت معنعن دی ، دا د شعبه د روایت د ترجیح وجه ده او علاوه لدینه د سفیان او دشعبه باره کی د ائمهٔ و اقوال مختلف دی : او پدوی کی راجح قول دا دی چې شعبه د احادیثو د متونو او د رجالو په حفظ کی اوچت او وړاندی دی او سفیان صاحب د ابواب یعنی په فقه کی اوچت او مخکی دی ، د یحیی بن سعید قطان ، حماد بن سلمه احمد بن حنبل ، ابو داؤد وغیره قوالو خلاصه همدا ده پخپله سفیان وایی چې شعبه امیر المؤمنین فی الحدیث دی اوچونکی دا بحث د احادیثو د عبارت او رجالو سره تعلق لری پدې وجه د شعبه روایت قابل د ترجیح دی ،(د شعبه د حدیث د ترجیح دویمه وجه ده او دریمه وجه دا ړه چې شعبه پخپله فرمایي : ما چې د چانه روایت نقل کړی د هغه خواته یو ځلی نه زیات ورغلی یم او د چا نه چې ما لس روایتونه اوریدلی دی هغه ته لس ځلو نه زیات ورغلی یم ، لدینه معلوم شو چې شعبه یو یو روایت څو څو

حلی اوریدلی دی تر څو دغلطی امکان پاتی نشي او دا خبره په سفیان کی نشته پـدې وجه د شعبه روایت د ترجیح لائق دی او څلورم دا چې د سفیان مسلک پخپله د خپـل روایت نه خلاف دی لدینه ثابت شو چې ده پخپله روایـت قابـل عمـل نـه گڼلـو. دا د شعبه د روایت د ترجیح څلورمه وجه ده (معارف مدینه (۳۲) صفحه پنځه حصه) فقـط والله اعلم.

ـ سجدی ته د تللو مسنون طریقه:

(۳۷ سوال) د مانځه په سجده کی چې اول لاسونه کیـدی او بیـا زنگنونـه کیـدی دا څنګه دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) که چیرته څه عذر نه وی نو سجدی ته تللو کـی اول زنگنونـه کیـدی او بیا دواړه لاسونه کیدی دا سنت طریقه ده ، بغیر د عذر څخـه ددینـه خـلاف کـول مکـروه دی. البته که عذر وي لکه بوډا توپ وی یا یې بدن درون وی او ړومبی زنگنونو ایښودو کی تکلیف وی نو پدې صورت کی اول لاسونه ایښودو کی څه حرج نشته ، پـه مراقـی الفلاح کی دی ((ثم کبر کل مصل خاراً للسجود ثم وضع رکبتیه ثم یدیه ان لم یکن بـه عذر یمنعه من هذا الصفحة)) (مراقی الفلاح مع طحاوی (۱۵۴) صفحه فصل فی کیفیـة ترکیب الصلوة) په عمدة الفقه کی دی : ((سجده تـه د تلـو پـه وخـت کـی اول هغـه اندامونه په ځمکه باندی کیدی چې کوم ځمکی ته نزدی دی او بیا د هغو نه وروسـته په ترتیب باندې کیدی نو اول به دواړه زنگنونه کیدی او بیا دواړه لاسونه بیـا پـوزه او بیا تندی او دتندی اکثره حصه به اوږدی ځکه چې دا واجب دی او پداسې طریقه بـه اږدی چې ښه په آرام شی ـ الی قوله ـ دا هغه وخت دی چې څه عذر نه وي لیکن که څه عذر وی مثلاً د عمر د زیاتوالی په وجه اول زنگنونه نشي ایښودی نـو دواړه لاسـونه دی د زنگنونه ړومبی کیدی که د عذر په وجه دواړه یو ځـای پـه ځمکـه بانـدې نشـی ایښودلی نو ښی لاس او زنگنونه دې په ګس لاس باندې وړاندې کـړی (عمـدة الفقـه ۲-۱۱۰)

ـ د سجدی کولو مسنونه طریقه

(۳۸ سوال) ډېر مونځ کونکی په سجده کی خپلی متی او څنګلـی پـه ځمکـه بانـدې غوړوي ایا پدې سره مونځ مکروه کېږي وضاحت وکړی مهربانی .

(جواب) سړی لپاره د سجدی مسنونه او صحیح طریقه دا ده چې خپلې متې د خپلو پښتیو او ږخونو نه جدا وساتي لیکن په جماعت کې به متې د ږخونو سره جوختوي (ترڅو نورو مقتدیانو ته تکلیف نه) او متې به په ځمکه نه غوړوي بلې د ځمکې څخه به پورته ساتي او خیټه به د پتونو څخه جدا ساتي او په سجده کې به دواړه لاسونه د غوږونو برابر اږدی (د سینې برابر به نه اږدی) یعنې څهره (مخ) د دواړو لاسونو تر منځ او غټې ګوتې و غوږونو د نرمیو برابر د لاسونو ګوتې به بالکل یو ځای او جوختې ساتي تر څو د ټولو سرونه قبلې طرف ته شي (عمدة الفقه ۱۱۰/۲) که چیرته سړی خپلې متې په ځمکه وغوړوي نو مکروه تحریمي دی ، په شامی کې دی : ((قوله و افتراش الرجل ذراعیه الخ) ای بسطهما فی حالة السجود و قید بالرجل اتباعاً للحدیث المار آنفاً و لان المراة تفترش قال فی البحر قیل و انها نهی عن ذلک لا نها صفة الکسلان و التهاون بحاله مع ما فیه من التشبه بالسباع والکلاب ، و الظاهرانها تحریمة للنهی المذکور من غیر ضارف آه (شامی ج ۲ ص ۶۰۲ مکروهات الصلوة)
فقط.

ـ د سړی او د ښځې په لمانځه کې کوم کوم ځای کې فرق دی؟

(۳۹ سوال) ځینې ښځې د سړو پشان رکوع ، سجده او قعده کوی ایا دا صحیح دی ؟ امید دی چې تفصیل سره جواب راکړی مهربانی .

(جواب) کومې ښځې چې د سړو پشان رکوع ، سجده او قعده کوی دا غلط دی د سړی او د ښځې مونځ یو څو ځیزونو کې فرق لري او هغه دا دی : (۱) د تکبیر تحریمې په وخت سړی تر غوږونو پورې لاسونه اوچتوی او ښځې صرف تر اوګو پورې په کنز الدقائق کې دی : ((و اذا اراد الدخول فی الصلوة کبر و رفع یدیه حذاء اذنیه)) (کنز مع بحر ۳۰۵/۱ فصل و اذا اراد الدخول) او په مراقی الفلاح کې دی : ((اذا اراد الرجل الدحول فی الصلوة ای صلاة کانت (اخرج کفیه من کمیه) بخلاف المراة ... (ثم رفعهما حذاء اذنیه) حتی یحاذی بابهامیه شحمتی اذنیه ولا یفرج اصابعه و لا یضمها و اذا کان به عذر یرفع بقدر الامکان والمراة الحرة حذو منکبیها (مراقی الفلاح مع طحاوی ص ۱۵۲ فصل فی کیفیة ترکیب الصلوة)

(۲) سړی به د نامه لاندې لاسونه تړی او ددی طریقه دا ده چې د ښی لاس ورغوی د ګس لاس په برنی حصه باندې به پدې شکل اږدې چې د ښی لاس وړوکی ګوته دوی ګوتې په مړوند باندې کیدي او د ګس لاس ټولې ګوتې د ښی لاس د مړوند لاندې

کیدی حو لاندې طرف ته به زوړندی نه وي . او ښځه بـه سینه بانـدې لاسـونه اړدی بدی شکل چې د ښی لاس ورغوی د کس لاس د ورغوی په شا باندې کېـدی او حلقـه به نه جوړوي . په درمختار کی دی :-

،، ووضع الرجل (یمینه علی یساره تحت سرته آخذ ارسغها بخنصره و ابهامه) هو المختار و تضع المراة و الخنثی الکف علی الکف تحت ثدیها (در مختار مع شامی فصـل و اذا اراد الشروع الخ ص ۴۵۴ جلد اول))

(۳) د رکوع فرق ، سړی به په رکوع کی دومره ښکته کېږي چې سـر ، مـلا او کونـاتی برابر شی او ښځه به لږ غوندی ښکته کېږي یعنی یواځی دومره چې لاسونه زنګنونـو تـه ورسي او ملا به نه سیده کوی ، (۴) سړی به په زنګنونه محکم ونیسي او ښځه به خپلی ګوتی پیوست او یو ځای ساتی او په زنګنو باندې به اړدی او په لاسونو بانـدې بـه زور نه کوی او ښپې به لږ غوندی زوړندی ساتی د سړو پشان به ښه سیده نه ساتی ، او سړی به خپلی څنګلی له اړخونو نه لری او جدا ساتی او ښه کولاو رکوع به کـوی ، او ښـځه به خپلی څنګلی اړخونو سره ښه لګوی او جوختوی او د دواړو ښپو ګیټـۍ بـه هـم یـو ځای کو ی، او څومره چې کیدی شی را غوندېدو سره به رکـوع کـوی ، پـه در مختـار کی دی : - (٠ ثم یکبر الرکوع .... (و یضع یدیه) معتمـداً بهمـا (علـی رکبتیـه و یفـرج اصابعه) للتمکن و یسن ان یلصق کعبیه و ینصف ساقیه (و یبسط ظهره) و یسـوی ظهـره بعجزه (غیر رافع و لا منکس راسه ، قال فی المجتبی هذا کله فی حق الرجل اما المراة فتنحنی فی الرکوع یسیراً و لا تفرج و لکن تضم و تضع یدیها علی رکبتیها و ضعاً و تحنی (رکبتیها و لا تجافی عضد یها لان ذلک استرلها (درمختار و شامی ۴٦٠/۱ او ۴٦۱))

(۵) د سجدی فرق :

سړی دسجدی په حالت کی خیټه له پتونوڅخه او څنګلي اړخونونه جدا ساتی اومټی او څنګلی له خمکی نه جدا (پورته) سـاتی او ښـځی خیټـه لـه پتونـو اوڅنګلـی لـه خمکی سره غوړیدلی ساتی او سجده کوی ، اوبل سړی په سجده کی ښـپی ودریـدلی اوګوتی قبلی طرف ساتی او ښځی به ښپی نه ودروی بلکـی دواړه ښـپی ښی طـرف تـه وباسی اوښه راغوندېدو سره به سجده کوی او د دواړو ګوتی به ښی‌ه جو ختی او قبلی طرف ته اړدی . به کنز الدقائق کی دی :-

((وابدی ضبعیه وجا فی بطنه عن فخذیه ووجه اصابع رجلیه نحو القبلة وسبح فیه ثالاثاً والمرأة تنخفض و تلزق بطنها بفخذیها (قوله والمرأة تنخفض وتلزق بفخذیها) لانه استرلها

فانها عورة مستورة ويدل عليه مارواه ابوداود في مراسيله انه عليه الصلوٰة والسلام مر على امرأتين تصليان فقال اذ سجدتما فضما بعد اللحم الى الارض فان المراة ليست في ذلک كالرجل (بحر الرائق فصل و اذا اراد الدخول الخ ص ۳۲۰ ، ۳۲۱ ايضا))

(٦) د جلسى او قعدى فرق :-

سړی په جلسه او قعده کی خپله ښی ښپه ودرولو سره ګوتی یې قبلی طرف ته کوی او ګس ښپه غوړولو سره ورباندې کینی ، او دواړه لاسونه به پدې شکل پتونو باندې چې ګوتی يې قبلی طرف ته وی او لاندې طرف ته نه وي او ښځی به خپلی دواړه ښپې ښی طرف و سینو سره ګس کوناتی باندی کینی ((و اذا فرغ من سجدتی الركعة الثانية افترش رجله اليسرى فجلس عليها و نصب يمناه و وجهه اصابعه نحو القبلة و وضع يديه على فخذيه و بسط اصابعه و هى تتورک (كنز الدقائق مع بحر ۳۲۳/۱) ، او په بحر الرائق کی دی : - ((و ذكر الشارح ان المراة تخالف الرجل فى عشر خصال ترفع يديها الى منكبها و تضع يمينها على شمالها تحت ثديها و لا تجافى بطنها عن فخذيها و تضع يديها على فخذيها تبلغ رؤس اصابعها ركبتيها و لا تفتح ابطيها فى السجود و تجلس متوركة فى التشهد و لا تفرج اصابعها فى الركوع و لا تؤم الرجل و تكره جماعتهن و تقوم الامام وسطهن اه و يزاد على العشر انها لا تنصب اصابع القدمين كما ذكره فى المجتبى و لا يستحب فى حقها الاسفار بالفجر كما قد مناه فى محله و لا يستحب فى حقها الجهر بالقراة فى الصلوة الجهرية بل قد مناه فى شروط الصلوة انه لو قيل بالفساد اذا جهرت الامكن على القول بان صوتها عورة و التتبع اكثر من هذا فالاحسن عدم الحصر (بحر الرائق ص ۳۲۱ ج ا ايضاً))

نوټ : ښځی چې مسنون طریقی سره سجده وکړی شی دی لپاره مناسب صورت دا معلومیږی چې د رکوع نه سجدی ته تللو کی په ځمکه باندې اعتماد کولو سره دواړه ښپې ښی طرف ته راوباسی او فوراً سجده وکړی ، د ښځو د سجدی همدا طریقه را روانه ده ، د مسنون طریقی مطابق سجده کولو لپاره دا طریقه اختیارول معین ده لهذا دیته بدعت نه ویل کیږي ، فقط والله اعلم.

ـ په قعده کی چې ښی ښپه ونه درولی شی یا بلا عذر ددی عادت جوړ کړی نو څه حکم لری ؟

(۴۰ سوال) زمونږ د امام صاحب په ښپه کی درد دی پدې وجه کله چې قعده کی کینی نو ښی ښپه نشی ودرولی چې ګوتی یې قبلی طرف ته شی نو ده پسی مونځکول څنګه دی ؟ ایا په مانځه کی څه کراهت راځی ، او کله چې تقریر کوی نو وربانديې نه پوهېږو پدې وجه هم خلک وریسې مونځ کول نه غواړي نوددی امامت څه حکم لري ؟

(جواب) سړی لپاره قعده کی د کیناستو مسنونه طریقه دا ده چې ګس ښپه وغوړوی او ورباندې کینی او ښی ښپه ودروی چې ګوتې یې قبلی طرف ته وی ، بغیر د عذر نه د مسنون طریقی خلاف کیناستل مکروه دی البته د عذر په وجه داسی نشی کیناستی نو بیا کراهت نشته : ((و یسن افتراش الرجل (رجله الیسری و نصب الیمنی) و توجیه اصابعها نحوا لقبلة کما ورد عن ابن عمر رضی الله عنهما (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۱۴۶ سنن الصلوة))

پدې ذکر شوی مسئله کی که ستاسو امام صاحب د څه عذر په وجه سنت طریقی مطابق قعده نشی کولی نو مانځه کی هیڅ کراهت نه راځی اومونځ کول وریسی بلا کراهت جائز دی ، البته که چیرته بغیر د څه عذر نه داسی کینی او دا یې عادت جوړ کړی وی نو بیا داسی کیناستل مکروه دی هغه ته پکار دی چې خان اصلاح کړی او سنت طریقه اختیار کړی ، تقریر او تعلیم کول وربانديې لازم ندی او نه دی مقصد لپاره مقرر شوی دی ، که چیرته دې په مانځه کی قرآن مجید د تجوید مطابق صحیح لولی او د سنت طریقی مطابق مونځ ورکوی نو بیا وریسې بلا کراهت مونځ کول جائز دی ، فقط والله اعلم .

ـ د مانځه سلام ګرځولو کی د السلام علیکم په ځای سلام علیکم ویل څنګه دی ؟

(۴۱ سوال) خینی اماماں د سلام ګرځولو په وخت دی د السلام علیکم په ځای سلام علیکم (بغیر د الف لام نه) وایي داسی ویل څنګه دی ؟ پدې کی څه کراهت شته؟ وضاحت وکړی

(جواب) مونځ ګذار لپاره (امام وی او که منفرد) سنت طریقه دا ده چې کامل او صافه طریقه سره ((السلام علیکم ورحمة الله)) ووایی که د السلام علیکم په ځای سلام

علیکمووایی نو دا به د سنت خلاف او مکروه وی ، په شـامی کـی دی «« قولـه هـو السنة قال فی البحر وهو علی وجه الاکمل ان یقول السلام علیکم ورحمة الله مرتین فان قال السلام علیکم او السلام او سلام علیکم او علیکم السلام اجـزاه و کـان تارکـاً للسـنة و صرح فی السراج بکراهة الا خیراه قلت تصریحه بذلک لا ینافی کراهة غیره مما خـالف السنة » شامی ص ۴۹۱ ج ۱ فصل بیان تالیف الصلوة »

ـ مقتدی تشهد پوره کړی یا د امام پیروی وکړی ؟

(۴۲ سوال) امام په ړومبنی قعده کی تشهد لوستو سره دریم رکعت تـه ودریـد پداسـې حال کی چې مقتدی د تشهد نه فارغ شوی ندی نو دې به د امام پیروی کوی یا تشـهد پوره کړی ؟ وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) حتی الامکان مقتدی به د تشهد پوره کولو نه وروسته ودرېږی او د امام اتبـاع (یعنی تشهد پوره کولو نه بغیر ودریدو په صورت کـی) هـم مـونځ کبـږي ، پـه مجـالس الابرار کی دی : «و اما لو قام الامام من القعدهٔ الاولی الی الرکعة الثالثـة قبـل ان یـتم المقتدی التشهد فانه یتمه ثم یقوم و ان قام قبـل ان یتمـه یجـوز » (مجلـس ۴ (۳۲۲ و ۳۲۳) صفحه) فقط والله اعلم.

په الله اکبر کی چی په لفظ د الله یا اکبر په همـزه بانـدې مـد وکړی څه حکم لری ؟

(۴۳ سوال) ځینی خلک لیکی ځینی امامان هـم پـه الله اکبـر کـی د الله اکبـر همـزه باندې مد کوی او اوږدولو سره لولوی او ځینی د اکبر باء مد او اوږدولو سـره لـولی نـو ددی څه حکم دی ؟

(جواب) الله اکبر پداسې طریقه ویل پکار دی چې همزه باندې مد ونـه کـړی او آلله ونه لولی او نه به پداسې طریقه لولی چې د همزی او لام تر منځ د الف امالی اواز پیدا شی یعنی همزه را اوږده کړی او لام سره یو ځای کړی چې آلله ترینه جوړ کړی بلکـی فوراً همزه به د لام جلاله سره یو ځای کول پکار دی ، او دا د اوریدو سره تعلق لـري ، همدا شان د اکبر په همزه باندې به هم مد نه کوی او آکبر به نه لولي او نه بـه داسـې لولي چې د همزی او کاف تر منځ د الف حماله اواز وی یعنی همزه دومره اوږده کـړی چې د کاف سره لږ غوندې تاخیر سره یو ځای شی چې آکبر صورت جـوړ شـی ، بغیـر د تاخیر نه همزه کاف سره یو ځای کول پکار دی ، دا هم اوریدو سره تعلق لـری همـدا

شان د اکبر په باء باندې به هم مد نه کوی او اکبار ونه لولی او نه داسی ولولی چې د باء او راء تر منځ د الف مماله آواز پیدا شی یعنی باء دومره اوږده کړی چې راء سره لږ تاخیر سره یو ځای شي یعنی د اکب ... (د صورت جوړ شی بلکی بلا تاخیر بـاء بـه لـه راء سره یو ځای کوی ، دا هم اوریدو سره تعلق لری .

لدې درې خاېونو څخه کوم یو ځای کی چې هم مد وکړی یا اوږدولو سـره ولـولی نـو ډېره غلطی به وی ، که دا غلطی په تکبیر تحریمـه وکـړی نـو لـه سـره پـه مانځـه کـی شاملېږي نه او که د انتقالاتو په تکبیرونو کی دا غلطی وکړی نو مونځ فاسـدېږي ، لهـذا امامانو ته پکار دی چې ددی ډېر زیات خیال وساتی او بار بـار مشـق کولـو سـره خپلـه غلطی اصلاح کړی ، په مجالس الابرار کی دی : -

((و هو ست الاولی تکبرة الافتتاح لا یدخل فی الصلوة الا بها وهی ان یقول مـن یریـد الدخول فی الصلوة الله اکبر بلا ادخال مد فی همزة الله و همزة اکبر فـان وقـع المـد فی احد الهمزتین لا یصیر داخلاً فی الصلوة بل تفسد لو قع فی اثنائها و لو تعمـده یکفـر لانه یصیر استفهاماً و مقتضاه الشک فی کبریا الله _ الی قوله _ ولو وقع المد فی باء اکبر بان یقول اکبار بزیادة الالف الممال بین الباء والراء لا یصیر داخلاً فی الصـلوة و تفسـد لووقع فی اثنائها))

ترجمه : او فرض شپږ دی : اول تکبیر افتتاح دی او ددینه بغیر مـونځ نـه شـروع کـېږي یعنی کوم سړی چې د مونځ شروع کولو اراده وکړی نو پداسې طریقه الله اکبر ووایـی چې د الله په همزه او د اکبر په همزه او باء باندې مد ونه کړی ځکه که چیرته د دواړو همزو څخه یوه باندې مد وشي نو په مونځ نه داخلېږي لیکل که چیرته د مونځ په منځ کی تکبیرونو کی وشي نو مونځ فاسدېږي او که قصداً مد وکړی نو کافر کېږي ځکه چې لدینه به استفهام جوړېږي او ددی مقتضی د الله تعالی په لـویی کـی شـک دی _ الـی قوله _ او که چیرته د اکبر په باء باندې مد وکړی یعنی د اکبر بـاء او راء تـر مـنځ الـف مماله زیات کړی او ((اکبار)) ولولی نو (تکبیر تحریمه نه صحیح کېږي) او په مانځه نـه شاملېږي او که مانځه کی دننه د انتقالاتو په تکبیرونو کی پدې طریقه ولـولی نـو مـونځ فاسدېږي (مجالس الابرار (۳۰۶ ، ۳۰۷) صفحی (۵۲) مجلس)

په زاد الفقیر کی دی : ((و لو مد بهمزة الجلالة او اکبـر او بـاءه لـم یصـر شـارعاً) (زاد الفقیر (۳۱) صفحه) فقط والله اعلم بالصواب.

باب القراة و زلة القاری

امام څومره زور سره قرائت ولولی ؟

(۴۴ سوال) یو سړی د قرآن پاک تفسیر کوی (۱۵) سپاری سورت بنی اسرائیل کی دی (ولا تجهر بصلوتک ولا تخافت بها و ابتغ بین ذلک سبیلاً) تفسیر دا دی چې خپل مونځونه ، نه په زوره لولئ او نه په ورو ، میانه روی اختیار کړئ . نو ایا دا حکم امام باندې هم کېږي ؟ هغه سړی وایی چې امام به دومره زور سره وایی چې د جومات نه باهر اواز لاړ نشي نو ایا دا خبره صحیح ده ؟

(جواب) د قرآن مجید د ترجمی په کتو سره احکام بیانول او امام لپاره فتوی ورکول صحیح ندی ددی ایت کریمه (و ابتغ بین ذلک سبیلاً) میانه روی اختیار کړه) ددی حد دا مقررول چې اواز له جومات باهر لاړ نشي ، دا صحیح نه دی ددی چې کوم حد فقهاؤ مقرر کړی هغه صحیح دی ، په در مختار او شامی کی دی :

((و یجهر الامام و جوباً بحسب الجماعة فان زاد علیه اساء (درمختار) (قوله فان زاد علیه اساء) و فی الزاهدی عن ابی جعفر لو زاد علی الحاجة فهو افضل الا اذا اجهد نفسه او اذی غیره قهستانی (شامی ج ۱ ص ۴۹۷ فصل فی الصلوة)

د ذکر شوی ایت یو تفسیر دا هم دی چې نه په ټولومونځونو کی په زوره لوله او نه په ټولو کی په ورو (د خفیه قرائت کوه) د مابنام ، ماسخوتن او د سحر په مانځه کی په زوره قرائت کوه او ماسپښین او مازدیګر کی په پټه قرائت کوه :

((قوله یجهر الامام جوباً للمواظبة من النبی صلی الله علیه وسلم کان صلی الله علیه وسلم یجهر بالقران فی الصلوة کلها ابتداء کما سیذکره الشراح و کان المشرکون یؤ ذونه و یسبون من انزله و من انزل علیه فانزل الله تعالی و لا تجهر بصلوتک و لا تخافت بها ای لا تجهر بها کلها و لا تخافت بها کلها و ابتغ بین ذلک سبیلا بان تجهر بصلوتک اللیل و تخافت بصلوتک النهار فکنان یخافت بعد ذلک فی صلوة الظهر والعصر الخ .

(طحطاوی علی درمختار ج ۱ ص ۳٦۳ ایضاً))

(خینی وایی : مراد دا دی چې نه ټول مونځونه اوچت آواز سره کوه لکه د سحر و مابنام او ماسخوتن پشان ځکه چې پدې وختو کی مشرکان خپل کاروبار یا خوب او خوراک کی مشغول وی ، او نه ټول په پټه لکه د ماسپښین او د مازدیګر مونځونه نو

ځینی په اوچت اواز او ځینی په ټیټه او ورو سره) (تفسیر حقانی ۵ ۹٦ سورت بنی اسرائیل ، تفسیر د ولا تجهر بصلوتک الخ) فقط والله اعلم.

ـ د تنوین نه وروسته (الف لام) راتلو سره قرائت کی پیدا کیدونکی صورتونه:

(۴۵ سوال) یوه اهمه مسئله او ددی اصول او ضوابط د سوال و جواب په شکل کی وکوریٔ ددی د تحقیق ضرورت دی ، مسئله او قانون دا دی : -

((سوال)) زمونږ امام صاحب په جهری مانځه کی د قل هو الله احد الله الصمد (د احد په دال باندې د وقف کولو په ځای) قل هو الله احد ن لله الصمد (د دال تنوین په نون سره بدلولو او کسره ورکولو) سره لولی .

(جواب) د کوم ایت یا د جمعلی آخری حرف چې منون وی (یعنی دوه پیښونه یا دوه زبرونه او یا دوه زیرونه ولري) او د هغه وروسته صرف (ال) سره شروع شوی وی او هلته د وصل او یو ځای لوستلو په صورت کی د تنوین په ځای نون لوستل کېږي ، په سوال کی ذکر شوی همداسی دی چې د ((احد)) په دال باندې تنوین (دوه پیښونه) دی او وروسته ورنه د الله کلمه په ((ال)) سره شروع کېږي لهذا په احد باندې وقف نه کول بلکی د دواړو وصل کولو سره چې ولوستل شی نو د ذکر شوی قاعدی مطابق ((نون)) لوستل کېږي نو پدې وجه ستاسو امام صاحب چې احد باندې وقف نه کوی او د ((الله)) سره یې یو ځای کوی او احد ن الله الصمد لولی نو دا غلط ندی بلکی د قرائت قانون مطابق دی او بالکل صحیح دی .

مذکوره مسئله او قانون چې بیان شو دا صحیح ده او که غلطه ؟ په تفصیل سره جواب راکړیٔ تر څو زړه مو مطمئن شي.

(جواب) دا خو صحیح ده چې امام څرنګه لولی دا صحیح دی غلط ندی ، مګر کومه قاعده او قانون چې بیان کړی شوی چې د تنوین نه وروسته حرف که ((ال)) سره شروع شوی وی نو د وصل او یو ځای لوستلو په صورت کی د تنوین په ځای نون لوستل کېږي دا خبره صحیح نده بلکی غلطه ده په ځینو ځایو کی پداسې کیدو سره دا قاعده کلیه کُلّي صحیح نه دی ، دا خو ((جتنی کالے اتنے جامن)) سره مترادف او برابر دی په قرآن شریف کی دی (۱) مختلفاً الوانه (سورت نحل (۲) رکوع) (۲) مختلفاً الوانه (سورت نحل (۹) رکوع) (۳) مختلفاً الوانها (۴) مختلف الوانها (۵) مختلفا

الوانه (سورت فتح (۴) رکوع) (٦) مختلفاً الوانه (سورت زمر (۲) رکوع) پدې مذکوره مثالو کې د تنیون نه وروسته الوانه او الوانها دی یعنې د تنوین نه وروسته صرف په ((ال)) سره شروع شوی مگر دلته یو ځای او وصل لوستلو په صورت کې دتنوین په ځای نون نه لوستل کېږي یعنی مختلف ن الوانها لوستل جائز ندی که ولولی نو لحن جلی لازمېږي کوم چې حرام دی ، همدا شان د سورت بنی اسرائیل دویم رکوع کې دی (۷) او کل انسانٍ الزمناه) دلته هم (وصل په صورت کې د تنوین په ځای نون نه لوستل کېږي او د تنوین وروسته ((ال)) سره شروع شوی دی یعنې انسان ن الزمناه لوستل جائز ندی او که ولولی نو لحن جلی لازمېږي ، او د صورت ق په دویم رکوع کې دی (۸) (عتید القیا) دلته هم د تنوین نه وروسته حرف (ال) سره شروع کېږي مگر د تنوین په ځای نون نه لوستل کېږي یعنی عتید ن القیا لوستل جائز ندی ، که ولولی نو گنهگارېږي او د سورت طور اول رکوع کې دی (۹) (بایمانٍ الحقنابهم) دلته هم د تنوین نه وروسته صرف (ال) سره شروع کېږي مگر د تنوین په ځای نون نه لوستل کېږي یعنی بایمان ن الحقنابهم نه لوستل کېږي که ولولې نو لحن جلی لازمېږي او گنهگارېږي او دسورت نباء اول رکوع کې دی (۱۰) جناتٍ الفافاً دلته هم تنوین نه وروسته صرف په (ال) سره شروع کېږي خو دتنوین په ځای نون نه لوستل کېږي یعنې جنات ن الفافاً لوستل جائز نه دی که ولولی نو لحن جلی لازمېږي ، او همدا شان د تنوین په نون سره بدلولو لپاره په (ال) باندې منحصر او موقوف کولو کې بلبه خرابی دا ده چې د تنوین په نون سره بدلولو په قرآن او حدیث کې ډېر مثالونه دی : مثلاً :

د (اب) مثال	عزیر ن بن الله	(سورت توبه)
	رهبانیة ن ابتدعوها	(سورت حدید)
	نوح ن ابنه	(سورت هود)
د (ن) مثال	شیئان اتخذها	(سورت حاثبه)
د (اج) مثال	خبیثة ن اجتثتْ	(سورت ابراهیم)
د (اد) مثال	منیب ن ادْ خُلُوْها	(سور ق)
	برحمة ن ادْخُلُوْها	(سورت اعراف)
د (اذ) مثال	طُوىً ن اذْهبْ	(سورت النازعات)
د (ار) مثال	عذاب ن ارکض	(سورت ص)
د (از) مثال	فی زجاجة ن الزجاجه	(سورت نور)

د (اس) مثال	اهل قرية ن استطعها	(سورت كهف)
	بغلام ن اسمهُ	(سورت مريم)
	شيبا ن السماء	(سورت المزمل)
	يومئذ ن السلم	(سورت نحل)
د (اش) مثال	كرماد ن اشتدت	(سورت ابراهيم)
د (اص) مثال	ابوبكر ن الصديق	(حديث شريف)
د (اط مثال	خيرُ ن اطمئن به	(سورت حج)
د (اع) مثال	عليمٌ ن اعلمُوا	(سورت مائدة)
	و قُدُورٍ راسياتٍ ن اعملُوا	(سورت سباء)
د (ا ف) مثال	الا افكُ ن افتراهُ	(سورت الفرقان)
د (اق مثال	مبين ن اقتلوا	(سورت يوسف)
د (ان) مثال	فتنةُ ن انقلب	(سورت حج)
	ثلثة ن انتهوا	(سورت نساء)
	حكيم ن انفروا	(سورت براءة)
	لهو ن انفضُوا	(سورت جمعة)
د (ا هـ) مثال	خيرُ ن اهبطُوا	(سورت بقرة)

وغيره وغيره بې شمېره مثالونه داسې شته چې د تنوين نه وروسته حرف پـه (ال) سـره شروع نه دی بيا هم د تنوين په خای قانوناً نون لوستل کېږي ، لهـذا پـه (ال) بانـدې دار و مدار ساتل غلط دی .

اصل قاعده او قانون دا ده چې د کـوم لفـظ آخـری حـرف تـنـوين (دوه زورونـه ، دوه پېښونه او دوه زيرونه) وی او ددينه وروستی ايت يا جملی اولنی حرف همزه وصلی وی نو ددی وصل او يو خای لوستلو په صورت کی همزه وصلی حذف کـېږي (نـه لوسـتل کېږي) او تنوين په نون بدلېږي يعنی د تنوين يو حرکت لوستل کېږي او دويم حرکـت نون ته راخی چې ديته نون قطنی ويل کېږي ، قرآن مجيد کې پداسې خـای بانـدې (آسانی لپاره وروکی غوندی نون ليکل کېږي ، فقط والله اعلم.

ــ د سحر مانځه کی د قرائت مقدار :

(٣٦ سـوال) امام صاحب د سورت ملک او دسورت يسين حفظ کولو باوجود هم د سحر په مانځه کی (١) والضحی والليـل ، (٢) الـم نشـرح (٣) والتـين والزيتـون او (٤) د

سورت جمعی آخری رکوع لولی چې پدې وجه د ځینو مونځ گذارو نه د سنتو د فوت کېدو ویره وی نو دې لپاره شرعی حکم څه دی؟

(جواب) د سحر په مانځه کی د امام لپاره دومره مختصر قرائت عادت جوړول خلاف سنت او مکروه دی . که کوم خاص عذر نه ؤ نو امام او همداسې منفرد ته د سحر په مانځه کی طوال مفصل یعنی د سورت حجرات نه تر سورت بروج پورې له سورتونو څخه یو یو سورت په یو یو رکعت کی لوستل پکار دی دا مسنون او مستحب دی او یا د کوم بل ځای نه کم تر کمه (۴۰) ایتونه ولولی ، او متوسطه درجه دا ده چې د (۵۰) ایتونو څخه بر (٦۰) پورې ولولی او زیات بهتردا دی چې (۱۰۰) ایتونو پورې ولولی پدې باره کی د امام او دمقتدیانو د همت او د شوق لحاظ ساتل پکار دی ، البته د وخت د کمی یا د کوم بل ضرورت او عذر په بناء قرائت مختصر کړی نو څه پروا نشته او جائز دی ((و ان لم یخف فوت الوقت فالسنة فی حقه ان یقرا فی صلوة الفجر فی الرکعتین با ربعین اية وسطا و الادنی او خمسین او ستین اية وهو الاوسط والاعلی الزيادة علی الستين الی المائة ففی صحيح مسلم من حديث جابر رضی الله انه عليه السلام کان يقرا فی الفجر بقاف و نحو ها و فی الصحيحين عن ابی بريدة کان عليه السلام يقرا فی الفجر ما بين ستين الی المائة (کبيری ص ۳۰۳)(شامی ج ا ص ۵۰۴ فصل فی القراة))

_ که منفرد پسې څوک اقتداء وکړی نو قرائت په زوره وکړی یا په پټه ؟

(۴۷ سوال) د ریل گاډی نیولو لپاره جلتی وه دې لپاره ما د استیشن په جوماتِ کی د جماعت نه مخکی د سحر مونځ شروع کړ سورت فاتحه می لوستلې ؤ پدې وخت کی دوه خلور مونځ گذارو ما پسې اقتداء وکړ او مانځه کی شریک شول نو پدې صورت کی ما لپاره سورت په زوره ویل پکار ؤ یا په پټه او خفیه سره ؟ سورت فاتحه خو می په ورو ویلی ؤ .

(جواب) پدې ذکر شوی صورت کی که ته د امامت نیت وکړی نو سورت به په زوره ویل ضروری وی او که نیت دی نه وی کړی بیا نه دی ، په کبیری کی دی ((شرع منفرداً فی صلوة جهرية فقرا الفاتحة مخافة ثم اقتدی به جماعة يجهر بالسورة ان قصد الامامة و الا فلا اذاً لا يلزمه ما لم يلتزمة (۵۷۴) صفحه ، فقط

ـ دالحمد لله او د سورت تر منځ بسم الله:

(۴۸ سوال) سورت فاتحه ختم کولو سره چې سورت لولی نو بسم الله ولولی یا نه ؟
(جواب) او ورو او په پټه به بسم الله وایي ، په شامي کی دی : ((ان سمی بین الفاتحة والسورة المقرؤة سراً او جهراً کان حسناً عند ابی حنیفة)) یعنی سورت فاتحه او سورت په زوره وایی او که په پټه ددوی تر منځ بسم الله ویل بهتر دی ۴۵۸/۱ آداب الصلوة مطلب قراة البسملة بین الفاتحة والسورة حسن)) فقط والله اعلم.

ـ یو سورت په دوه رکعتو کی لوستل؟

(۴۹ سوال) که په دوه رکعتو کی یو سورت ووایی نو څه حکم لری؟
(جواب) په فرض مانځه کی بغیر د عذر او ضرورت نه په دواړو رکعتو کی یوائی یو سورت لوستل خلاف اولی او مکروه تنزیهی دی او که په هیره سره ولولی نو بیا هیڅ نشته ، البته په نفلو کی بغیر د کراهت نه جائز دی (در مختار ۵۱۰/۱)[1] په ابو داؤد شریف کی یو روایت دی چې رسول الله (ص) د سحر مونځ په دواړو رکعتو کی سورت زلزال ولوست (۱۲۵/۱) علماؤ دا په ضرورت او د جواز په بیان باندې حمل کړی دی ځکه چې د رسول الله (ص) طریقه دا وه چې د سحر په مانځه کی به یې اوږد قرائت لوستلو نو لکه څنګه چې د کوم ضرورت یا بیان د جواز لپاره قرائت مختصر کړی همدا شان یو سورت سره دوباره ویلو مقصد بیان د جواز ؤ ، فقط والله اعلم.

ـ چې د الینا په ځای علینا ووایی :-

(۵۰ سوال) امام د جمعې مونځ دویم رکعت کی سورت غاشیة ولوست نو د ان الینا ایابهم ثم ان علینا حسابهم په خای ان علینا ایابهم ثم ان علینا حسابهم ولوست نو مونځ صحیح دی او که دوباره کول واجب دی؟
(جواب) پدې ذکر شوی صورت کی مونځ کېږي د دوباره کولو ضرورت نشته [2] فقط .
ـ که د سورت اخری حروف د رکوع تکبیر سره ولولی څه حکم لری؟
(۵۱ سوال) که په مانځه کی د سورت کوثر او د سورت اخلاص آخری حروف د رکوع له تکبیر سره یو خای کړی یعنی د سورت کوثر هوالابتر الله اکبر او په سورت اخلاص کی ((کفواً احد الله اکبر)) لوستو سره رکوع وکړی نو په مانځه کی څه نقصان راځی او که نه؟

(جواب) کوم ځای کی چې د سورت آخری حرف د الله تعالی حمد و ثنا وی هلته د تکبیر سره یو ځای کولی شی او کوم ځای کی چې داسی نه وي هلته دی نشی یو ځای کولی ، لهذا ((کفواً احد ن الله اکبر)) ویلو کی څه پروا نشته مگر ((هوالابتر الله اکبر)) ویل ندی پکار په((هوالابتر)) باندې به وقف کوی او بیا به د رکوع تکبیر وایی : ((اذا فرغت من القراة و ترید ان تکبر للرکوع ان کان الختم بالثناء فالوصل بالله اکبر اولی و لو لم یکن بالثناء فالفصل اولی کقوله تعالی ان شانئک هو الابتر . هکذا فی التتار خانیة (عالمگیری ج ا ص ۸۱ الفصل الخامس فی زلة القاری))

ـ په اعوذ بالله او سورت کی وصل چیرته وکړی او فصل چیرته؟

(۵۲ سوال) د قرائت شروع کولو وخت کی چې اعوذ بالله او سورت کی وصل وکړی نو څه حکم یې دی؟

(جواب) پدې شکل قرائت کول جائز دی هیڅ پروا نه لری لیکن کوم ځای کی وصل او کوم ځای کی فصل کول پکار دی ، ددی قاعدې څخه واقف کیدل ضروری دی او که نه غلطی به کوی او گنهگاریږي به.

فایده: کله چې د سورت نه قرائت شروع کوی نو دا څلور صورتونه جائز دی: (۱) فصل کل : یعنی اعوذ بالله لوستلو سره وقف وکړی بیا بسم الله لوستلو سره وقف وکړی او بیا سورت شروع کړی (۲) وصل کل : یعنی اعوذ بالله د بسم الله سره او بسم الله له سورت سره یوځای کړی لکه اعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم کهیعص (۳) فصل او وصل ثانی : یعنی اعوذ بالله ویلو سره وقف وکړی او بیا بسم الله له سورت سره یو ځای کړی ،(۴) وصل او فصل ثانی : یعنی اعوذ بالله له بسم الله سره یو ځای کړی او وقف کړی او بیا سورت شروع کړی (هدیة الوحید وغیره)

ـ په ایاک نستعین کی چې الف حذف کړی څه حکم لری؟

(۵۳ سوال) د و ایاک نستعین په ځای د یاک نستعین یعنی د واؤ نه وروسته الف ظاهر نه کړی نو مونځ صحیح کیږي یا نه؟

(جواب) و یاک بغیر د الف نه لوستلو سره مونځ کیږي مگر پدې شان قرائت کول غلط دی د صحیح لوستلو دی کوشش وکړی شی: ((و یاک نعبد بواو مکان الهمزة الخ (زاد الفقیر (۴۲) صفحه) فقط والله اعلم.

که د پیښ په ځای زور ولولی نوځه حکم یې دی؟

(۵۴ سوال الف) د سورت روم اخری رکوع کی د ضعف لفظ درې ځلی راغلی دی ددی په ضاد باندې چې د پیښ په ځای زور ولولی نو صحیح دی یا غلط ؟

(جواب) پیښ او زور دواړه صحیح دی او زور ویلو سره مونځ کی څه نقصان نه راځي [1] فقط والله اعلم.

(سوال ب) ما د ماسخوتن مونځ کولو چې سورت والليل کی فسنيسره للعسری په]ځای لليسری ولوست نو مونځ یې کیږي یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب ب) پدې ذکر شوی سوال کی که و کذب بالحسنی د فسنيسره لليسری سره وصل کولو سره یوه ساه باندې ولولی نو مونځ فاسدیږي دوباره کول ضروری دی په قاضی خان کی دي : ((و ان كانت مخالفته كما لو قرء وعداً علينا انا كنا غافلين مكان فاعلين (الی قوله) والصحيح هو الفساد لانه اخبر بخلاف ما اخبر الله بـه (ج ا ص ۷۳ فصل فی قراءة القرآن خطا و فی الاحكام المتعلقة بالقراة) و ان تعير المعنى بان قرء ان الابرار لفی حجيم و ان الفجار لفی نعيم (الی قوله) تفسد صلاته لانـه اخبـر بخلاف ما اخبر الله به (ج ا ص ۷۴ ایضاً)) او که چیرته ((و كذب بالحسنی)) باندې وقف وکړی او په نوی ساه باندې فسنيسره لليسری ولولی نو مونځ نه فاسدیږي ، په قاضی خان کی دی : و ان ذكراية مكان اية ان وقف علی الاولى وقفاً تاماً و ابنداء بالثانية لا تفسدو كذا لو قرء ان الذين امنوا و عملو الصحلت وقف ثم قرء اولئک هم شر البرية (لا تفسد) ج ا ص ۷۴ ایضاً) والله تعالی اعلم.

ــ په هر رکعت کی الحمد لله نه مخکی بسم الله :

(۵۵ سوال) د یو سړی وینا ده چې اول رکعت کی سورت فاتحی نه مخکی بسم الله ووایه په دویم ، دریم او څلورم رکعت کی مه وایه او څوک چې وایی غلطی کوی ، ایا دا خبره صحیح ده؟

(جواب) دا خبره صحیح نده بلکی په رکعت کی الحمد لله نه مخکی په پټه بسم الله ویل پکار دی ((مسمی سراً فی اول کل رکعة)) یعنی د هر رکعت په اول کی په پټه بسم

---

[1] الضعف والضُعف خلاف القوة و قيل الضُعف بالضم فی الجسد و الضعف بالفتح فی الرای و انعقل و قيل هما جائزان فی كل وجه (لعان العرب باب الضاد ۶۲/۸)

الله ووایی ، (درمختار مع الشامی ۱/۴۵۷ فصل و اذا اراد الشروع فی الصلوة) فقط والله اعلم.

په صلوة کسوف کی قرائت خفیه پکار ده او که په زوره ؟

(۵٦ سوال) د لمر د تندر نیولو چې کوم دوه رکعته جماعت سره کولی شي قرائت پکی په زوره وویل شی اوکه په پټه ؟

(جواب) قرائت به په پټه ویل کیږي ، په فتاوی سراجیه کی دی ((و یخافت فیها بالقراة)) (۲۱ صفحه) فقط والله اعلم.

ـ په مانځه کی سورتونه د ترتیب په خلاف لوستل:

(۵۷ سوال) امام په اول رکعت کی د کافرون سورت ولوست او په دویم رکعت کی سورت کوثر یا سورت صیف نو پدې شکل د قرآن د ترتیب نه خلاف لوستلو سره مونځ صحیح کیږي یا نه ؟

(جواب) د سورتونوترتیب د تلاوت له واجباتو څخه دی د مانځه د واجباتو څخه نه دی ، لهذا پدې شان لوستلو سره سجده سهوه نشته ، البته قصداً داسی لوستل مکروه دی او که په هیره ولولی نو مکروه هم ندی (درمختار شامی ۱/۵۱۰)[1]

ـ په قرائت کی د یو سورت فاصله :

(۵۸ سوال) په اول رکعت سورت کوثر او دویم رکعت کی سورت نصر لوستلو سره مونځ مکروه کیږي یا نه ؟ ځکه چې په منځ کی یو وړوکی سورت پاتی شوی ، اوس به سجده سهوه سره کراهت ختمیږي یا نه؟

(جواب) قصداً داسی لوستل منع دی البته نفلو کی ګنجائش لری خو لیکن پدې شکل لوستلو سره سجده سهوه نه لازمیږي (درمختار شامی) [2] فقط والله اعلم.

---

[1] ـ و ان یقرءمنکوساً بان یقرا فی الثانیة سورة اعلی مما قراء فی الاولی لان ترتیب السور من واجبات التلاوة (فصل فی القراة)

[2] ـ و یکره الفصل بسورة قصیرة اما بسورة طویلة بحیث یلزم منه اطالة الرکعة الثانیة اطالة کثیرة فلا یکره ص ۵۱۰ ایضاً

بغیر د ضرورت نه امام ته فتح ورکول :

(٦٠ سوال) امام اول رکعت کی دو سیق الذین کفروا لوستلو چې په هیره سره یې قیل ادخلوا ابواب جهنم پریښود او و سیق الذین اتقوا شروع کړ او وروسته په صف کـی ولاړ زید د قیل ادخلوا فتح ورکړ ، د مانځه نه وروسته امام صاحب وویل چې د فتح ورکولو ضرورت نه ؤ او زید وایی چې د فتح ورکول ضروری دی ځکه چې مضمون پوره کـول پکار دی او بیا بل مضمون شروع کول پکار دی او په دلیل کی ((و رتل القرآن ترتیلا)) وړاندې کوی ایا دا صحیح دی ؟ او د مضمون په پوره کیدو کله چې تراویحو کی د قرآن شریف ختم دی فتح ورکول ضروری دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی (قاسم عفی عنه له افریقی نه)

(جواب) ذکر شوی مسئله کی کله چې امام ورپسې ایت لوستل شروع کړی ؤ نـو بیا د فتح ورکولو ضرورت نه ؤ ، فقهاء کرامو پدې صورت کی د مونځ فاسدیدو حکـم کـړی دی پدې چې دا بغیر د ضرورت نه فتح ورکول دی ((و لو کان الامام انتقل الی آیة اخری تفسد صلوة الفاتح و تفسد صلوة الامام لو اخذ لقوله لوجود التلقین والتلقین من غیره ضرورة)) یعنی که چیرته امام دویم ایت شروع کړی ؤ او بیا مقتدی فتح ورکړی (یعنی پاتی شوی ایت ور زده کړی) نو دفتح ورکونکی مقتدی مونځ فاسدیږي او که امام واخلي نو دده مونځ هم فاسدیږي (اوکله چې د امام مونځ فاسد شـو نـو د ټولو مونځ فاسد شو) ځکه چې د مقتدی فتح ورکول او دامام فتح اخستل بغیر د ضرورت نه ؤ (هدایه باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها)

لیکن صحیح دا دی چې مونځ نه فاسدیږي ، البته بغیر د ضرورت نه فتح ورکول مکروه دی ((بخلاف فتحه علی امامه فانه لا یفسد مطلقاً لفاتح و آخذ بکل حال الخ (درمختار)(قوله بکل حال) ای سواء قراء الامام قدر ما تجوز بـه الصلوة ام لا انتقل الی آیة اخری ام لا تکرر الفتح ام لا هو الاصح نهر))

یعنی د مقتدی خپل امام ته فتح ورکولو سره مونځ نه فاسدیږي ، نـه د فـتح ورکـونکی مونځ فاسدیږي او نه د فتح اخستونکی دامام مونځ که دومره قدری قرائت لوستلی وی چې مونځ ورباندې صحیح کیږي او یا لدېنه کم وی ، دویم ایت یې شروع کـړی وی او که نه وی او یا یې مکرر فتح ورکړی وی ، په هر صـورت مـونځ نـه فاسدیږي (شامی ۱ ۵۸۲ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها) د فقه په کتابو کی ددې تصریح هم شته چې مقتدی به تلوار نه کوی یعنی (هیریدو سره) فوراً فتح به نه ورکوی ځکـه چـې د فـتح

ورکولو ظاهري صورت د تعلیم و تعلم دی کوم چی بلا ضرورت د کراهت نه خالی ندی ، امام ته هم هدایت شوی چې مقتدیان به فتح ورکولو باندې نه مجبوروی چې یو یو ایت یا جمله بیا بیا تکراروی یا غلی ودرېږي (پدې صورت کی مقتدي خامخا فتح ورکوی) بلکی که چیرته د واجب مقدار (او په یو روایت کی د مستحب مقدار) قرائت کړی وی نو بیا به رکوع کوی او یا دی ورپسې ایت شروع کړی .

((و ینبغی للمقتدی ان لا یعجل بالفتح و للامام ان لا یلجئهم الیه بل یرکع اذا جاء او انه او ینتقل الی اية اخری (هدایه باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها ص ۱۱٦ ج ۱) او په شامی کی دی : (تتمه) ((و یکره ان یفتح من ساعته کما یکره للامام ان یلجئه الیه بل ینتقل الی آیة اخری لا یلزم من وصلها ما یفسد الصلوة او الی سورة اخر او یرکع اذا قرا قدر الفرض کما جزم به الزیلعی غیره و فی روایة قدر المستحب کما رجحه الکمال بانه الظاهر من الدلیل و اقره فی البحر و النهر و نازعه فی شرح المنیة و رجع القدر الواجب لشدة تاکده) ج ۱ ص ۵۸۲ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها))

حاصل دا چې ذکر شوی صورت کی د فتح ورکولو ضرورت نه ؤ بلا حاجته فتح ورکړی شوی ، د ایت پاتی کیدو سره مانځه کی څه فرق نه راځی د (و رتل القرآن ترتیلا) ایت باندې د فتح ورکولو په ضرورت باندې استدلال کول صحیح نه دی ، فقط والله اعلم.

ـ مانځه کی د سورت بقرۀ آخر او قل هو الله لوستل :

(٦۱ سوال) زمونږ امام صاحب کله کله د ماښام مانځه اول رکعت کی د سورت بقرة اخری دوه ایتونه او په دویم رکعت کی د سورت اخلاص یا الکافرون یا سورت نصر وغیره لولی ، دا خو څه پروا نه کوی او مونځ مکروه کېږي یا نه ؟

(جواب) پدې مسئله کی بغیر د کراهت نه مونځ صحیح دی : ((لو قراء (آمن الرسول) فی رکعة و قل هو الله احد فی رکعة لا یکره)) (فتاوی عالمگیری (۷۸) صفحه الفصل الرابع فی القراة) فقط.

ـ مانځه کی و انحر په ځای انهر لوستل:

(٦۲ سوال) که څوک و (انحر په ځای وانهر) ولولی نو مونځ فاسدېږي ؟ او وجه یې څه ده ؟ وضاحت وکړی.

(جواب) په فتاوی قاضی خان کی دی ((فصل لربک وانحر قرا و انهر تفسد صلوة)) (۷۱/۱) فصل فی قراة القرآن خطاء و فی الاحکام المتعلقة بالقراة) ځکه چې په معنی

کی بکارد تبدیلی راځی ((لو قرا د فصل لربک و انهر مکان الحاء تفسد صلوته و ذلک لبعد المعنی علی ما هو رای المتقدمین)) (کبیری (۲۵۲) صفحه فصل فی بیان احکام زلة القاری) لدې عبارت نه معلوم شو چې د متقدمینو په نزد مونځ فاسدېږي او دوباره یې ضروری دی البته د متاخرینو علماو په نزد د عموم بلوی په وجه مونځ نه فاسدېږي . فقط والله اعلم.

که امام قرائت شروع کړی وی نو مقتدی به ثناء نه وایی :

(۶۳ سوال) زه د ماسخوتن لمونځ کی هغه وخت شامل شوم چې امام صاحب قرائت شروع کړی ؤ اوس زهٔ ثناء کله ووایم ؟ په رکوع کی یا سجده کی یا اوس؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) چی امام قرائت شروع کړی نو بیا به مقتدی ثناء نه وایی .[1] فقط والله اعلم.

ـ د وقف صحیح کیدو یو شرط تابید هم دی

(۶۴ سوال) حامدا و مصلیاً : د دین عالمان او مفتیان صاحبان پدې مسئله کی څه فرمایی ؟ چې حاجی عبدالمجید خپله ځمکه د یو لیکلی سند په ذریعه (چی نقل یې لاندې درج دی) په (۱۴) اګست ۱۹۳۶ ء باندې یو مدرسی ته ورکړی ، او پدې وخت کی په ذکر شوی ځمکی باندې د حاجی عبد المجید قبضه ده نو اوس دا تحریری سند وقف نامه ګڼل کېږي یا نه ؟ که دا تحریری سند وقف نامه نه وی نو د ځمکی څه حیثیت دی ؟ (عبدالحمید شاه ګنج جون پور) د ذکر شوی لیکل شوی سند نقل :

ترجمه :

شیخ المجید ولد حاجی حافظ شیخ محمد مرحوم د جون پور ضلع ، شاه ګنج ډاکخانه د شاه ګنج پرګنه او نګلی کلی اوسیدونکی

خرنګه چې هتهر د شاه ګنج پرګنه او نګلی کوړیا کې واقع د یوی تهوتی ځمکی مستقل مالک دی چې پدې باندې هتهر په نفاذ جمیع حقوق مالکانه قابض او تصرف لری او د هتهر نه علاوه بل څوک پدې ذکر شوی جائداد کی شریک او حصه دار ندی او هتهر په هر طور سره ددی د فصل کرلو حق لری ، په شاه ګنج کلی کی یوه مدرسه وه د بدر الاسلام په نوم چې دینی تعلیم وغیره لپاره قائم او جاری او دی لپاره د تعمیر او درسګاه

---

[1] انه اذا ادرک الامام فی القراة فی الرکعة التی یجهر فیها لا یاتی بالثنآء کذا فی الخلاصة فتاوی عالمگیری ج ا ص ۹۰ الفصل السادس فیما یتابع الامام و فیما لا یتابعه

سخت ضرورت دی ، لهذا د هتهر د زړه خواهش دی چې آخرت و د ثواب په بناء لاندې ذکر شوی جانداد د مدرسې د اغراضو لپاره ورکړی . لهذا هتهر د صحت په حالت کی د عقل او حواسو په سلامتیا سره بغیر د جبر او اکراه پخپل رضا او رغبت سره د بل چا د تحریک او ترغیب نه پرته ددی لیک په ذریعه د لاندینی شرطونو سره د تملیک نامې پابند دی او په لاندی ډول اقرار کوی :-

الف : هتهر لاندې بیان شوی احاطه خمکه (۱۰۰) روپی مالیت د ذکر شوی اسلامی مدرسه بدر الاسلام ته دوام لپاره ورکړی دی ، د مدرسې منتظمین او کارکنانو ته اختیار دی چې په مذکوره احاطه کی درسگاه جوړوي او که دارالاقامه تیاروی او یا په مناسبه طریقه مدرسې لپاره استعمالوی .

(ب) د مدرسې تر بقاءِ پورې به لاندې مذکوره ملکیت به د مدرسې وی ، که چیرته الله مه کړه مدرسه پاتی نه شوه نو بیا به مذکوره جائداد هتهر ته واپس کیږي که هتهر ژوندی وی او که نه د هتهر ورثه به د قبضی کولو حقدار وي .

(ج) او دمدرسې تر قائم پاتی کیدو پورې به نه هتهر او نه دده ورثه د مذکوره خمکې د واپسی کولو حق لری.

(د) لهذا هتهر دغه تملیک نامه ولیکه چې سند پاتې وی او د ضرورت په وخت کی پکار شی (مورخه ۱۴ اګست ۱۹۳٦)

(جواب) دا وقف ندی صحیح شوی ځکه چې د وقف یو شرط تابید او بقاء هم دی یعنی ددی آخری جهت قربت داسې وی چې منقطع نشی او مسلمان ورنه همیشه لپاره برخمن وګرځی او ددی بر خلاف په وقف نامه کی تصریح دی چې که مدرسه پاتی نشي نو موقوفه جایداد به واقف یا دده ورثه وته واپس کیږي لهذا انقطاع لازم شو او واقف مکمل نشو : ((و لایتم الوقف عند ابی حنیفة و محمد حتی یجعل آخره بجهة لا تنقطع ابداً)) (هدایه ، ٦۱۹) صفحه کتاب الوقف) او په امداد الفتاوی کی دی ((لیکن شرط صحت وقف آنست که آخر جهت قربت غیر منقطعه نباشد (۲۳۵/۲) نو پدې وجه سره ذکر شوی خمکه تر ننه پورې (۳٦ کاله کیږي) چې د مالک په تصرف کی ده فقط والله اعلم.

ـ د فرض قرائت ادنی مقدار څومره دی ؟

(٦۵ سوال) په مانځه کی د فرض قرائت مقدار کم نه کمه مقدار څومره دی چې د هغه په لوستلو سره د قرائت فرض ساقطیږی ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) په مجالس الابرار کی دی ((کم نه کم قرائت چې فرض ترینه ساقط شي د امام ابو حنیفه (رح) په نزد یو ایت دی اګر که د سورت فاتحي یو ایت وی لکه الحمد لله رب العلمین، یا وړوکی دوه کلمونه مرکب وی لکه د الله تعالی دا قول چې (ثم نظر) یا د څو کلمو نه مرکب وی لکه (فقتل کیف قدر) لیکن پدې باندې اکتفاء کونکی د واجب د پرېښودو په وجه ګنهګارېږي، ځکه چې خاص د سورت فاتحی لوستل واجب دی او دې سره د کوم سورت یو ځای کول یا درې ایتونه لوستل هم واجب دی. که چیرته قصداً مکمل سورت فاتحه ونه لولی نو د فرض قرائت ادا کیدو په وجه سره د مونځ فرضیت ذمی څخه ادا او ساقطیږی مګر د واجب د پاتی کیدو په وجه د مونځ دوباره کول واجب دی، همدا شان که سورت یو ځای نه کړی نو ترک د واجب لازم شو لهذا د مونځ دوباره کول واجب شو او که په هیره سره دا واجب پاتې شی نو د سجده سهوی کولو سره مونځ صحیح کېږي، که چیرته ایت صرف یوه کلمه وی لکه مدهامتن یا صرف یو حرف وی لکه ص، ق او نون، نو پدې کی اختلاف دی چې فرض ساقط او ادا شو یا نه؟ اصح دا دی چې امام ابو حنیفه په نزد فرض نه ادا کېږي، او که چیرته څوک لوی او اوږد ایت لکه ایت الکرسی یا ایت وحدانیت نیم یو رکعت او نیم بل رکعت کی ولولی نو پدې کی اختلاف دی د ځینو په نزد جائز ندی، ځکه چې پوره ایت ندې لوستل شوی مګر عام فقهاء کرام ورته جائز وایی ځکه چې د ایت الکرسی او ایت وحدانیت نیمایی له وړوکی درې ایتونو څخه زیات یا برابر دی او د صاحبینو په نزد کم نه کم قرائت چې فرض ورباندې ادا کېږي، درې واړه ایتونه دی یا یو اوږد ایت دی چې درې واړه ایتونو سره برابر وی نو بیا فرض ادا کېږي پدې وجه چې قرآن پاک معجز دی او کم نه کم چې اعجاز پرې واقع کېږي یو سورت دی لکه چې د الله تعالی ارشاد ((ددې پشان یو سورت راوړی)) او په سورتونو کی وړوکی سورت، سورت کوثر دی او دا درې ایتونه دی :-

((و ادنی ما یجزی منها عند ابی حنیفة آیة ان کانت من الفاتحة او کانت قصیرةً مرکبةً من کلمتین کقوله تعالی ثم نظر و من کلمات کقوله تعالی فقتل کیف قدر، والمکتفی بها مسیئ لا قراءة الفاتحة و ضم سورة او ثلث ایات الیها واجب و فی الا کتفاء بها ترک الواجب و اما لو کانت کلمةً واحدةً کمدهامتن او حرفاً واحداً ک ص و ق و ن فقدا ختلف فیه و الاصح انه لا یجوز عنده و لو قرا نصف اية طویلة کآیة الکرسی و اية المداینة فی رکعة و نصفها فی رکعة اخری اختلفا فیه قال بعضهم لا تجوز لانه لم یقراء

اية تامة فی کل رکعة و قال عامتهم تجوز لان بعض هذه الايات يزيد علی ثلث ايات قصار او تعد لها فلا تکون ادنی من اية ، و عندهما ادنی ما يجزی منها ثلث ايات قصار او ايت طويلة تقوم مقامها لان القرآن معجز و ادنیما يقع الا عجاز سورة لقول تعالی فاتو بسورة من مثله و اقل السورة سورة کوثر و هی ثلث ايات (مجالس الابرار ص ۳۰۸ . ۳۰۹ مجلس نمبر ۵۲) فقط والله اعلم بالصواب.

_ فاذا هم بالساهرة په ځای چې بالساحره ولولی :

(٦٦ سوال) پدې لاندني مسئله کی علماء کرام او مفتيان صاحبان څه فرمايي چې امام صاحب په سورت نازعات کی فاذا هم بالساهرة ، های هوز قصداً حاء حطی ولولی يعنی امام صاحب ته ياد حاء حطی وی نو مونځ کيږي يا نه ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جوا) د بالساهرة په ځای چې بالساحره ولولی پدې سره معنی کی تغير فاحش راځی او د بالساحرة لفظ په قرآن کی چيرته موجود هم ندی ، او قصداً ويل شوی او لوستونکی اهل علم هم دی ، لهذا مونځ نه کيږي دوباره کول يې ضروری دی

((و فی الخانية والخلاصة الاصل فيها اذا ذکر حرفاً مکان حرف وغيره المعنی ان امکن الفصل بينهما بلا مشقة تفسدو الا يمکن لا بمشقة کا لظاء مع الضاد المعجمتين والصاد مع السين المهملتين والطاء مع التاء قال اکثر هم لا تفسد و فی خزانة الاکمل قال قاضی ابو عاصم ان تعمد ذالک تفسد و ان جری علی لسانه او لا يعرف التمييز لا تفسد هو المختار حلية و فی البزازية و هو اعدل الا قاويل و هو المختار (شامی ج ا ص ۵۹۲ باب ما يفسد الصلوة يکره فيما))

مزيد تفصيل لپاره د مفتی عزيز الرحمان صاحب دوه فتوی وګوری :-

_ (۱) قاف چې کاف سره بدل کړی نو مونځ فاسد کيږی؟

(٦٧ سوال) امام صاحب په سورت الطارق کی ((لقول فصل)) کی د ق په ځای (ک) ولوست ، او دا سړی صحيح لوستلو باندې قدرت هم لری نو مونځ فاسدېږي او دوباره کول يې واجب دی يا نه ؟

(جواب) پداسې صورت کی ددی مونځ دوباره کول ضروری دی ځکه چې د قدرت باوجود داسې غلطی سره مونځ نه کيږي ، فقط (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل ۷٦/۴)

(۲) که دهاقاً په ځای دحاقاً ولولی څه حکم لری ؟

(٦٨ سوال) که يو څوک مانځه د خپل غلط خيال باندې اعتماد کولو سره دهاقاً په ځاى دحاقا ولولى نو مونځ کېږي او که دوباره کول يې واجب دى ؟
(جواب) دهاقاً په ځاى دحاقا لوستل په ظاهر کى د قواعدو مطابق مفسد مونځ دى څکه چې معنى بدلېږي لهذا مونځ نه کېږي . فقط (فتاوى دار العلوم مدلل و مکمل ۴ ۷۹)

_ غلط لوستلو نه وروسته چې صحيح کړى څه حکم لرى ؟

(٦٩ سوال) که چيرته مانځه درې ايتونو لوستلو نه وروسته فحشى غلطى وکړى او بيا يې صحيح کړى نو مونځ صحيح شو يا نه ؟ وضاحت وکړى مهربانى
(جواب) که په قرائت کى داسې غلطى وکړى چې مونځ ورسره فاسدېږي ليکن بيا يې صحيح کړى نو مونځ صحيح کېږي او که د غلطى اصلاح ونه کړى نو بيا مونځ نه کېږي دوباره کول يې ضرورى دى : ((ذکر فى الفوائد قرء فى الصلوة بخطاء فاحش ثم رجع و قرء صحيحاً قال عندى صلاته ، جائزة و کذلک الاعراب ، فتاوى ج ا ص ۸۲ الفصل الخامس فى زلة القارى ، فقط والله اعلم بالصواب .))

_ که په قرائت کى څو ايتونه پاتى شى څه حکم لرى ؟

(۷۰ سوال) دلته امام صاحب د سهار مانځه کى سورت منافقون شروع کړ او په منځ کى (و اذا رايتهم تعجبة الاية) پرېښود او لدېنه وروسته (لن يغفر الله) ايت پرېښود نو مونځ وشو يا نه وضاحت وکړى مهربانى
(جواب) پدې صورت کى مونځ وشو او سجده نه واجبېږي [1] فقط

(په سورت غاشيه کى ((الا من تولى و کفر)) باندې وقف وکړى يا وصل ؟

(۷۱ سوال) خمونږه امام صاحب په سورت غاشيه کى ((الا من تولى و کفر)) باندې وقف نه کوى هميشه وصل کولو سره لولى ، او وايي چې وصل نه کولو سره مونځ فاسدېږي ، ايا دا خبره صحيح ده ؟ وضاحت وکړى مهربانى
(جواب) وقف وکړى او يا وصل کولو سره ولولى دواړه صحيح دى ، د وصل نه کولو په صورت کى د مانځه د فاسديدو فتوى صحيح نه ده [2] فقط .

---

[1] و ذکر اية مکان آية ان وقف وقفا تا ما ثم ابتداء باية اخرى او ببعض آية لاتفسد کما لو قرا و العصر ان الانسان ثم قال ان الابرار لفى نعيم الخ فتاوى عالمگيرى ص ۸۰ زلة القارى

ـ که د تعلمون په ځای تعلمون ولولی څه حکم لری ؟

(۷۳ سوال) زمونږه امام صاحب د جمعې په مانځه کی د سورت جمعی ((تعلمون)) په ځای ((تعلمون)) ولوست نو مونځ صحیح دی یا دوباره کول ضروری دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) مونځ کېږي د دوباره کولو ضرورت نشته . فقط والله اعلم.

ـ په قرائت فحش غلطی سره مونځ فاسدېږي:

(۷۴ سوال) که سورت یوسف کی ((ان کانه قمیصه قد من قبل فصدقت و هو من الکذبین)) کی د (قبل) په ځای (دبر) ولولی یا د فصدقت په ځای (فکذبت) او د الصادقین په ځای الکاذبین ولولی نو مونځ صحیح کېږي یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) دا قسم غلطی سره مونځ فاسدېږي : ((و الصحیح هو الفساد لانه اخبر بخلاف ما اخبر الله تعالی)) (قاضی خان ۷۳/۱) فقط والله اعلم.

(د الحمد لله نه وروسته سورت یو ځای کول واجب دی ، ددی واجب قرائت ادنی مقدار څومره دی ؟

(۷۵ سوال) د سورت فاتحی نه وروسته د یو اوږد ایت تلاوت سره واجب ادا کېږي یا نه ؟ که چیرته هغه اوږد ایت وی او نیمایی ولولی نو مونځ صحیح کېږي ؟ چې وجوب پرې ادا شي ددی کم نه کم مقدار څومره دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) د الحمد لله نه وروسته یو وړوکی سورت لکه سورت کوثر یا ددی قائمقام درې واړه ایتونه لکه (ثم نظر . ثم عبس . و بسره . ثم ادبر واستکبر) یا یو اوږد ایت یا داسې دوه آیتونه لوستل چې درې وړوکی ایتونو سره برابر وی ، واجب دی ، که د اوږد ایت یو جزء چې درې وړوکی ایتونو سره برابر وی ولولی بیا هم وجوب ادا کېږي : ((والثانی ضم سورة قصیرة او ثلاث ایات قصاء (مراقی الفلا) قدر اقصر سورة او اية طویلة تعدل ثلاث ایات قصارٍ (طحطاوی علی مراقی الفلاح (۱۴۴) صفحه) درمختار کی دی : ((و ضم اقصره سورة کالکوثر او ما قام مقامها و هم ثلاث ایات قصار نحو ثم نظر . ثم عبس و بسر ثم ادبر و استکبر و کذالو کانت الآیة او الآیتان تعدل ثلاثاً قصاراً

---

* قوله او نقص کلمة کذا فی بعض النسخ و لم یمثل له الشارح قال فی شرح المنیة و ان ترک کلمة من آیة فان لم یغیر المعنی مثل و جزآء سیئة مثلها بترک السیئة الثایة لا تفسد و ان غیرت مثل فما لهم یؤمنون بترک لا فاته یفسد الخ

ذکره الحلبی (قوله تعدل ثلاثاً قصاراً) ای مثل ثم نظر الخ و هم ثلاثون حرفاً فلو قرا آیةً طویلةً قدر ثلاثین حرفاً یکون قداتی بقدر ثلاث آیات الخ (شامی ج ۱ ص ۴۲۷ صفة الصلوة))

ا بل ځای کی دی : ((و لو قراء ایة طویلةً فی الرکعتین فالاصح الصحة اتفاقاً لا نه یزید علی ثلاث ایات قصار قاله الحلبی (درمختار) و فی الشامی و فی التتار خانیة والمعراج و غیرهما قرا ایة طویلةً کایة الکرسی او المداینة البعض فی رکعة و البعض فی رکعة ... اختلفوا فیه علی قول ابی حنیفة رحمه الله قیل لا یجوز لانه ما قرا ایةً تامةً فی کل رکعةُ عامتهم علی انه یجوز لان بعض هذا الآیات یزید علی ثلاث قصار او یعدلها فلا تکون قرائته اقل من ثلاث آیات اه لکن التعدیل الاخیر ربما یفید اعتبار العدد فی الکلمات او الحروف و یفیده قولهم لو قراء آیةً تعدل اقصر سورة جاز و فی بعض العبارات تعدل ثلاثاً قصاراً ای کقوله ثم نظر ثم عبس و بسر ثم ادبرو استکبر و قدر ها من حیث الکلمات عشر و من حیث الحروف ثلاثون فلو قرا الله لا اله الا هو الحی القیوم لا تاخده سنة ولا نوم یبلغ مقدار هذا الایات الثلاث فعلی ما قلنا لو اقتصر علی هذا المقدار فی کل رکعة کفی عن الواجب و لم ارمن تعرض لشئ من ذلک فلیتامل (درمختار و الشامی ج ۱ ص ۵۰۲ فصل فی القراة))فقط

ـ که د امام په قرائت کې کوم یو حرف وا نه وریدل شی نو مانځه کی څه نقصان راځی ؟

(۷٦ سوال) امام صاحب فلق او ناس لولی نو دقل اعوذ (ذال) مقتدیان نشي اوریدلی ، پدي باندې امام خبردار کړی شوی نو هغه وایی چې زهٔ صحیح وایم نو پدې سره مونځ کی څه نقصان پیدا کیږي یا نه؟

(جواب) که امامصاحب (ذال) ادا کوی مګر مقتدیان یې نه آوری نو پدې سره په مونځ کی هیڅ قسم نقصان نه راځی ، البته حذف کېدو کی لحن جلی لازمېږي پدې بناء بنه په اظهار کولو سره د لوستلو کوشش لازم دی ، فقط والله اعلم ۱۹ شوال ۱۴۰۱ هـ)

ـ فرض مانځه کی په یوه ساه د الحمد لله لوستلو عادت جوړول :

(۷۷ سوال) له ډېری اوږدی مودی نه زه امام یم او زما عادت دا دی چې زه فرض مانځه کی مکمل سرت فاتحه په یوه ساه باندې لولم پدې باندې ځینی حضرات

اعتراض کوی او دا ښه نه ګڼي ، ایا زما دا عادت قابل اعتراض او واجب الترک دی ؟ وضاحت وکړی

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : فرض لمونځ کی د امام یوه ساه سره الحمد لله لوستل څه کمال او خوبی نه دی او دا عادت جوړول هم ښه ندی او د کراهت تنزیهی نه خالی نه دی لهذا کوم حضرات چې اعتراض کوی او ښه یې نه ګڼي د هغو اعتراض په ځای دی ، قرآن پاک باید دده په معنو کی ښه غور او فکر او په آرام آرام ولوستل شي او ددی تائید لدې حدیث نه کیږي : ((کله چې بنده په مانځه کی الحمد لله رب العالمین وایی نو د الله تعالی طرفه ارشاد کیږي ((حمدنی عبدی)) (زما بنده زما تعریف وکړ) بیا چی (الرحمن الرحیم) ووایی نو د الله پاک له طرفه ویل کیږي ((اثنی علی عبدی)) (زما بنده زما ثناء وکړه) او چې کله (مالک یوم الدین) ووایی نو باری تعالی له خوا نه ارشاد کیږي (مجدنی عبدی) (زما بنده زما لویی بیان کړه) او چې کله (ایاک نعبد و ایاک نستعین) ووایی نو حق تعالی فرمایی (هذا بینی و بین عبدی و لعبدی ما سال) (دا زما او زما د بنده تر منځ دی او زما بنده لپاره هغه څه ملاوېږي چې سوال یې وکړی) او چې کله (اهدنا الصراط المستقیم) ووایی نو فرمایی دا زما د بنده خاص حاجتونه دی او زما خپل بنده چې څه غواړی ورکوم، په مشکوة شریف کی حدیث وګوری : ((عن ابی هریرة (رض) .... انی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول قال الله قسمت الصلوة بینی و بین عبدی نصفین و لعبدی ما سئال فاذا قال الحمد لله رب العالمین قال الله تعالی حمدنی عبدی و اذا قال الرحمان الرحیم قال الله تعالی اثنی علی عبدی و اذا قال مالک یوم الدین قال مجدنی عبدی و اذا قال ایاک نعبدو و ایاک نستعین قال هذا بینی و بین عبدی و لعبدی ما سال فاذا قال اهدنا الصراط المستقیم صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیه و لا الضالین قال هذا لعبدی و لعبدی ما سئال رواه مسلم (مشکوة شریف ص ۷۹ ، ص ۷۹ باب القراة فی الصلوة))

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمایی :

((یوه استفتاء راغله چې یو صاحب امام دی او هغه په ایاک نستعین باندی وقف نه کوی بلکی ددی نون د اهدنا له هاء سره یو ځای کوی او (نهدنا الصراط المستقیم) وایی ، خبره تر دی ځای ورسیده چی فوج داری وشو ، (ما ورته ولیکل چې پدې شان لوستل جائز خو دی‌مګر هغه وخت چی ټول پوهه خلک وی او که نه داسې امام

معزول کړی کوم چې په ضد کولو سره فتنه جوړوی او موقع او محل نه پیژنی دا د کم حوصله خلکو کار وی چې خپل علمی لیاقت ښودلو لپاره نوی نوی کارونه کوی ، ددی خای نه یو طالب علم درس ویلو سره لوهاری ته لاړ هغه به هم احدن الله الصمد ویلو نو خلکو وشړلو ، (کلمة الحق (١٦٨) صفحه اتم قسط))

حاصل دا چې فرض مانځه په یوه ساه باندې الحمد لله ویلو عادت قابل ترک ده ، فقط والله اعلم بالصواب ١١ جمادی الثانی ١۴١٠ هـ

ـ په مانځه کی د قرائت مسنون مقدار :

(٧٨ سوال)امام ته فرض مانځه کی څومره مقدار قرائت ویل پکار دی ؟ ددی مسنونه طریقه څه ده ؟ زمونږ امام صاحب په هر مانځه (ماښام وی یا ماسخوتن یا سحر) بالکل مختصر قرائت او زر زر وایی مثلا سورت نصر ، سورت تکاثر ، فیل ، کوثر او والناس رکوع او سجده همدېر په منډه کوی او که څوک ورته څه ووایی نو په جواب کی فرمایی : په حدیث کی راځی چې مختصر مونځ کوئ ، تاسو پدې مسئله باندې دلائلو سره تفصیلی رڼا واچوئ او دا هم واضح کړی چې طوال مفصل ، اوساط مفصل او د قصار مفصل ثبوت کوم حدیث نه شته که وی هغه هم ولیکئ ، مهربانی

(جواب) بیشکه حدیث کی دی چې کله په تاسو کی څوک امامت کوی نو مختصر او آسان مونځ دی وکړی ځکه چې جماعت کی بیمار ، ضعیف او بوډاګان هم وی :

((عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا صلی احدکم للناس فلیخفف فان فیهم السقیم والضعیف والکبیر و اذا صلی احدکم لنفسه فلیطول ماشاء متفق علیه (مشکوة شریف ص ١٠١ باب الامامة))

او یو بل روایت کی دی ((فایاکم ما صلی بالناس فلیتجوز فان فیهم الضعیف والکبیر و ذالحاجة (متفق علیه)) یعنی کله چې تاسو کی څوک خلکو ته امامت کوی نو مختصر مونځ دی وکړی چې په مونځ ګذارو کی ضعیف او بوډاګان او ضرورت مند خلک هم وی (مشکوة (١٠١ صفحه))

لیکن ددی حدیث دا مطلب نه دی چې د قرائت کوم مسنونه طریقه او مقدار دی په عامو حالاتو کی (یعنی چې د امن حالت وی کوم هنګامی صورت نه وی) د هغه مسنون مقدار څخه دی هم کم کړی شی یا د رکوع او سجدی چې کومه مسنونه طرقه ده او تعدیل ارکان کوم چې حدیثو کی ډېر تاکید راغلی دا دی پرېښودلی شی ، په حدیث کی دی :

((عن جابر (رض) قال كان معاذ بن جبل يصلي مع النبي صلى الله عليه وسلم ياتي فيؤم قومه فصلى ليلة مع النبي صلى الله عليه وسم العشاء ثم اتى قومه فامهم فافتتح بسورة البقرة فانحرف رجل فسلم ثم صلى وحده و انصرف فقالوا له انا فقت يا فلان قال لا والله لا تين رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال يا رسول الله انا اصحاب نواضح تعمل بالنهار و ان معاذ صلى معك العشاء ثم اتى قومه فافتتح بسورة البقرة فاقبل رسول الله صلى الله عليه وسلم على معاذ فقال يا معاذ افتان انت اقرا والشمس وضحها والليل اذا يغشى و سبح اسم ربك الاعلى متفق عليه (مشكوة شريف ص۷۹ باب القراة في الصلوة)).

د حدیث خلاصه دا ده چې حضرت معاذ (رض) یو ځل د ماسخوتن مانځه کې امامت وکړ او سورت بقرة يې شروع کړ نو يو سړی د جماعت نه جدا شو او ځانته يې مونځ وکړ نو صحابهٔ کرامو ورته وويل ته منافق شوی خو نه يې ؟ هغه وويل په الله قسم چې زه منافق شوی نه يم اوزه به رسول الله (ص) دا خبره ضرور کوم هغه ؤ چې د رسول الله (ص) په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړ يا رسول الله (ص) مونږه اوښانو والا يو (باغونه او فصلونه اوبه کولو لپاره) اوبه راوباسو او ټوله ورځ کار کوو او حضرت معاذ (رض) متوجه شو او وی فرمائل : ای معاذه ته خلک په فتنه کې اچوی ، والشمس وضحها ، والضحى ، والليل او سبح اسم ربک الاعلى لوله (مشکوة) پدې حدیث کې غور وکړئ باوجود ددې چې د حضرت معاذ (ر ض) ته له مقتدیانو ښخه سترې خلک وو او رسول الله (ص) ته د اوږد قرائت ويلو شکايت کړی شوی ؤ پدې موقع باندې رسول الله (ص) د والشمس و ضحها و غیره سورتونو د لوستلو هدايت وکړ او دا د ماسخوتن د مانځه واقعه وه لهذا په ماسخوتن مانځه کې کم تر کمه دومره مقدار مسنون دی .

او دا هم په حديث کې دی : ((عن سليمان بن يسار عن ابي هريرة قال ما صليت وراء احدا شبه صلوة برسول الله صلى الله عيه وسلم من فلان قال سليمان صليت خلفه فكان يطيل الركعتين الاوليين من الظهر و يخفف الا خريين و يخفف العصر و يقرا في المغرب بقصار المفصل و يقرا في العشاء بوسط المفصل و يقرا في الصبح بطوال المفصل رواه النسائي (مشكوة شريف ص ۸۰ ، ۸۱ باب القرائة في الصلوة))

يعنې د سلیمان بن يسار نه روايت دی چې حضرت ابو هريرة (رض) فرمايي : ما فلانی سړی پسې مونځ وکړ د هغه مونځ د رسول الله (ص) مونځ سره ډير زيات مشابه دی ، د

فلانی نه مراد حضرت علی (رض) یا د مدینی کوم حاکم دی ، مظاهر حق ۱/۲۸۶) نو سلیمان ابن یسار فرمایی ما هغه پسې مونځ وکړ هغه د ماسپښین اولنی دوه رکعتونه اوږده او آخری دوه رکعتونه مختصر او مازدیګر مونځ به یې مختصر کولو او په ماښام کی به یې قصار مفصل او ماسخوتن کی اوساط مفصل او سحر کی یې طوال مفصل لوستل (مشکوة شریف ۸۰ صفحه)

او فقهاء کرام رحمهم الله لیکی ، په فتاوی عالمګیری کی دی :

((حالة الاضطراری فی الحضر وهو ضیق الوقت او الخوف علی نفس او مال ان یقرء قدر ما لا یفوته الوقت او الا من هکذا فی الزاهدی . الی قوله . و سنتها فی الحضر ان یقرء فی الفجر باربعین او خمسین آیة سوی فاتحة الکتاب و فی الظهر ذکر فی الجامع الصغیر مثل الفجر و ذکر فی الاصل او دونه و فی العصر و العشاء فی الرکعتین عشرین آیة سوی فاتحة الکتاب و فی المغرب یقرء فی کل رکعة سورة قصیرة هکذا فی المحیط واستحسنوا فی الحضر طوال المفصل فی الفجر والظهر و اوساط فی العسر والعشاء و قصار و فی المغرب کذا فی الوقایة ، و طوال المفصل من الحجرات الی البروج والاوساط من سورة البروج الی لم یکن والقصار من سورة لم یکن الی الاخر هکذا فی المحیط والوقایة و منیة المصلی (عالمګیری ص ۴۸ ج ۱ ، کتاب الصلوة باب نمبر ۴ فصل فی القراءة))

په عمدة الفقه کی دی (او دیته د ذکر شوی عبارت خلاصه ویل کېږي) په حضر کی یعنی کله چې سفر باندې نه وی او د اطمینان حالت وی ، هیڅ قسم اضطرار نه وی نو سنت دا دی چې د سحر د مانځه په دواړه رکعتو کی د الحمد لله نه علاوه (۴۰) یا (۵۰) ایتونه ولولی او یو روایت کی دی چې د (۶۰) نه تر (۱۰۰) ایتونو پورې ولولی او د ماسپښین دوه رکعتو کی همَ د سحر پشان یا ددینه لږ کم ولولی او په مازدیګر او ماسخوتن دواړه رکعتو کی د الحمد لله نه علاوه (۱۵) او (۲۰) ایتونه ولولی ، او د ماښام هر رکعت (یعنی دوه اولنو رکعتو) کی پنځه ایتونه یا کوم وړوکی سورت ولولی او مستحسن او مستحب دا دی چې حضر کی سحر او ماسپښین مونځو کی طوال مفصل ولولی او دا د سورت حجرات نه تر سورت بروج پورې سورتونه دی (سورت بروج پکې شامل نه دی) او په مازدیګر او ماسخوتن کی اوساط مفصل ولولی او دا د سورت والطارق نه تر لم یکن پورې دی او په ماښام مونځ کی قصار مفصل یعنی واړه سورتونه ولولی او دا د اذا زلزلت نه تر آخر د قرآن پورې یعنی والناس دی ، د مفصلاتو ویل جدا

سنت دی او دا معین مقدار یعنی د ایتونو د تعداد لحاظ کومه چې پورته ذکر شو لوستل جدا سنت دی د موقع مطابق په کوم کی چې غواړی عمل دی وکړی لیکن د مفصلاتو اختیارول مستحسن دی (۲) که حضر کی اضطرار وی او هغه دا چې وخت تنګ وي یا د خپل خان او د حال ویره وی نو سنت دا وی چې دومره اندازه ولولی چې وخت او امن فوت نشي (عمدة الفقه ۱۱٦/۲) . په درمختار کی دی : ((و فی الضرورة بقدر الحال (و) یسن (فی الحضر) لامام و منفرد ذکره الحلبی والناس عنه غافلون (طوال المفصل) من الحجرات الی اخر البروج (فی الفجر والظهر) منها الی اخر لم یکن (اوساطه فی العصر والعشاء و) باقیه (قصاره فی المغرب) ای فی کل رکعة سورة مما ذکره الحلبی (درمختار مع شامی ص ۵۰۳ ص ۵۰۲ باب القراءة))

او په شامی کی دی ((لتایده بالاثر الوارد عن عمر رضی الله عنه انه کتب الی ابی موسی الاشعری ان اقرا فی الفجر والظهر بطوال المفصل و فی العصر والعشاء باوساط المفصل و فی المغرب بقصار المفصل قال فی الکافی و هو کالمروی عن النبی صلی الله علیه وسلم لان المقادیر لا تعرف الا سماعاً (شامی ج ۱ ص ۵۰۵ فصل فی القراءة فی الصلوة))

په غایة الاوطار ترجمه درمختار کی دی : او مسنون دی چې د ضرورت په وخت کی د حال د ګنجایش په اندازه ولولی مثلاً که وخت تنګ ؤ د مسنون مقدار قرائت کولو سره مونځ قضاء کیده نو دومره قرائت دی وکړی چې مونځ پرې کامل شي او همدا حال دی هغه وخت کی چې د ځان یا د مال خطره وی ، کذا فی الطحطاوی)

و یسن : - او مسنون دی په حضر کی یعنی په صورت د اقامت کی امام او منفرد لپاره سحر او ماسپښین مونځونو کی طوال مفصل ولولی او دا د سورت حجرات نه تر سورت بروج پورې سورتونه دی او ددی سنت کیدل حلبی ذکر کړی دی او خلک لدینه غافل او نا خبره دی چې منفرد لپاره هم مسنون قرائت د امام پشان دی - الی قوله - او د سورت بروج نه تر آخر د لم یکن پورې اوساط مفصل دی او دا د مازدیګر او ماسخوتن مونځونو وبل مسنون دی ، او باقی قصار مفصل سورتونه یعنی د لم یکن نه تر آخر د قرآن پورې مابنام مونځ کی وبل مسنون دی او پدې طریقه قرائت مسنون کیدل د اثر نه ثابت دی یعنی حضرت عمر (رض) ابو موسی اشعری (رض) ته خط لیکلی ؤ چې سحر او ماسپښین مونځونو کی طوال مفصل لوله او مازدیګر و ماسخوتن کی اوساط

مفصل او مابنام کی قصار مفصل لوله کذا فی الشامی (غایة الذکار ترجمه درمختار (۲۵۱) صفحه فصل فی القراة باب صفة الصلوة)

د قوم د سستی په وجه د مسنون مقدار نه قرائت کم کړی یا نه دی باره کی علامه شامی ډېر بهترین بحث کړی په درمختار کی دی :-

((و فی الشر نبلالیة ظاهر حدیث معاذ انه لا یزید علی صلوة اضعفهم مطلقاً و لذا قال الکمال الا لضرورة و صح انه علیه الصلوة والسلام قرا بالمعوذتین فی الفجر حین سمع بکاء صبی (در مختار))

او شامی کی دی : ((قوله و فی الشر نبلالیة

((قوله و فی الشر نبلالیة مقابل لقوله زائداً علی قدر السنة و حاصله انه یقرا بقدر حال القوم مطلقاً ای دون القدر المسنون و فیه نظر اما او لا فلا نه مخالف للمنقول عن السراج والمضمرات کما مرو اما ثانیاً فلان القدر المسنون لا یزید علی صلوة اضعفهم لانه کان یفعله صلی الله علیه وسلم مع علمه بانه یقتدی به الضعیف والسقیم و لا یترکه الاوقت الضرورة و اما ثالثاً فلان قراءة معاذ لما شکاه قومه الی النبی صلی الله علیه وسلم و قال افتان انت یا معاذ انما کانت زائدة علی القدر المسنون قال الکمال فی الفتح و قد بحثنا ان التطویل هو الزیادة علی القراءة المسنونة فانه صلی الله علیه وسلم نهی عنه .... الی قوله ..... فقد ظهر من کلامه . انه لا ینقص عن المسنون الا بضرورة کقرانه بالمعوذتین لبکاء الصبی و ظهر من حدیث معاذ انه لا ینقص عن المسنون لضعف الجماعة لانه لم یعین له دون المسنون فی صلوة العشاء بل نهاه عن الزیادة علیه مع تحقق العذر فی قومه فما استظهره الشر نبلالی من الحدیث و حمل علیه کلام الکمال غیر ظاهر (شامی ج ۱ ص ۵۲۸ باب الامامة))

په غایة الاوطار کی دی (پدې کی د علامه شامی د مذکور تحقیق خلاصه ده) ((و فی الشر نبلا الیة)) او په شرنبلالیة کی دی چې د حضرت معاذ (رض)د حدیث ظاهر دا دی چې امام به د ضعیف ترین مقتدی په مونځ باندی قرائت مطلقاً نه زیاتوی یعنی اګر که د مسنون قرائت نه کم وی او پدې بناء کمال الدین په فتح القدیر کی ویلی دی چې د مسنون مقدار څخه به نه کموی مګر د ضرورت په وجه د حضرت معاذ له حدیث نه د مسلم حدیث مراد دی چې حضرت معاذ (رض) ماسخوتن مانځه کی سورت بقره شروع کړ نو یو مقتدی سلام ګرځولو سره خانته مونځ وکړ او د رسول الله (ص) په خدمت کی حاضریدو سره د حضرت معاذ نه شکایت وکړ نو رسول الله (ص) ورته

وفرمایل : ایا ته خلک په فتنه کی اچوی ، کله چې امامت کوی نو والشمس وضحها ، و سبح اسم ربک او والليل لوله . شامي ويلي دی : شرنبلالي چې لدی حدیث نه د مطلب اخستی چې د ضعیف ترین مقتدی له مونځ څخه به نه زیاتوی اګر که د مسنون مقدار نه کم شی دا خبره لدینه نه ثابتېږي بلکې دا ثابتېږي چې د مسنون مقدار څخه به زیات نه لولی لکه چې رسول الله (ص) حضرت معاذ ته فرمایلی ؤ چې سورت الشمس او واللیل وغیره ولوله کوم چې په ماسخوتن کی مسنون دی باوجود ددینه چې د حضرت معاذ په قوم کی عذر ثابت ؤ او همدا مطلب د علامه کمال الدین (صاحب د فتح القدیر) د عبارت هم دی چې د مسنون مقدار څخه به نه کموی مګر د ضرورت په وجه دا نه ده چې د ضعیف رعایت وکړی اګر که قدر مسنون نه هم کم شی لکه چې شر نبلالي فهم کړی ((و صح انه علیه السلام قرا بالمعوذتین فی الفجر حین سمع بکاء صبی)) یعنی دا ثابت دی چې رسول الله (ص) د سحر مانځه کی معوذتین ولوستل کوم وخت کی چې د ماشوم ژړا یې واوریدو ، د سحر مانځه طوال مفصل لوستل مسنون دی مګر رسول الله (ص) یو ځل معوذتین ولوستل د سلام نه وروسته خلکو عرض وکړ ایا تاسو مونځ مختصر کړ؟ ارشاد یې وفرمایل : ما د یو ماشوم ژړا واورید نو وویریدم چې موری وارخطا او پریشانه نشي ، لدینه معلوم شو چې د ضرورت په وخت کی مسنون مقدار نه کمول امام ته مناسب دی (غاية الاوطار ترجمه درمختار ۲۶۲/۱ ، ۲۶۳ باب الامامة)

لهذا پدې ذکر شوی مسئله کی په عامو حالاتو کی امام صاحب ته د قرائت د مسنون مقدار خیال ساتل پکار دی ، په هر مانځه کی دومره واړه سورتونه لوستل کوم چې په سوال کی ذکر دی د سنت خلاف دی او دا به سستی وی او د حدیث نه غلطه استفاده کول دی او فی الجملة د منافقانو له صفت سره مشابهت لازمېږي ، په قرآن پاک کی دی

(و اذا قامو الی الصلوة قاموا کسالی یرآءون الناس و لا یذکرون الله الا قلیلاً)

(ترجمه : او کله چې منافقان مانځه ته ودرېږي نو ډېر سستی سره ودرېږي صرف خلکو ته ځان ښائي او د الله تعالی ذکر نه کوی مګر ډېر کم (قرآن مجید (۱۵) پاره آخری رکوع د حضرت تهانوی ترجمه)

البته په مابنام کی دا سورتونه لوستل د سنت مطابق دی یا د کوم خاص ضرورت په وخت (لکه د وخت تنګی وی یا کوم د وېرې حالت وی لکه محله کی اور ولګی وغیره

، د حالت مطابق دې قرائت ولولی نو دا صورت مستثنی دی لکه د عالمګیری وغیره عبارت څخه چی واضح کېږي ، همدا شان رکوع ، سجده ، قومه او جلسه هم اطمنان سره د سنت طریقی مطابق کول پکار دی په حدیثو کی ددی ډېر زیات تاکید راغلی دی په یو حدیث کی دی : ((عن ابی هریرة (رض) ان رجلاً دخل المسجد و رسول الله (ص) جالس فی ناحیة المسجد فصلی ثم جاء فسلم .... الخ)) د حضرت ابو هریرة (رض) نه روایت دی ې رسول الله (ص) په جومات کی یو طرف ته ناست ؤ چې یو سړی راغی او مونځ يې وکړ او بیا رسول الله (ص) خواته راغی او سلام يې وکړ ، رسول الله (ص) ورته وفرمائل ((وعلیک السلام ارجع فصل فانک لم نصل)) یعنی وعلیک السلام واپس لاړشه او مونځ وکړه تا مونځ ندی کړی ، دوه یا درې ځلی همداسې وشو دریم یا څلورم ځل هغه سړی عرض وکړ یا رسول الله (ص) زه خو لدې څخه ښه نشم کولی تاسو راته مونځ کول راوښایي ، وی فرمائل : کله چې مانځه ته راځی نو اول په ښه شان اودس وکړه او قبلی طرف ته ودرېږه بیا الله اکبر وکړه بیا چې کوم سورت درته یاد وی هغه ولوله او بیا ښه اطمنان سره رکوع وکړه او بیا رکوع نه پورته شه تر دې چې اطمنان سره سیده ودرېږی او بیا سجده وکړه ښه اطمنان سره او بیا په اطمنان سره راپورته شه او په آرام آرام هر یو رکن ادا کړه (مشکوة شریف (۷) صفحه باب صفة الصلوة) (فتاوی رحیمیه ۱۳۹/۵ ، ۱۴۰) او یو بل حدیث کی دی : ((عن ابی قتادة (رض) قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اسوء الناس سرقةً الذی یسرق من صلوته قالوا یا رسول الله و کیف یسرق من صلوته قال لا یتم رکوعها و لا سجود ها رواه احمد)) ترجمه : د حضرت ابو قتاده (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : د ټولو نه ناکاره غل هغه دی چې خپل مونځ کی غلا کوي ، صحابهٔ کرامو عرض وکړ یا رسول الله په مانځه کی څنګه غلا کوي ؟ رسول الله (ص) وفرمایل : په مانځه کی غلا دا ده چې رکوع او سجده په صحیح طریقه باندې نه ادا کوی (مشکوة (۸۳) صفحه باب السجود و فضله)

دې باره یوه تفصیلی فتوی فتاوی رحیمیه دوېم جلد (۴۱ ، ۴۲) صفحو کی په اردو ژبه شائع شوی هغه ضرور وګورئ (نوی ترتیب مطابق په صفة الصلوة کی د قومې او جلسی اطمنان سره کولو عنوان لاندی ده (۵/ ۱۳۹) وګوری ـ مرتب) فقط والله اعلم.

ـ په جهری مانځه کی امام ته څومره په زوره ویل پکار دی؟

(۷۹ سوال) زمونږه امام صاحب ډېر ورو آواز سره قرائت کوی اول صف والا چې بنه په غور سره واوری بیا هم نشي اوریدلی نو مونځ کېږي یا نه ؟ وضاحت وکړی مهربانی
(جواب) امام اوچت او خوش آواز تجوید مطابق صحیح صحیح قرائت کونکی پکار دی چې دومره اوچت آواز سره قرائت وکړی چې ټول مونځ ګذار یا د جماعت اکثره حصه د هغه آواز واوری او که چیرته د امام صاحب دومره ټیټ وی چې ټول یا زیاتره مونځ ګذار یې آواز وا نه وریدی شی نو کم تر کمه د اول صف او د هغه تر شا مقتدیان د هغه آواز اوریدلی شی نو مونځ کېږي مګر داسې ټیټ آوازه امام جوړولو کوشش دی نه کېږي ، درمختار کی دی : ((و ادنی الجهر اسماع المختافتة اسماع نفسه و من بقربه لو سمع رجل او رجلان فلیس بجهر والجهر ان یسمع الکل خلاصة (درمختار مع شامی ص ۴۹۸ ج اول فصل فی القراءة))
په غایة الاوطار کی دی ((و ادنی الجهر اسماع غیره و ادنی المخافة اسماع نفسه و من بقربه)) او د جهر ادنی درجه بل ته اورول دی یعنی کوم چې ورته نزدی نه وی کذافی الشامی او د خفیه ادنی دده خپل خانته اورول دی ، خلاصه دا که چیرته یو یا دوه کسانو قرائت واورید نو دا جهر نه دی جهر دا دی چې ټول یې واوری کذا فی الخلاصة) قهستاني پدې باندې دا اعتراض کړی چې که چیرته جماعت ډېر لوی او زیات وی او ټولو ته آواز ونه رسی نو بیا په کار دی چې دا جهر نه شی ، شامی ددی په جواب کی دا ویلی چې د (کل) نه مراد د اول صف ټول کسان دی او ظاهره ده چې دا جواب ناتمام دی ځکه چې ځینی وختو کی اول صف هم دومره اوږد وی چې ټول صف ته آواز نه رسی نو غوره دا ده چې د (کل) نه مراد شاوخوا ټول کسان واخستل شی کوم چې نه ډېر لری وی او نه ډېر نزدی ، او یا د (کل) نه مراد جمع وی یا ډېر کسان یې وآوری نه یواځی یو یا دوه کسان (غایة الاوطار ۲۴۹/۱) فقط والله اعلم.

_ د خفیه قرائت درجه :

(۸۰ سوال) خفیه مانځه کی قرائت څه قسم کول پکار دی ، تصحیح د حروفو کافی دی یا څه قدری آواز کیدل ضروری دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی .
(جواب) احوط قول دا دی چې پداسې اندازه سره قرائت وکړی چې خپل آواز پخپله واوریدلی شی دا د هندوانی قول دی ، ډېرو محققینو دا غوره کړی دی او په شامی کی همدې ته واضح ویلی دی او دویم قول د امام کرخی دی چې یواځی تصحیح د حروفو کافی دی که ددی مطابق هم عمل وکړی شی نو مونځ کېږي په

اولی قول بانديې عمل کول زيات بهتر دی او احتياط په همدې کې دی [1] په امداد الفتاوی کې دی

د خفيه قرائت ادنی درجه :

(۸۱ سوال) مانځه کی قاری قرائت وا نه وری نو مونځ نه کيږي ، بهشتی زيور کی همداسې ليکلی دی ددی څه مطلب دی ، زياتره مونځ ګذار خپل لوستل د شور شغب په وجه نشي اوريدلی يا کوڼ وی ځکه چې د هر شئ دوه درجې دی يوه اعلی او بله ادنی مثلاً د جهر اعلی درجه دا ده چې د قاری قرائت لری خلک هم واوری او ادنی دا ده چې کوم نزدی ولاړ وی هغوی واوری ، او د خفيه قرائت اعلی درجه دا ده چې د قاری قرائت پخپله قاری واوری او بل څوک يې وا نه وری اګر که برابر ورسره ولاړ وی ، او ادنی درجه دا ده چې د قاری ژبه او حلق حرکت کوی خو قاری پخپله نه اوری مګر زړه يې متوجه وی چې زه لولم ، چونکی د احنافو کرامو په نزد کومو مونځونو کی چې جهر نه وی دېر ورو ويل اولی دی هغه کومه درجه ده ادنی يا اعلی ، او پدې قسم کی د مونځ ګذار حلق او ژبه خوزی او غوږونه يې نه آوری نو مونځ کيږي يا نه ؟

(جواب) فی الدر المختار فصل فی القراة و ادنی الجهر اسماع غيره و ادنی المخافة اسماع نفسه _ او په رد المختار کی دا قول هندوانی طرف ته منسوب کولو سره اصح او ارجح ګرځولی دی او چونکی پدې کی احتياط دی لهذا د بهشتی زيور مؤلف هم دا قول اختيار کړی دی او يو د کرخی قول دی چې يواځی تصحيح د حروفو کافی

---

[1] ((قوله و ادنی الجهر اسماع غيره الخ اعلم انهم اختلفوا في حد و جود القراءة علی ثلاثة قشرط الهندوانی و الفضلی لو جودها خروج صوت ليصلی الی اذنه و به قال الشافعی و شرط بشر المرسی و احمد خروج الصوت من الفم و ان لم يصل الی اذنه لکن يشترط کونه مسموعاً فی الجملة حتی لو ادنی صماخه الی فيه يسمع و لم يشترط الکرخی و ابو بکر البلخی السماع و اکتفيا تصحيح الحروف و اختار شيخ الاسلام و قاضی خان و صاحب المحيط والحلوانی قول الهندوانی و کذا فی معراج الدراية و نقل فی المجتبی عن الهندوانی لايجز به ما لم تسمع اذناه و من بقربه .... و ذکر ان کلا من قولی الهندوانی و الکرخی مصححان و ان ما قاله الهندوانی اصح و ارجح لاعتماد اکثر علمائه عليه شامی فضل من القراة ج ا ص ۵۳۴))

کښې اګر که پخپله يې هم وا نه وري . او ځينو ددې هم تصحيح کړې دې کذا فی رد المختار . نو احوط خو د هندواني قول دی او مونځ د کرخي په قول باندې عمل کولو سره هم کيږي ، والله اعلم (امداد الفتاوی ۲۳۵/۱ جديد مطوبه ديوبند)
پورتنی جواب نه ثابتيږي چې د مانځهٔ د صحت لپاره کم نه کم د حروفو تصحيح ضروري دی او لډېنه کم درجه صرف تصوري قرائت يعنی د سورت فاتحه وغيره يواځې تصور وکړی او په زړه کې ولولي ژبه او شونډو ته بالکل حرکت ورنکړی پدې باندې مونځ نه صحيح کيږي فقط والله اعلم بالصواب .

ـ افضل دا دی چې امام سورت فاتحه ترتيل سره ولولي:

(۸۲ سوال) حضرت مولانا سعيد احمد پالنپوري په تفسير هدايت القرآن د سورت حجر (۸۷) ايت (سبعاً من المثاني) متعلق فرمايلي د ی : رسول الله (ص) به سورت فاتحه اوه وقفو سره لوستلو ، او ددی متعلق د ترمذی شريف حديث ((حضرت ام سلمه رضی الله عنها اينونه جدا جدا لوستلو سره خلکو ته وښودل چې رسول الله (ص) به پدې شان هر يو ايت جدا جدا کولو سره لوستلو ، سوال دا د ی‌چې که کوم يو امام پدې شان جدا جدا کولو سره ونه لولي بلکې مکمل سورت په دوه درې وقفو سره ولولي نو خومره غلطي کيږي ؟ وضاحت وکړی مهرباني

(جواب) افضل دا دی چې سورت فاتحه ترتيل سره ولولي ، که امام کله کله د عوامو او د تخفيف په لحاظ دوه درې وقفو او ساګانو سره ولولي نو څه پروا نه کوی ، ليکن دا عادت به نه جوړوی [۱] په حديث کې دی : ((من ام قوماً فليخفف الخ)) (مشکوة ۱۰۱) صفحه باب الامامة)) په تراويحو کې هم د سورت فاتحه په دوه درې ساګانو سره لوستلو اجازت شته په شرط ددی چې واضح واضح ولولي چې مقتدی پرې پوهه شي د لحن جلي او د لحن خفي ارتکاب به نکوی ، او د سورت فاتحی نه وروسته قرائت به هم ترتيل سره کوی او حدر سره هم لوستلې شي پدې شرط چې د لحن جلي او لحن خفي ارتکاب ونه کړی ، فقط والله اعلم.

(۸۳ سوال) پدې مسئله کې ديني علماء څه فرمايی چې يو امام صاحب هميشه لپاره کله چې مانځه کې جهری قرائت کوی نو په مد مفصل باندې قصر کوی نو د تجويد د

---

[۱] وفی الحجة يقرا فی الفرض بالترسل حرفاً حرفاً و فی التراويح بين بين الخ (در مختار علی هامش شامی فصل فی القراة ۵۴۱/۱

قاعدی مطابق د حفص په روایت باندې قصر جائز دی یا نه؟ که بالفرض جائز دی نو طول یا توسط اولی دی او که قصر اولی دی ؟ ځکه چې د مدرسې ډېر طالبان په مانځه کی شاملېږي نو دوی هم پدې عادت کېږي نو د امام صاحب سره د قصر عادت جوړول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) د مد منفصل جائز مقدار ۳ یا ۴ الفه دی او قصر هم جائز دی کوم یو مقدار لازم او ضروری نه دی په درې واړه قسمونو سره لوستل کېږي ، لهذا امام هم درې واړو باندې عمل کولی شی ، کله طول کله توسط او کله قصر ، همیشه دې قصر نه کوی تر څو طالبان ته نا اشنا ښکاره نشي او د مسئلی نه به هم خبردار شی ، امام دې په مانځه کی خلط ملط نه کوی کوم مقدار چې د شروع نه اختیار کړی تر آخره دی په هغه باندې عمل کوي ، په جزری کی دی :

والمد لازم و واجب اتی ـ و جائز و هو و قصر ثبتا

و جائز اذا اتی منفصلاً ـ او عرض السکون وقفا مسجداً

او د مد دریم قسم مد جائز دی چې پدې کی مد او قصر دواړه صحیح دی الخ (شرح جزری (۵۸ صفحه) په تجوید مبتدی کی دی : (۴) مد جائز (یا) منفصل : د حروف مده نه وروسته که همزه دویمه کلمه وی نو هلته مد کول پکار دی لکه قالوا آمنا او ددی مقدار درې یا څلور الفه دی او قصر هم جائز دی (شرح هندی جزری ، او تجوید مبتدی (۱۹) صفحه) فقط والله اعلم بالصواب .

ـ فرض مانځه کی امام ته د فتح ورکولو وخت :

(۸۴ سوال) څینی وخت فرض مانځه کی امام نه ایت هیر شی ایا پدې وخت کی مقتدی فتح ورکولی شی ؟ د څینی خلکو وینا ده چې فرض مانځه امام لره یو اوږد ایت یا درې واړه ایتونه لوستلو نه وروسته د چا فتح قبلول مونځ فاسدوی ددی مسئلی باره کی تحقیق پکار دی ، وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) امام نه چې فرض مانځه کی قرائت هیریدلو یا متشابهات وغیره په وجه غلطی وشی نو کتلی به شی که چیرته د سورت فاتحی او یو اوږد ایت یا درې واړه واړه ایتونو لوستلو نه وروسته ؤ نو رکوع به کوی ، مقتدی به فتح ورکولو لپاره نه مجبوروی او مقتدی ته هم پکار دی چې تلوار ونه کړی لیکن ددې باوجود که کوم مقتدی فتح ورکړه او امام فتح واخسته نو د صحیح قول مطابق مونځ صحیح کېږي او فاسدېږي نه په در مختار کی دی ((بخلاف فتحه علی امامه فانه لا یفسد مطلقاً لفاتح و آخذ بکل

حال (قوله بكل حال) ای سواء قرا الامام قدر ما تجوز به الصلوة ام لا انتقل الی آیة اخری ام لا تكرر الفتح ام لا هو الاصح ، نهر (درمختار مع الشامی باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها ۱ /۵۷۲)) يعنی مقتدی چې خپل امام ته فتح ورکړی نو نه د امام مونځ فاسدېږي او نه د مقتدی ، که امام په قدر د ضرورت (فرض او واجب) قرائت کړی وی او که نه وی کړی ، لیکن فقهاء کرامو تصریح کړی ده چې مقتدی به په فتح ورکولو کی تلوار نه کوی ځکه چې فتح ورکول د تعلیم او تعلم یو ظاهری صورت دی چې دا بغیر د ضرورت نه مکروه دی ، امام ته خاص هدایت ورکړی شوی چې مقتدی به فتح ورکولو لپاره نه مجبوروی پدې شان چې يو ايت يا كلمه بار بار ولولی يا چپ ودرېږي چې پدې سره مقتدی فتح ورکولو ته مجبور شی ، او که چیرته په قدر د واجب (یو روایت کی په قدر د مستحب) قرائت کړی وی نو رکوع دی وکړی یا بل ایت او سورت لوستل شروع کړی.

((و ینبغی للمتقدی ان لا یعجل بالفتح و للامام ان لا یلجئهم الیه بل یرکع اذا جاء او انه او ینتقل الی آیة اخری (هدایه ج ۱ ص ۱۱٦ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها) و كذا فی فتاوی هندیه ج ۱ ص ٦٣))

(۸۵ سوال) امام صاحب په مانځه کی داسې فاحش غلطی وکړه چې مونځ وربانديې فاسدېږي مګر په مقتديانو کی يو چا فوراً فتح ورکړه او غلطی يې صحيح کړه پدې صورت کی مونځ وشو که دوباره کول يې ضروری دی؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) کله چې د قرائت غلطی پخپله صحیح کړی او یا د مقتدی په فتح ورکولو سره صحیح کړی نو د جر او د عموم بلوی په وجه د مونځ د صحیح کیدو فتوی ورکولی شی،

((ذکر فی الفوائد لو قرا فی الصلوة بخطا فاحش ثم رجع و قرا صحیحا قال عندی صلوته جائزة (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۸۳ الفصل الخامس فی زلة القاری) (فتاوی الفتح الرحمانی ج ۱ ص ۱٦٣) (مجموعه فتاوی سعدیة ص ۵۲) (فتاوی عماد الدین ص ۱٦۲) (امداد الفقه ج ۱ ص ۱۳۰))

_ د امام نه تکبیر تحریمه او نورو تکبیرو کی د (ها) آواز وتل:

(۸٦ سوال) پدې مسئله کی د دین عالمان صاحبان څه فرمایی چې د امام صاحب نه مونځ ورکولو وخت کی تکبیر تحریمه او یا د انتقالاتو په تکبیرو کی الله هاکبر آواز وځی او د رکوع څخه پورته وخت کی سمع الله لمن حمده کی هم ها یعنی سمع الله لمن

حمده لوستل کیږي او څینې وخت په قرائت کې هم د ها خلطیت کیږي او همدا شان السلام ها علیکم لوستل کیږئ او ددی وجه دا ده چې د امام سرئ کـې تکلیـف دی او دا تکلیف دائمي دی هیڅ علاج نه لری ، اوس سوال دا دی چې داسې امام ته مـونځ ورکول پکار دی او پداسې قسم مونځ ورکولو کې څه کراهـت خـو نـه راځـی ؟ زمـونږ پدې ځای کې ددی ډېر زیات چرچه کیږي برای کرم تفصیلی جواب راکړئ.

(جواب) ستا سوال راته ورسید ستاسو د جومات امام صاحب د مونځ ټیپ کولو سـره د اورولو خبره وشوه هغه ؤ د سحر مونځ ټیپ کولو سره راتـه راوړ او احقـر واوریـدلو او د هغه شخه مو زبانی لوستلو سره هم واوریدلو ماته خو دده په مانځـه کـې داسـې کومـه خبره ښکاره نه شوه چې د هغې په وجه سره مونځ مکروه یا فاسد کرځي . لهذا دده پـه امامت کې شک او شبهه مه کوی (بالکل صحیح دی) فقط والله اعلم.

ـ د یو امام حالات او دده د امامت حکم؟

(۸۷ سوال) زمونږه د محلی امام صاحب نه د محلی اکثره خلـک یعنـي (۹۰) فیصـده مونځ کذاران خفه دی اوِ د حفګان وجوهات دا دی : (۱) د حسد په وجه امام صاحب د غیر مسلم نه جادو کوی او حیلی ښځی باندې هم یـو هنـدو نـه جـادو کـړی ؤ او دا خبره هغه جادوګر په دلایلو سره منلی ده چې همدې امـام صـاحب پخپـل یـو ورور او ښځی باندې له ما نه جادو کړی دی ، پدې وجه ښځې ته پته لګیدو سره په کـور ناسـته ده او طلاق غواړی (۲) دا امام صاحب مالـدار دی ده سـره کـور (فلیـټ) ځمکـه او ډېری پیسې شته او ددی باوجود ، زکات ، صدقه ، سرسایه او سود غواړی او ورکـوی او د کور ضروریات نوی کیږې (بغیر ګندل شوی) محلی والاو نه غواړی مګر یو شـئ هـم نه استعمالوی او تل په زړو او ګنده کپړو کې مونځ ورکوی او همیشه غریبی خبری کوی (۳) د جومات مانځه ځای کې لنګ وهلی ویده کیږی چې لنګ ترې پورته کیـږي هـم خو دې په خوب کې خبر نه وی ، محلی والا پدې باره کې بار بار اعتـراض کولـو سـره ده ته وایی مګر نه یې منی (۴) د جومات مانځه ځای کې په ناسته ناسته ویده کیـږي او غرار کوی . کله کله خو مانځه دوران کې په قعده کې هم ویده کیږي چې قعده کې ډېر وخت تیر شی نو د مونځ ګذارو په ټوخی بانـدې سـلام ګرځـوی ، (۵) ډېـر کرتـه کنځلی هم کوی (٦) په محله کې څو ځلی په ودربدو سره نا محرم زنانو تـه ګـوری او خبری اتری هم ورسره کوی (۷) او کله چې د کرکټ میچ وي نـو د مسـجد خواوشـاه کورو ته ځی او په ټی وی باندې میچ ګوری او که د غزل ، شاعری ، قوالی پروګرام وی

هغه کی هم شرکت کوی . د شریعت مطابق چې امام صاحب ته څنګه اوسیدل پکار دی هغسی نه اوسیږی اکثر په زوره خان بیماروی ایا داسې امام پسې مونځ کیږي؟
(جواب) په اسلام کی د امامت منصب ډېر اهمیت لری دا ډېر با عزت . با وقار او با عظمت دینی اهمه شعبه ده ، دا مصلی د رسول الله (ص) مصلی ده امام د رسول الله نائب وی ، امام د مقتدیانو او د الله تعالی تر منځ قاصد او نماینده وی پدې وجه څوک چې په ټولو کی بهتر وی د هغه امام کول پکار دی ، په حدیث شریف کی دی : که تاسو دا خوښوی چې مونځونه مو د قبولیت درجې ته ورسي نو په تاسو کی چې څوک بهتر وی هغه خپل امام جوړ کړی چې دا ستاسو او ستاسو د رب تر منځ قاصد وی : ((ان سرکم ان تقبل صلوتکم فلیؤمکم خیارکم و سکت عنه)) (شرح نقایه ۸٦/۱ په حواله د فتاوی رحیمیه ۱۲۴/۴)) د فقه مشهور کتاب په نور الایضاح کی دی : ((فا لاعلم احق بالامام ثم الا قرا ثم الاورع ثم الاسن ثم الاحسن خلقاً ثم الاحسن وجهاً ثم الاشرف نسباً ثم الاحسن صوتاً ثم الانظف ثوباً)) (نور الایضاح (۸۳ ، ۸۴) صفحې د فتاوی رحیمیه په حواله) یعنی د امامت حقدار هغه دی چې دینی امورو کی زیات پوهه ولری (خصوصاً د مانځه مسائلو باندې زیات خبردار وی) بیا هغه څوک چې د قرآن پاک په تجوید سره لوستلو کی زیات ماهر وی او بیا هغه څوک چې زیات متقي او پرهېزګار وی او بیا چې څوک عمر کی مشر وی او بیا چې څوک ښه اخلاق ولری او بیا هغه څوک چې خوبصورت او ښایسته وی او بیا هغه څوک چې د نسب په اعتبار زیات شریف وی او بیاهغه څوک چې خوش آواز وی او بیا هغه څوک چې زیات صفا جامی آغوندی ، الدر الایضاح)
لهذا امام ته پکار دی چې صحیح عقیدی والا ، نیک متقی ، د مانځه مسائلو نه خبردار او ظاهری ګناهونو څخه پاک او صاف وی : ((الاولی بالامامة اعلمهم باحکام الصلوة .... الی قوله .. و یجتنب الفواحش الظاهرة)) (عالمگیری ۸۳/۱ په حواله د فتاوی رحیمیه ۱۷۰/۴) د فاسق او فاجر سړی امام جوړول مناسب نه دی په حدیث کی دی : ((لا یؤم فاجر مؤمناً)) یعنی فاجر سړی دی د مؤمن امامت نه کوی ، (ابن ماجه ۵۵۱) په حواله د فتاوی رحیمیه ۱۷۰/۴) په کبری کی دی : ((لو قدموا فاسقاً یاثمون)) یعنی که فاسق سړی امام جوړ کړی نو ګنهګاریږي (کبیری (۴۹۷ صفحه په حواله د فتاوی رحیمیه ۱۷۰/۴) پورتنی حوالو نه ثابتیږي چې امام باید ډېر زیات محتاط ، متقی او پرهیزګار وی ، په سوال کی چې د امام متعلق کومې خبرې ذکر شوی که په حقیقت دا ټولی

خبری صحیح وی او په هغه باندې الزام نه وی نو د داسې سړی امامت مکروه تحریمی دی او د امامت د منصب هرګز لائق ندی د لری کولو قابل دی د لری کولو حکم چې لکول شوی د حدیث نه ددی تائید کېږي په حدیث کی دی د ابو داؤد شریف روایت دی چې یو سړی د څوک کسانو امامت وکړ نو هغه قبلې طرف ته وتو کلی او رسول الله (ص) ورنه کتلی کله چې د مانځه نه فارغ شول نو مقتدیانو ته یې رسول الله (ص) وفرمایل : دا سړی دی آینده ستاسو امامت ونه کړی بیا وروسته کله چې هغه سړی د امامت کولو اراده وکړه نو خلکو منع کړو او ورته یې وویل ستا باره کی رسول الله دا ارشاد فرمایلی دی ، دا سړی د رسول الله (ص) خدمت کی حاضر شو او ددی واقعی تذکره یې وکړه ، رسول الله (ص) وفرمایل : هو ما ویلی ؤ راوی وایی : زما خیال دی چې رسول الله دا هم فرمایلی ؤ چې تا الله تعالی او دده رسول ته تکلیف رسولی ؤ :-

((ان رجلا ام قوماً فبصق فی القبلة و رسول الله صلی الله علیه وسلم ینظر فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم حین فرغ لا یصلی بکم فاراد بعد ذلک ان یصلی بهم فمنعوه و اخبرو بقول رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکر ذلک رسول الله علیه وسلم قال نعم و حسبت انه قال انک قال انک آذیت الله و رسوله صلی الله علیه وسلم . (ابو داؤد شریف ص ۷۵ ج ۱ ، باب فی کراهة البزاق فی المسجد))

ـ په قرائت کی بندیدو سره رکوع کله وکړی ؟ په قدر د واجب یا په قدر د مستحب قرائت نه وروسته ؟

(۸۸ سوال) د سحر مونځ اول رکعت کی د (۱۷) سیپاری څو ایتونو لوستلو نه وروسته امام صاحب بند شو دوباره یې یو ایت ولوست خو ورته یادِ نشو نو د اخری سیپاری سورت اعلی یې ولوست او په دویم رکعت کې یې ورپسې سورت ولوست اوس پوښتنه دا ده چې اول رکعت کی دومره ایتونه لوستی وو چې مونځ پرې وشي یعنی په قدر د واجب یې لوستلی وو ، ددی با وجود یې سورت اعلی ولوست نو دا قابل د اعتراض دی یا نه ؟ پدې سره مونځ کی څه فرق راځي یا نه؟ ځینی مقتدیان وایی دومره قرائت یې کړی ؤ چې مونځ پرې وشي نو بیا سورت اعلی یې ولی ولوست ؟ او امام صاحب وایی چې د قرائت کموالی په وجه داسې وکړل ، او که داسې می نه وای کړی نو په دویم رکعت کی به هم همدومره قرائت لوستل کېدو او که دویم رکعت کی می قرائت اوږدولی نو بیا د مستحب خلاف کېدو مګر مقتدیان پرې مطمئن نه شو لهذا د کتابو حوالو سره جواب راکړئ چې امام صاحب صحیح کړی دی او که غلط ؟ مهربانی

(جواب) پدې ذکر شوی مسئله امام صاحب چې څه کړی صحیح یې کړی غلط نه دی ، مونځ بغیر د کراهت نه ادا شوی ، اعتراض بې ځایه دی . په قدر د حاجت چې قرائت کړی وی نو رکوع دی کوی ، لدینه مراد یواځې په قدر د واجب ندی بلکې په قدر د مسنون او مستحب هم د ی لکه چې فقهاء کرام فرمایي : ((بل ینتقل الی آیة اخری او یرکع ان قرا بقدر المستحب و قیل قدر الفرض والاول هو الظاهر (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱۹۵ باب ما یفسد الصلوة) او یرکع ان قراء قدر الفرض کما جزم به الزیلعی وغیره و فی روایة قدر المستحب کما رجه الکامل بانه الظاهر من الدلیل الخ (شامی ص ۵۸۲ ج ۱ باب ما یسد الصلوة و ما یکره فیها))

په (بهشتي زیور ۷۲/۱ ، او علم الفقه ۱۱۱/۲ کی هم په قدر د مسنون والا قول اختیار کړی ، وګوری ، په البحر الرائق کی دی :

((و اختلف الروایة فی وقت او ان الرکوع ففی بعضها اعتبر او انه المستحب و فی بعضها اعتبر فرض القراءة یعنی اذا قرا مقدار ما تجوز به الصلوة رکع کذا فی السراج الوهاج (ج ۲ ص ٦ ایضاً)) او په فتح القدیر کی دی : ((قال بعضهم ینبغی ان لا یلجئهم الیه بل ینتقل الی آیة اخری او یرکع اذا قرا المستحب صرفا للصلوة عن الزواید هذا هو الظاهر من جهة الدلیل (ج ۱ ص ۲۸۴ ایضاً))

فقط والله اعلم ۱۴ ، صفر ۱۳۸۰ هـ

---

[1] _ قوله لا باس ان یقرء سورة الخ افادانه یکره تنزیهاً و علیه یحمل جزم القنیة بالکراهة و یحمل فعله علیه الصلوة والسلام علی بیان الجواز هذا اذ لم یضطر بان قرء فی الاولی قل اعوذ برب الناس اعادها فی الثانیة الخ فصل فی القراءة.

[2] _ ((و منها الخطاء فی التقدیم و التاخیر ان قدم کلمة علی کلمة او اخر ان لم یتغیر المعنی لا تفسد نحوان قرء لهم فیهاء خیر و شهیق هکذا فی الخلاصة فتاوی عالمگیری الفصل الخامس فی زلة القاری ج ۱ ص ۸۹.

ـ د الله اکبر باء را کش کونکی امام پسې کړی لمونځونه راګرځول ضروری دي؟

(۸۹ سوال) امام صاحب د الله اکبر باء را کش کوی ، اوس معلوم شو چې مونځ نه کېږي امام صاحب له یو کال نه امامت کوي اوس مونږه خپل مونځونه د کوم وخت نه راوګرځوو ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : زیات صحیح قول دا دی چې د (اکبر) باء مد او کش کولو سره لوستونکی مونځ نه صحیح کېږي یعنی مانځه کی نه شاملېږي ((ولو مد بهمزة الجلالة او اکبر او بائه لم یصر شارعاً (زاد الفقیر ص ۳۰) و ان قال الله اکبار باد خال الف بین الباء والراء لا یصیر شارعاً و ان قال ذلک فی خلال الصلوة تفسد صلوته قیل لانه اسم من اسماء الشیطان و قیل لانه جمع کبر بالتحریک وهو الطبل و قیل یصیر شارعاً و لا تفسد صلوته لانه اشباع و الاول اصح (کبیری شرح منیه ص ۲۵۷ مفسدات الصلوة)).

لهذا داسې امام پسې چې څومره مونځونه ادا کړی وی د هغو ټولو راګرځول ضروری دی ، فقط والله اعلم ۱٦ رجب ۱۳۸۸ ه‍ .

ـ که امام د ضرب الله مثلاً للذین آمنوا امراة نوح و امراة لوط ولولی نو مونځ دوباره کول پکار دی:

(۹۰ سوال) زمونږ پدې خای کی یو سړی دوه رکعته مونځ ورکړل او هغه د (ضرب الله مثلاً للذین امنوا امراة لوط) ولوستل او دا یې د دریو ایتونو لوستلو نه وروسته وکړل ، اوس دا مونځ وشو یا نه ؟ او دوباره کول یې واجب دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی .

(جواب) پدې مسئله کی اګر که غلطی درې ایتونو لوستلو نه وروسته واقع شوی خو لمونځ فاسدېږي ((و ان تغیر المعنی بان قرا ان الا برار لفی جحیم و ان الفجار لفی نعیم ، او قرا ان الذین امنوا و عملوا الصلحت اولئک هم شرالبریة ، او قرا وجوه یومئذ علیها غبرة اولئک هم المؤمنون حقا ، تفسد صلوته لان الخبر بخلاف ما اخبر الله تعالی به (فتاوی قاضی خان فصل فی القراة القرآن خطا الخ ج ۱ ص ۷۴))

لهذا مونځ دې دوباره وکړی شي او که هماغه وخت په مانځه کی صحیح وای نو مونځ صحیح کېدو ، فقط والله اعلم.

ـ امام د جنابت په حالت کی لمونځ ورکړی دی څه حکم لری؟

(۹۱ سوال) ما یوه ورځ د سحر لمونځ ورکړ وروسته راته پته ولګېده چې زه جنب وم او د غسل ضرورت ؤ نو زما او د مقتدیانو لمونځ وشو یا نه؟ او ماته اوس دا پته هم نشته چې په هغه ورځ باندې څوک څوک مقتدی ؤ زه حیران یم څه وکړم؟

(جواب) پدې مسئله کی د امام او مقتدیانو لمونځ ندی شوی دوباره کول یې ضروری دی ، امام ته پکار دی چې مقتدیان جدا جدا خبر کړی یا د لمانځه وخت کی اعلان وکړی چې فلانی ورځ سحر لمانځه کی چې څوک شریک وو هغوی دې خپل لمونځونه دوباره وکړی او کومو مقتدیانو ته چې اطلاع ونشي هغه معذوره دی ، په در مختار کی دی ((و اذا ظهر حدث امامه و كذا كل مفسد فی رای مقتد ربطلت فلیزم اعادتها لتضمنها صلوة المؤتم صحةً و فساداً كما يلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب الخ (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۵۵۳ باب الامامة)) -

ـ په لمانځه کی د لستوڼو بډ وهل:

(۹۲ سوال) د یو سړی دا عادت دی چې د مانځه په حالت کی دواړه لستوڼی د ګرمۍ په وجه پورته بډ وهی نو پدې سره مانځه کی څه فرق راځی یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) په مانځه کی دواړه لستوڼی بډ وهل عمل کثیر دی پدې وجه مونځ فاسدېږي لهذا داسې حرکت نه احتراز لازم دی ، په شامی کی دی ((اما لو شمر وهو فیها تفسد لانه عمل کثیر)) یعنی د لستوڼو بډ وهلو حالت کی مونځ شروع کول مکروه دی لیکن که چیرته مانځه کی را بډ وهی نو د عمل کثیر کیدو په وجه مونځ فاسدېږي ، (مکروهات الصلوة ۵۹۹/۱)

که اودس او یا کوم بل څه لپاره لستوڼی پورته کړی وی نو رانښکته دی کړی او بیا دې مونځ شروع کړی او که چیرته لستوڼی بډ وهلی حالت د امام سره رکعت نیولو په شوق مانځه کی داخل شی نو ښه دا ده چې رو رو او لږ لږ رانښکته کړی چې عمل کثیر ترینه لازم نشي ، لستوڼی بډ وهلی یا نیمایي لستوڼو والا قمیص آغوستو سره مونځ کول مکروه دی ، په (درمختار مع الشامی ۵۹۹/۱) کی دی :-

,, و مثله ما لو شمر للوضوء ثم عجل لا دراک الرکعة مع الامام و اذا دخل فی الصلوة کذلک و قلنا بالکراهة فهل الا فضل ارخاء کمیه فیها بعمل قلیل او ترکهما لم اره والا ظهر الاول اه))فقط.

ـ په څلور رکعتی لمونځ کی چې درې رکعتو باندې سلام وګرځوی او خبرې وکړی:

(۹۳ سوال) دلته امام صاحب د ماسپښین مونځ کی په درې رکعتو باندې سلام وګرځولو ، مقتدیانو ورته وویل چې درې رکعته شوی نو مونځ دوباره وکړئ لیکن امام صاحب وویل: یو رکعت کوو نو مونځ کېږي او بیا وروسته امام صاحب یو رکعت کولو سره سجده سهوه وکړه او مونځ یې ختم کړ نو مونځ صحیح شو یا نه؟ او بل په څلورم رکعت یو سړی مانځه کی شریک شو د هغه مونځ صحیح شو یا نه ؟ وضاحت وکړی .

(جواب) کله چې امام صاحب درې رکعتو باندې سلام ګرځولو سره خبرې وکړی چې یو رکعت به وکړو مونځ کېږي ، پدې سره د مانځه نه خارجېږي او ادا کړی درې واړه رکعتونه باطل شو، وروسته یو رکعت کولو او سجده سهوه سره هم مونځ نه کېږي ، دوباره څلور رکعته کول ضروری دی ، او کوم سړی چې څلورم رکعت کی شریک شوی ؤ د هغه هم مونځ نه صحیح کېږي : ((یفسد ها التکلم هو النطق بحرفین او حرف (درمختار) (قوله یفسدها التکلم) ای یفسد الصلوة (شامی ۵۷۴/۱ باب ما یفسد الصلوة) فقط.

ـ په لفظ د الله اکبر کی د باء او راء تر منځ الف زیاتول:

(۹۴ سوال) زمونږه امام صاحب د الله اکبر په باء باندې مد کوی یعنی په کش کولو سره یې لولی د انتقالاتو په ټولو تکبیرونو کی همداسې لولی نو مونځ کېږي یا نه؟ وضاحت وکړی

(جواب) اصح دا دی چې که د اکبر د باء او راء تر منځ الف مماله زیات کړی او (اکبار) ولولی نو تکبیر تحریمه نه صحیح کېږي او په مانځه کی نه شاملېږی او که تکبیر تحریمه صحیح ادا کړی مګر د انتقالاتو تکبیرو کی مذکوره طریقه وکړی نو مونځ فاسدېږي :

((و لو وقع المد فی باء اکبر بان یقول اکبار بزیادة الالف الممال بین الباء والراء لا یصیر داخلاً فی الصلوة و تفسد لو وقع فی اثناءها (مجالس الابرار (۳۰۷) صفحه (۵۲)

مجلس)) او د جهالت عذر نه قبلیږی ((لان مثل هذا الجهل لا یصلح ان یکون عذراً)) (پورتنی حواله) او په زاد الفقیر کی دی (ولو مد بهمزة الجلالة او اکبر او باءه لم یصر شارعاً ، ۳۱ صفحه) فقط والله اعلم بالصواب.

ـ په مانځه کی مقتدی د امام نه وړاندې کېدل:

(۹۵ سوال) که مقتدی د امام نه مخکی سجده وکړی نو مونځ یې کېږي یا نه ؟ وضاحت وکړی

(جواب) که مقتدی د امام نه مخکی سجده وکړی او په سجده کی امام ورسره شریک نه شي بلکې مقتدی د امام سجده کولو نه مخکی له سجدې نه سر اوچت کړی او بیا دوباره (امام سره یا امام نه وروسته) سجده ونه کړی نو د مقتدی مونځ ماتېږي : ((و یفسد ها سابقة المقتدی برکن لم یشارکه فیه امامه کما لو رکع و رفع راسه قبل الامام و لم یعده معه او بعده)) (مراقی الفلاح مع طحطاوی (۱۸۵) صفحه باب ما یفسد الصلوة) او که امام سره په سجده کی شریک شي نو بیا یې مونځ نه فاسدېږي مګر د مقتدی دا کار حرام او موجب د ګناه دی په حدیثو کی پدې باندې سخت ممانعت او وعید راغلی دی : ((قال النبی (ص) ایها الناس انی امامکم فلا تسبقونی بالرکوع ولا بالسجود ولا بالقیام ولا بانصراف الخ)) رسول الله (ص) وفرمائل : ای خلکو زه ستاسو امام یم تاسو په رکوع ، سجده ، قیام او انصراف (واپسی کیدو) کی له ما نه مه مخکی کېږئ (رواه مسلم ، په حواله د مشکوة (۱۰۱ صفحه باب ما علی الماموم) او یو حدیث کی دی : ((عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله (ص) اما یخشی الذی یرفع راسه قبل الامام ان یحول الله راسه راس حمار)) (متفق علیه) حضرت ابو هریرة (رض) فرمایی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی ، هغه څوک چې خپل سر له امام نه مخکی اوچتوی ابا هغه لدې خبرې څخه نه وېرېږي چې الله تعالی د هغه سر د خر سر وګرځوی (مشکوة شریف (۱۰۳) صفحه باب ما علی الماموم) محدثینو ددی حدیث په تشریح کی لیکلی دی ، د هغه څهره او قواره به د خر پشان جوړ کړی ددې مطلب دا دی چې الله تعالی د هغه عقل او پوهه به د خر پشان جوړ کړی ، علامه ابن حجر (رح) فرمایی : امکان لری چې حدیث پخپل حقیقت باندې محمول وی او د مسخ څخه خاص مراد وی او پدې شریعت کی چې کوم مسخ ممتنع دی هغه عام مسخ دی ، او ددې تائید لدې واقعی نه کېږي چې یو سړی د حدیث زده کولو لپاره د دمشق یو مشهور شخص په خدمت کی حاضر شو او د هغه څخه یې

حدیث زده کړل لیکن هغه شیخ به په منځ کی همیشه پرده ساتله خپله څهره بـه یې هیڅکله نه ښکاره کوله کله چې څه زما نه تیره شوه او د طالب علم شوق یې ولید نـو یو ځل یې پرده لرې کړه طالب علم ولیدل چې د شیخ څهره د خر پشـان دی ، شـیخ وفرمایل ((یا بنی ان لا تسبق الامام فانی لما مربی فـی الحـدیث اسـتبعدت و قوعـه فسبقت الامام فصار وجهی کما تری)) ای زما څویه چیرته د امـام نـه پـه ارکـانو کـی وړاندی نشي ، کله چې ما دا حدیث واوریدو نو ما ددی واقع کیدل لری وګڼل او زه د امام نه مخکی شوم نو پدې وجه زما د مخ دغه حالت شو کوم چې ته یې ګوری ، (مرقاة شرح مشکوة ۹۸/۳ باب ما علی المأموم)

پدې بناء په مالابد منه کی دی : (و تقدیم مقتدی از امـام در ارکـان حـرام اسـت)) یعنی په ارکانو کی د مقتدی امام نه وړانـدې کېـدل حـرام دی (مـالا بدمنـه (۳۹) صفحه)) فقط

ـ امام چې په قدر د واجب قرائت کـړی وي او مقتـدی فـتح ورکړي څه حکم لري؟

(۹٦ سوال) مانځه کی له امام صاحب نه د قرائت کولو په وخت کـی ترینـه ایتونـه هیر شول خو په قدر د واجب یې قرائت کړی ؤ بیا له شانه مقتدی فتح ورکړه او امـام فتح واخسته او مونځ یې ختم کړ نو مونځ صحیح شو یا فاسد؟ دوباره کول یې واجـب دی یا نه؟

(جواب) کله چې امام نه د قرائت کولو په وخت کی ورنه څه هیر شي یا بند شي نو فتح ورکولو کی به تلوار نه کوی ، هیریدو سره فوراً فتح ورکول مکروه او ممنوع دی، امام ته هم پکار دی چې چانته د فتح ورکولو لاره ونه ښایي ، کـه پـه قـدر د ضـرورت قرائت کړی وی نو رکوع دې وکړی او یل ځای څخه دې لوستل شروع کړی ، چـپ ودرېدو او یا یو لفظ بیا بیا ویلو سره مقتدی فتح ورکولو ته مجبورول غلط کار دی ، بیا هم صحیح قول دا دی چې امام ته فتح ورکولو او د امام فـتح اخسـتو سـره د هیچـا مونځ هم نه فاسدېږي او نه واجب الاعاده ګرځی ((والصحیح انها لا تفسد الفاتح بکل حال ولا صلوٰة الامام لو اخذ منه علی الصحیح الخ (فتـاوی عـالمګیری ۹۹/۱ ، البـاب السابع فیما یفسد الصلوٰة وما یکره فیها) فقط والله اعلم بالصواب

ـ امام سهواً الحمد لله یا سورت پرېږدی او د رکوع نه بعد ولولی:

(۹۷ سوال) فرض یا واجب مونځ کی چې امام نه الحمد لله یا سورت لوستل هېر شي او په رکوع کی وریاد شي او پورته کیدو سره قرائت وکړی نو بیا دوباره رکوع وکړی یا نه ؟ او سجده سهوه کولو سره مونځ صحیح کېږي یا نه؟ که چیرته پدې دوباره رکوع کی نوی مونځ گذار له امام سره شریک شي د هغه رکعت نیول حسابېږي ؟

(جواب) پدې ذکر شوی مسئله کی د قرائت نه وروسته رکوع کول ضروری دی که ونه کړی نو مونځ باطل گرځی ، رکوع کولو سره په آخر کی سجده سهوه سره مونځ صحیح کېږي او په رکوع کی شاملیدونکی مقتدی دا رکعت معتبر دی د دوباره کولو حاجت نشته ((لو تذکر الفاتحة او السورة حیث یعود و ینقض رکوعه لان بعوده صارت قرات الکل فرضاً والترتیب بین القراة والرکوع فرض فارتفض رکوعه فلو لم یرکع بطلت و لو رکع وا درکه رجل فی الرکوع الثانی کان مدرکاً ذلک الرکعة الخ (شامی ج۱ ص ۶۳۷ باب الوتر والنوفل)) فقط والله اعلم بالصواب.

ـ دعاء قنوت هیریدل او د رکوع نه وروسته لوستل:

(۹۸ سوال) امام په وترو کی په سهوه سره دعاء قنوت پرېښود او رکوع یې وکړ او یادیدو سره یې دوباره ودرېدو سره دعاء قنوت یې ولوست دوباره رکوع یې ونه کړی بلکی سیده سجدی ته لاړ او د سهوی سجده کولو سره یې مونځ ختم کړ دا مونځ وشو یا نه؟ که امام دوباره رکوع وکړی او نوی مقتدی پدې رکوع کی شامل شي نو هغه ددی رکعت نیونکی گڼل کېږي یا نه؟

(جواب) لمونځ صحیح کېږي ، دوباره کولو ضرورت نشته ، رکوع نه وروسته دعاء قنوت لوستلو سره رکوع نه باطلېږي مګر رکوع ته تلو نه وروسته دعاء قنوت لپاره ودرېدل غلط دی ، د داسې کولو ضرورت نشته که دعاء قنوت فوت شي نو دې لپاره سجده سهوه کافی کېږي ، په دویم رکوع کی د شاملیدونکی رکعت معتبر ندی ((و لو نسیه القنوت ثم تذکره فی الرکوع لا یقنت فیه لفوات محله و لا یعود الی القیام فی الاصح لان فیه رفض الفرض للواجب فان عادالیه و قنت و لم یعد الرکوع لم تفسد صلوته لکون رکوعه بعد قراة تامة و سجد للسهوقنت او لا لزواله عن محله (درمختار

شامی ج ۱ ص ۶۲۷ ، ۶۲۶ باب الوترو النوافل) و کما لو سها عن القنوت فرکع فانه لو عاد و قنت لا تفسد علی الاصح (فتح القدیر ج ۱ ص ۱۰۱)) فقط والله اعلم.

ـ اوله قعده سهواً پاتې شوه او ودرېدونه وروسته بیا کیناست:

(۹۹ سوال) درې یا څلور رکعتی فرض یا واجب مونځ کی چې اوله قعده سهواً پاتې شي او سیده ودرېدو نه وروسته قیام (چې فرض دی) پرېښودو سره قعده (چې واجب دی) کی کینی نو مونځ ماتېږي یا نه؟

(جواب) اوله قعده پرېښودو سره چې نیغ ودرېږي او یا نیغ ودرېدو ته نږدی شي او بیا التحیات لوستو لپاره کینی لدې څخه فرض پرېښودو سره واجب طرف ته واپس کیدل نه لازمېږي ، مګر د فرض په ادا کولو کی تاخیر لازمېږي او دا په سجده سهوه سره صحیح کېږي لهذا راجح او حق دا دی چې مونځ نه ماتېږي خو سجده سهوه به کوی، البته داسې کول نه دی پکار، که قصداً داسې وکړی ګنهکارېږي ((ثم لو عاد فی موضع وجوب عدمه اختلفوا فی فساد صلواته فصحح الشارح الفساد لتكامل الجناية برفض الفرض بعد الشروع فیه لاجل ما لیس بفرض و فی المبتغی بالغین المعجمة انه غلط لانه لیس بترک و انما هو تاخیر کما لو سها عن السورة فرکع فانه یرفع الرکوع و یعود الی القیام و یقرا لا جل الواجب (البحر الرائق ج ۱ ص ۱۰۱ باب سجود السهو) (قوله کما سیجئ) ای فی باب سجود السهو لکنه رجح هناک عدم الفساد الخ (باب الوتر والنوافل شامی ج ۱ ص ۶۲۳) فلو عاد الی القعود بعد ذلک تفسد صلاته لرفض الفرض لما لیس بفرض و صححه الزیلعی و قیل لا تفسد لکنه یکون مسیئاً و یسجد لتاخیر الواجب وهو الا شبه کما حققه الکمال وهو الحق بحر (درمختار مع شامی باب سجود السهو ج ۱ ص ۶۹۷) (ایضاً فتح القدیر ج ۱ ص ۴۴۵)) فقط والله اعلم بالصواب.

ـ که په هیره سره سلام ګرځولو کی ناوخته شي:

(۱۰۰ سوال) که په آخره قعده کی تشهد ، درود او دعاء لوستلو سره سلام ونه ګرځوله او پدې خیال ناست وی چې سلام می ګرځولی دی بیا ورته را یاد شي چې سلام مې ندې ګرځولی او یادیدو سره فوراً سلام وګرځوی او په منځ کی د مانځه مخالف کوم عمل ندی شوی نو دا مونځ صحیح شو او که دوباره کول یې واجب دی؟

(جواب) پدې مسئله کی سجده سهوه کول پکار ؤ که شوی وای نو مونځ صحیح کیدو چې سجده سهوه ندی کړی نو پدې وجه مونځ واجب الاعاده دی په زاد الفقیر

کی دی ((و کذا لو اخر السلام بان ظن انه سلم و استمر قاعداً ثم علم انـه لـم یسلم فسلم)) (٦۴ صفحه) فقط والله اعلم.

ـ په مانځه کی چې وړوند راشي نو منع کړی شي یا نه؟

(۱۰۱ سوال) د رکوع نه پاځیدو وخت کی وړوند مخې ته راشي نو که دې په لاس سره منع کړی شی په مونځ کی څه نقصان راځي؟

(جواب) پدې مسئله کی د ړوند په منع کولو سره عمل کثیر ندی شـوی لهـذا مـونځ کېږي دوباره کولو ضرورت نشته (طحطاوی علی مراقی الفلاح (۲۱۵ صفحه)[1]

ـ د مونځ په حالت کی چې مـری کـی خـوږوالی وی لمـونځ کی فرق راځی؟

(۱۰۲ سوال) د سحر سنت می په کور کی وکـړ او خمیـره (یـو قسم خوشـبوداره د څښکلو تمباکو ، او په چینی (بوره) کی پـوخ شـوی دوائـي هـم ده) وخـوړه او بیـا جومات ته لاړم او جماعت کی شریک شوم ، خولی ته اوبه اچول مې هېـر شـو یعنـی خوله مې کنګال نه کړ او په مانځه کی مری کی مې خوږوالی محسوس کیدو نو مونځ وشو یا نه؟

(جواب) کله چې خمیره په خوله کی نه وی یواځې خوږوالی وی نو په مانځـه کـی څه فرق نه کوی او دوباره کولو هیڅ ضرورت نشته ، په شامی کـی دی : ((و لـو اکـل شیئاً من الحلاوة وابتلع عینها و دخل فی الصلوة فوجد حلاوتهـا فـی فیـه و ابتلعهـا لا تفسد الصلوة)) یعنی څه خوږ څیز یې وخوړو او هغه یې تیـر کـړو او بیـا مانځـه کـی داخل شو او د هغه خوږ والی یې په خوله کی محسوس کړ او هغه یې تېر کړ نو مـونځ نه فاسدېږي (شامی ج ۱ ص ۵۸۳ باب ما یفسد الصلوة و مایکره فیها)) فقط والله اعلم.

ـ د هلکانو د صف مخې ته تېریدل جائز دی:

(۱۰۳ سوال) د هلکانو لوی صف دی او لوی سړی په مخکنی صف کی شرکت کوي نو د هلکانو د صف مخې ته تیریدلی شي یا نه؟

(جواب) که اولنی صف کی خای دی او ددې ډکولو لپاره د هلکانو د صف مخې ته د تیریدو ضرورت پیدا شي نو پدې کې څه پروا نشته او جائز دی[2]

---

[1] ـ او مر مار فی موضع سجوده لا تفسد الخ فصل فیما لا یفسد الصلوة (مرقاة ۴۸۹/۱)

۱۰۲ سوال : پدې مسئله کی علماء کرام او مفتیان صاحبان څه فرمایي . یو سړی د ماښام مونځ امام سره یو رکعت ونیولو او بیا د امام د سلام نه وروسته دوه رکعته پوره کونو سره آخر کی قعده وکړه او یو رکعت نه وروسته یې قعده ونه کړه لکه چې عامه قاعده ده . نو د هغه مونځ وشو یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

جواب : پدې مسئله کی یوه رکعت نه وروسته قعده کول پکار و «« و یقضی اول صلوته فی حق قراة و اخرها فی حق تشهد فمدرک رکعة من غیر فجر یاتی برکعتین بفاتحه و سورة و تشهد بینهما»» (درمختار باب الامامة)

لیکن که یو چا اول رکعت نه وروسته قعده ونه کړه او آخر کی وکړه او سجده سهوه یې هم ونه کړه او استحساناً د مونځ صحیح کیدو فتوی ورکولی شی:

و من جملتها ما اشرنا الیه انه یقضی اول صلاته فی حق القراة و اخرها فی حق القعده حتی لو ادرک مع الامام رکعة من المغرب فانه یقرا فی الرکعتین الفاتحة والسورة و یقعد فی اولهما لانها ثانیة و لو لم یقعد جاز استحساناً لا قیا ساً و لم یلزمه سجود السهود لو سهواً الکونها اولی من وجه (کبیری شرح منیه ص ۴۴۰ صفة الصلوة)

و ان ادرک مع الامام رکعة من المغرب یقر فی الرکعتین اللتین سبق بهما السورة مع الفاتحة و یقعد فی اولهما لانه یقضی اول صلاته فی حق القراة و اخرها فی حق القعده و لکن لو لم یقعد فیها سهواً لا یلزمه سجود سهود لکونها اولی من وجه (صغیری ص ۲۳۰ ، ۲۳۱ ایضاً) (قرء و تشهد بینهما) قال فی شرح المنیه و لو لم یقعد جاز استحساناً لا قیاساً و لم یلزمه سجود السهود لکون الرکعة اولی من وجه الخ (شامی باب الامامة ج۱ ص ۵۵۸) او ددی تائید لاندې راتلونکی حدیث نه کیږي:

((عن ابن مسعود (رض) انه جندباً و مسروقا ادرکا رکعة یعنی عن صلاته المغرب فقرا جندب و لم یقرا مسروق خلف الامام فلما سلم الا مام قاما یقضیان فجلس مسرق فی الثانیة والثالثة و قام جندب فی الثانیة و لم یجلس فلما انصرف تذکر اذلک فاتیا ابن مسعود فقال کل قد اصاب او قال کل قد احسن و اصنع کما یصنع مسروق رواه الطبرانی فی الکبیر با سانید بعضها ساقط منه رجل و فی هذا الطریق جابر النخعی و الا کثر علی تضعیفه (مجمع الزوائد ج۱ ص ۱۷۲))

( ) فی المسجد قام فی آخر صف و بینه و بین الصفوف مواضع خالیة فللداخل ان یمر بین یدیه لیصل الصفوف لانه اسقط حرمة نفسه فلا یاثم المار بین یدیه الخ شامی باب الامامة مطلب فی الکلام علی الصف الاول ج۱ ص ۵۳۳

حضرت مولانا سید اصغر حسین محدث دیوبندی هم دا قول اختیار کړی دی ، لکه چې فتاوی محمدی کی دی:
((د سیدنا ابن مسعود (رض) فتوی ، استفتاء : مونږه دواړو مابنام مونځ کی امام سره یو رکعت وبیولو ، د امام د سلام نه وروسته مونږ دواړو د پاتې شوو رکعتونو ادا کولو لپاره ودریدو ، مسروق یو رکعت نه وروسته قعده وکړه (او بیا یو رکعت نه وروسته دریم قعده کولو سره مونځ پوره کړ ، لیکن جندب یواخې آخری رکعت ادا کولو نه وروسته قعده وکړه . نو د کوم یو کار صحیح دی؟
(جواب) ناسو دواړو ښه کړی (یعنی د دواړو مونځ شوی دی) لیکن زه دا خوښوم چې د مسروق پشان مونځ وکړم (یعنی یو رکعت نه وروسته قعده وکړم)
شرح : څرنګه چې دود رکعتونه وروسته کیناستل (قعده) واجب ده لهذا یو رکعت امام سره او یو رکعت خانته کولو نه وروسته قعده کول پکار دی لیکن که یوه رکعت خانته ادا کولو نه وروسته قعده ونه کړی بلکی یواخې آخر کی قعده وکړی لکه چې جندب کړی ؤ بیا هم مونځ صحیح کیږي او سجده سهوه هم نه لازمیږي (فتاوی محمدی (۸۷ صفحه)) فقط والله اعلم .

د رکعتونو په شمیر کی چې شک پیدا شي:

(۱۰۵ سوال) ماته لمانځه کی شک پیدا شو چې اول رکعت دې او که دویم پداسې موقع کی د امام مقتدیانو طرف ته خیال کول چې که مقتدیان ودریدل نو امام هم ودریږي او که مقتدیان کیناستل نو امام هم کینی ، که پدې شکل خپله غلطی اصلاح کړی نو مونځ کیږي یا نه؟

(جواب) مونځ صحیح کیږي ، دوباره کول او د سجدی سهوی ضرورت نشته ، (فتاوی عالمګیری ۱/۶۹۷)

که آخره قعده کی امام فوت شي؟

(۱۰٦سوال) که آخره قعده کی امام فوت شی نو د مقتدیانو د لمونځ څه حکم دی ؟

(جواب) پدې صورت کی لمونځ باطلیږي دوباره کول یې پکار دي.

((بقی من المفسدات ارتداد بقلبه و موت (درمختار) (قوله موت (اقول تظهر ثمر ته فی الامام لو مات بعد القعدة الاخیرة بطلت صلوة المقتدین به فلیزمهم استینا فها لبطلان الصلوة بالموت بعد القعدة قد ذکر الشرا نبلالی من جملة المسائل التی زاد ها

لخ , شامی ص ۵۸۸ ج۱ باب ما یفسد الصلاة و ما یکره فیها))۰

_د لمونځ شروع کیدو نه بعد د یو چا په توجه اړولو سره د مکبر تکبیر ویل:

(۱۰۷سوال) کله چې مونځ شروع کېدو هغه وخت کی د مکبر ضرورت نه ؤ پدې وجه مکبر تکبیر ونه ویل یو رکعت نه وروسته یو چا شاته نه آواز وکړ چې د امام صاحب آواز نه راځی پدې باندې یو سړی تکبیر ویل شروع کړی ، کوم خلک چې د مکبر په تکبیر باندې رکوع سجده وکړی د صفوی مونځ کېږي یا نه؟ دلته ځینی خلک وایی چې پدې سره مونځ فاسدېږي نو دا خبره صحیح ده یا نه؟

(جواب) یو چا وویل : ((آواز نه راځی)) پدې باندې یوچا ته خیال شو چې واقعی د مکبر ضرورت دی نو بیا پدې خیال سره تکبیر ویل شروع کړی۰، پدې سره مونځ نه فاسدېږي ځکه چې دې پخپل خیال باندې عمل کوی لکه څنګه چې یو څوک باهر نه مونځ ګذار ته فتح ورکړی او مونځ ګذار ته د خپلی غلطی احساس وشي او د خپل یاد باندې اصلاح وکړی نو پدې سره مونځ نه فاسدېږي ، فقط والله اعلم.

_ماسپښین مانځه آخره قعده ونکړي پنځم رکعت نه پاڅیږي

(۱۰۸ سوال) زمونږ امام صاحب ماسپښین مانځه کی دوه رکعته خو صحیح وکړي بیا دریم رکعت کی امام صاحب قعده وکړه او هیچا هم فتح ورنکړه نو امام صاحب تشهد پوره کولو سره څلورم رکعت ته ودرید او د څلورم رکعت نه وروسته بغیر د قعدې نه پنځم رکعت ته پورته شو او پنځم رکعت پوره کولو نه وروسته قعده وکړه او سلام ګرځولو سره یې لمونځ ختم کړ نو مقتدیانو وویل چې امام صاحب پنځه رکعته وشول لمونځ دوباره وکړئ او امام صاحب وویل چې سجده سهوه می کړی نو د دوباره کولو ضرورت نشته او دا یې هم وویل چې که سجده سهوه مې هم نه وای کړی بیا هم لمونځ صحیح کیدو، د څلورو رکعتو په ځای چې پنځه رکعتونه کړی دی نو لمونځ کیږي یا نه ؟

(جواب) پدې مسئله د ماسپښین فرض نه دی ادا شوی ، دوباره کول یې ضروری دی ، د څلورم رکعت نه بعد قعده فرض وه پدې صورت کی سجده سهوه کافی نه

ده[۱] البته که څلورم رکعت نه وروسته قعده کړی وای او بیا ودربدو سره پنځم رکعت کړی وای یا پنځم رکعت ته ودربدلی وای نو د سجدې نه مخکې به کیناستلو نو پدې صورتو کې بیا سجده سهوه کافي وه ، فقط والله اعلم.

_اسویلی کولو سره آوازو وځی او یوه دوه حرفو ته ظاهر شي نو پدې سره مونځ فاسدیږي ؟

(۱۰۹سوال) مانځه کی یو سړی د ستړیا له وجې اسویلی وکړی او ورسره آواز راوځی چې یوه دوه حرفونه ترینه ظاهر شي نو پدې سره مونځ فاسدیږي یا نه؟

(جواب) که د مجبوری نه اسویلی کړی وی او احتیاط کوی چې آواز ونه وځی نو معاف دی او که احتیاط پکې نه کوی او د بې احتیاطی په وجه اواز وځی او حرفونه پیدا شي نو مونځ فاسدیږي (عمدة الفقه ۲۵۲/۲) په در مختار کی دی : ((یفسدها..... (والتنحنح) بحرفين (بلا عذر) امابه بان نشامن طبعه فلا (او (بلا (غرض) صحيح لو لتحسين صوته او ليهتدى امامه او للاعلامه انه فى الصلوة فلا فساد على الصحيح (درمختار ج ۱ ص ۵۷۸ باب ما يفسد الصلوة و ما يكره فيها))

_د زلة تدارک په صورت کی د مونځ د صحت او عدم صحت حکم:

(۱۱۰سوال) د زلة د تدارک نه وروسته د مونځ د صحت او عدم صحت باره کی د فقهاء کرامو دوه رائې دی :- اوله رایه : په تدارک سره هم مونځ فاسدیږي او دوباره کول بې واجب دی ، په وهبانيه کی دی:-

و ان لحن القارى واصلح بعده _ اذا غير المعنى الفساد مقرر

او فتاوى كامليه (۱۳) صفحه کی دی : - ((سئلت عمن لحن فى الصلوة لحناً يغير المعنى ثم اعاد ما لحن فيها صحيحاً هل تفسد صلواته؟))

(فالجواب) انه صلاته تفسد بذلک و ان اعاو و قد اشار الى ذلک صاحب الوهبانيه بقول و ان لحن الخ قال شارحها الشر نبلالى : صورتها : المصلى اذا لحن فى قراءته لحناً يغير المعنى كفتح لام (الضالين) لا تجوز صلاته و ان اعاد بعدها على الصواب.

د قاضي د لاندینی جزئیه نه هم ددی تائید کېږی

---

[۱]_ والقعدة الاخيره فرض فى الفرض والتطوع حتى لو صلى ركعتين و لم يقعد فى آخرهما و قام وذهب تفسد صلاته كذا فى الخلاصه. الباب الرابع فى صفة الصلوة الاول فى فرائض الصلاة

ان اراد ان يقر كلمة فجرى على لسانه شطر كلمة اخرى فرجع و قرا الاولى او ركع و لم يتم الشطر ان قرا شطرا من كلمة لواتمها لا تفسد صلاته بشطر ها و للشطر حكم الكل هو الصحيح اه فتاوى قاضي خان بر حاشيه عالمگيرى مطبوعه اميريه مصر ۱ ۱۳۵ في فصل قراءة القرآن خطا و في الاحكام المتعلقة بالقراءة)) دويمه رايه په مدارک سره فساد ختميږي او بويم صحيح كيږى په (طحطاوى على الدر المختار ۱ ۲۶۷ في زله القارئ كى دى ((و في المضمرات : قرا في الصلوة بخطاء فاحش ثم اعاد و قرا صحيحا فصلوته جائزة الخ)) د امداد الفتاوى ۱ ۱۶۸ مطبوعه كراچى) كى هم د دويم صحت اختيار كړى شوى دى او د عالمگيرى په جزئيه او د حضرت مولانا محمد يعقوب نانوتوى رحمه الله (و دارالعلوم ديوبند اول مفتى) په رايه باندې استدلال كړى شوى دى . او فتاوى دار العلوم قديمى طبح ۱ ۲۳۱ . امداد المفتيين ، كى هم د صحت صلوة حكم دى هلته سوال كونكى د حضرت گنگوهى رحمه الله د عدم صحت رايه پيش كړې ده. حضرت مجيب دغه رايه د دوباره كولو په استحباب او احتياط باندې حمل كړې ده.

ستاسو جناب پدې باره كى خه رايه ده په دلايلو سره وليكى والسلام.

تپوس كونكى : (مولانا) سعيد احمد پالن پورى دار العلوم اشرفيه (سورت) ۲۰ مى ۱۹۷۳ء

(جواب) د داسې قسم غلطى او لغزشونو نه احتراز نا ممكن دى خاص كر په تراويحو كى كه چيرته اصلاح نه وروسته هم د فساد حكم ولگول شي نو ناقابل برداشت تكليف لازميږي لهذا د تكليف رفع كولو او د عام بلوى له مخى مفتى ته د صحت صلوة قول اختيارول پكار دى : ((ذكر في الفوائد لو قرا في الصلوة بخطاء فاحش ثم رجع و قرا صحيحاً قال عندى فصلوته جائزة (فتاوى عالمگيرى ۱/۵۱)

مسئله : ((ان الصلوة اذا جازت من وجوه و فسدت من وجه يحكم بالفساد احتياطاً الا في باب القراة لان للناس عموم البلوى كذا في الظهرية))

((ذكر في الفوائد : لو قرا في الصلوة بخطا فاحش ثم رجع قراء صحيحاً قال عندى صلوته جائزة انتهى . (الفتح الرحماني في فتاوى السيد ثابت ابى المعانى الا ستاذ الفقيه المحدث مولانا الشيخ حامد مرزا الفرغاني النمنكاني نزيل المدينة المنورة ص ۱۶۳))

او په مجموعه فتاوى سعديه ، كى دى

(سوال) شخصی در نماز تصلی ناراً حامیة فی جنة عالیة تسمع من تحت ... خواند
نماز صحیح شد یا نه؟
(جواب) نماز صحیح شد فی المضمرات ((ذکر فی الفوائد و لو قرا فی الصلوة بخطاء فاحش ثم رجع و قرا صحیحاً قال عندی صلواته جائزة)) انتهی (٥٢ صفحه.
(سَوال) په قرائت کی امام داسې غلطی وکړی چې معنی پرې بدلیږي لیکن د مقتدی په فتح سره غلطی صحیح شي نو مونځ کیږي یا نه؟
(جواب) کله چې د مقتدی په فتح سره صحیح کړی نو مونځ صحیح کیږي (کتاب عماد الدین ، ترتیبونکی مولانا ابو القاسم رفیق دلاوری (١٦٣ ، صفحه پاکستان) که یو ځوک په قرائت کی ښکاره غلطی وکړی او بیا یې دوباره صحیح کړی نو د هغه مونځ جائز او صحیح دی (١) عمدة الفقه د حضرت مولانا سید زوار حسین شاه صاحب ١٣٠/٢ پاکستان)

_د متیازو بوتل چې جیب کی وی او لمونځ وکړي نو لمونځ یې صحیح کیږي یا نه؟

(١١١سوال) د یو سړی جیب کی د میتازو بوتل ؤ چې تیسټ کولو ته یې وړلو د لمونځ وخت شو بوتل یې جیب کی هیر ؤ او لمونځ یې ورسره وکړ او بوتل بالکل بند ؤ نو مونځ وشو یا دوبآره کول یې ضروری دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی
(جواب) پدې مسئله کی لمونځ نه دی شوی دوباره کول یې واجب دی حامل د نجاست دی ((او یعد حاملاً له ، ای الخبث ، النجاسة)) (درمختار مع الشامی ٣٧٣/١ باب شروط الصلوة) په عمدة الفقه کی دی : (٥) که چیرته هغه پلیتی خپل معدن نه جدا شوی وی اگر که په کوم شئ کی بند وی د مونځ مانع گرځی که یو چا پداسې حال کی مونځ وکړ چې د غه په لوستونو یا جیب کی د شرابو یا د میتازو بوتل ؤ نو مونځ یې جائز نه دی ډک وی او که نه وی اگر که د هغه بوتل خوله بنده وی ځکه چې هغه شراب یا متیازی خپل معدن (د پیدا کیدو ځای) کی ندی .
(عمدة الفقه ٤٦/٢) فقط والله اعلم.

_بغیر د فکر نه لمونځ کولو نه وروسته قبلې باندې پوهېدل

(١١٢سوال) بهشتی زیور مجتبائي مطبوعه دویمه حصه (١٧) صفحه کی قبلی طرف ته مخ کولو په بیان کی او بهشتی ثمر اوله حصه (٦٦، ٦٧) صفحی د مانځه د شرطونو

په بیان کی دی ((که چیرته یو څوک پداسې ځای کی چې د قبلی معلومات نه کېږي چې کوم طرف ته ده او نه داسې څوک هلته شته چې تپوس ترېنه وکړی نو ځان سره به فکر کوی چې کوم طرف ته یې یقین راشي هغه طرف ته دی مونځ وکړی که بغیر د فکر نه مونځ وکړی نو لمونځ نه کېږي که وروسته پته ولګی چې صحیح قبلی طرف ته یې کړی دی بیا هم مونځ یې نه کېږي))

لیکن اختری بهشتی زیور عکسی کی دی ((لیکن که وروسته پته ولګی چې مونځ یې صحیح قبلی طرف ته یې کړی دی نو مونځ یې کېږي (۱٦/۲)

اوس سوال دا دی چې بهشتی زیور مطبوعه مجتبایی او بهشتی ثمر کی چې څه دی یعنی مونځ نه کېږي او په اختری بهشتی زیور کی چې دی یعنی مونځ کېږي ، پدې دواړو مسئلو کی کوم یو صحیح ده ؟ حوالو سره جواب راکړئ ډېره مهربانی به مو وی.

(جواب) اختری بهشتی زیور کی چې څه دی هغه صحیح دی ، په نور الایضاح کی دی ((و ان شرع لا تحر فعلم بعد فراغه انه اصاب صحت و ان علم باصابته فیها فسدت (نور الایضاح ص ٦٩ باب شروط الصلوة و ارکانا) (در مختار مع الشامی جلد نمبر ۱ ص ۴۰۵ باب شروط الصلوة)

ترجمه : او که بغیر د فکر نه لمونځ شروع کړی او وروسته د مانځه نه پته ولګی چې صحیح قبلی طرف ته یې کړی دی نو مونځ صحیح کېږي او که د مانځه په دوران کی پته ولګی چې صحیح قبلی طرف ته ولاړ دی نو مونځ یې فاسدېږي (لکه چې تیمم وهونکی د مانځه په حالت کی په اوبو باندې قادر شي نو مونځ ماتېږي) فقط والله اعلم بالصواب

د خوراک نه وروسته خوله کنګالو نه بغیر مونځ کول:

(۱۱۳سوال) د سحرسنتو نه وروسته خمیره خوړلو سره جومات ته لاړ او د خولی کنګالول یې هیر شول او په مانځه ودرید او د مانځه په حالت کی د خمیره د خوړوالی اثر مری کی محسوس کړ نو مونځ وشو یا نه؟

(جواب) کله چې په خوله کی خمیره نه وی یواځی خوږوالی اثر وی نو پدې سره مانځه کی څه خرابی نه راځی بغیر د شک او شبهی نه مونځ صحیح دی د دوباره کولو ضرورت نشته په شامی کی دی : ((و لو اکل شیئاً من الحلاوة و ابتلع عینها فدخل فی الصلوة فوجد حلاوتها فی فیه و ابتلعها لا تفسد صلوته)) یعنی د خوږ څیز

خوړلو سره مړی ته تیر کړ خو د خوړوالی اثر یې خوله کی پاتې ؤ نـو د خـوړوالی پـه تېرولو سره مونځ نه فاسدېږي (شامی ۵۸۳/۱ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها) فقـط والله اعلم

ـد مونځ په حالت کی بچی د مور پی وځکي:

(۱۱۴سوال) ښځی مونځ کولو کله چې قعده کی کیناسته نو بچی یې راغی او تی یې خوله کی ونیوه او رول یې شروع کړ پدې سره مونځ کی څه فرق راځی؟

(جواب) بواځی تی په خوله کی نیولو سره مـونځ نـه فاسـدېږي البتـه کـه پـی یـې وځکلی نو مونځ فاسدېږي ، په فتاوی عالمگیری کی دی :

((صبی مص ثدی امراة مصلیة ان خرج اللبن فسدت و الا فلا لانـه متـی خـرج اللـبن یکون ارضاعا و بدونه لا کذا فی محیط السرخسی (ج ۱ ص ۱۰۴ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها فصل فی الاستخلاف)) فقط والله اعلم

ـد خوش آوازی نه مانځه کی ژړا وشي:

(۱۱۵سوال) د امام قرائت اوریدو سره مانځه کی په آواز سره ژړا وشي نو مونځ یـې کېږي یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) د الله تعالی له ویری او د جهنم له تذکری نه چې لمانځه کی ژړا ورشي نـو پدې سره مونځ نه ماتېږ ((لا تفسد بحصولها من ذکر جنـة او نـارٍ اتفاقـاً لـدلالتها علـی الخشوع ای الخوف من الله تعالی الواحد القهار)) (طحطاوی (۱۷۸ صفحه) بـاب مـا یفسد الصلوة

او که چیرته یواځی د خوش آوازی نه ژړا ورشي نو بیا لمونځ ماتېږي : ((فلو اعجبتـه قراة الامام فجعل یبکی و یقـول بلـی او نعـم او آری لا تفسـد سـراجیه لدلالتـه علـی الخشوع قال الشامی رحمه الله تعالی افادانه لو کـان اسـتلذاذا بحسـن النغمـة یکـون مفسدا (شامی ج ۱ ص ٦۱۹ و ص ٦۲۰ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها)) فقط والله اعلم.

ـماسخوتن مانځه کی آخری قعده ونه کړه او شـپږ رکعتـه یـې وکړل نو فرض ادا شو یا نه؟

(۱۱٦سوال) ماسخوتن مانځه امام صاحب څلـور رکعتـه وکـړل او بغیـر د قعـدی نـه

وړیدو ، مقتدیانو فتح ورکړه خو بیا هم کیناست او شپږ رکعته کولو سره قعده وکړه او سجده سهوه یې وکړه او سلام یې وګرځولو نو فرض صحیح شو؟

(جواب) ناسخوتن مانځه کی اوله قعده واجب ده ددی په پاتې سره د سجده سهوی په کولو سره مونځ کېږي لیکن آخره قعده فرض ده ددی په پاتی کیدو سره سجده سهوه نه کافی کېږي لهذا پدې ذکر شوی مسئله کی مونځ ندی شوی دوباره کول یې ضروری دی او دا شپږ رکعته نفل شو[1] فقط والله اعلم ۸ ذی قعده ۱۳۷۹ هـ

_که د مونځ په حالت کی د امام صاحب مری ته مچ پرېوځی نو څه حکم لری؟

(۱۱۷ سوال) د لمونځ په دوران کی د امام صاحب مری ته مچ پرېوته او د کوشش باوجود باهر ونه وته او مری ته وردننه شوه نو پدې صورت کی لمونځ صحیح کېږي یا دوباره کول ضروری دی؟

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : پدې مسئله کی لمونځ صحیح کېږي دوباره کولو ضرورت نشته ((و لو اکل ما بین اسنانه لا تفسد لانه لا یمکن الاحتراز عنه و لهذا لا یبطل به الصوم الخ)) (عینی شرح کنز باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها ۱/۴۳)

((او دخل حلقه ای حلق الصائم ذباب او غبار وهو ای والحال انه ذاکر لصومه لعدم استطاعة الامتناع عنه فاشبه الدخان الخ (عنی شرح کنز باب ما یفسد الصوم و ما لا یفسده ج۱ ص ۸۴))

نتیجه معلوم شو چې د مونځ یا د روژی په حالت کی بغیر د ارادی نه مری ته د مچ پریوتو سره مونځ او روژه نه ماتېږي ځکه چې لدېنه خان ساتل مشکل دی او دا د غبار او لوګی پشان دی ، فقط والله اعلم ٦، جمادی الثانی ۱۳۸۵ هـ

---

[1] سها عن القعود الاول من الفرض و لو عمليا اما نفل فيعود ما لم يقيد بالسجدة ثم تذكر عاد اليه ما لم فيستقم قائما فی ظاهر الرواية وهو الاصح و الاای و ان استقاما قائما لا يعود لا شتغاله بفرض القيام و سجد للسهو..... و لو سها عن القعود الاخير قيدها سجدة عامدا او نا سيا او سا هيا او خطآ تحول فرضه نفلا برفعه الجبهة عند محمد و به يفتی در مختار علی هامش شامی ج۱ ص ۲۸۷ ، ۲۹۹ باب سجود السهو.

_ د لمونځ حالت کی چې وسوسی راشی ددی علاج

(۱۱۸) سوال . نن صبا عام طور سره لیدل کېږي چې څومره خلک مانځه لپاره راځي ددوی په دماغو کی قسماقسم خیالات او سوچونه گرځی او ځینی داسې هم دی چې ددی خیالاتو د لری کولو ډېر کوشش هم کوی خو ناکامېږي نو ددوی مونځ کیږي یا نه ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلما په زړه کی خیالات او وسوسی پیدا کیدل د انسانی اختیار نه باهر دی لهذا پدې سره مانځه ته څه نقصان نه راځي . البته پحیله د خطری قائم ساتل او په زړه کی راوستل او دې سره دلچسپی لرل یقیناً بد دی . یو صحابی (رض) رسول الله (ص) ته ددی شکایت وکړ نو وی فرمایل : تاسو دغو خطراتو ته بالکل توجه مه کوئ او پخپل مانځه کی مشغول ووسئ ، لهذا که خطره راشي نو دې طرف ته باید توجه ونکړی شی بلکی مانځه کی قرائت او د حروفو تصحیح طرف ته زیاته توجه وشي ، که د خطری په وجه خپل مونځ بیکاره وگڼی او پریدی نو شیطان به خپل مقصد کی کامیاب شي ، حضرت عثمان بن ابی العاص (رض) د رسول الله (ص) په خدمت کی حاضر شو او عرض یې وکړ یا رسول الله ماته په مانځه کی شیطان حائل او پرده جوړېږي تر دی پورې چې په قرائت کی هم راته شک اچوی نو پداسې موقع باندې څه وکړم ؟ رسول الله (ص) وفرمائل : ددی شیطان نوم (خنزب) دی کله چې پوهه شي چې دا راغلی نو د الله پاک نه پناه غواړه او درې ځلی کس طرف ته یعنی د زړه په طرف وتوکئ ، حضرت عثمان بن ابی العاص (رض) فرمایی ما داسې وکړل نو الحمد لله ددی عمل په برکت سره الله تعالی دغه وسوسه رفع کړه.
((و عن عثمان بن ابی العاص قال قلت یا رسول الله ان الشیطان قد حال بینی و بین صلوتی و بین قراتی یلبسها علی فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ذاک شیطان یقال له خنزب فاذا احسسته فتعوذ بالله منه و اتفل علی یسارک ثلاثا ففعلت ذلک فاذهبها الله عنی رواه مسلم (مشکوة ص ۱۹ باب الوسوة)) او لا حول ولا قوة الا بالله العظیم ویلو سره هم وسوه رفع کېږي ، انشاء الله تعالی . فقط والله اعلم ۲۹ ربیع الاول ۱۳۸۵ هـ

_ مانځه لپاره خلک بیدارول:

(۱۱۹) سوال) زمونږ په محله کی خلک د شپې ناوخته ویده کیدو په وجه د سحر د جماعت کی نشي شاملیدی پدې وجه دلته د سحر اذان نه وروسته څو کسان په محله

کړي کښت کوي او خلک را بیداروي او مانځه ته یې رابلي پدې طریقه په جماعت کې ګډوډیا (۰ ۱) کسان شریک کېږي او پدې ترتیب راوینس نه کړی شي نو (۲۵) نه تر (۳۰) کسانو پورې کېږي ، څو کسان وایي چې پدې طریقه د خلکو مانځه لپاره راوینول ګناه ده نو د شریعت څه حکم دی؟ او پورته کیدونکی خلک پدې باندې راضي او خوشحاله دی ، تاسو د حوالو سره جواب ولیکئ مهرباني ، (له سورت نه)

(جواب) اصل حکم دا دی چې تثوب (اذان نه وروسته اعلان) مکروه دی ځکه چې اذان کافي دی او د اذان نه وروسته د اعلان ضرورت نه پاتې کېږي بلکې په دې سره د اذان اهمیت کمېږي ، مګر افسوس چې د الله تعالی بلنی ((حی علی الصلوة)) ((حی علی الفلا ح)) مسلمان پروا نه کوي پدې وجه ځینو علماؤ د غافل تنبیه او خبر دارئ اجازت ورکړې ده . په مجالس الابرار کې دی :-

((و لظهور التوانی فی الامور الدینیة استحسن المتاخرون التثویب بین الاذان و الاقامة فی الصلوات کلها سوی المغرب و هذا العود الی الاعلام بعد الاعلام بحسب ما تعارفه کل قوم لانه مبالغة فی الاعلام فلا یحصل ذلک الابما یتعارفونه ، (مجالس الابرار ص ۲۸۷ مجلس ص ۴۸))

او کبیری کې دی : ((واستحسن المتاخرون التثویب وهو العود الی الاعلام بعد الاعلام بحسب ما تعارفه کل قوم لظهور التوانی فی الامور الدینیة (ص ۳۶۱) (نور الایضاح ص ۶۲ باب الاذان) (شامی ج۱ ص ۳۶۱ ، ص ۳۶۲ ایضاً)) .

یقینا چې د سحر وخت د غفلت وخت دی د غافلانو د رابیدارولو او د مانځه عادتي جوړولو لپاره همت والا خلک چې بیدارولو لپاره ګرځي نو ددوی د منع کولو ضرورت نشته څو پورې چې ضرورت وي دا عمل دې جاري وساتل شي ، مګر کار په سلیقه سره کیدل پکار دی ، تماشه دې نشي جوړولي او د مسلمانانو د ازار او تکلیف باعث نه وي ، او کوم مستورات او معذورین چې په کورونو کې په مونځ او ذکر کې مشغول وي نو د هغوی لحاظ به کولی شی ، خلکو ته پکار دی چې ځان په غافلانو کې ونه شمېري او خلک د بیدارولو له زحمت نه وساتي ، شیخ سعدی څه ښه ویلي دی :

ګفتم این شرط آدمیت نیست ــ مرغ تسبیح خوان و من خاموش

یعنی دا د سړیتوب نه ډېره لرې ده چې د ځنګل ځناور او مرغی خو دی د الله په یاد کې مشغول وی او زه (انسان او مسلمان کیدو ... د الله او د رسول د محبت دعوی کولو) غافل پروت ووم

خیری کن ای فلان و غنیمت شمار عمر ـ زان پیشتر که بانگ بر آید که فلان نماند
یعنی ای سړیه په نیکی لګیا اوسه او ژوند غنیمت وګڼه مخکی لدې چې (ناره کولو کی درته) اعلان وشي چې فلانی مړ شو (ګلستان) فقط و الله اعلم. ۲۷ جماد الثانی ۱۳۹۷ هـ

ـ که د تهجد کونکی پسې خلک اقتداء وکړی نو د کراهت ذمه وار څوک دی؟

(۱۲۰سوال) امام صاحب د قرآن حافظ دی، اعتکاف کی کینی په نفلي رکعت په تهجدو کی درې سیپاری لولی او دوه نور معتکفین مقتدیان وی مګر کله کله نور کسان هم شریک کېږي نو څه پروا خو نلری؟ که لری نو ددی ذمه وار څوک دی؟

(جواب) که د امام صاحب د صراحتاً یا کنایة او یا اشارةً اجازت نه بغیر خلک شریک شول نو د کراهت ذمه واران هغوی دی لیکن امام صاحب ته ښکار دی چې د مصلی په بیانولو سره د شریک کېدو نه منع کړی او که نه امام صاحب د کراهت نه ذمه واری نه خلاصیدلی نشي)) و لو اقتدی به واحد او اثنان ثم جاءت جماعة اقتدوا به قال الرحمتی ینبغی ان تکون الکراهة علی المتاخرین)) یعنی نفل کونکی پسې نو دوه کسان اقتداء وکړی بیا نور خلک شریک شي نو علامه رحمتی فرمایي چې د کراهت ذمه واران وروسته راتلونکی خلک دی (شامی ۱/۶٦۴ مطلب کراهیة الاقتداء فی النفل علی سبیل التداعی و فی صلاة الرغائب)) فقط والله اعلم.

ـ که یو مقتدی ګس یا ښاته ودروي څه حکم لېږي دی؟

(۱۲۱سوال) که یو مقتدی وی نو د ښی طرف ودرولو په ځای ښاته ودروی او یا ګس طرف ته نو لمونځ کېږي یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جوا ب) مونځ خو کېږي مګر خلاف سنت کېدو په وجه د بی ادبی مرتکب ګرځی ((حتی لو صلی فی یساره او خلفه جاز و یکون مسیئاً لمخالفة السنة)) (عینی شرح د کنز الدقائق ۱/۳۹، باب الامامة) فقط والله اعلم.

ـ په زوره اول صف کی ځای پیدا کول:

(۱۲۲سوال) زید اذان کیدو سره جوماث ته راځی او اول صف کی کینی او بکر جومات ته راتلو سره آخری صف کی کینی او د اقامت په وخت کی کله چې زید وغیره صف بندی کوی نو بکر د آخری صف نه د ټولو صفونو خیرلو سره اول صف

کی د زید ارزو نه په زوره د داخلیدو کوشش کوی زید ورته وایی چي دا کار نا زیبا او خلاف شریعت دی که د اول صف فضلیت حاصلول وی نو له مخکی نه په راتللو سره کماسل پکار دی مگر بکر نه منی نو د بکر دا کار شرعا څنګه دی؟

جواب: کله چي مونځ کذار د مونځ په اراده جومات ته ځي نو د ابتداء نه په اول صف یا کوم ځای کی چي خالی ځای و کینی . وړمبنو صفونو کی خالی ځای باوجود شانه کیناستل او بیا وروسته دیکه ورکولو سره اول صف کی ننوتل مونځ کذارو ته تکلیف رسول دی او دا حرکت نا زیبا او سخت مکروه دی فقط

_که مقتدی امام نه مخکی سلام وګرځوی څه حکم یې دی؟

(۱۲۳سوال) کوم سړی چې د امام نه مخکی سلام وګرځوی نو مونځ وشو یا ناقص واجب الاداء ګرځی ؟ او یا امام سره دوباره سلام وګرځوی ؟ وضاحت وکړئ مهربانی

(جواب) بغیر د شرعی عذر نه چې مقتدی امام نه مخکی سلام ګرځوی نو اګر که مونځ کیږي خو مکروه کیږي هغه ته پکار دی چې امام سره یو ځای مونځ پوره کړی او امام سره دوباره سلام وګرځوی . په در مختار کی د ی:

((و لو اتمه قبل امامه فتکلم جازو کره (وله ولو اتمه) ای لو ام الموتم التشهد باءن اسرع فیه و فرغ منه قبل اتمامه فاتی بما یخرجه من الصلوة کسلام او کلام او قیام جاز ای صحت صلاته لحصو له بعد تمام الارکان لا ن الامام و ان لم یکن اتم التشهد لکنه فعدد قدره لان المفرض من القعدة قدر اسرع ما یکون من قرائة التشهد و قد حصل و انما کره للمونم ذلک لترکه متابعة الامام بلا عذر فلو به کخوف حدث او خروج وقت جمعة او مرور مار بین یدیه فلا کراهة (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۴۹۰ قبیل مطلب فی وقت ادراک فضیلة الافتتاح آداب الصلوة))

_د اول صف په وړاندی کولو باندې اشکال او جواب یې :

(۱۲۴سوال) مکرم او محترم جناب عالی حضرت مفتی صاحب زیدت معالیه السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

له ډیرې مودې د ستاسو محترم له احوالو نه نا خبر یم پدې وخت کی یو ضرورت

---

(۱) فی المعراج الافضل ان یقف فی الصف الآخر اذا خاف ایذاء احد قال علیه الصلاة والسلام من ترک الصف الاول مخافة ان یؤذی مسلماً اضعف له اجر صف الاول و به اخذ ابو حنیفة و محمد شامی مطلب فی ... الصف الاول ج۱ ص ۵۳۲

مخې ته راغلی هغه دا چې ستاسو فتاوی رحیمیه ۴۵/۳ کې دا مسئله پدې صورت لیکل شوې ده ((البته که وروسته د جومات خانه یا برانډه او صحن کې هم ځای نه وی او که وی هم نو د باران یا د سختې ګرمی په وجه ودریدل مشکل وی نو بیا کراهت نشته))

زمونږ په ښار کې ددی ضرورت په وجه د جواز په مسئلی باندې د علماؤ تر منځ اختلاف دی امید دی چې تاسو محترم د پورتنی مسئلی حواله ولیکئ ، مهربانی

(جواب) ډېر محترم او معظم جناب مولانا صاحب د امت برکاتهم ، مسنون سلام ستاسو مبارک خط راورسید د احوالو د پوښتنې مو (جزاکم الله تعالی) پاک الله مو د ژوند تر پایه پورې د دین په خدمت کې بوخت وساته او قبولیت درجې ته رسولو سره د نجات ذریعه وګرځوه ، امین بحرمة سید المرسلین (ص) ستاسو د اشکال جواب دا دی چې دا د بلا کراهت جواز حکم د کوم نص سره معارض او ټکر ندی بلکې د قرآنی نصوصو او فقهی قواعدو سره بالکل مطابق دی لکه د الله تعالی دا قول ((یرید الله بکم الیسر و لا یرید کم العسر)) یعنی الله تعالی په تاسو باندې آسانی کول غواړې سختی کول نه غواړی (سورت بقرة) او دا قول د الله تعالی (و ما جعل علیکم فی الدین من حسج) یعنی الله تعالی د دین په معامله کې تاسو باندې تنګی او تکلیف ندی کړی (سورت حج) او ((الضرورات تبیح المحظورات)) یعنی ضرورت او حاجت ممنوع څیز روا کوی (الاشباه والنظائر (۱۰۸ صفحه حصه قواعد) او ((المشقة تجلب التیسیر)) یعنی سختی آسانی پیدا کوی (الاشتباه) او ((نصاب الاحتساب)) کې دی ((و یکره الصلوة فوق الکعبة و کذا الصعود علی سطح المسجد الا لحاجة اصلاح و نحوه و کذا الصعود علی سطح کل مسجد مکروه و لهذا اذا اشتد الحریکره ان یصلوا بالجماعة فوق السطح الا اذا ضاق المسجد فحینئذ لا یکره الصعود علی سطحه للضرورة الخ.))

یعنی : په محیط کې دی چې د کعبې شریفې او د جومات په چت باندې مونځ کول (د بی ادبی ادبی حرمتی په وجه) مکروه دی ، البته که چیرته د تعمیر او د مرمت د ضرورت په وجه ختل دی نو بیا مکروه نه دی او همدا شان هر یو جومات چې وی د هغه چت ته ختل مکروه دی او پدې بناء دا هم مکروه دی چې د ګرمی د زیاتوالی په وجه په چت باندې جماعت وکړی مګر که جومات کې مونځ ګذار نه ځائیدل نو بیا مکروه ندی . انصاب الاحتساب قلمی (۱۵) باب (۳۲ صفحه) او همدا شان په

فتاوی عالمگیری کی دی : ((الصعود علی سطح کل مسجد مکروه و لهذا اذا اشتد الحر یکره ان ایصلوا بالجماعة فوقه الا اذا ضاق المسجد حینئذ لا یکره الصعود علی سطحه للضرورة کذا فی الغرائب (فتاوی عالمگیری ج۵ ص ۳۳۲ کتاب الکراهیة الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة والمصحف الخ))
لهذا که مونځ ګذارو باندې د مونځ کولو ځای تنګ شی نو د ضرورت په وجه د اول صف را وړاندی او مخکی کول بلا کراهت صحیح دی ، فقط والله اعلم ۲۱ ، شوال ، ۱۴۰۱ هـ

_ لمانځهٔ کی پټکې وهل:

(۱۲۵سوال) دلته زمونږ امام صاحب اکثر له پټکی نه پرته مونځ ورکوي ایا پدې شکل مونځ ورکول صحیح دی ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) که د امام صاحب په لباس کی پټکی شامل دی یعنی بغیر د پټکی نه بازار او مجلسو ته نه ځی نو د داسې امام صاحب بغیر د پټکی نه مونځ ورکول مکروه تنزیهی دی او د چا په لباس کی چې پټکی شامل نه وی هغه لپاره مکروه ندی ، پټکی سره مونځ ورکول مستحب دی لیکن کله کله دې نه وهل کیږي تر څو عوام دا لازمی او ضروري ونه ګڼي [1] فقط والله اعلم.

_لمانځه کی د ګیری او کپړو سره لوبی کول:

(۱۲٦سوال) امام صاحب لمونځ ورکوی خو د لمونځ شروع کولو نه وروسته خپل لاس په ګیره او مخ باندې راتیروی او بیا بیا خپل قمیص او جامی سموی د رکوع نه پورته کیدو سره خپل پرتوک راغونډولو سره سجدی ته ځی ، په مانځهٔ کی داسې حرکتونه کول څنګه دی ؟ مونځ مکروه کیږي یا نه ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) امام ته داسې حرکتونو څخه ځان ساتل پکار دی پدې سره لمونځ مکروه کیږي او عمل کثیر جوړیدو سره د مونځ فاسدیدو نوبت هم راځی ، لهذا له داسې عبثو افعالو نه امام او مونځ ګذارو لره بچ کیدل ضروری دی ((و یکره ایضاً ان یکف ثوبه وهو فی الصلوة بعمل قلیل بان یرفع من بین یدیه او من خلفه عند السجود)) (کبیری (۳۳) صفحه مکروهات صلوة) فقط والله اعلم.

---

[1] والمستحب للرجل ان یصلی فی ثلاثة اثواب ، قمیص و ازارو عمامه فتاوی تتار خانیة ما یکره للمصلی و ما لا یکره ج۱ ص ٥٦٧

_ په لنګ کی خطبه او مونځ ورکول:

(۱۲۷سوال) د جومات یو امام ته چا وویل چې په لنګ کـی منبـر بانـدې د جمعـې خطبه نشي ورکولی . پدې باره کی د شریعت محمدی څـه حکـم دی پـه لنـګ کـی خطبه ورکولی شی یا نه؟ او پدې شان سره مونځ کـول څنګـه دی ؟ وضـاحت وکـړی خیر یوسئ.

(جواب) په کوم لباس چې باهر وتل . بازار د غم او ښادی مجلسو کی شـریک کـول خوښ نه ګڼی عیب ورته ښکاری نو په هغه لباس کی مونځ کول او ورکول هم مکروه دی ((و صلوته فی ثیاب بذلة یلبسها فی بیته ، و فی الشامی . قال فی البحر و فسر هـا فی شرح الوقایة بما یلبسه فی بیته و لا یـذهب بـه الـی الاکـابر و الظـاهران الکراهـة تنزیهیة اه (در مختار شامی ج۱ ص ۵۹۹ مطلب مکروهات الصلوة))فقط والله اعلم.

_د مقبری جومات کی جماعت ورکول:

(۱۲۸سوال) که د مقبرې په منځ کی جومات وی په هغه کی پنځـه وختـه مونځونـو جماعت کول جائز دی یا نه؟ او په داسې جوماتو کی مونځ مکروه کیږي یا نه؟

(جواب) د جومات په چار دیوالی کی دننه چې منونځ کولو کی مونځ ګذار مخـی ، ښی او ګس طرف ته قبرونه ، نه وی نو بیا بغیر د کراهت نـه مـونځ صـحیح دی ، پـه کبیری کی دی : ((و یکره ان تکون قبلة المسجد الی المخرج او الی الحمام او الـی قبر لان فیه ترک تعظیم المسجد و فی الخلاصة هذا اذا لم یکن بـین یـدی المصـلی و بین هذا الموضع حائل کالحائط و ان کان حائطاً لا یکره (ص ۳۵۳ مکروهات صلاة)) فقط والله اعلم.

_ په غصب کړی ځمکه کی د مونځ حکم:

(سوال) یوه غصب شوی ځمکه ده په هغه کی شـرعاً یـوه دوه ورځـی مـونځ کولـو اجازت شته یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) په غصب شوی ځمکه باندې مونځ کیږي مګر سره د پوهی بغیر د مجبـورئ نه پدې ځای کی مونځ کول د کراهت نه خـالی نـه دی، دې لپـاره بـه د مالـک نـه اجازت اخلي ((الصلوة فی ارض مغصوبة جائزة و لکن یعاقب بظلم فما کان بینه و بین الله یثاب و ما کان بینه و بین العباد یعاقب کذا فی مختار الفتاوی و فتاوی عالمګیری . ج۱ ص ۱۰۹ . الفصل الثانی فیما یکره و ما لا یکره . و طحطـاوی ص ۲۰۹ فصـل فـی

السکرهات ›› فقط والله اعلم

_ په مانځه کی د وسوسې لرې کولو لپاره بیا بیا عوذ بالله ویل:

(۱۲۹سوال) زمونږه امام صاحب وایی : په مانځه کی (خفیه وی کـه جهری) چې وسوسه راشي نو بیا بیا اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ویلو سره وسوه ختمیږي نو پدې طریقه اعود بالله الخ ویلو سره مونځ کی نقصان راځی یا نه؟ او د امام صاحب هدایت صحیح دی یا نه؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) په مانځه کی د وسوسې دفع کولو لپاره بیا د اعوذ بـالله الـخ ویلـو هـدایت صحیح نه دی اګر که د مونځ په فاسدیدو کی د فقهاؤ اتفاق ندی مګر د کراهـت نـه خالی ندی ((و لو حوقل لدفع الوسوسة ان لامور الدنیا تفسد لا لامـور الاخـرة)) (در مختار ۵۸۱/۱ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها) یعنی که چیرته مونځ ګـذار لا حـول ولا قوة الخ وویل نو که چیرته وسوسه دنیاوی کارو لپاره وه نو مونځ مـاتیږي او کـه د آخروی کارو لپاره وه نو بیا نه ماتیږي :-

((و لو تعوذ لدفع الوسوسة لا تفسد مطلقاً (الی قوله) و لو تعوذ لدفع الوسوسة لا تفسد مطلقاً نظر اذا لا فرق بینها و بین الحوقلة فلیستامل (طحطاوی علی الدر المختـار ج۱ ص ۴۱٦ باب ما یفسد الصلوة و یکره فیها))

(۱۳۰ سوال) د سحر او ماسپښین سنت مؤکد ادا کولو نه وروسته د فرض نـه مخکـی دنیوی خبرو کی لګیا کیدو نه سنت باطلیږی ؟ یا ثواب یې کموی صحیح خبره کومـه ده ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) ځینی فقهاء لیکی چې د سنت او د فرضو تر منځ دنیوی خبـری کولـو سـره سنت باطلیږي مګر قوی دا ده چې سنت نه باطلیږي البته ثواب یې کمیږي در مختـار کی دی : ((ولو تکلم بین السنة والفرض لا یسقطها و لکن ینقص ثوابها و قیل یسقطها)) (٦۳٦/۱ مطلب فی تحیة المسجد) یعنی که د سنت او د فرضو تر منځ دنیوی خبـرې وکړی نو سنت نه باطلیږی مګر ثواب یې کمیږي او یو ضـعیف قـول دا هـم دی چـې سنت باطلیږي ، فقط والله اعلم .

_په لمانځه کی چې ټوپی پرېوځی نو څه وکړی؟

(۱۳۱سوال) یو سړی د لمانځه نیت وتړي او د قیام په حالت کـی د سـر نـه تـوپی (خولی) پریوځی نو څه حکم لری ؟ هغه واپس اوچتولو سره په سر کړی یا نه؟

جواب ، په لمانځه کې د قیام یا د رکوع په حالت کې پریوتې توپۍ اوچتولو سرد بیا په سر کول جائز ندی ، عمل کثیر کېلې شي او پدې وجه لمونځ ماتېږي ، البته د سجدې په حالت کې سر خواته پریوتې توپۍ په عمل قلیل سره مثلاً یو لاس سره په سر کړې نو اجازت شته بلکې افضل دی پدې سره مونځ کې هیڅ نقصان نه راځي «و لو سقطق قلنسوۃ فاعادتها افضل الا اذا احتاجت لتکویر او عمل کثیر (در مختار مع الشامی ج۱ ص ۶۰۰ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها)» فقط والله اعلم.

_په مانځه کې په زوره یا الله ویل څنګه دی ؟

(۱۳۲سوال) د یو سړي عادت دی چې په لمانځه کې په زوره زوره یا الله وایي ددې څه حکم دی ؟ وضاحت وکړی مهرباني

(جواب) دا عادت مکروه او واجب الترک دی[1] فقط والله اعلم

_قعده کې کیناستو په وخت ښي ښپه د ځمکې نه پورته شي څه حکم لری؟

(۱۳۳سوال) دلته زمونږ یو حافظ صاحب دی یو دوه لمونځونه هم ورکوی نو کله چې په قعده باندې کینی نو پدې وخت کې د هغه ښي ښپه له ځمکې نه پورته کېږي نو مونځ کیږي یا نه؟ وضاحت وکړی مهرباني

(جواب) په قعده کې کیناستو په وخت چې ښه ښپه د ځمکه نه پورته کېږي په دې سره لمونځ نه ماتېږي لیکن داسې عادت کول مکروه دی[2] فقط والله اعلم.

_ په یوه ښپه باندې زور کولو سره ودریدل:

(۱۳۴سوال) زمونږه امام صاحب کله چې قیام کوی نو خپل ټول وزن په یوه ښپه باندې کوی او دویمه ښپه د ګوډ پشان سست پریږدی ، امام صاحب دی ته متوجه

---

[1] _ المصلی اذا مر بآیة فیها ذکر النار او ذکر الموت فوقف عندها و تعوذ من النار واستغفر او مر بآیة فیها ذکر الرحمة فوقف عندها او سئل الله الرحمة فها هنا ثلاث مسائل مسئالة المنفرد والجواب فیها انه ان کان فی التطوع فهو حسن و ان کان فی الفرائض یکره الخ فتاوی تاتار خاني ، الفصل الرابع فی بیان ما یکره للمصلی ان یفعل فی صلاته و ما لا یکره ج۱ ص ۵۶۵

[2] _ و لو سجد و لم یضع قدمیه علی الارض لا یجوز و لو وضع احدهما جاز مع الکراهة ان کان بغیر عذر کذا فی شرح منیة المصلی لابن امیر الحاج فتوی عالمگیری الباب الرابع فی صفة الصلاة ج۱ ص ۷۰

کړی شو مګر دا عادت نه پریدی نو شرعا ددی څه حکم دی؟ پدې سره مونځ مکروه کیږي یا نه؟ وضاحت وکړی جزاکم الله.

(جواب) په مانځه کی کله په یوه ښپه باندې زور کولو او کله په بله ښپه باندې زور کولو سره ودریدو کی هیڅ پروا نشته، صحیح دی البته په ښپه باندې پوره او مکمل زور کولو سره دویمه ښپه بالکل داسې سست پریدی چې لږ غوندې کوږ شي (لکه اس چې یوه ښپه باندې زور کولو سره دویمه ښپه کږوی او ودریږي) نو د ا مکروه دی ((و یکره القیام علی احد القدمین فی الصلوة بلا عذر)) (باب صفة الصلوة بحث القیام شامی ۱ / ۴۱۴) فقط والله اعلم.

_د سجدی په وخت پرتوک پورته کول او د سجدی څخه پورته کیدو نه بعد لمن لاندې کول:

(۱۳۵سوال) که یو سړی سجدی ته تلو وخت کی خپل پرتوک پورته کوی او د سجدی څخه پورته کیدو نه وروسته د قمیص وروستنی لمن ښکته کوی نو پدې سره مونځ کی څه نقصان راځی یا نه؟ وضاحت وکړی الله دې خیر درکړی.

(جواب) داسې حرکت او عادت یقیناً مکروه دی او لری نه ده چې عمل کثیر کیدو سره مونځ پرې مات شي لهذا لدې عادت نه بچ کیدل لازم دی[1] فقط والله اعلم.

_اذان کیدو نه وروسته له جومات څخه بغیر د مونځ کولو نه وتل:

(۱۳٦سوال) د اذان کیدو نه وروسته له جومات څخه وتل مکروه دی، دا کراهت تنزیهی دی او که تحریمی؟

(جواب) د اذان کیدو نه یعنی د مونځ وخت داخلیدو نه وروسته بغیر د مونځ کولو نه بغیر د شرعی عذر نه له جومات څخه وتل مکروه تحریمی دی او که د جماعت په وخت د واپسي راتلو اراده وي نو بیا مکروه ندی :-

((و کره تحریماً للنهی خروج من لم یصل من مسجد اذن فیه جری علی الغالب

---

[1] _ یکره للمصلی ان یعبث بثوبه او لحیته او جسده و ان یکف ثوبه بان یرفع ثوبه من بین یدیه او من خلفه اذا اراد السجود کذا فی المعراج الدرایة فتاوی عالمگیری الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة و ما لا یکره ج۱ ص ۱۰۵.

والمراد دخول الوقت اذن فیه او لا الا لمن ینتظم به امر جماعة اخری او کان الخروج لمسجد حیه و لم یصلوا فیه اولاً ستاذه لدرسه او لسماع الوعظ او لحاجة و من عزمه ان یعود (در مختار مع شامی ج ۱ ص ۶۶۹ ، ۶۶۸ مطلب فی کراهة الخروج من المسجد بعد الاذان))

او په حدیث شریف کی دی چې کوم سړی جومات کی اذان اوریدو سره بغیر د ضرورت نه لاړ شي او د واپس راتلو اراده یې هم نه وي نو هغه منافق دی :-

((عن عثمان قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من ادرکه الاذان فی المسجد ثم خرج له یخرج لحاجة وهو لا یرید الرجعة فهو منافق (ابن ماجه ص ۵۴ باب اذا اذن و انت فی الخروج من المسجد بعد الاذان))

د ښځو جومات ته راتلو سره لمونځ کول:

(۱۳۷ سوال) په ځینی ځایو کی متولی ، امام ، عالم یا مسلمانان جومات کی د ښځو لپاره د فرض یا د تراویحو د جماعت انتظام کوی او ځینی وخت د شپې یا د ورځی محرم سره یا بغیر د محرم نه له ډیرو لری ځایو نه ښځی جومات ته راځی او د جماعت نه جدا مونځ کوی او هغوی دا استدلال کوی چې مکه مکرمه مسجد حرام کی ښځی د سړو سره یو ځای مونځ کوی او درسول الله (ص) زمانه کی ښځو به جماعت سره مونځ کولو که ذکر شوی حقیقت صحیح وي نو بیا ولی نه راځی؟ د کتابونو حوالو سره جواب راکړی مهربانی،

(جواب) ښځو لپاره چې څومره پوریې کېدی شي په مخفی او پټ ځای کی مونځ کولو کی زیات فضیلت او ثواب دی ، رسول الله (ص) فرمایی : یوه ښځه چې کمره او کوټه کی مونځ وکړی دا د صحن او غولی کی مونځ نه بهتر دی او چې کمره کی دننه بله وړه کوټنی کی مونځ وکړی دا د کمری مونځ نه بهتر دی :

((عن النبی (ص) قال صلوة المراة فی بیتها افضل من صلوتها فی حجرتها و صلوتها فی مخدعها افضل من صلوتها فی بیتها (ابو داؤد ج۱ ص ۹۱ کتاب الصلوة باب ماجآء فی خروج النسآء الی المساجد))

او په یو حدیث کی دی چې د ښځو جماعت سره مونځ کولو په ځای یواځی مونځ کول (۲۵) درجې زیات ثواب لری (سند الفردوس)

بیشکه د رسول الله (ص) په مبارکه زمانه کی ښځو ته جومات ته راتلو او مونځ کولو اجازت ؤ ځکه چې پخپله رحمة للعالمین موجود ؤ د تعلیماتو سلسله جاری وه ، احکام

را نازلیدل ، هغه مقدس دور ؤ چې خیر القرون ورته ویل شوی دی چې دا دور په ختمدو شو نو خرابیانی او فسادونه شروع شول هغه ؤ چې حضرت عمر فاروق (رض) ښځې جوماتته له راتلو نه منع کړلی ، کله چې ددی شکایت حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته وکړی شوه ، نو وی فرمائل : که رسول الله (ص) دا حالت لیدلی وای کوم چې حضرت عمر (رض) لیدلی دی نو ښځو ته به یې جومات د راتلو اجازت نه ورکولو ((ان عائشة (رض) زوج النبی صلی الله علیه وسلم قالت لو ادرک رسول الله صلی الله علیه وسلم ما احدث النساء لمنعهن المسجد کما منعه نسآء بنی اسرائیل (ابو داؤد ج۱ ص ۹۱ باب ماجاء فی خروج النسآء الی المساجد))

ددغو وجوهاتو په بناء فقهاء کرامو هم دا فتوی ورکړی چې د ښځو جومات ته راتلل مکروه دی که پنځه وخته مونځونو لپاره ځی او که د جمعي یا اختر مونځ لپاره یا د وعظ په مجلس کی د شرکت لپاره ((و یکره حضر هن الجماعة و لو لجمعة وعید و وعظ مطلقاً و لو عجوزا لیلاً علی المذهب المفتی به لفساد الزمان (درمختار مع طحطاوی۱ ۳۸۴ باب الامامة ۲۸۳))

دا حکم عام دی حرم شریف وی یا مسجد نبوی وی ، هندوستان وی او یا عربستان د ټولو لپاره همدا حکم دی ، فقط والله اعلم.

امام له مقتدیانو نه څومره اوچت ودریدی شی؟

(۱۳۸ سوال) امام له مقتدیانو څخه څومره اوچت ودریږي چې هغه مکروه وی ؟ د اوچتوالی کم نه کم اندازه څومره ده؟

(جواب) د اوچت والی د کم نه کم مقدار او حد کی د فقهاؤ اختلاف دی ځکه پدې باره کی چې کوم حدیثونه وارد شوی په هغو کی د مقدار تصریح نشته ، په حدیث کی دی چې رسول الله (ص (امام لپاره د مقتدیانو څخه اوچت ځای باندې ودریدل منع کړی دی:

((روی الحاکم مرفوعاً نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یقوم الامام فوقا و یبقی الناس خلفه الخ (طحطاوی علی الدر مختار ج۱ ص ۴۳۱ مکروهات الصلوة) (شامی ج۱ ص ٦۰۴ ایضاً) (عینی شرح هدایه ج۱ ص ۸۰۵))

او په ابو داؤد شریف کی روایت دی چې حضرت عمار بن یاسر (رض) مداین کی مونځ ورکړ نو د مقتدیانو څخه اوچت ځای باندې ودرید ، حضرت حذیفه (رض) چې ولید نو را وړاندې شو او د لاس نه یې ونیو او لاندې یې را کش کړ او د مانځه نه

وروسته يې وفرمائل تاسو د رسول الله (ص) دا ارشاد ندی اوریدلی چې
((و اذا ام الرجل القوم فلا يقم فی مكان ارفع من مقامهم او نحو ذلک قال عمار لذلک اتبعتک حين اخذت على يدى (ابو داؤد شريف ج۱ ص ۹۵ باب الامام لقوم مكانا ارفع منهم))
ترجمه کله يو سړی د کوم قوم امامت وکړی نو پداسې ځای کې دی نه ودرېږي چې جماعت او د قوم له ځای نه اوچت وی ، حضرت عمار وفرمائل ، پدې وجه خو مې دا وکړل چې کله تا زما لاس ونيو نو ما ستا پيروی وکړ،
پدې دواړو روايتو کې د اوچتوالی کوم حد او مقدار ذکر ندی پدې وجه اختلاف پيدا کېدل قدرتی شئ دی لهذا د مقدار متعلق څو قوله دی چې دوه قوله پکې معتبر شوی:-
(۱)د يو لاس په مقدار اوچتوالی ممنع او مکروه دی لدينه کم مکروه ندی ، دليل دا چې مونځ گذار لپاره د ستری د اوچتوالی مقدار کم نه کم يو ذراع (لاس) منلی شوی دی پدې باندې قياس کولو سره د ځای اوچتوالی هم يو لاس منل پکار دی چې د سترې په مقدار اوچتوالی مکروه دی او لدينه کم مکروه ندی.
(۲)دومره اوچت ودريدل مکروه دی چې په ښکاره ډول امام له مقتديانو څخه ممتاز او جدا معلوم شي ، دليل دا دی چې په حديثو کې مطلق اوچتوالی منع دی لهذا په کوم صورت کې چې امام په اوچتوالی کې ممتاز او واضح طور سره جدا معلوم شي دومره اوچتوالی مکروه او ممنوع کېدل پکار دی ، او څومره چې اوچتوالی زياتېږي په کراهت کې به زياتی کېږي.
د صاحب بدائع وغيره فقهاؤ د همدې قول تائيد کړی او ديته ظاهر روايت ويل شوی دی (البدائع والضائع ۲۸۱/۱) [1] شيخ ابن همام رحمه الله همدا قول اختيار کړی دی (فتح القدير ۳٦۰/۱ فصل و ما يكره للمصلى) او په زاد الفقير کې ليکی ، ((و قيامه على مكان مرتفع وهو ما يقع به التميز ظاهراً وحده)) يعنی مکروه دی چې امام يواځې دومره اوچت ځای باندې ودرېږي چې په ظاهره جدا او ممتاز معلوم شي (۵۰ صحفه) په ((بحر الرائق)) کې دی چې په ظاهر روايت او د حديث په اطلاق

---

[1] ـ يكره سواء كان المكان قدر قامة الرجل او دون ذلک فى ظاهر الرواية ... والصحيح جواب ظاهر الرواية الخ بيان ما يستحب فيها و ما يكره.

باندې عمل کول بهتر دی ((فالحاصل ان التصحيح قد اختلف والاولى العمل بظاهر الرواية و اطلاق الحديث (۲ ۲٦۲). علامه طحطاوی او علامه شامی هم د دویم قول تائید او موافقت کړی دی ((قوله وهو الاوجه وهو ظاهر الرواية الروايات قد اختلفت فی المقدار الا خذ بظاهر الرواية اولى (طحطاوی ج۱ ص ۳۴۱ مکروهات صلاة) (قوله و قيل الخ) هو ظاهر الرواية كما فى البدائع الخ ،شامی ایضاً ج۱ ص ٦۰۵)) فقط والله اعلم

_امام چې یواځې په اوچت ځای ولاړ وی:

(۱۳۹سوال) که یواځې امام (۹) انچ اوچت ځای (برانډه) کې ودریدو سره مونځ ورکړی او مقتدیان لاندې صحن باندې وی نو څه حکم دی؟ د مونځ ګذارو وغیره ګنه ګونې وغیره شرعی عذرهیڅ نشته دی.

(جواب) بغیر د شرعی عذر نه د امام (۹) انچ اوچت ځای بندې ودریدو سره لمونځ ورکول د اهل کتابونو سره د مشابهت په وجه (چې دوی به د خپل امام ځای اوچت جوړولو) مکروه دی ، او که چېرته امام پسې پدې اوچت ځای باندې د څو لمونځ ګذارو صف وی نو بیا مکروه ندی :-

((و يكره ايضا ان ينفرد الامام عن القوم فى مكان اعلى من مكان القوم اذا لم يكن بعض القوم معه لان فيه التشبيه باهل الكتاب على ما تقدم انهم يخصون امامهم بالمكان المرتفع و لذا اذا كان بعض القوم مع الامام لا يكره لزوال التشبيه بزوال التخصيص ، مكروهات صلوة كبير ص ۳۴۸))

متفرق مسائل

(۱۴۰سوال) (۱) ځینی خلک په قعده کی ګسه ښپه وغوړوي او پدې باندې د ښې ښپې شا لګوی او کینی یعنی د ګسی ښپې لاندنی حصه او د ښی ښپی پاسنی حصه لګوی او کینی داجایز دی یا نه؟ او ددی اصل د کوم ځای نه دی؟
(۲) د حنبلی مذهب مسافر امام قصرنه کوی دی پسې مقیم د حنفی مونځ بلا کراهت صحیح دی او یا سره د کراهت؟ (۳) د زید وینا ده چې د مسافر قصر کولو متعلق ټول مذهبونه برابر یعنی په څلور واړه مذهبونو کی شرعی مسافر لپاره قصر کول ضروری دی ، دا خبره صحیح ده یا نه؟ د امام احمد بن حنبل (رح) په نزد قصر شته یا نه؟ (۴) مالدار سړی خپل درې یا څلور یا پنځه زامنو څخه منتخب کولو سره خپل ژوند کی ټول مال یا نیم او یا دریمه حصه هدیه بخشش ورکولی شی ؟ که ورکړی ورته نو ګنهکاربړي یا نه؟
(جواب) دا طریق خلاف سنت او مکروه ده ، سړی لپاره په قعده کی د ناستی سنت طریقه دا ده چې ګسه ښپه وغوړوي او وربانـدې کینـی او ښـی ښـپه ودروی او د ګوتو سرونه یې قبلی طرف ته وی :
((و اذا فرغ الرجل من سجدتی الرکعة الثانیه افترش رجله الیسری و جلس علیها و ینصب رجله الیمنی و یوجه اصابعه فی المنصوبة نحو القبلة هو السنة الخ (در مختار) قوله (هوالسنة) فلو تورک او تربع فقد خالف السنة (طحطاوی علی الدر المختار ج۱ ص ۳۴۸ فصل اذا اراد الشروع فی الصلوة الخ) رد المختار ج۱ ص۴۷۴ ایضاً)) که چیرته د عذر په وجه پدې طریقه نشي کیناستی نو بیا چې په کومه طریقه کیناستی شي خو کوشش دې کوی چې هیئت مسنونه ته قریب وی ، والله اعلم.
(۲) کوم مسافر چې قصر نه کوی هغه پسی د حنفی مقیم مونځ نه صحیح کیږي ، عرفات کی حنبلی امام مقیم کیدو باوجود قصر کوی هغه پسې د حنفی مقتدی مونځ نه کیږي مقیم وی او که مسافر وی :-
((و اطلق الامام فشمل المقیم والمسافر لکن لو کان مقیما کامام مکة صلی بهم صلوة المقیمین و لا یجوز له القصر و لا للحجاج الاقتداء به قال الامام الحلوانی کان الامام النسفی یقول العجب من اهل الموقف یتابعون امام مکة فی القصر فانی یستجاب لهم او یر جی لهم الخیر و صلاتهم غیر جائزة قال شمس الائمة کنت مع اهل الموقف فاعتزلت

و صليت كل صلوة فى وقتها و او صيت بذلك اصحابى و قد سمعنا انه يتكلف و يخرج مسيرة سفر ثم ياتى عرفات فلو كان هكذا فالقصر جائزاً فيجب الاحتياط اه مخلصاً من التتار خانية عن المحيط ، شامى جلد دوم ص ۲۳۸ صلاة مسافر))

يوه تائيد فتوى وګورئ:

مسئله - مقيم سړى ته قصر جائز نه دى مقتدى وى او كه امام او كه مقيم امام وى او قصر كوى نو دده اقتداء نه مسافر ته جائز ده او نه مقيم ته ، او كه چيرته كوم مقيم امام قصر كوى نو د امام او مقتدى دواړو مونځ نه كيږي ، د حضرت مولانا مفتى سعيد احمد صاحب د سهارنپور د مظاهر علوم (مدرسى مفتى كتاب ((معلم الحجاج)) په حاشيه كى پوره وضاحت وګورئ)

(۳) مسافر لپاره د قصر جائز كيدو كى د ټولو امامانو اتفاق دى ، او اختلاف پدې كى دى چې قصر عزيمت (واجب) دى يا رخصت؟ حضرت امام ابو حنيفه د عزيمت قائل دى او حضرت امام شافعى وغيره ورته رخصت وايى ..

((و انفقوا على جواز القصر فى السفر و اختلفوا هل هو رخصة او عزيمة؟ فقال ابو حنيفة هو عزيمة و شدد فيه و قال مالك والشافعى و احمد هو رخصة فى السفر الجائز و حكى عن داؤد انه لا يجوز الا فى سفر واجب و عنه ايضاً انه يختص بالخوف و لا يجوز القصر فى سفر المعصية و لا الترخص السفر عند مالك والشافعى و احمد و قال ابو حنيفه يجوز ذلك ((رحمة الائمة فى اختلاف الائمة)) ص ۵۳ بدايه المجتهد ج۱ ص ۱۶۱)) .

(۴)د شرعى مصلحت سره يو وارث ته زيات يا ټول مال وركړى پداسې حال كى چې نورو وارثانو لره بغير د شرعى وجى نه كم وركول يا نقصان رسول يا محروموول مقصود نه وى نو اميدى چې ګناه به نه وى ((انما الاعمال بالنيات)) الحديث ، او كه نه د سخت عذاب موجب به وى ، په حديث كى دى : ((ان الرجل والمراة ليعمل بطاعة الله ستين سنة ثم يحضر هما الموت فيضا ران فى الوصية فتجب لهما النار)) يعنى سړى يا ښځه (۶۰) كالو پورې (يعنى ټول عمر) د الله تعالى په عبادت او تابعدارى كى لګيا وي ليكن د مرګېه وخت د وصيت وغيره په ذريعه وارثانو ته نقصان رسوى نو داسې خلک دوزخ ته ځى (معاذ الله) (مشكوة (۲۶۵) صفحه باب الوصايا الفصل الثانى)) لهذا بغير د شرعى وجې نه خينو ته كم او خينو ته زيات وركولو سره خپل عاقبت مه خرابوى ، د الله تعالى ارشاد دى (اباءكم او ابناءكم لا تدرون ايكم اقرب لكم نفعاً) يعنى ستاسو پلار او ستاسو اولاد تاسو نه پوهېږئ چې كوم يو درته زياته فائده دركوى (ددى صحيح علم

الله تعالی ته دی) (سورت النساء) فقط والله اعلم.
(۱۴۱سوال) د سرو او سپینو زرو د کالیو او یا ساعت کی چې مونځ وکړی څه حکم لری ؟
(جواب) سرو لپاره په مونځ او غیر د مونځ نه د سرو او سپینو زرو استعمال ناجائز او حرام دی ښځې د (څلور نیم) ماشو سپینو زرو ګوتی اچولو ګنجائش شته او سرو زرو ناجائز دی ، سره او سپین زر او ددی څخه جوړ شوی زیورات او کالی او روپی او سکی په جیب کی ساتلو سره مونځ کولو کی څه پروا نشه جائز دی ، که چیرته ساعت (ګهړی) کی یو دوه پرزی د سپینو زرو وی او نوری پرزې نور څیزونه وي نو بیا څه پروا نه لری.
(۱۴۲سوال) روپی او تصویر والا پوست کارډ په جیب کی وی او مونځ وکړی څه حکم لری؟
(جواب) روپی ، لوټ (نوټ) او پوست کارډ باندې تصویر وی پدې سره مونځ کی څه نقصان نه راځی؟ په جیب کی کېښودو سره مونځ کولی شو.

په سر باندې رومال تاوولو سره مونځ کول څنګه دی؟

(۱۴۳سوال) د رومال تاوولو سره مونځ وکړی چې د سر منځنی حصه لوڅ پاتی شی نو مونځ صحیح کېږي یا نه ؟
(جواب) ټوپی (خوله) په سر کول پکار دی د لمانځه په وخت کی پدې طریقه سر باندې رومال تاوول مکروه او منع دی ، په فتاوی قاضی خان کی دی :- ((و یکره الاعتجار وهو ان یشدر راسه بالمندیل و یترک وسط راسه ، ج ۱ ص ۵۷ باب الحدث فی الصلوۃ ما یکره فیها و ما لا یکره)) فقط والله اعلم.

_تکبیر تحریمه یا رکوع کی شاملیدونکی لپاره د منډی حکم:

(۱۴۴سوال) لمونځ ګذار چې اودس کی لګیا وی او پدې وخت کی تکبیر شروع شي نو پدې کی شریک کیدو او نیولو لپاره منډی وهی نو داسې منډی وهل ضروری دی؟
(جواب) پدې مسئله کی به جلتی کوی خو منډی به نه وهی ، میانه روی به اختیاروی ، منډی وهل منع دی ، په حدیثشریف کی دی : چې کله اقامت واورئ نو لمانځه لپاره په اطمنان او وقار سره ځئ، منډی مه وهئ (بخاری شریف ۸۸ صحه کتاب الآذان باب ما ادرکتم فصلوا و ما فاتکم فاتموا)) یو حدیث کی دی : چې د لمانځهٔ په نیت سره

راوتل د لمانځه په حکم کې دی (مسلم شریف) پدې بناء د لارې په دوران بـه حتـی الامکان داسې حرکت نه کوی کوم چې د مانځه لـه هیئـت سـره منـافی وی (نـو دی شرح اسلم ۲۲۰/۱ باب استحباب ایتان الصلو ة بوقار و سکنیة والنهی عن ایتانهـا سـعیاً)) فقط والله اعلم.

ـرکعت او رکوع نیولو لپاره منډه وهل:

(۱۴۵سوال) امام صاحب چې رکوع وکړی دی وخت کی نور خلک رکوع نیولـو لپـاره منډی وهی چې پدې سره د نورو د مونځ ګذارو ته نقصان کېږي نو پدې طریقه منـډی وهل شرعاً څنګه دی ؟

(جواب) پدې مسئله کی منډه وهل منع دی اګر که رکوع ونه نیسي ، په حـدیث کـی دی چې لمانځه لپاره په منډه مه راځئ په اطمنان سره ورته راځئ که رکعت فوت شـي هغه به وروسته پوره کړئ (مسلم شریف ۲۲۰/۱ ، ایضاً) لدینه علاوه ددی فکر هـم پکـار دی چې جومات کی منډه وهل د جومات د احترام نه خلاف دی او خاص طـور چـې لمونځ ګذارو ته هم تشویش وی ، نو له هغه نه ځان ساتل ضروری دی ، یـو ځـل امیر المؤمنین حضرت فاروق اعظم (ر ض) مانځه کی لګیا ؤ شاته نه یو سړی راغی چې کوم سامان ورسره ؤ هغه یې وغورځولو او لمانځه کی شـریک شـو ، حضـرت فـاروق اعظـم (رض) لمانځه څخه فارغیدو نه وروسته هغه ته سزا ورکـړه چـې تـا لمـونځ ګـذاران پـه تشویش کی واچول (کتاب) الاعتصام) فقط والله اعلم.

ـحنفی امام به د شافعی مقتدی د آمـین ختمیـدو پـورې بـه صـبر کوی:

(۱۴٦سوال) زمونږ پدې علاقه کی هندی ، افریقـی دوه قسـمه خلـک اوسیږی هنـدی مسلمانان خو ټول حنفیان دی مګر افریقی مسلمانان ټول شـافعیان دی او دوی جمعـی لمانځه لپاره زمونږ حنفی جومات ته راځی او حنفی امام پسې لمونځ کوی اوس سـورت فاتحه ختمېدو سره آمین او بسم الله الخ جلتئ سره لوستو سره امام بـل سـورت شـروع کوی مګر شافعی مذهب خلک په زوره آمین وایی او مـد پکـی کـوی لهـذا امـام سـره ددوی تر آمین ویلو پورې انتظار کول پکار دی او که فوراً دویـم سـورت شـروع کـړی؟ واضح طور سره جواب راکړی ډېره مهربانی به مو وی.

(جواب) پدې مسئله کی شافعی مذهب مقتدیانو د آمین تر ختمیدو پورې حنفـی امام

انتظار کولی شی پدې کې کراهت نشته امام دې هم اطمنان سره آمین ووایي تر څو زیات وقفه رانشي[1] فقط والله اعلم.

د رکعت فوت کیدو له ویری د صف نه لری تکبیر تحریمه ویل:

(۱۴۷سوال) امام په رکوع کې وی اوس که نوی راتلونکی شخص صف ته رسیدو سره مونځ شروع کوی نو امام سره رکوع نشي نیولی او رکعت فوت کیږي نو پدې صورت کې د صف نه لری ودریدو سره تکبیر تحریمه وکړی او نیت وتړی څه پروا لری؟

(جواب) په صف کی د خالی ځای باوجود د صف نه لرې جدا ودریدل مکروه دی صف ته رسیدو سره به مونځ شروع کوی ، اګر رکعت ترینه لاړشي څکه چې د فضیلت حصلولو په ځای د کراهت نه بچ کیدل غوره دی:-

(و ان کان بحیث لو قام وراء الصف وحده یدرکها و لو مشی الی الصف لا یدرکها انه یمشی الی الصف و لا یقف وحده ان کان فی الصف فرجة الکراهة و ترک المکروه اولی من ادرک الفضیلة، کبیری ص ۵۷۵ ادراک الفریضة)) فقط

_ مانځه لپاره د ښځو جومات ته تلل:

(۱۴۸سوال) ښځو لپاره په پرده کې لمانځه لپاره جومات ته تلل جائز دي یا نه؟

(جواب) د رسول الله (ص) مبارکه زمانه کی ښځو ته د جومات تللو اجازت ؤ او دې سره دا ارشاد هم ؤ چې ((بیوتهن خیر لهن)) یعنی ښځو لپاره د جومات نه کورونه بهتر دی (مشکوة ۹۶ صفحه) باب الجماعة و فضلها ، یوی فدا کاری تور سری ام حمید عرض وکړ یا رسول الله تاسو پسی مونځ کولو ته می شوق کیږي ، رسول الله (ص) وفرمائل : ته صحیح وایی لیکن تا لپاره بند کوټنی کی مونځ کول د صحن مونځ نه بهتر دی او د صحن مونځ د برانډی له مونځ نه بهتر دی ، لدینه وروسته ام حمید مانځه لپاره تیاره کوټنی متعین کړ او تر وفات کیدو پورې یې هلته مونځ کولو او جومات ته لاړه نه شوه (ترغیب ۱/۱۸۰)

---

[1] _ قوله و کونهن سرا، جعل سرا خبر الکون المحذوف لیفیدان الاسرار بها سنة اخری فعلی هذا سنة الاتیان بها تحصل و لو مع الجهر بها ط عن ابی السعود ، شامی سنن الصلاة ج ۱ ص ٤٤٤ .

او کله چې د حضرت عمر فاروق دور شو او د ښځو په حالت کې تبدیلی (بهترین خوراک ، زیب و زینت ، د خوشبوئی استعمال وغیره) ولید نو ښځی یې د جومات ته له راتلو څخه منع کړلی ، او ټولو صحابهء کرامو دا خبره خوښه کړه هیڅا هم خلاف ونه کړ . البته ځینی ښځو حضرت عائشة صدیقه (رض (ته ددی شکایت وکړ نو حضرت صدیقه (رض) هم د فاروقی فیصلی سره اتفاق کولو سره وفرمائل : که چیرته رسول الله (ص) دا شیان لیدلی وای کوم چې په ښځو کی لیدل کېږي نو رسول الله (ص) به هم ضرور ښځی له جومات نه منع کړی وای ، (صحیح بخاری ۱۲۰/۱ باب خروج النساء الی المساجد باللیل والقلس ، مسلم شریف ۱۸۳/۱ باب خروج النساء الی المساجد الخ) حضرت عمر (رض) به د جمعی په ورځ ودرید او ښځی به یې په ګیټکو سره ویشتلی او له جومات څخه به یې ویستلی (عینی شرح بخاری) دا د هغه دور خبره ده چې په اکثرو ښځو کی شرم و حیا ، تقوی و پرهیزګاری پریمانه و او سړی هم زیاتره نیکان وو د فیض و برکاتو د حصول طلائي چانس ؤ ، او د مسجد نبوی فضیلت او جماعت سره د مونځ کولو شریعت کی سخت تاکید ؤ ددی باوجود ښځی جومات ته له راتلو نه منع کړی شوی نو پدې اوسنی دور کی څه حکم کیدل پکار دی ؟

_قیاس کن ز ګلستان من بهار مرا

پدې بناء فقهاء کرامو وفرمائل ، په در مختار کی دی:

(و یکره حضورهن الجماعة و لو لجمعة و عید و وعظ مطلقا و لو عجوز الیلاعلی المذهب المفتی به لفساد الزمان (در مختار) (مع الشامی ج۱ ص ۵۲۹ باب الامامة))

یعنی په جماعت کی د ښځو شریکیدل مکروه دی ، که جمعه او اخترونه وی او که د وعظ مجلسونه ، که بوډئ وي او که ځوانه ، شپه وی او که ورځ ، د زمانی د خرابیدو په وجه مفتی به قول همدا دی ، فقط والله اعلم.

_لوځی خنګلی لمونځ کول:

(۱۴۹سوال) تر خنګلو پورې لوستونو پورته کولو سره لمونځ کولو کی څه نقصان خو نشته؟

(جواب) (و مکروه دی په خلاصة الفتاوی کی دی : (و لو صلی رافعاً کمیه الی المرفقین یکره) یعنی د دواړو لستونو تر خنګلو پورې پورته کولو سره لمونځ مکروه دی . (۵۸/۱) فقط والله اعلم.

_په مانځه کی غاړه تازه کول:

(۱۵۰سوال) په مانځه کی غاړه تازه کولو سره مونځ ماتېږي یا نه؟
(جواب) بغیر د ضرورت څخه غاړه تازه کول مکروه دی او که ضرورت وی مثلاً آواز بند شي ، ساه یې بنده شي او یا قرائت نشي کولی نو بیا غاړه تازه کولو کی څه پرواه نشته ، اواز صفا کولی شی لیکن شرط دا دی چې غاړه تازه کولو سره حروف ونه ووځی البته د مجبوریت حالت مستثنی دی ، مثلاً په طبیعت باندې داسې بوج راغی چې د اح پشان لفظ ادا شو نو پدې وخت کی مونځ نه ماتېږي:
(قال فی الدر المختار والتحنح بحرفین بلا عذر اما به بان نشاء من طبعه فلا او بلا غرض صحیح الخ . علی هامش شامی باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها ج۱ ص ۵۷۸)

_د ماسخوتن لمانځه نه وړاندې ویده کېدل څنګه دی؟

(۱۵۱سوال) د ماسخوتن مانځه نه مخکی ویده کیدل څه پروا خو نه لری ؟
(جواب) نه د ماسخوتن د مونځ او یا د جماعت د فوت کیدو ویره وي نو ویده کیدل مکروه دی ، که د کوم غرض لپاره ویده شي او یا چاته تاکید وکړی چې د مانځه په وخت راویښ کړی نو بیا مکروه نه دی : (و قال الطحاوی انما کره النوم قبلها لمن خشی علیه فوت وقتها او فوت الجماعة فیها و اما من و کل نفسه الی من ویوقظه یباح له النوم (شامی ج۱ ص ۳۴۱ کتاب الصلوة)) فقط والله اعلم.

_ د سجدی په حالت کی تندی باندې خاوری پریوتل:

(۱۵۲سوال) که د سجدی په حالت کی تندی باندې خاور پریوځی نو هغه پاکه کړی یا نه؟ یو سړی وایی چې دا برکتی څیز دی ددی پاکول ندی پکار ، پدې باره کی څه حکم دی؟
(جواب) په تندی باندې لګیدلی خاوره په سجده کی صفا کول مکروه دی او د مانځه نه وروسته څه پرواه نه لری بلکی صفا کول یې بهتر دی څکه چې پدې کی د ریا او ښودنی خطره نشته (شرح وقایه ۹۴/۱ مکروهات صلوة)) فقط .

_ په اول صف کی د خای باوجود دویم صف کی ودریدل:

(۱۵۳سوال) د تراویحو مونځ کی اول صف کی د خای باوجود که دویم صف کی ودرېږي څه حکم لری؟
(جواب) اول صف کی د خای باوجود دویم صف کی ودریدل مکروه او منع دی ،

اول صف چې مکمل شي نو بیا به دویم صف کې ودریږي[1] فقط والله اعلم

_که لمانځه کې غاړه تازه کړی څه حکم لری؟

(۱۵۵سوال) د بلغم وغیره دفع کولو او مانځه کې مری تازه کولو لپاره که امام غاړه تازه کړی نو مونځ ماتیږي یا نه؟ جهری یا خفیه همدا شان د امام یا غیر امام کوم شرط شته یا نه؟

(جواب) امام او غیر امام، مقتدی یا منفرد په جهری یا خفیه مونځ کې مری صفا کولو یا بلغم دفع کولو آواز صفا کولو لپاره غاړه تازه کړی نو مونځ نه ماتیږي، البته که بلا ضرورت او بغیر تقاضا د طبیعت نه غاړه تازه کړی (لکه چې د خلکو عادت دی) او پدې سره دوه حرفونو والا لفظ لکه اح اح ادا شي نو مونځ فاسدیږي، په (درمختار) کې دی: (او په مانځه بلا عذره دوه لفظونو سره غاړه تازه کول لکه اح اح کول مونځ ماتوی، او که چیرته د عذر په وجه وی لکه د اواز صفا کول او صحیح کولولپاره غاړه تازه کړی نو بیا مونځ نه فاسدیږي:

(والتحنح بحرفین (بلا عذر) اما به بان نشا من طبعه فلا (او) بلا (غرض) صحیح فلو لتحسین صوته او لیهتدی امامه او للاعلام انه فی الصلوة فلا فساد علی الصحیح (در مختار مع الشامی ج۱ ص ۵۷۸ باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها)) فقط والله اعلم.

(د مونځ گذار په وړاندې تیریدونکی لپاره څه وعید دی؟

(۱۵۶سوال) د مونځ گذار په مخکی تیریدو سره مونځ ماتیږي یا نه؟ دوباره کول یې ضروری دی، یا نه؟

(جواب) مونځ نه ماتیږي او دوباره کول هم نشته، البته خشوع ته نقصان رسوی او پدې سره د مونځ گذار توجه خرابیږي پدې وجه تیریدونکی گنهګاریږي په حدیث کې دیته شیطان، ویل شوی دی لکه چې فرمایی: (و عن ابی سعید قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا صلی احد کم الی شیئ یستره من الناس فاراد احد ان یحتباز بین یدیه فاید فعه فان ابئ فلیقاتله فانما هو الشیطان هذا لفظ البخاری و لمسلم معناه. (مشکوة شریف ص ۷۴ باب السترة)).

---

[1] _ کقیامه فی صف خلف صف فیه فرجة قلت بالکراهة ایضاً صرح الشافعیة قوله کقیامه فی صف الخ هل الکراهة فیه تنزیهیة او تحریمیة و یرشد الی الثانی قوله علیه الصلوة والسلام: و من قطعه قطعه الله. الخ. مطلب فی الکلام علی الصف الاول.

یعنی کله چې یو سړی دده په مخکی تیریږي نو هغه دې منع کړی (یو لاس سره دی دیکه کړی) که منع نشي نو جګړه دی ورسره وکړی ځکه چې هغه شیطان دی ، فقط.

ماسخوتن لمونځ او تراویح چې د جومات په چت باندې وکړی صحیح دی یا نه؟

(۱۵۷سوال) دلته خمونږ په علاقه کی د ګرمی په موسم کی ماسخوتن مونځ او تراویح وغیره د جومات په چت باندې ادا کولی شی څه پروا خو نه کوی؟

(جواب) د ګرمی په وجه د جومات مانځه ځای او صحن پرېښودو سره په چت باندې د ماسخوتن مونځ او تراویح وغیره جماعت کول مکروه دی ، او که چیرته د جومات دننه او صحن کی ځای نه وی او په چت کی ودریږي نو بیا بغیر د کراهت نه جائز دی ځکه چې دا مجبوریت دی په نصاب الاحتساب کی دی :

(و یکره الصلوة فوق الکعبة و کذا العصود علی سطح المسجد الا لحاجة اصلاح و نحوه و کذا الصعود علی کل مسجد مکروه و لهذا اذا شتد الحر فیکره ان یصلوا الجماعة فوق السطح الا اذا ضاق المسجد فح لا یکره الصعود علی سطحه للضرورة و اما شدة الحر فلانها لا توجب الضرورة و انما یحصل به زیادة المشقة و بها یزداد الا جر کله من المحیط وغیره)

یعنی په محیط کی دی چې د کعبی شریفی او د جومات په چت باندې مونځ کول د (بی ادبی او بې حرمتی په وجه) مکروه دی ، البته که چیرته د تعمیرات د حرمت ضرورت وی نو بیا مکروه ندی ، همدا شان هر یو جومات چې وی د هغه په چت ختل مکروه دی او پدې بنا دا هم مکروه دی چې د سختی ګرمی په وجه چت باندې جماعت وکړی ، مګر دا چې جومات کی خالی ځای نه وی نو ددی مجبوری په وجه د جومات چت ته ختل مکروه ندی ، په هر حال د ګرمی سختی ضرورت او مجبوری ندی ځکه چې پدې سره تکلیف زیاتیږي او چې تکلیف زیات شي نو اجر او ثواب هم زیاتیږي (دیته مجبوری نه ویل کیږي) (نصاب الاحتساب (۳۲) صفحه (۱۵) باب قلمی) او په فتاوی عالمګیری کی دی : (الصعود علی سطح کل مسجد مکروه و لهذا اذا اشتد الحر یکره ان یصلوا بالجماعة فوقه الا اذا ضاق المسجد فحیسئذ لا یکره الصعود علی سطحه للضرورة کذا فی الغرائب) یعنی د ټولو جوماتو په چت باندې ختل مکروه دی ، پدې وجه د سخت ګرمی په وخت د جومات په چت باندې جماعت کول مکروه

دی . البته که جومات تنگ وی نو د ضرورت په وجه پاتی کسانو چت ته ختل مکروه ندی . (فتاوی عالمگیری ۵ ۳۲۲ کتاب الکراهة الباب الخامس فی آداب المسجد و القبلة) او په کبیری کی دی : (و کذا لو صلی علی السطح من شدة الحرای یکره لقوله تعالی قل نار جهنم اشد حراً لو کانوا یفقهون . انتهی وفی القنیه امام یصلی التراویح علی سطح المسجد اختلف فی کراهته والاولی ان و للاعلی فیه عند العذر فکیف بغیره . (کبیری ص ۳۹۲ مکروهات صلاة))

په شامی کی دی : (ثم رایت القهستانی نقل عن المفید کراهة الصعود علی سطح المسجد الح و یلزمه کراهة الصلوة ایضاً فوقه فلیتامل . (ص ۶۱۴ مطلب فی احکام المسجد . ج ۱) (مجموعه فتاوی سعیدیه ص ۱۴۸ نفع المفتی والسائل ص ۱۲۱))

مزید وضاحت لپاره وګورئ.

په ګرمی کی د جومات په صحن کی جماعت کول بغیر د حرج نه بغیر صحیح دی ، که چیرته کوم ځای کی صحن په جومات کی داخل نه وی بلکی خارج وی نو د جومات بانی (جوړونکی) او که هغه نه وی نو د جومات خلک په اتفاق سره دی داخل د مسجد نیت وکړی نو داخل ګرځی او پدې باندې د جومات ټول احکام جاری کېږي ، فقط والله اعلم.

په لمانځه کی د سورت بقری آخر او قل هوالله لوستل:

(۱۵۸سوال) زمونږه امام صاحب کله کله د ماښام اول رکعت کی د سورت بقرة آخری دوه ایتونه او دویم رکعت کی سورت اخلاص یا سورت الکافرون ، یا سورت نصر وغیره لولی ، دا حتو څه پروا نه لری ؟ او مونځ مکروه کېږي یا نه؟ وضاحت وکړئ مهربانی

(جواب) په دې مسئله کی بغیر د کراهت نه مونځ کېږي ، (و لو قرا آمن الرسول فی رکعة و قل هو الله احد فی رکعة لا یکره) (فتاوی عالمگیری ۷۸/۱ ، باب الرابع فی قراة) فقط والله اعلم.

(۱۵۹سوال) د اختر په مانځه کی امام ړومبنی سلام وګرځولو نو ورسره ټولو مقتدیانو هم وګرځواو لیکن د دویم سلام اړولو کی امام تاخیر وکړ نو مقتدیانو پدې خیال چې امام دویم سلام هم ګرځولی د امام څخه بې مخکی سلام وګرځولو او بیا وروسته امام دویم سلام وګرځولو ، د مقتدیانو مونځ وشو یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی مقتدیانو غلطی کړی مګر مونځ یې صحیح دی دوباره کولو ضرورت نشته ، په تذکرة الرشید کی دا مسئله شته مګر هغه صحیح نه ده، په تذکرة

الخلیل کې دا مسئله صحیح لیکل شوې ده . په ۲۰۷ کې وګورئ[1] فقط والله اعلم

_د لوستوڼي بډ وهلو سره د لمونځ کولو حکم:

(۱۶۰ سوال) لوستوڼي بډ وهلی او په شرټ (نیم لوستونو والا قمیص) کې مونځ کول څنګه دي؟

(جواب) نر څنګلو پورې لوستوڼي بډ وهل او یا نیم لوستوڼي والا قمیص وغیره د فیشن لباس اغوستو سره مونځ کول منع دی پدې باندې مونځ مکروه کېږي . فقهاء کرام لیکي که د اودس په وخت لوستوڼي پورته کړې وی او په جماعت کې شاملیدو لپاره تلوار وی او لوستوڼي پورته پاتې شي نو د مونځ په دوران کې یو لاس سره رو رو دې لاندې کړي، پدې طریقه به نه رانښکته کوی چې عمل کثیر وی مثلاً دوه لاسه استعمال کړي چې پدې سره مونځ کونکی معلوم نشي . پدې صورت کې مونځ ماتېږي . دیته هم باید خیال وشي چې د ګرمی او خولې په وجه د مونځ په حالت کې لوستوڼي پورته کول عمل کثیر دی پدې سره مونځ ماتېږي : (اما لو شمر وهو فیها تفسد لانه عمل کثیر) (شامی ۱/ ۵۹۹ مطلب فی مکروهات الصلوٰة)

_قومه او جلسه په اطمنان سره کوئ:

(۱۶۱ سوال) زمونږ امام صاحب د رکوع نه وروسته په قومه کې له نیغ ودریدونه بغیر سجدې ته ځي او د سمع الله لمن حمده سره الله اکبر وایي او په منځ کې یوه ذره هم صبر نه کوی ساه هم نه اخلي او همدا شان (سجدې ته وروسته د جلسې په حالت کې او همدا شان سجدې ته د تللو او د سجدې نه د پورته کیدو تکبیرونو کې هم وقفه نه کوی دده په لیدو سره مقتدیان هم همداسې کوی ، لهذا تفصیلی جواب غواړو مهربانی

(جواب) داسې عادت نیول غلط دی ، مونځ مکروه کېږي او د دوباره کولو قابل ګرځي . قومه او جلسه به په اطمنان سره ادا کول پکار دي:-

(و یقوم مستویاً لما مر من انه سنة او واجب او فرض (ثم یکبر) مع الخرور (و یسجد واضعا) (رکبتیه) (در مختار) (قوله ثم یکبر)

اتی بثم للاشعار بالاطمینان فانه سنة او واجب علی ما اختاره الکمال (قوله مع الخرور)

---

[1] _ و تسقطع التحریمة بتسلیمة واحدة برهان و قد مرو فی التاتار خانیه ما شرع فی الصلاة مثنی فللواحد حکم المثنی فیحصل التحلیل بسلام واحد کما یحصل بالمثنی یتقید الرکعة بسجدة واحدة کما تتقید بالسجدتین . در مختار علی هامش شامی فصل اذا اراد الشروع فی الصلاة ج ۱ ص ۴۹۰.

بان یکون ابتداء التکبیر عند ابتداء الخرور و انتهاؤه عند انتهائه شرح المنیة و بخر السجود قائما مستویاً (در مختار مع الشامی ص ۴٦۵ ، ۴٦٦ ج ۱ فصل اذا اراد الشروع فی الصلوة الخ) (و یسجد بین السجدتین مطمئناً) (در مختار) (و قوله مطمئناً) ای بقدر تسبیحة کما فی متن الدر والسراج (در مختار مع الشامی ص ۴۷۲ ج ۱) .

ددی عبارتونو حاصل دا دی چې د رکوع نه وروسته نیغ ودریږي ځکه چې دا قومه سنت ده او دیته واجب او فرض هم ویل شوی دی ، او بیا به ځمکې ته ښکته کیدو سره الله اکبر ووایي او دواړه زنګنونه په ځمکه کیدی ، په عبارت کی د ثم لفظ راغلی ددی مطلب دا دی چې وقفی سره آرام آرام سجدی ته تلو کی تکبیر ویلو سره ښکته کیدل شروع کړي او مکمل ښکته کیدو سره تکبیر ختم کړی (او تندی په ځمکه کیدی) او بیا د دواړو سجدو منځ کی اطمنان سره کینی یعنی دومره وخت کی چې سبحان الله وویل شي ، د رسول الله (ص) د قومی او د جلسې طریقه حضرت عائشه رضی الله عنها داسې بیانوی : کله چې به د رکوع نه خپل سر مبارک اوچت کړ او په اطمنان سره به نیغ ودریدو او بیا به سجدی ته تلو ، همدا شان د سجدی نه وروسته سر مبارک اوچتولو سره نیغ به کیناستو او بیا به یې دویم سجده کوله (مشکوة شریف (۷۵) صفحه باب صفة الصلوة)

همدا شان حضرت ابو حمید ساعدی د رسول الله (ص) د قومی طریقی بیانوی : ((فاذا رفع راسه استوی حتی یعود کل فقار مکانه)) یعنی کله چې رسول الله (ص) د رکوع نه خپل سر مبارک اوچتولو نو نیغ به ودریدو تر دی چې د ملا هر یو بند به خپل خای ته ورسیدو (مشکوة شریف (۷۵ صحفه))

خپل مونځ د رسول الله (ص) د مونځ مطابق کیدل ضروری دی د رسول الله (ص) ارشاد دی :((صلوا کما رایتمونی اصلی)) ترجمه : داسې مونځ کوئ لکه چې ما په مونځ کولو وینئ ، پدې بناء که چیرته مونږ خپل مونځ د رسول الله (ص) د مونځ مطابق ادا کولو کوشش ونه کړو او د سنت خلاف مونځ وکړو نو مونځ به مو نه قبلیږي او دوباره کولو قابل به وی ، په حدیث شریف کی دی چې رسول الله (ص)د جومات په یو طرف کی ؤ یو کس راغی او مونځ یې وکړ او بیا رسول الله (ص) خواته راغی او سلام یې وکړ ، رسول الله وفرمائل : ((و علیک السلام ارجع فصل فانک لم تصل)) یعنی وعلیک السلام واپس شه او مونځ وکړه تا مونځ ندی کړی هغه واپس شو او مونځ یې وکړ او بیا راغی سلام یې وکړ او رسول الله ورته همدا وفرمائل : ((لاړشه مونځ وکړه تا مونځ

نه دی کړی، . دوه یا درې خلی همداسې وشو دریم یا خلورم خل یې عرض وکړ یا رسول الله (ص) زه لدینه ښه مونځ نشم کولی تاسو راته مونځ کول وښایی . وی فرمائل : کله چې مانځه لپاره راپاخې نو اول ښه شان سره اودس وکړه او بیا قبلی ته مخ کړه بیا الله اکبر وایه او بیا چې د قرآن کومه حصه درته ښه یاد وی هغه لوله او بیا ښکته شه او ښه آرام سره رکوع وکړه او بیا رکوع نه پورته شه تردې چې په آرام سره نیغ ودریږې، او بیا ښه په آرام سره سجده وکړه او بیا د سجدې نه پورته شه او په آرام سره کینه او بیا همداسې دویم سجده وکړه او بیا ټول مونځ همداسې اطمنان او آرام آرام سره هر یو رکن ادا کړه (مشکوة شریف (۷۶) صفحه باب الصفة الصلوة)

د فقه او د حدیث دغه تصریحات وګوری پدې کی بیا د اطمنان هدایت ورکړی شو ی‌دی ، ستاسو امام صاحب که چیرته اطمنان سره رو رو رکوع ، سجده ، قومه او جلسه نه کوی ، سمع الله لمن حمده او الله اکبر په مخه یو خای وایی نو دا د حدیث او دفقه له تصریحاتو نه خلاف کوی چې براسر بې ادبی او مکروه دی ، حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله لیکی چې مخبر صادق (ص) فرمایلي : (اسؤ الناس سرقة الذی یسرق من صلوته قالوا یا رسول الله کیف یسرق من صلوته قال لا یتم رکوعها و سجودها) (رواه احمد (مشکوات شریف ۸۳) صفحه باب الرکوع الفصل الثالث)) یعنی د ټولو نه بد تر غل هغه څوک دی چې د خپل مانځه کی غلا کوی صحابهٔ کرامو عرض وکړ یا رسول الله مونځ څنګه غلا کوی ، رسول الله (ص) وفرمائل د مونځ غلا دا ده چې رکوع ، سجده په صحیح طریقه ادا نه کړی بیا یې ارشاد وفرمائل : الله تعالی‌د هغه چا مونځ ته نه ګوری څوک چې په رکوع او سجده کی خپل ملا نه برابروی ، رسول الله (ص) یو سړی په مونځ کولو ولید چې رکوع او سجده یې پوره نه ادا کول نو وی فرمائل : (اما تخف لو مت علی ذلک لمت علی غیر دین محمد (ص)) (مشکوة (۸۳) صفحه باب الرکوع الفصل الثالث) یعنی ته د الله تعالی څخه نه ویریږی که په همدی عادت باندې مړ شی نو په محمدی دین باندې به ستا مرګنه وی ،

رسول الله (ص) فرمایلی په تاسو کی د یو چا مونځ تر هغه پورې نه مکمل کیږي څو پورې چې د رکوع نه وروسته نیغ ونه دریږی او خپل ملا نیغه نه کړی او د هغه هر اندام پخپل خای آرام نشي ، همدا شان رسول الله (ص) فرمایی : کوم سړی چې دوارو سجدو تر منځ د کیناستو په وخت کی خپله ملا نه برابروی د هغه مونځ نه پوره کیږي ،ایضاً الفصل الثانی ، حضرت رسول مقبول (ص) یو مونځ ګذار خواته تیر شو

وی نبد چې تکبیر ، ارکان ، قومه او جلسه سم نه ادا کوی نو وی فرمائل : که پدې عادت باندې مړ شی نو د قیامت په ورځ به زما امت کې نه پاځی (اگر تو برین بمیری روز قیامت از امتان من ترا نه گویند)
حضرت ابو هریرة (رض) فرمایی : یو سړی تر (٦٠) کالو پورې مونځ کوی او د هغه یو مونځ هم نه قبلیږي دا هغه څوک دی چې رکوع او سجده په سمه توګه نه ادا کوی . لیکن چې زید بن وهب یو سړی ولید چې مونځ کوی او رکوع ، سجده په سمه توګه نه ادا کوي هغه یې راوغوښت او تپوس یې ورنه وکړ چې د کوم وخت نه داسې مونځ کوی ؟ هغه وویل (۴۰) کالونه وی فرمائل پدې (۴۰) کال کې ستا یو مونځ هم نه دی شوی . که چیرته مړ شی نو د رسول الله (ص) په طریقه باندې به نه مری ،
نقل دی چې مؤمن بنده مونځ په ښه شان ادا کوی . رکوع او سجده په سمه توګه ادا کوي د هغه مونځ بشاش او نورانی وی . ملائکی هغه مونځ آسمان ته وړی هغه مونځ خپل مونځ ګذار ته دعاء کوی او وایی ((حفظک الله سبحانه کما حفظتنی ((الله تعالی دې ستا حفاظت وکړی لکه څنګه چې تا زما حفاظت وکړ ، او که چیرته مونځ په ښه شان نه ادا کوي (د هغه رکوع او سجده ، قومه او جلسه نه پر ځای کوي) هغه مونځ تک تورکرځي او د ملائکو هم نه خوښیږي او آسمان ته یې نه وړي او هغه خپل مونځ ګذار ته بد دعاء کوی او وایی : ((ضیعک الله کما ضیعتنی)) یعنی الله تعالی دې تا ضایع کړی لکه څنګه چې دې زه ضایع کړم (مکتوبات امام ربانی (٦٩) مکتوب ۱۳۸/۲ . ۱۳۹) فقط والله اعلم

_اول صف د امام سره برابر ودریدل:

(۱٦۲سوال) زمونږ ځای ته چې کله تبلیغ والا راځی نو پدې وخت کې ړومبی صف وراندې کولی شی او مقتدیان د امام څخه لږ غوندې شاته وی امام پسې مقتدی ته د سجدې ځای نه ملاوېږي (پدې وجه هغه ځای خالی پاتې کېږي) نو پداسې کولو کې څه قباحت خو نشته ؟ وضاحت وکړی ، خیر یوسی،
(جواب) که یو مقتدی وی نو امام سره به برابر ودریږی ، او که دوه مقتدیان وي نو د امام سره برابر ودریدل مکروه تنزیهی دی او که دوو نه زیات وي نو بیا امام سره برابر ودریدل مکروه تحریمی دی :
(الزائد یقف خلفه فلو توسط اثنین کره تنزیها و تحریماً لو اکثر (در مختار) (قوله تحریماً او اکثر) افاد ان تقدم الامام الصف واجب کما افاده فی الهدایة والفتح (شامی ص

۵۳۱ ج ۱ باب الامامة مطلب هل الاساءة دون الکراهة او افحش منها ،
لهذا پدې مذکوره مسئله کې د اولنۍ صف ورسخکې کول پدې شان سره چې امام پسې مقتدی سجده ونکړی شي مکروه تحریمي دی . البته که وروسته جومات یا برانډه او صحن کې هم ځای نه وی او که وي نو د باران یا د سختۍ ګرمۍ په وجه ودریدل مشکل وي نو بیا کراهت نشته . فقط والله اعلم.

_ لوڅ سر لمونځ کول:

(۱٦۳سوال) سر لوڅ پربنودو سره مونځ کول په اسلام کې جائز دی یا نه؟
(جواب) لوڅ سر ګرځیدل نن صبا فیشن جوړ شوی دی او دا فاسقانو او فاجرانو اختیار کې دی او دا ډېر قبیح او بد دی ، علامه ابن جوزی (رح) فرمایي : ((و لا یخفی علی عاقل ان کشف الراس مستقبح و فیه اسقاط مروٴة و ترک ادب)) یعنې د عقل خاوندت نه دا خبره پټه نه ده چې سر لوڅول قبیح دی او مروت ختمول دی او د ادب او شریفانه تهذیب نه خلاف دی (د تلبیس ابلیس (۳۷۳ صفحه)
شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله فرمایي ((و یکره کشف الراس بین الناس)) یعنې د خلکو په وړاندې سر لوڅول مکروه دی (غنیة الطالبین ۱۳/۱)
په مالا بدمنه کې دی ((مرد را تشبه به زنان و زن را تشبه به مردان و مسلم را تشبه به کفار و فساق حرام است)) یعنې سړو ته د ښځو مشابهت او ښځو ته د سړو سره مشابهت اختیارول او مسلمان ته د کافرانو او فاسقانو سره مشابهت اختیارول حرام دی (مالا بدمنه (۱۳۱) صفحه)
کله چې د مانځه نه باهر دا حکم دی نو پدې حالت کې مونځ په طریقه اولې سره مکروه دی ، په در مختار کې دی : ((و صلاته حاسراً ای کاشفاً راسه للتکاسل الخ)) یعنې د سستۍ او تنبلۍ په وجه لوڅ سر مونځ کول مکروه دی ، (درمختار ۵۹۸/۱ مکروهات الصلوة مطلب فی الخشوع) فقط والله اعلم.

_ سورتونه د ترتیب نه خلاف لوستلو سره مونځ دوباره کول او دویم جماعت کې نوی مقتدیان شاملیدل:

(۱٦۴ سوال) یو سړی د ماښام مونځ ورکړ اول رکعت کې قل اعوذ برب الفلق او دویم رکعت کې اذا جاءنصر الله والفتح ولوست او بل اول رکعت کې د رکوع نه پورته کیدو په وخت د سمع الله لمن حمده په ځای الله اکبر وویل . د مونځ ختمیدو نه وروسته

خلکو وويل چې لمونځ نه دی شوی دوباره کول پکار دی نو هغه ؤ چې دويم جماعت وکړی شو او پدې دويم جماعت کی خه نوی مقتديان هم شامل شول نو اولنی جماعت صحيح شو يا نه؟ که صحيح وی نو دويم جماعت کی چې نوی مقتديان شامل شول ددوی، فرض مونځ به څنګه شي ؟ وضاحت وکړئ جزاکم الله .

(جواب) په مانځه کی د ترتيب خلاف سهواً سورتونو لوستو سره سجده سهوه نه لازميږي ځکه چې د سورتونو په ترتيب سره لوستل د تلاوت لـه واجباتو څخه دی د لمونځ له واجباتو څخه نه دی:-

(قوله لترک واجب ای مـن واجبات الصلوة الاصلية فخرج واجب ترتيب التلاوة (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲٦۷ باب سجود السهو) والرابع سببه ترک واجب من واجب الصلوة الاصلية سهوا وهو المرار بقوله ترک واجب لا کل واجب بدليل ما سنذکره من انه لو ترک ترتيب السور لا يلزمه شی ء مع کونه واجباً (البحر الرائق ج ۲ ص ۹۳ باب سجود السهو) و فی التجنيس لو قرا سورة ثم قرا فی الثانية سورة قبلها ساهياً لا يجب عليه السجود لان مراعاة ترتيب السور من واجبات نظم القران لا مـن واجبات الصلوة فترکها لا يوجب سجود السهو (البحر الرائق ج۲ ص ۹۴) او په در مختار کی دی :-

(و يکره الفصل بسورة قصيرة و ان يقرا منکوساً (قوله بان يقرا منکوساً) بان يقرا فی الثانية سورة اعلی مما قرا فی الاولی لان ترتيب السور فی القراة من واجب التلاوة (قوله ثم ذکريتم) افادان التنکيس او الفصل بالقصيرة انما يکره اذا کان عن قصد فلو سهواً فلا کما فی شرح المنية)

يعنی وړوکی سورت منځ کی پرېښودل او قرآن پاک سر چپه ويل مکروه دی لکه چې په اول رکعت کی سورت اخلاص او په دويم رکعت کی سورت تبت ولولی ، او د کراهت وجه دا ده چې سورتونه په ترتيب سره لوستل د تلاوت له واجباتو څخه دی ليکن دا کراهت هغه وخت دی چې کله قصداً وړوکی سورت پريدی او ورپسې سورت ولولی او يا د ترتيب نه خلاف ولولی ، لهذا که سهواً د وړوکی سورت فاصله راشي او يا د ترتيب خلاف ولولی نو مکروه ندی (در مختار مع الشامی ۵۰۱/۱ قبيل باب الامامة)

د رکوع نه پورته کيدو وخت کی سمع الله لمن حمده ويل سنت دی واجب نه دی لهذا ددی پرېښودو سره هم سجده سهوه نه لازميږي ، البته قصداً داسې کول مکروه دی . او سهواً مکروه هم ندی لهذا په مذکوره مسئله کی مونځ صحيح ؤ دوباره کول

واجب نه و نو بیا ، پدې دویم جماعت کی چې کوم نوی مقتدیان شامل شوی د هغو موبخ بدی شوی دوی لره دوباره کول لازم دی ، پدې باره کې دې فتاوی رحیمیه ۱۶۹/۱ ، او ۱۲۹/۴ هم وکتل شي ، فقط والله اعلم.

د امام د عذر په وجه د سجدې په وخت کې ځمکه باندی لاس لګول:

(۱۶۵سوال) زمونږ د امام صاحب په ښپه کی سخت درد دی پدې وجه کله چې دې سجدې ته ځی نو په ځمکه باندې اول لاس لګوی نو دې امامت کولی شي یا نه؟ او ده پسې موبخ کول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی ، خیر یوسی.

(جواب) امام صاحب د عذر په وجه سجدی‌ته د تلو وخت کی اول لاس لګوی نو دا مکروه نه دی ، بغیر د عذر نه اول لاسونه لګول مکروه دی ((ثم وضع رکبتیه ثم یدیه ان لم یکن به عذر یمنعه من هذه الصفة)) (مراقی الفلاح مع طحطاوی (۱۵۴) صفحه فصل فی کیفیة افعال الصلوة) والله اعلم.

په لمانځهٔ کی سترګی بندول څنګه دی؟

(۱٦٦سوال) فرض مانځه کی مقتدی د امام قرائت وخت کی یا پخپله امام سترګی بندی کړی اوسترګو بندولو سره خشوع او خضوع پیدا کیږي نو پدې صورت کی سترګی بندول څنګه دی ؟

(جواب) بغیر د څه ضرورت او مصلحت نه په مانځه کی سترګی پټول مکروه دی ، البته که مخکی داسی څه شی ؤ چې په خضوع او خشوع کی خلل پیدا کولو او یا د سترګو بندولو سره خشوع او خضوع پیدا کیدلو او یا کمال خشوع لپاره معین او مددګار ؤ نو بیا مکروه ندی ، په مراقی الفلاح کی دی :

(و یکره تغمیض عینیه الا لمصلحة لقوله صلی الله علیه وسلم اذا قام احدکم فی الصلوة فلا یغمض عینیه لانه یفوت النظر للمحل المندوب و لکل عضو و طرف حظ من العباده و برویة ما یفوت الخشوع و یفرق الخاطر ربما یکون التغمیض اولی من النظر)

په طحطاوی علی مراقی الفلاح کی دی : (قوله الا لمصلحة کما اذا غمضها لرؤیة ما یمنع خشوعه ، نهر ، او کمال خشوعه ، در . او قصد قطع النظر عن الاغیار والتوجه الی جانب الملک الغفار ، مجمع الانهر ، (قوله فلا یغمض عینیه) ظاهره التحریم قال فی البحر و ینبغی ان تکون الکراهة تنزیهیة اذا کان لغیر ضروریة و لا مصلحة ، اه (

طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱۹۴ ، ص ۱۹۵ فصل فی المکروهات))
او په در مختار کی دی:
(و تغمیض عینیه للنهی الالکمال الخشوع .(قوله للنهی) ای فی حدیث اذا قام احدکم فی الصلوة فلا یغمض عینیه رواه ابن عدی الا ان فی سنده من ضعف و علل . فی البدائع بان السنة ان یری ببصره الی موضع سجوده و فی التغمیض ترکها ثم الظاهر ان الکراهة تنزیهة کذا فی الحلیة والبحر و کانه لان علة النهی ما مر عن البدائع وهی الصارف له عن التحریم (قوله الا لکمال الخشوع) بان خاف الخشوع بسبب رؤیة ما یفرق الخاطر فلا یکره بل قال بعض العلماء انه الاولی و لیس ببعید حلیه و بحر (در مختار و شامی ص ۶۰۳ ج ۱ ص ۶۰۲ مکروهات الصلوة)
او په غایة الاوطار کی دی : و تغمیض عینیه للنهی لکمال الخشوع ، او مکروه تنزیهی دی کذا في البحر د خپلو سترګو بندول په سبب د نهی سره مګر کمال خشوع لپاره بندول مکروه ندی ، د نهی حدیث ابن عدی په ضعیف سند سره روایت کړی دی او په بدایع کی د کراهت وه دا ذکر شوی چې سجده ګاه ته کتل سنت دی او د سترګو په بندولو سره دا سنت پاتې کېږي نو پدې وجه حلیه او بحر الرائق کی کراهیت ته تنزیهی ویلی دي (کذا فی الشامی بتصرف ، (غایة الاوطار ترجمه در مختار ۳۰۱/۱) او په علم الفقه کی دي : (۲۲) د مونځ په حالت کی د سترګو بندول مکروه نه بلکی بهتر دی (در مختار وغیره) د علم الفقه ۱۱۸/۲ مکروهات نماز) فقط والله اعلم

په لمانځه کی لوستونی لاندې کولی شي یا نه؟

سوال) یو سړی اودس وکړ د رکعت تیریدو له ویری زر زر جماعت کی شامل شو ... لوڅی پاتی شوی ، جماعت کی شاملیدو نه وروسته هغه سړی خپلې لستونی ... کړی او که لستونی بډ وهلی حالت کی مونځ پوره کړی افضل کوم یو دی؟ وضاحت وکړی جزاکم الله

جواب) افضل دا دی چې په عمل قلیل سره لستونی رابکته کړی او داسې صورت اختیار نکړی چې عمل کثیر وګرځی ددې صورت دا دی چې لږ په رکوع کی لږ قومه کی او لږ په سجده کی همداسې موقع په موقع په عمل قلیل سره دواړه لستونی لاندې کړی، په شامی کی دی

(و مثله ما لو شمر للوضوء ثم عجل لا دراک الرکعة مع الامام و اذا دخل فی الصلوة کذلک و قلنا بالکراهة فهل الافضل ارخاء کمیه فیها بعمل قلیل او ترکهما لم اراه و

الاظهر الاول بدلیل قوله الاتی و لو سقطت قلنسوته فاعادتها افضل تامل هذا و قید الکراهة فی الخلاصة والمنیة بان یکون رافعا کمیه الی المرفقین و ظاهره انه لا یکره الی ما دونهما. شامی ص ۵۹۹ ج ۱، مطلب مکروهات الصلوة تحت قوله کمشمر کم او ذیل) فقط والله اعلم

د گیټو نه لاندې پېنسی ساتلو سره مونځ کول څه حکم لري؟

(۱٦٨ سوال) د گیټو نه لاندې پرتوگاو لنگ ساتل څنگه دی ؟
جائز دی یا حرام؟ ډېر کسان د مانځه په وخت کی پرتوک راغونډولو سره د گیټو نه پورته کوی. ایا مانځه کی د گیټو نه پرتوگپورته کول ضروری دی ؟ که پرتوک د گیټو نه لاندی وی او مونځ وکړی نو څه حکم لری ؟ ایا مونځ دوباره کول غواړی؟
(جواب) د گیټو نه لاندې پرتوګاو لنگ ساتلو سره مونځ کول مکروه دی د هغه مونځ نه قبلېږي. په ابو داؤد شریف کی حدیث دی:-
(حدثنا موسی بن اسمعیل ..... عن عطاء بن یسار عن ابی هریرة قال بینما رجل یصلی مسبلا ازاره اذ قال له رسول الله صلی الله علیه وسلم اذهب فتوضأ فذهب فتوضا ثم جاء. ثم قال اذهب فتوضأ فذهب فتوضا ثم جاء فقال له رجل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم مالک امرته ان یتوضاء قال انه کان یصلی وهو مسبل ازاره. و ان الله جل ذکره لا یقبل صلوة رجل مسبل ازاره. (ابو داؤد شریف ص ۱۰۰ جلد اول باب الاسبال فی الصلوة)
ترجمه: عطاء بن یسار د حضرت ابو هریرة (رض نه روایت کوی چې یو سړی خپل پرتوګد گیټو نه لاندې کولو حالت کی مونځ کولو او رسول الله (ص) ورته وفرمائل: لاړ شه دوباره اودس کولو سره راشه هغه سړی اودس کولو سره راغی بیا رسول الله (ص) ته یو سړی عرض وکړ چې تاسو ذې سړی ته د اودس کولو حکم ولې ورکړ؟ رسول الله (ص) وفرمائل: ده خپل پرتوګد گیټو نه لاندې ساتلو په حالت کی مونځ کولو او الله تعالی د هغه سړی مونځ نه قبلوی چې پرتوګیې د گیټو نه ښکته وی، یو بل حدیث کی دی:
(حدثنا زید بن اخزم ... عن ابن مسعود قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول من اسبل ازاره فی صلوته خیلاء (ای تکبراً) فلیس من الله جل ذکره فی حل ولا حرام. (ابو داؤد شریف ص ۱۰۰ جلد اول باب الاسبال فی الصلوة)
ترجمه: د حضرت عبدالله بن مسعود نه روایت دی چې ما د رسول الله (ص) نه

اوریدلی چی فرمائل یې : چا چې د تکبر له وجې مانخه کـې خپـل پرتـوګـد ګیټـو نـه لاندې ساتلی وی نو د الله تعالی له طرفه هغه لپاره نه جنت حلال دی او نـه وربانـدې جهنم حرام دی.

سړو لپاره د پرتوګوغیره متعلق شرعی حکم دا دی چې د ګیټو څخه ښکته ه وی افضل خو دا دی چې تر نیمایی پنډو نه اوچت وی که ددینه لاندې وي نو بیا کـم نـه کـم د ګیټو نه پورته وی ، د تکبر له وجې د ګیټو نه لاندې پرتوګساتل سخت حرام دی په حدیثو کی پدې باندې سخت وعید راغلی ، یو څو حدیثونه وګورئ-:

(۱) ـ عن ابی سعید (رض) قال سمعت رسول الله صلی الله علیـه وسـلم یقـول ازارة المؤمن الی انصاف ساقیه لا جناح علیه فیما بینه و بین الکعبین ما اسفل من ذلـک ففـی النار قال ذلک ثلث مرات و لا ینظر الله یوم القیمة الی من جر ازاره بطراً رواه ابـو داؤد و ابن ماجه (مشکوة شریف ص ۳۷۴ کتاب اللباس ، فصل نمبر ۲))

ترجمه : حضرت ابو سعید (رض) فرمایی چې ما د رسول الله (ص) دا فرمان اوریـدلی دی، : د مؤمن پرتوګتر نیمایی پنډیو پورې دی او که ددینه لاندې د ګیټو نه پورتـه وي پدې کی هم څه ګناه نشته او چې د ګیټو نه لاندې وی هغه به جهنم کي وی ، دا خبره رسول الله (ص) درې ځلې وکړه ، او وې فرمائل : الله تعـالی د قیامـت پـه ورځ هغـه سړی ته د رحمت په نظر نه ګوری چې خپل پرتوګد تکبر په وجه لاندې ساتی،

(۲) ـ عن ابی هریرة (رض) قال قال رسول الله (ص) ما اسفل من الکعبین من الازار فهو فی النار)) رواه البخاری (مشکوة (۳۷۳) صفحه کتاب اللباس)) یعنی : حضرت ابـو هریرة (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : د پرتوګکومـه حصـه چې د ګیټو نه لاندې وی هغه به جهنم کی وی ، د حدیث مطلب دا دی چـې د ګیټـو نه لاندې د قدم څومره حصه باندې چې پرتـوګلانـدې وی هغـه بـه دوزخ کـی وی (مظاهر حق ۴۹۴/۳ ملخص)

(۳) ـ عن ابی هریرة (رض) ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لا ینظـر الله یـوم القیمة الی من جر ازاره بطراً متفق علیـه (بخـاری و مسـلم) (مشـکوة شـریف ص ۳۷۳ کتاب اللباس))

ترجمه د ابو هریرة (رض) نـه روایـت دی چـې رسـول الله (ص) فرمـایلی دی : الله تعالی د قیاست په ورځ هغه سړی ته د رحمت نظر نه کوی چې خپل پرتـوګد تکبـر لـه وجې له ګیټو نه لاندې ساتی.

(۴) ـ عن ابن عمر (رض) ان رسول الله (ص) قال من جر ازاره خیلاء لم ینظر الله یوم القیامة) متفق علیه (مشکوة (۳۷۳) صفحه)

ترجمه : د عبد الله ابن عمر (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایی : کوم سړی چې خپل پرتوګله تکبر نه راکاږی یعنی د ګیټو نه لاندې ساتی الله تعالی ورته قیامت په ورځ د رحمت په نظر نه ګوری

(۵) ((عن ابن عمر (رض) قال قال رسول الله (ص) بینما رجل یجر ازاره من الخیلاء خسف به فهو یتجلجل فی الارض الی یوم القیامة) (رواه البخاری) (مشکوة شریف (۳۷۳) صفحه)

ترجمه : د ابن عمر (رض) نه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایی : یو سړی له تکبر نه پرتوګپه خمکه را ښکلو هغه په خمکه راننوستی شو او هغه تر قیامت پورې به خمکه کی روان وی.

(٦) ـ حدثنا حفص بن عمر ...... عن ابی ذر عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال ثلثة لا یکلمهم الله و لا ینظر الیهم یو القیمة و لا یزکیهم و لهم عذاب الیم قلت من هم یا رسول الله فقد خابو او خسروا فاعاها ثلثاً قلت من هم یا رسول الله خابو او خسر و اقال المسبل والمنان والمنفق سلعته بالحلف الکاذب او الفاجر (شک الراوی) (ابو داؤد شریف ص ۲۱۰ جلد ثانی ، کتاب اللباس باب ماجاء فی اسبال الازار))

ترجمه حضرت ابو ذر (رض) د رسول الله (ص) نه روایت کوی چې فرمایلی یې دی : درې کسان داسې دی چې الله تعالی ورسره نه خبری کوی او نه د قیامت په ورځ د رحمت په نظر ورته ګوری او نه یې پاکوی او هغوی لپاره دردناک عذاب دی ، ما عرض وکړ یا رسول الله (ص) دا کوم کسان دی دوی خو یقیناً ناکام او تاوانیان دی ، رسول الله (ص) دا خبره درې ځلی تکرار کړه ما بیا عرض وکړ یا رسول الله (ص) دا څوک دی ددی خو یقیناً ناکام او تاوان کی پربوتل رسول الله (ص) وفرمائل : (۱) پرتوګد ګیټو نه لاندې ساتونکی (۲) احسان بارونکی (۳) په دروغه قسم کولو سره خپل مال خرڅونکی

د ګیټو نه لاندې پرتوګساتونکی الله تعالی ته دومره ناخوښ دی چې په میلة البراءة (د شعبان (۱۵) شپه ، کی هم داسې شخص د الله تعالی د رحمت او مغفرت نه محروم پاتی کیږي لکه چې په مظاهر حق کی حدیث نقل کړی دی ، او یو روایت کی راځی چې د شعبان پنځلسم شپه کی تولو ته ښنه کیږي مګر د عاق (د مور پلار نا فرمانی

کوټکی) او د حد من خمر (همیشه شرابی) او د مسبل الازار (د ګیټو نه لاندې پرتوګ ساتونکی) ښنه نه کېږي (مظاهر حق ۳ ۴۹۵ کتاب اللباس)
په (الجواهر الزواهر ترجمه البصائر کی دی : (رسول الله (ص) فرمایلی دی : نن شپه الله رب العزت د بنو کلب د بیزو د وړیو او ویښتانو په مقدار دوزخیان معاف کړه البته څوک چې شرک وی . حسد او کینه ساتی . د خپلولی حقوق نه ادا کوی او څوک چې پرتوګد ګیټو نه ښکته ساتی ، څوک چې د مور پلار نافرمانی کوی ، څوک چې د شرابو عادتی وی د دوی طرف ته د رحمت نظر نه کوی . (الجواهر الزواهر (۲۵۱) صفحه (۲۰) بصیرت) پدې ذکر شوی روایتو کی غور وکړی چې د ګیټو نه پرتوګلاندې ساتونکی بارد کی څومره سخت وعیدونه اعلی دی ، ددی روایتونو ته په کتو سره هیڅ یو مسلمان ددی خبرې همت نشي کولی چې خپل پرتوګله ګیټو ښخه لاندې وساتی او دا کار زیاته د تکبر او د نورو سره د مشابهت لپاره کېږي ، کله چې شرعی حکم دا دی چې خپل لباس باید له ګیټو نه لاندې نه وی نو پدې کی غفلت او بې پرواهی کول ندی پکار ، لهذا دا ویل چې څومره دا کار د تکبر له وجې نه دی په بې خیالی کی کېږي قابل قبول ندی او بل کتونکو د داسې سړی سره بد ګمانی پیدا کېږي ، نو داسې هیئت ولی اختیار کړی شی چې ددی په وجه خلک بد ګمانه کېږي په هد الاثام کی دی :

سړو لپاره د ګیټو لاندې د پرتوګاو لنګ اچولو ممانعت :

خرنګه چې رسول الله (ص) سړو ته واضح فرمایلی دی چې (ما اسفل من الکعبین من الازار ففی النار) (بخاری) یعنی کوم سړی چې د ګیټو نه لاندې پرتوګساتی هغه به دوزخ کی وی . لهذا سړو لپاره دومره ښکته پرتوګیا لنګ اغوستل قطعی حرام دی ، په خینو حدیثونو کی چې فخر او تکبر له وجی اغوستو کوم قید ذکر دی اول خو دا قید احترازی نه بلکی اتفاقی دی لکه د محدثینو له اقوالو څخه چې واضح معلومېږي او دویم دا چې که پدې کی فخر او تکبر نه وی نو څه وجه ده چې د ګیټو نه پورته پرتوګ ساتلو باندې شرمېږي او یا داسې پرتوګاغوستونکو ته د حقارت په نظر څنګه ګوری ؟ او خندا ورباندې هم کوی کوم چې کفر دی ځکه چې شرعی مسائلو باندې خندا کول صریح کفر دی . غرض دا معلومېږي چې دا ټول خرابی ده د ضمیر او عقیدې خرابی ده او که نه د شرعی احکامو په خای کول څه مشکل نه دی (عد الاثام معروف به

احکام الاعضاء (۱۵۷ ، ۱۵۸) صفحی د مولوی محمد یاور حسین حنفی گویا موی تصنیف . مطبع نول کشور لکهنؤ)
په فتاوی عالمگیری کی دی : (تقصیر الثیاب سنة و اسبال الازار و القمیص بدعة ینبغی ان یکون الازار فوق الکعبین الی نصف الساق و هذا فی حق الرجال و اما النساء فیرخین ازار هن اسفل من ازار الرجال یستتر ظهر قد مهن اسبال الرجل ازاره اسفل من الکعبین ان لم یکن للخیلاء ففیه کراهة تنزیه کذا فی الغرائب (فتاوی عالمگیری ص ۳۳۳ ج ۵ کتاب الکراهیة ، الباب التاسع)
پدې بناء مسلمانانو باندې لازم دی چې پرتوگاو لنگ د گیټو نه پورته وساتی او دا حکم یواځی مانځه لپاره ندی بلکی هر وخت پدې باندې عمل کول لازم او ضروری دی گویا چې د مانځه په وخت کی پدې باندې عمل نه کولو گناه نسبتاً زیات دی او که د تکبر له وجی وی نو پدې حالت کی مونځ مکروه تحریمی گرځی او د ثواب نه محروم پاتی، کېږي ، په فتاوی دار العلوم کی دی:
(سوال) مانځه کی د گیټو نه لاندې پرتوگساتل څنگه دی؟
(جواب) امانځهٔ کی د گیټو نه لاندې پرتوگاو لنگ ساتل مکروه دی ، د ثواب نه محروم پاتی، کېږي ، د مانځه نه علاوه هم د گیټو نه پورته ساتل ضروری دی ، په حدیث کی داسې سری لپاره ډېر وعید راغلی ، فقط (فتاوی دار العلوم ۱۲۷/۴ مدلل و مکمل)) فقط

_ د مانځهٔ په حالت کی چې خط ولولي څه حکم لري؟

(۱۶۹سوال) که چیرته د جوماټ قبلې طرف دیوال باندې څه لیکل شوی وی مثلاً د دنیایی خبرې منع دی ، یا کوم ایت یا حدیث لیکل شوی وی که دا څوک د لمانځه په حالت کی په زوه سره ولولی نو د داسې مکتوب په مفهوم او مطلب باندې پوهیدو سره مونځ فاسدېږي ؟ وضاحت وکړی خیر وسئ
(جواب) پد قصد او ارادی سره زړه کی لوستل او پوهیدل مکروه دی ، البته مونځ نه ماتېږي او که په لوستو کی ژبه حرکت وکړی نو دا تلفظ شو پدې سره مونځ ماتېږي ، او که بغیر د قصد او ارادی نه اتفاقً نظر پرېوځی نو معاف دی ، مکروه نه دی مګر نظر به وربانذې قائم نه ساتی ، په در مختار کی دی : (و لا یفسد ها نظره الی مکتوب و فهمه و لو مستفهماً و ان کره) (در مختار) او په شامی کی دی :
(قوله و لو مستفهماً اشار به الی نفی ما قیل انه لو مستفهما تفسد عند محمد قال فی

البحر و الصحيح عدمه اتفاقً لعدم الفعل منه ... الخ (قوله و انه کره) ای لا شتغاله بما ليس من اعمال الصلوة و اما لو وقع عليه نظره بلا قصد و فهمه فلا يکره (در مختار وشامی ص ۵۹۳ ج ۱ ، باب ما يفسد الصلوة و ما يکره فيها))

او مراقی الفلاح کی دی :

(لو نظر المصلی الی مکتوب و فهمه سواء کان قرانا او غير قصد الاستفهام او لا اساء الادب و لم تفسد صلاته لعدم النطق . بالکلام . (قوله لو نظره المصلی الی مکتوب الخ) وجه عدم الفساد انه انما يتحقق بالقراءة و بالنظر و الفهم لم تحصل و اليه اشار المؤلف بقوله لعدم النطق (قوله قصد الاستفهام) بهذا علم ان ترک الخشوع لا يخل بالصحة بل بالکمال و لذا قال فی الخانية والخلاصة اذا تفکر فی الصلوة فتذکرشعراً او خطبة فقرا ها بقلبه و لم يتکلم بلسانه لا تفسد صلاته کما فی البحر (قوله اساء الادب) لا ن فيه اشتغالاً عن الصلوته و ظاهره ان الکراهة تنزيهية و هذا انما يکون بالقصد و اما لو وقع نظره عليه من غير قصد و فهمه فلا يکره (مراقی الفلاح و طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱۸۷ فصل فی ما لا يفسد الصلوة) فقط.

_لمانځه کی خپل بدن او کپړو سره لوبی کول:

(۱۷۰سوال) که لمانځهٔ کی خپل بدن باندې بغير د ضرورت نه لاس تيروی ، کپړی سموی ، دا څنګه دی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله

(جوا ب) سونځ بايد نهايت خشوع و خضوع او توجه سره ادا کړی شی ، بغير د ضرورت نه بدن ګرول او پرې لاس تيرول مکروه تحريمی دی ، په در مختار کی دی (و عبثه به ای بثوبه و به سده للنهی الا لحاجة و لا باس به خارج ان الله کره ثلاثاً العبث فی الصلوة والرفث فی الصيام والضحک فی المقابر وهی کراهة تحريم کما فی البحر) يعنی بغير د ضرورت نه خپل بدن او کپړو سره لوبی کول مکروه دی ، حديث کی لدينه نهی (منع) راغلی لکه چې فرمايی : الله تعالی درې شيان بد ګڼی (۱) مانځه کی لوبی کول (۲) په روژه کی کنځل کول (۳) مقبره کی خندل ، او دا کارونه مکروه تحريمی دی ، په بحر کی ددی تصريح شوی دی (درمختار و شامی۵۹۹/۱ مکروهات الصلوة) فقط والله اعلم.

_د فرض نه وروسته امام پخپل ځای کی سنت او نفل وکړی ځنګه دی؟

(۱۷۱سوال) که امام د فرضو نه بعد پخپل ځای باندې سنت او نفل وکړی نو ځنګه دی ؟

(جواب) مناسب دا دی چې امام د مصلی نه جدا بل ځای کی سنت او نفل وکړی پخپل ځای باندې کولو ته فقهاؤ مکروه ویلی دي ، البته که جدا ځای نه وی نو بیا خو مجبوری ده ، په طحطاوی علی مراقی الفلاح کی دی : (و یکره للامام ان یصلی فی مکانه الذی صلی فیه الفرض کما فی البحر والکافی) (طحطاوی (۱۰۳) صفحه قبیل باب الاذان تحت قوله الا سنة الفجر) فقط والله اعلم.

_لوځ سر لمونځ کول:

(۱۷۲سوال) ورځ په ورځ ازاد خیاله خلکو لوځ سر لمونځ کول یو فیشن جوړ کړی څه حکم یی دی ؟ وضاحت وکړئ خیر یوسئ'

(جواب) سر پټول او ټوپی (خوله) په سر کول اسلامی لباس کی داخل دی ، ددی خاص اهمیت او فضیلت راغلی دی ، لوځ سر د خلکو په وړاندې ټګ راتګ کول بې ادبی او بې حیایي ده ، رسول الله (ص) صحابه کرام ، تابعین او سلف صالحین ، مشائخ او محدثین او دینی امامانو دا عادت نه ؤ بلکی دا خو د یهودو نصاراؤ او پردیو پیروی دی شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله فرمایی : (و یکره کشف راسه بین الناس) یعنی د خلکو په وړاندی لوځ سر ګرځیدل مکروه دی (غنية الطالبين ۱۳/۱) په تلبیس ابلیس کی امام ابن جوزی لیکی : (و لا یخفی علی عاقل ان کشف الراس مستقبح وفیه اسقاط مروة و ترک ادب و انما یقع فی المناسک تعبد الله دلالة) (۳۷۳ صفحه) یعنی په عقلمند باندې دا خبره پټه نه ده چې لوځ سر د خلکو په وړاندې ګرځیدل معیوب دی او پدې کی بې مروتی او بې ادبی ده ، یواځی د احرام په حالت کی د عبدیت او د عاجزی د اظهار په خاطر د سر لوځ پرینبودو حکم دی نه د فیشن په طور ، کله چې د خلکو په وړاندې لوځ سر ټګ راتګ مکروه او بې ادبی ګڼل کېږي نو بیا د لمانځه په شان عظیم الشان عبادت لوځ سر ادا کولو کی به څومره خرابی او بې ادبی لازمېږي ؟ مشران چې لوځ سر ګرځیدو او لمونځ کولو کی کشران ووینی نو کشران هم د مشرانو نقل شروع کړی او ددی ورانی سبب مشران دی ، په حدیث شریف کی دی (و من

سن فی الاسلام سنة سیئة کان علیه و زرها و وزر من عمل بها من بعد من غیر ان ینقص من اوزارهم شیئ (مشکوة (۳۳) صفحه کتاب العلم))
یعنی چا چې ناکاره طریقه جاری کړه پدې باندې دده ګناه ده او څوک چې وروسته پدې عمل وکړی د هغه ګناه هم ده بغیر ددینه چې د وروستنو په ګناه کی څه کمی وشي ، په در مختار کی دی چې د سستی په وجه لوڅ سر مونځ کول مکروه دی او په شامی کی علماء کرامو نه نقل دی چې د ګرمی په وجه هم لوڅ سر مونځ کول مکروه دی : (و تکره صلوته حاسرا ای کاشفا راسه للتکاسل (در مختار) عن بعض المشایخ انه لاجل الحرارة والتخفیف مکروه (شامی ج ۱ ص ۶۰۰ مکروهات الصلاة مطلب فی الخشوع)
او فقهاء کرامو دا هم ویلی دی چې د ناراستیا په وجه لوڅ سر لمونځ کول مکروه دی تر دی پورې که د لمانځه په حالت کی ټوپی (خوله) پریوځی نو بغیر د عمل کثیر څخه به بیرته په سر کوی (و لو سقطت قلنسوته فاعادتها افضل الا اذا احتاجت لتکریر او عمل کثیر (ایضاً (۶۰۰) صفحه) لهذا لوڅ سر لمونځ کول قابل ترک او د فاسقانو فعل دی ، الله تعالی دی خوان طبقی ته د ښو کارونو توفیق ورکړی او ددی نازیبا طریقی نه منع کړی ، آمین فقط والله اعلم.

_ په محراب کی د امام ودریدل کله مکروه دی؟

(۱۷۳سوال) که امام صاحب د جومات په محراب کی ودریدو سره مونځ ورکړی نو څه پروا کوی؟
(جواب) که امام صاحب پدې شان محراب کی ولاړ وی چې دواړه ښپی محراب کی دننه وی نو مکروه دی او که ښپې یې د محراب نه بیرون وی بیا مکروه نه دی ، او که د ګنه ګونی او د ځای د تنګی په وجه مجبوریت نه محراب کی دننه ودریږی نو مکروه ندی
(و یکره قیام الامام بجملته فی المحراب لا قیامه خارجه و سجوده فیه (الی قوله) و اذا ضاق المکان فلا کراهة (مراقی الفلاح بهامش الطحطاوی ص ۱۹۸ فصل فی المکروهات الصلاة) فقط والله اعلم.

_ په لمانځه کی د امام مکروه حرکتونه

(۱۷۴سوال) یو امام صاحب نیت تړلو نه وروسته بیا بیا په ږیره او مخ باندې لاس

تېروي او بیا بیا قمیص را کاږی همداسې رکوع کی پښتی د پرتوګ پینځی سیده کوی بیا سجده کوی ، په مانځه کی داسې حرکت کونکی پسې د مونځ څه حکم دی؟

(جواب) امام او غیر امام دواړو ته د داسې فضول حرکتونو څخه خان ساتل پکار دی ۰ پدې سره مونځ مکروه کېږي او کله د عمل کثیر کیدو په وجه د مونځ د ماتیدو نوبت هم راځی لهذا داسې عبث کارو څخه امام او مقتدی سره بچ کیدل پکار دی-:

(و یکره ایضا ان یکف ثوبه وهو فی الصلوٰة بعمل قلیل بان یرفعه من بین یدیه او من خلفه عند السجود او یده فیها وهو مکفوف کما اذا دخل وهو مشمر الکم والذیل و ان یرفعه کیلا یتترب الخ (کبیری ص ۳۳۷) .... فقط والله اعلم بالصواب.

مسبوق ، لا حق او مدرک

_په حرم شریف کی د ګڼه ګوڼی په وجه مسبوق لپاره څه حکم دی؟

(۱۷۵ سوال) په حرم شریف کی زیاتره وخت داسې اتفاق کیږي چې حاجیان صاحبانو ته دروازو سره ځای نصیب کیږي کوم ځای کی چې خلک تګ راتګ کوی او کله نا کله یوه دوه رکعته هم پاتی کیږي او د امام د سلام نه وروسته د هغو ادا کول مشکل وی خاص طور سره د مازدیګر په وخت چې لدینه وروسته سنت نشته پدې وجه خلک د باهر وتلو کوشش کوی او دومره زیات ازدحام او ګڼه ګونه جوړیږي چې سجده کول زیات مشکل شی بلکی پدې بیر و بار کی ودریدل هم ګران وی ، پداسې حالت کی مسبوق (چا نه چې یوه یا دوه رکعته تیر شوی وی) د امام سلام اړولو نه مخکی ودریږي او خپل فوت شوی رکعتونه جلتی سره وکړی او د امام له سلام نه وروسته او د خلکو له پورته کیدو نه مخکی فارغ شي نو مونځ صحیح کیږي یا نه؟

(جواب) پداسې حالاتو کی چې د فوت شوی رکعتونو د ادا کولو امکان نه وی نو امام سره اخره قعده کی د تشهد په مقدار کی او بیا ودریږی او خپل فوت شوی رکعتونه په جلتی او تلوار سره وکړی نو مونځ صحیح کیږئ ، په کبیری شرح منیه کی دی (او یخاف مرور الناس بین یدیه و نحو ذلک فلا یکره ح ان یقوم قبل سلامه بعد قعوده قدر التشهد ولا یقوم قبل قعوده قدر التشهد اصلاً) (مفسدات صلوة (۴۳۹) صفحه)

(ترجمه) او که ویریږی چې خلک به دده په وړاندې تیر شي او یا داسې بل څه ویره وی نو پدې وخت کی مکروه نه دی چې امام سره په آخره قعده کی د تشهد په مقدار کیني او بیا به د سلام نه مخکی ودریږی او د تشهد په مقدار د کیناستو څخه مخکی به هرګز نه ودریږی ،

_که د ماښام یو رکعت ونیسي پاتی مونځ به څنګه ادا کوی؟

(۱۷٦ سوال) کله چې د ماښام آخری رکعت ونیسي نو د امام د سلام نه وروسته به یوه رکعت بل وکړی او بیا به قعده وکړی ځکه چې د امام سره شریک شوی رکعت سره دوه رکعته شول لیکن زما ملګری (چا چې آخری رکعت نیولی ؤ) یو رکعت بل ادا کولو سره قعده ونه کړه بلکی دواړه رکعتونه وروسته یې قعده وکړه او علاوه لا دا چې سجده

سهوه یې هم ونه کړه نو دده مونځ وشو یا نه ؟ دوباره کول یې واجب دی ؟
(جواب) پدې مسئله کی یو رکعت نه وروسته قعده کول بهتر ؤ تاسو صحیح وکړل او ستا ملګری لـه چې دوه رکعتونه وروسته قعده کړی د هغه هم مونځ شوی دی دوباره کولو ضرورت نشته . پدې صورت کی سجده سهوه هم استحساناً لازم ندی (و لـو ادرک مع الامام رکعة من المغرب فانه یقرا فی الرکعتین الفاتحه والسورة و یقعد فی اولهما لا نها ثنائیة و لو لم یقعد جاز الخ (کبیری ص ۴۴۱ مفسدات صلاة صغیری ص ۲۴۱ شامی ج ۱ ص ۵۵۸ قبیل باب الاستخلاف فتاوی محمدی ص ۸۷)
همداسې یوه واقعه د حضرت ابن مسعود (رض) په وړاندې هم پېښه شوی وه نـو ده بیا فتوی ورکړه چې د دواړو (مسروق او جندب) مونځ شوی دی مګر زما دا خوښ دی چې د مسروق پشان مونځ وکړم یعنی یو رکعت ادا کولو سره قعده وکړم (مجمع الزوائد ۱۷۲/۱) (قال فی شرح المنیة و لو لم یقعد جاز استحساناً (لا قیاساً و لـم یلزمـه سجود السهو لکون الرکعة اولی من وجهه) (شامی ۵۵۸/۱) فقط والله اعلم.

_د مسبوق تحریمه ویلو سره فوراً امام سلام وګرځولو:

(۱۷۷ سوال) مسبوق تکبیر تحریمه وویل او امام سلام وګرځولو یعنی قعده کی امام سره شریک نشو بلکی هم هغسې ولاړ ؤ . نو دوباره تکبیر تحریمه ووایی یا اولنی کافی دی ؟
(جواب) د امام سلام ګرځولو نه مخکی چې تکبیر تحریمه ویلی دی نو جماعت کـی شریک ګڼلی شی دوباره تکبیر ویلو ضرورت نشته دی[1] فقط والله اعلم.

_ایا مسبوق امام سره سلام ګرځولی شی؟

۱۷۸ سوال) مسبوق سړی د سجده سهوی په سلام کی د امام تابعداری وکړی یا نه؟
(جواب) مسبوق یعنی د چا نه چې څه رکعتونه پاتی وی دې به په سجده سهوه کی د امام پیروی کوی مګر سلام به نه ګرځوی (شامی ۶۹۶/۱ باب سجود السهو) فقـط والله اعلم.

_ په آخره قعده کی مسبوق به امام سره درود او دعا وایی یا نه؟

(۱۷۹ سوال) د یو سړی نه دوه رکعته تیر شوی چې امام په آخـره قِعـده کـی کینـی او

---

[1]_ قوله و تنقضی قدوة بالاول ای بالسلام الاول قال فی التجنیس الامام اذا فرغ من صلاته فلما قال السـلام جآء رجل و اقتدی به قبل ان یقول علیکم لا یصیر داخلاً فی صلاته لان هذا سلام الاتری انه لو اراد ان یسـلم علی احد فی صلاته ساهیا فقال السلام ثم علم فسکت تفسد صلاته شامی ، واجبات الصلوة ج ۱ ص ۴۳۶ .

تشهد ، درود او دعاء وايي نو مسبوق به څه لولي ؟ التحيات او درود وغيره ولولي يا چپ کيني ؟

(جواب) مسبوق به امام سره آخره قعده کی التحيات دوسره رو رو وايي چې د امام سلام سره دده التحيات ختم شي يا اشهد ان لا اله الا الله درې څلی بيا بيا ولولي په در مختار کی دی : (و اما المسبوق فيترسل ليفرغ عند سلام امامه و قيل يتم و قيل يكرر كلمة الشهادة (در مختار) قوله فيترسل) اى يتمهل و هذا ما صححه فى الخانية و شرح المنية فى بحث المسبوق من باب سهو و باقي الاقوال مصحح ايضاً قال فى البحر و ينبغي الافتاء بما فى الخانية كما لا يخفى و لعل و جهه كما فى النهر انه يقضى اخر صلاته فى حق التشهد و ياتى فيه بالصلوة والدعاء و هذا ليس اخراً الخ (درمختار والشامي ج۱ ص ۴۷۷ فصل فى بيان تاليف الصلوة الخ) .

فقط والله اعلم.

که رکوع کی ښکته کیدو سره تکبیر تحریمه ووایی څه حکم لری؟

(۱۸۰ سوال) مقتدی د قيام په حالت کی نه بلکی رکوع ته ټیټیدو سره تکبیر تحریمه وویل او رکوع کی شریک شو نو اقتدّاء صحیح شو او رکعت یې معتبر دی یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی د قيام په حالت کی تکبیر نه دی ویلی نو په مانځه شامل شوی ندی او کله چې مانځه کی شاملیدل ثابت او صحیح نه شو نو رکعت به څنګه معتبر شي بلکی مونځ یې ندی صحیح شوی لکه مجالس الابرار کی چی دی :

(و محل التكبير القيام المحض حتى لو ادرک الامام فى الركوع و كبر حال الانحطاط لا يصير داخلاً فى الصلوة لان شرط الدخول فيها وقوع التكبير فى محض القيام و لو قال فى القيام الله و فى الركوع اكبر لا يصير داخلاً)

ترجمه : او د تکبیر ځای قيام دی (یعنی د قيام په حالت کی مکمل تکبیر ویل پکار دی) نو بناء پدې که امام یې رکوع بیا موند او ښکته کیدو سره تکبیر وویل نو مانځه کی نه داخلېږي ځکه چې مانځه کی د داخلیدو شرط د قيام په حالت کی تکبیر ویل دی لهذا که په قيام کی (الله) وویل او په رکوع کی (اکبر) نو مانځه کی نه داخلېږي (مجالس الابرار (۳۰۷) صفحه (۵۲) مجلس ، کبیر (۲۷۷) صفحه) فقط والله اعلم.

_که څلور رکعتې مونځ له امام سره يو رکعت ونيسي پاتې رکعتونه به څنګه ادا کېږي ؟

(۱۸۱ سوال) امام درې رکعته پوره کولو نه وروسته په څلورم رکعت کې يو نوی مقتدی ورسره شامل شو نو دغه مقتدی به د امام سلام نه وروسته خپل پاتې رکعتونه په څه طريقه ادا کړی ؟ يعنی کوم کوم رکعت کې د سورت فاتحې سره سورت يو ځای کوی ؟ او کوم رکعت کې به قعده کوی ؟ د حوالو سره جواب راکړی دلته پدې باندې اختلاف دی ، وضاحت وکړی خير يوسی (له جدی نه)

(جواب) پدې صورت د امام سلام ګرځولو نه وروسته به ودرېږی ثناء بـه وايـی او بيا عوذ بالله او بسم الله ويلو سره الحمد لله او يو سورت ولـولی او رکـوع او سـجده کولـو سره قعده وکړی په دويم رکعت کی به هم الحمـد لله او يـو سـورت ووايـی مګـر ددی رکعت نه وروسته به قعده نه کوی او دريم رکعت کی به يواځی سورت فاتحه ولـولی او بيا به دستور مطابق آخره قعده کولو سره مونځ پوره کړی ، په در مختار کی دی :-

(و يقضی اول صلوته فی حق قراءة و اخرها فی حق تشهد فمدرک رکعة مـن غيـر فجـر ياتی برکعتين بفاتحة و سورة و تشهد بينهما برابعة الرباعی بفاتحة فقط . (در مختـار کـی مع الشامی ج ۱ ص ۵۵۸ باب الامامة) فقط والله اعلم.

_که د ماښام مانځه کی دوه رکعته پاتی شی نو څنګـه بـه يـې ادا کوی؟

(۱۸۲ سوال) ماښام مانځه کی دوه رکعته پاتی شوی نو د امام سلام نه وروسته به په څه طريقه ادا کړی ، حوالو سره جواب راکړی ، دلته اخـتلاف دی ، وضـاحت وکـړی (لـه جدی نه).

(جواب) پدې مسئله کی د امام سلام ګرځولو نه وروسته به ودرېږي او ثناء ، اعوذ بالله او بسم الله ويلو سره به الحمد لله او يو سورت ولولی او رکـوع ، سـجده کولـو سـره بـه قعده وکړی او بيا دويم رکعت کی الحمد لله او يو سورت ويلـو سـره خپـل مـونځ پـوره کړی دا عامه قاعده ده ، مګر د ابن مسعود (رض) د حديث په وجه ځينو فقهاؤ ليکلـی دی چې که دوه رکعته کولو نه وروسته قعده وکړی بيا هم هغه بانـدې سـجده سـهوه او مونځ دوباره کول نه لازمېږي (مجمع الزوائد ۱۷۶/۱) ، په کبيری کی دی :-

(لو ادرک مع الامام رکعة من المغرب فانه يقرء فی الرکعتين الفاتحة والسورة و يقعد فـی

اولیهما لانها ثنائية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياسا و لم يلزمه سجود السهو (كبير ص ۵۵۸)

او شامي کې دی (قوله و تشهد بينهما قال فی شرح المنية و لو لم يقعد جاز استحساناً لا قياسا و لم يلزمه سجود السهو لكون الركعة اولى من وجه اه (شامی ج ۱ ص ۵۵۸ باب الامامة) فقط والله اعلم.

د فتاوی رحیمه یوه فتوی باندې د هغه جواب

(۱۸۳ سوال) د فتاوی رحیمیه اردو پنځم جلد (۱۵۳) صفحه باندې دا فتوی ده چې مسبوق تکبیر تحریمه وویل او امام سلام وګرځولو یعنی په قعده کې امام سره شریک نه شو هماغسې ولاړ ؤ نو تکبیر تحریمه دوباره وایي یا اولنی کافي دی ؟

(جواب) د امام سلام ګرځولو نه مخکې تکبیر تحریمه ویلی دی نو جماعت کې شامل ګڼلې شي دوباره تکبیر تحریمي ته ضرورت نشته ، پدې جواب باندې ځینو مفتي صاحبانو ته اشکال دی چې کله دې سړي قاعده کې شرکت ندی کړی نو اقتداء به یې څنګه صحیح شي ؟ ددی څه جواب دی ؟ وضاحت وکړی خیر یوسی.

(جواب) کله چې مسبوق د امام سلام اړولو نه مخکې د اقتداء په نیت تکبیر تحریمه وویل نو هغه د مانځه په حرمت کې داخل شو او اقتداء یې صحیح شو د اقتداء صحیح کیدو لپاره همدومره شرکت کافي دی ، په قعده کې شرکت شرط نه دی البته که د سلام لفظ ویلو نه وروسته تکبیر تحریمه ووایی نو بیا اقتداء یې نه صحیح کېږي ، شامی کې دی (قوله و تنتهي قدوة بالاول ای بالسلام الاول قال فی التحنيس الامام اذا فرغ من صلوته فلما قال السلام جاء رجل و اقتدى به قبل ان يقول عليكم لا يصير داخلاً فی صلاته لان هذا سلام الخ (شامی ج ۱ ص ۴۳۲ واجبات الصلاة)

لدینه معلوم شو چې اولنی صورت کې اقتداء صحیح ده د صحت اقتداء لپاره ادنی مشارکت کافي دی ، په صغیری کې دی : (و فی الذخيرة قال و ان سوى ظهره فی الركوع يعنى حال كون الامام راكعاً صار مدر كاً تلك الركعة قدر على التسبيح او لم يقدر ای لا تشترط المشاركة قدر التسبيحة و هذا هو الاصح لان الشرط المشاركة فی جزء من الركن و ان قل و ادناه ان ينتهى الى حد الركوع قبل ان يخرج الامام عن حد الركوع الخ (صغيرى ص ۱٦۵ ، ص ۱٦٦)

ددی په تائید کې دوه فتواګانی وړاندې کېږي.

ـ د هند مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمد کفایت الله صاحب فتوی:

(سوال) مقتدی د اقتداء په نیت سره یواځی تکبیر تحریمه ویلی ؤ چې امام سلام وګرځولو نو ایا متدی پدې تحریمه سره مونځ پوره کړی یا خانته انفرادی نیت کولو سره جدا تکبیر تحریمه ویلو سره مونځ شروع کړی؟
(جواب) که چیرته د سلام نه وړاندې مقتدی تکبیر تحریمه ختم کړی وی نو مانځه کی شریک شوی او همدا مونځ دې پوره کړی (کفایت المفتی ۹۸/۳)

(۲) د حضرت مفتی عزیز الرحمن صاحب د دار العلوم دیوبند پخوانی لوی مفتی فتوی

(سوال) زید تکبیر تحریمه وویل او امام سلام وګرځولو او زید امام سره په قعده کی بالکل شرکت ونه کړ نو اوس زید ته دوباره تحریمه ویل پکار دی یا اولنی تکبیر کافی دی ؟
(جواب) که پوره تکبیر تحریمه یعنی (الله اکبر) د امام سلام ګرځولو نه مخکی ویلی وی نو هغه جماعت کی شریک ګرځی اوس هغه ته دوباره تکبیر ویلو ضرورت نشته دی (قال فی الحلیه عند قول المنیة ولا دخول فی الصلوة الا بتکبیر الافتتاح) (شامی) (فتاوی دار العلوم مدلل و مکمل دویم جلد باب الجماعة (٦٩) صفحه) فقط والله اعلم.

ـ د فتاوی رحیمیه ۱۵۳/۵ فتوی په تائید کی نوری دوه فتوی:

(۱۸۴ سوال) د فتاوی رحیمیه اردو پنځم جلد (۱۵۳) صفحه باندې چې کومه فتوی ده د هغې خلاصه دا ده : مسبوق د امام سلام اړولو نه مخکی تکبیر تحریمه وویل او قعده تې نه وه کړی چې امام سلام واړولو ، د هغه اقتداء صحیح ده او جماعت کی شریک شو دوباره تکبیر ویلو ته ضرورت نشته ، پدې فتوی باندې ځینی علماؤ ته اشکال ؤ نو فتاوی رحیمیه پنځم جلد (۱۵۵، ۱۵٦) صفحه باندې ددی جواب ورکولو سره د فتاوی رحیمیه په تائید کی د هند مفتی اعظم د حضرت مولانا مفتی محمد کفایت الله رحمه الله او د حضرت مفتی عزیز الرحمن صاحب عثمانی دیوبندی فتواګانی وړاندې کړی ، لدینه وروسته نوری دوه فتوی له نظره تیر شوی هغه هم وړاندی کولی شی ددی دواړو

فتوا کانو څخه هم د فتاوی رحیمیه د فتوی صراحتاً تائید کېږي ، الحمد لله علی ذلک

(جواب) لدی دواړو نه یوه فتوی د امداد الاحکام ده (امداد الاحکام د امداد الفتاوی تکمله ده پدې کې د حضرت مولانا ظفر احمد تهانوی عثمانی او د حضرت مولانا مفتی عبدالکریم گتهملوی (رح) فتاوی درج دی کوم چې د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی قدس سره د نګرانی لاندې لیکلی شوی او د مکتبه دار العلوم کراچی نمبر ۱۵ پاکستان له طرفه ۱۴۰۰ هـ کی شائع شوی)

ـد یو مسبوق په لیدو سره دویم مسبوق خپل پاتی شوی رکعتونه یاد کړی څه حکم لری؟

(۱۸۵ سوال) دوه کسان یو ځای جماعت کی شریک شول د امام سلام نه وروسته خپل پاتی شوی رکعتونو ادا کولو کی یو ته شک پیدا شو چې څومره رکعتونه پاتی شوی ؟ نو هغه خپل ملګری ته په کتو سره خپل مونځ ختم کړ نو مونځ صحیح شو یا دوباره کول پکار دی ؟

(جواب) پدې مسئله کی مونځ شوی دوباره کولو ضرورت نشته ، البته که چیرته خپل ملګری پسې د امام په حیث اقتداء کړی وی نو بیا مونځ نه کېږي (نعم لو نسی احد المسبوقین فقضی ملاحظاً للآخر بالاقتداء صح) (در مختار مع الشامی ۵۵۸/۱ باب الامامة) فقط والله اعلم.

ـد امام د سلام په وخت د مسبوق اقتداء حکم

(۱۸٦ سوال) که چیرته یو مسبوق مونځ گذار داسې جماعت کی شریک شي چې د امام سلام اړولو نه مخکی یواځی نیت وکړی قعده کی ناستی لپاره لړ غوندې ښکته شوی ؤ مګر قعده یې ونه نیوله او امام سلام واړولو نو دا راته ووایی چې هغه مسبوق جماعت کی شریک شو یا نه؟ که شامل شوی نه وی نو په هماغه نیت سره خپل مونځ پوره کړی یا د انفرادی مونځ جدا نیت وکړی؟

(جواب) (قال فی الدر لو کبر قائماً فرکع و لم یقف صح لان ما اتی به الی ان یبلغ الرکوع یکفیه قنیة ص ۴٦۳ ج ۱ و فی الشرنبلالیة والثانی من شروط صحة التحریمة الاتیان بالتحریمة قائمة او منحنیاً قلیلاً قبل وجود انحنائه بما هو اقرب للرکوع قال فی البرهان لو ادرک الامام راکعا فحنی ظهره ثم کبر ان کان الی القیام اقرب صح الشروع و لو اراد به تکبیر الرکوع و تلغویته لان مدرک الامام فی الرکوع لا یحتاج الی تکبیر مرتین

خلافاً لبعضهم و ان کان الی الرکوع اقرب لا یصح التحریمة اه (ص ۱۳۷))
لدینه معلومیږي چې تکبیر تحریمه لپاره د الله اکبر په مقدار قیام کافي دی . او د زیات ضرورت هغه وخت دی چې مونځ گذار باندې د تحریمه نه وروسته قیام هم فرض وی . یواځې د تحریمې د صحت لپاره ادراک د رکوع وغیره کی د الله اکبر له مقدار نه زیات قیام لازم ندی ، نو که چیرته د امام له سلام نه وړاندی د مانځه په نیت سره الله اکبر ووایی نو د اقتداء صحیح کیږي که بنکته شوی هم نه وی او قعده یې هم نه وکړی او د الله اکبر نه وروسته وقفه هم نه وی کړی ، والله اعلم (امداد الاحکام ۱ .۴۵۷ ، ۴۵۸ صفحې) ۲۲ صفر ۴۶ هـ

دویمــه فتوی د پاکستان حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب لدهیانوی (رح) فتوی:

(۱۸۷ سوال) یو سړی تکبیر تحریمه ویلو سره امام سره شریک شو خو په آخره قعده کی (ناست نه ؤ چې امام سلام واړولو ایا دده اقتداء صحیح شوه یا نه ؟ وضاحت وکیړ

(جواب) باسم ملهم الصواب : اقتداء صحیح شوی ده (قال فی شرح التنویر و تنقضی قدوة بالاول قبل علیکم علی المشهور عندنا و علیه الشافعیة) (رد المختار ۱ .۴۳٦) (احسن الفتاوی جدید ۳/۲۷۰ باب الامامة والجماعة)

_مسبوق لپاره د ثناء تعوذ او د تسمیه حکم

(۱۸۸ سوال) مسبوق چې کله پاتې شوی رکعت ادا کولو لپاره ودریږي نو ثناء تعوذ او تسمیه به وایی یا نه ؟ وضاحت وکړئ خیر یوسی

(جواب) کله چې مسبوق د پاتې رکعتو پوره کولو لپاره ودریږي نو هغه به ثناء تعوذ او تسمیه وایی ، په در مختار کی دی :-

(والمسبوق من سبقه الامام بها او ببعضها وهو منفرد حتی یثنی و یتعوذو یقرا و ان قرامع الامام لعدم الاعتداد بها لکراهتها مفتاح السعادة (قوله حتی یثنی) تفریع علی قوله منفرد فیما یقضیه بعد فراغ امامه فیاتی بالثناء والتعوذ لا نه للقراءة و یقر لانه یقضی اول صلاته فی حق القراءة کما یاتی حتی لو ترک القراءة فسدت (در مختار و شامی باب الامامة ج۱ ص ۵۵۷ ، ۵۵۸) فقط والله اعلم.

د مریض لمونځ

_بیمار سړی په ناسته باندې فرض مونځ څه وخت کولی شي؟

(۱۸۹) سوال) یو سړی بیمار دی لیکن مانځه ته په خپلو ښپو راځي خو جماعت سره په ناسته باندې مونځ کوی دده مونځ کیږي یا نه؟

(جواب) فرض او واجب مونځ کې قیام (ودریدل) فرض دی که مکمل رکعت ودریدو سره نشي لوستلی نو تکبیر تحریمه دی په ولاړه ووایی او که د تکیه نه بغیر نشي ودریدلی نو په دیوال یا لرګی امسا باندې دې تکیه وکړی او په خپل خادم باندې هم تکیه کولی شي لنډه دا چې که تکبیر تحریمه ویلو سره صرف یو ایت هم په څه شان ودریدو سره لوستلی شي نو دومره مقدار به ضرور ودریږی ، که دومره یې هم طاقت نه وی او یا د مرض زیاتیدو خطره وی نو بیا په ناسته باندې د مونځ کولو اجازت دی همدا شان د ناستی متعلق دا هم دی چې په تکیه وهلو یا په هر صورت چې کیناستی شی نو په ملاستی سره مونځ نه کیږي کله چې د ناستی یو صورت هم پاتې نشي نو بیا به په ملاسته باندې کولی شي ، د فرض واجب او د سحر سنتو هم همدا حکم دی ، البته نفل بغیر د عذر نه په ناسته کولی شي مګر نیم اجر به ملاوېږي ، (قال فی الدر و ان قدر علی بعض القیام ولو متکا علی عصا او حائطاً (قام) لزوما بقدر ما یقدرو لو قدر آیة او تکبیرة علی المذهب لان البعض معتبر بالکل (در مختار) (و قوله علی المذهب) فی شرح الحلوانی نقلاً من الهندوانی و انی لو قدر علی بعض القیام دون تمامه او کان یقدر علی القیام بعض القراءة دون تمام یو مربان یکبر قائماً و یقر ما قدر علیه ثم یقعد ان عجز و هم المذهب الصحیح لا یروی خلافه عن اصحابنا و لو ترک هذا خفت ان لا تجوز صلاته و فی شرح القاضی فان عجز عن القیام مستویاً فلم یقوم متکئاً لا یجزیه الا ذلک و کذا لو عجز عن القعود مستویاً قالوا یقعد متکا لا یجزیه الا ذلک فقال عن شرح التمر تاشی و نحره فی العنایة بزیادة و کذلک لو قد ران یعتمد علی عصا او کان له خادم لو اتکا علیه قدر علی القیام اه (در مختار مع الشامی ص ۷۱۰ ج۱ باب صلوة المریض) فقط والله اعلم بالصواب و فیه ایضاً ..... قوله ای الفریضه اراد بها ما یشتمل الواجب کالو ترو ما فی حکمه کسنة الفجر (رد المختار باب صلوة المریض)

بیمار سړی مانځه کې نشي ودریدلی ، که یواځې مونځ کوی نو په څه طریقه باندې ودریدی شي دې لپاره څه حکم دی؟

(۱۹۰ سوال) بیمار سړی په کور کی په ولاړه مونځ کولی شی لیکن جماعت سره یی با جماعت مونځ لپاره د ودریدو طاقت نه لری په ناسته باندې کولو ته مجبوریږي نو هغه څه وکړی؟ په کور کی په ولاړه وکړی یا جومات کی با جماعت مونځ په ناسته وکړی؟
(جواب) هغه لپاره ضروری دی چې په کور کی په ولاړه مونځ وکړی ځکه چې قیام فرض دی جماعت لپاره د فرض پرېښودو اجازت نشته، که کور کی د کور خلکو سره د جماعت انتظام وشي نو بهتر دی[1] فقط والله اعلم.

_مريض لپاره تکيه اوچت کړی شو او سجده يې پرې وکړه څه حکم لری؟

(۱۹۱ سوال) مریض په اشاره باندې رکوع او سجده کوي که دې لره تکیه او بالخصت کېښودی شی او سجده ورباندې وکړی نو مونځ به کېږي یا نه؟ زید وایی چې په تکیه باندې سجده کولو سره مونځ نه کېږي ایا دا خبره صحیح ده؟ وضاحت وکړی مهربانی
(جواب) په اشاره کی چې څومره ښکته کیدی شی هومره سر ټیټول ضروری دی که چیرته په همدې مقدار باندې تکیه وی نو مونځ صحیح کېږي او که تکیه لدېنه اوچت وی نو ښکته کیدل مکمل شوی ندی بلکی مخل او مانع شو نو مونځ نه صحیح کېږي:
(و ان لم .. تطع الركوع والسجود يؤمى براسه قاعداً و يجعل سجوده اخفض من ركوعه ليتحقق الـ .. ـى بينهما و لا يرفع اليه شيئ يسجد عليه ان كان خفض راسه يصح و يكون صلاته بالايماء والافلا . (مجالس الابرار م ۵۲ ص ۳۰۸) فقط والله اعلم.

_د نجاست په حالت کی د مريض سړی او ښځی لمونځ:

(۱۹۲ سوال) هغه مریض چې په بستره پروت وی ګرځیدی راګرځیدی نشي، بدن او کېږې یې پاکی نشي پاتی کېدی ایا هغه پدې ناپاکی سره په بستره باندې مونځ کولی شي یا نه، هر مونځ لپاره پاکی حاصلول مشکل دی، که پدې کی څه ګنجائش وی نو راته ویې لیکی، او کله داسې هم وی چې نه پخپله استنجاء کولی شی او نه بل څوک موجود وی چې استنجاء ورته وکړی نو څه حکم یی دی؟ وضاحت وکړی (له حیدر

[1] _ و لو ا ضعفه عن القيام الخروج للجماعة صلى فى بيته قائما به يفتى خلافاً للاشباه قال فى الشامية تحت قوله به يفتى وجهه ان القيام فرض بخلاف الجماعة و به قال مالک والشافعى خلافا لا حمد بناء على ان الجماعة فرض عنده الخ در مختار مع الشامى باب صفة الصلوة ج ۱ ص ۴۱۵

آباد نه ؟

(جواب) د بدن ، کپړو او د بسترو د پاکولو که څه صورت نه وی نو پداسې بیماری حالت کی به هم مونځ ادا کوی او نه به یې پریدی ، انشاء الله ادا به شي ، همدا شان که داسې یو سخص چې ستر لیدل ورته جائز وی موجود نه وی او پخپله د استنجاء کولو نه بالکل عاجز وی نو پداسې وخت استنجاء ساقطیږي په همدې حالت کی به مونځ کوی او قضاء کوی به یې نه ، په در مختار کی دی :

مریض تحته ثیاب نجسة و کلما بسط شیئاً تنجس من ساعته صلی علی حاله و کذا لو لم یتنجس الا ان یلحقه مشقة بتحریکه (در مختار ج ۱ ص ۷۱۵ باب صلوة المریض) (و کذا مریض لا یبسط ثوبا الا تنجس فوراً له ترکه (در مختار) (و قوله و کذآ مریض الخ) فی الخلاصة مریض مجروح تحته ثیاب نجسة ان کان بحال لا یبسط تحته شیئ الا تنجس من ساعته له ان یصلی علی حاله و کذا لو لم یتنجس الثانی الا ان یزداد مرضه له ان یصلی فیه (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۲۸۳ کتاب الطهارت مطلب فی احکام المعذور)

په طحطاوي علی مراقی الفلاح کی دی : (فرع فی الخانیة مریض عجز عن الاستنجاء و لم یکن له من یحل له جماعهٔ سقط عنه الاستنجاء لانه لا یحل مس فرجه الا لذلک والله اعلم (طحطاوی علی مزاقی الفلاح فصل فی الاستنجآء ص ۲۷)

او په بهشتی زیور کی دی : مسئله نمبر ۱۳ : فالج و وهلو او داسی مریض شو چې په اوبو سره استنجاء نشي کولی ، نو په کپړه یا لوټه ستره صفا کړی او مونځ ورسره وکړی ، که پخپله تیمم نشي کولی نو بل څوک دی وره تیمم وکړي او که چیرته په لوټه او کپړی سره هم د صفا کولو طاقت نه وی بیا به هم مونځ نه قضاء کوی همداسې دې مونځ وکړی ، بل چا لره دده بدن لیدل یا صفا کول جائز ندي ، نه مور نه پلار نه خوی او نه لور البته ښځی ته د خپل خاوند او خاوند ته د خپلی ښځی بدن لیدل جائز دی لدینه علاوه بل هیچا ته جائز ندی (بهشتی زیور (۵۴ ، ۵۵) صفحی دویم حصه د بیمار د مونځ بیان) فقط

که په سجده کی څاځکی راځی نو مونځ څنګه وکړی ؟

(۱۹۳ سوال) یوه ښځه (۶۰) کاله عمر لری کله چې هغه سجده کی وی نو دوه درې څاځکی متیازی راځی او که په ناسته مونځ کوی نو بیا څاځکی نه راځی نو هغه څه قسم مونځ وکړی ؟ وضاحت وکړی ؟ خیر یوسی .

(جواب) پدې مسئله که په قيام او رکوع کی ځاځکی نه راځی نو په ولاړه دې مونځ وکړی او رکوع به هم کوی او سجده دې په ولاړه اشاره باندې وکړی (شامی ۱ ۷۱۰) يا دې کينی او په اشاره باندې سجده وکړي او دا هم جائز دی چې په ناسته باندې ټول مونځ په اشاره وکړی ، او فقهاؤ ديته (په ناسته او اشاری سره مونځ کولو سره د ولاړی مونځ په نسبت) افضل وېلی دی ، د سجدی اشاره د رکوع په نسبت زيات ښيټ پکار دی ، په ملتقی الابحر کی دی :

((و ان قدر على القيام و عجز عن الركوع والسجود او عن السجود فقط (يومى قاعداً وهو افضل من الايماء قائماً) لان القعود اقرب الى السجود وهو المقصود (ملتقى الابحر) مجمع الا نهر (قوله و ان قدر على القيام و عجز عن الركوع والسجود يومى قاعداً) لان ركنية القيام لكونه وسيلة الى السجود الذى هو نهاية التعظيم فسقط الوسيلة لسقوط الاصل (وهو) اى الايماء قاعداً (افضل من الايماء قائماً) لكون رائسه فيه اقرب الى الارض قال شيخ الاسلام يؤمى للركوع قائماً والسجود قاعداً و قال زفرو الشافعى يصلى قائما بالايماء كذا فى التبيين (مجمع الانهر شرح متلقى الابحر ص ۱۵۴ ، ص ۱۵۵ ، باب صلوة المريض)

په مراقی الفلاح کی دی : (و ان تعذر الركوع والسجود و قدر على القعودو لو مستنداً (صلى قاعدا بالايماء) للركوع والسجود براسه و لا يجزئه مضطجعا (و جعل ايماءه) لا براسه (للسجود اخفض من ايماءه) براسه (للركوع) و كذا لو عجز عن السجود و قدر على الركوع يؤمى بهما لان النبى صلى الله عليه وسلم عاد مريضاً فراه يصلى على و سادة فاخدها فرمى بهافاخد عوداً ليصلى عليه فرمى به و قال صلى على الارض ان استطعت و الا فاوم ايماء و اجعل سجودك اخفض من ركوعك)

او په طحطاوی على مراقى الفلاح کی دی :

(قوله صلى قاعداً بالايماء) او قائما به و الاول افضل لانه اشبه بالسجود لكونه اقرب الى الارض و هو المقصود كذا فى التبيين و فى البحر ظاهر المذهب جواز الايماء قائما او قاعداً كما لا يخفى اه قال الحلبى لو قيل ان الايماء قائما هو الافضل خرجاً من الخلاف يعنى خلاف من يشترط القيام عند القدرة عليه لكان موجها (قوله و كذا لو عجز عن

---

۱ ــ و فى الذخيرة رجل بحلقه خراج ان سجد سال وهو قادر على الركوع والقيام والقراة يصلى قاعداً يومى و لو صلى قائما بركوع و قعد او ما بالسجود و اجزاه و الا ول لم يشرعا قربة بنفسها بل ليكونا و سيلتين الى السجود ، باب صلوة المريض .

السجود الخ) قال فی الفتح رجل بحلقه جراح لا یقدر علی السجود و یقدر علی غیره من الافعال یصلی قاعدا بالایماء و لو قام و قرا ورکع ثم قعدو او ما للسجود جاز و الاول اولی (طحطاوی علی مراقی الفلا ح ص ۲۳۵ باب صلوة المریض)

په در مختار کی دی : (و منها القیام) ...... (فی فرض)..... (لقادر علیه) و علی السجود فلو قدر یسیل جرحه اذا قام او یسیل بوله ... الخ (درمختار) (قوله فلو قدر علیه) ای علی القیام وحده او مع الرکوع کما فی المنیة (قوله ندب ایماءه قاعداً) ای لقربه من السجود و جاز ایماء ه قائماً کما فی البحر ..... الخ (قوله و کذا) ای یندب ایماءه قاعداً مع جواز ایمائه قائما لعجزه ، عن السجود حکماً لانه لو سجد لزمه فوات الطهارة بلا خلف و او ما کان الایماء خلفاً عن السجود (در مختار و شامی ص ۴۱۴ ، ص ۴۱۵ ، ج ۱ باب صلة الصلوة)

په غاية الاوطار کی دی : (لقادر علیه و علی السجود باندې قیام فرض دی یعنی څوک چې په قیام او سجده باندې قدرت لري قیام فرض دی فلو قدر علیه دون السجود ندب ایماءه قاعداً یعنی که یواځی قیام باندې قدرت ولري نه په سجده باندې نو بیا په ناسته باندی اشاره سره مونځ کول مستحب دی ځکه چې قیام د سجدې لپاره ذریعه دی کله چې په اصل باندې قدرت نلري نو ذریعه دی هم پریدی ، طحطاوی ویلی دی چې پدې مسئله په اشاره باندې په ولاړه مونځ په ناسته اشاره باندې په ولاړه مونځ کول هم جائز دی ، (و کذا من یسیل جرحه لو سجد) او همدا شان هغه چا لپاره هم په ناسته اشاره باندې مونځ کول مستجب دی چې که سجده کوی نو د زخم نه یې وینه راوځی ځکه ګویا دا هم د سجدی نه عاجز دی ځکه چې په سجده کولو سره یې اودس ماتېږي نو کله چې سجده ساقطه شوه نو قیام هم ساقط شو ، کذا فی الحلبی (غاية الاوطار ۲۰٦/۱، ۲۰۷) د درمختار یو بل ځای کی دی :

(و ان تعذرا لیس تعذرهما بل تعذر السجود کاف (لا القیام او ما قاعداً) وهو الفضل من الایماء قائماً لقربه من الارض (و یجعل سجوده اخفض من رکوعه) لزوماً (د رمختار) (قوله او ما قاعداً) لان رکنية القیام للتوصل الی السجود فلا یجب دونه و هذا اولی من قول بعضهم صلی قاعدا اذا یفترض علیه ایقوم للقراة فاذا جآء او ان الرکوع والسجود او ما قاعداً کذا فی النهر اقول التعبیر یصلی قاعداً هو ما فی الهداية و القدوری و غیرهما و اما ما ذکره من افتراض القیام فلم اره لغیره فیما عندی من کتب المذهب بل کلهم متفقون علی التعلیل بان القیام سقط لانه وسیلة الی السجود بل صرح فی الحلیة بان

هذه المسئلة من المسائل التی سقط فیها وجوب القیام مع انتفاء العجز الحقیقی والحکمی اه و یلزم علی ما قاله انه لو عجز عن السجود فقط ان یرکع قائماً و هو خلاف المنصوص کما علمته آنفاً نعم ذکر القهستانی عن الزاهدی انه یومی للرکوع قائماً و للسجود جالساً و لو عکس لم یجز علی الاصح اه و جز به الو لو الجی لکن ذکر ذلک فی النهر و قال الا ان المذهب الا طلاق اه ای یؤمی قاعدا او قائما فیهما فالظاهر ان ما ذکره هنا سهو فتنبه له (در مختار و شامی ص ۷۱۰ ج ۱ باب صلوة المریض)
په غایة الاوطار کی دی : (و ان تعذرا .... و یجعل سجود اخفض من رکوعه) یعنی که رکوع او سجده دواړه نشي کولی نو په ناسته باندې اشارې سره دې وکړی او په ناسته باندې اشارې سره مونځ کول په ولاړه باندې اشارې سره مونځ کولو نه بهتر دی ځکه چې ناسته ځمکی ته قریب ده یعنی پدې صورت کی سجدې سره زیات مشابهت راځی ، او خپله سجده به لازماً د رکوع نه زیات ټیټوي یعنی بغیر د دینه سجده جائز نه ده ، شارح وایی د رکوع او سجدی دواړه متعذر کیدل شرط ندی بلکی یواځی د سجدی متعذره کیدل اشاری لپاره کافی دی نه د قیام متعذر کیدل ، الخ (غایة الاوطار ۳۴٦/۱) فقط والله اعلم.

د سترګو له آپریشن نه وروسته د لمونځ کولو طریقه: ۱

(۱۹۴ سوال) زما د سترګو آپریشن شوی دی که د رکوع او سجدی لپاره بنکته کېږم نو په سترګو کی ناقابل برداشت تکلیف کېږي درد کوی او سترګی سری ګرځی پداسې حالت کی ما لپاره د رکوع او د سجدې څه حکم لری ؟ وضاحت وکړی ، خیر یوسی

(جواب) پدې مسئله کی که واقعاً په رکوع او سجدې سره سترګو کی ناقابل برداشت تکلیف یا سترګو ته نقصان وی نو پدې صورت کی په ناسته باندې مونځ کولی شی ، رکوع او سجده به د سر په اشاره باندې کوی د سجدی اشاره باید د رکوع نه زیات بنکته وی ، په مراقی الفلاح کی دی-:

(و ان تعسر کل القیام بوجود الم شدید صلی قاعدا برکوع و سجود (قوله بوجود الم شدید) کدوران راس و وجع ضرس او شقیقة او رمد کما فی القهستانی(طحطاوی علی مراقی الفلاح) (و ان تعذر الرکوع والسجود) و قدر علی الرکوع و لو مستنداً (صلی قاعداً بالایماء) للرکوع والسجود براءسه و لا یجزیه مضطجعا (و جعل ایماءه) برابه (للسجود اخفض من ایمائه) برائسه (للرکوع) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۳۵ باب صلوة المریض) . فقط والله اعلم .

د مؤذن عذر په وجه ځان لپاره مصلی غوړولو باندې ټينګار کول:

(۱۹۵) سوال: زمونږ د مؤذن صاحب په پښه کې څه تکليف دی چې پدې وجه نبی پښه باندې نشي کيناستی نو پښې کولاوولو سره پداسې شکل کينی چې ډير ځای بندوی او نورو مونځ ګذارو ته تکليف وی نو پدې بناء هغه امام صاحب شاته جدا مصلی غوړول غواړی تر څو د مصلی ټول ځای ور ته پاتی وی مګر پدې صورت د صف په منځ کی خالی ځای پاتی کيږئ او صفونو کی اتصال نه راځی نو مؤذن صاحب لپاره جدا مصلی غوړول څنګه دی ؟ وضاحت وکړی خير بوسئ

(جواب) په حديثو کی د صفونو برابرولو او سيده کولو لپاره ډير زيات تاکيد راغلی يو حديث کی دی: (عن انس (ر ض) قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم رصوا صفوفکم وقار بوا بينها و حاذوا بالاعناق فوالذی نفسی بيده انی لا ری الشيطان يدخل من خلل الصف کانها الحذف رواه ابو داؤد. (مشکوة شريف ص ۹۸ باب تسوية الصفوف)

ترجمه: د حضرت انس (رض نه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلی دی: خپل صفونه برابر کړی او نزدی نزدی ودريږی اوږه له اوږې سره برابر کړئ جګ او ټيټ مه ودريږی (بان لا يقف احدکم فی مکان ارفع من مکان آخر و لا عبرة بالاعناق انفسها اذ ليس علی الطويل ان يجعل عنقه محاذياً لعنق القصير) (التعليق الصبيح ۴۵/۲) په هغه ذات می دی قسم چې د هغه په قبضه کی زما ساه ده زه شيطان لره داسې وينم چې د بيزی د بچی پشان د صفونو تر منځ خالی ځايو ته ننوځی (مشکوة شريف)

(۲) (عن ابی مسعود الانصاری رضی الله عنه قال کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يسمح مناکبنا فی الصلوة و يقول استوا و لا تختلفوا فتختلف قلوبکم، الی قوله. قال ابو مسعود فانتم اليوم اشد اختلافاً رواه مسلم. (مشکوة شريف ص ۹۸ باب تسوية الصفوف))

ترجمه د حضرت ابو مسعود (رض) نه روايت دی چې رسول الله (ص) به د جماعت ودريدو په وخت زمونږ په اوګو باندې لاس تيرولو او فرمايل به يې، برابر ودريږی او که نه ستاسو زړونه به پخپلو منځو مختلف شي (او په دې وجه به خپل منځی اختلاف پيدا کيږي). الی قوله ـ راوی د حديث فرمايی: (نن پدې وجه ستاسو تر منځ شديد اختلاف دی

(۳) عن النعمان بن بشير رضی الله عنه قال کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يسوی صفوفنا ثم خرج يوما حتی کا دان يکبر فرای رجلا باديا صدره من الصف فقال عباد الله لتسون صفوفکم او ليخالفن الله بين وجوهکم رواه مسلم (مشکوة شريف ص ۹۸ ايضاً).

ترجمه : له حضرت نعمان بن بشير نه روايت دی چې رسول الله (ص) به زمونږ صفونه برابرول يو ورځ رسول الله (ص) تشريف راوړ او قريب ؤ چې تکبير ووايي يو سړی يې وليد چې خپله سينه يې د صف نه باهر کړی وه نو ارشاد يې وفرمائل : د الله بندګانو خپل صفونه سيده ساتی او که نه الله تعالی به ستاسی څهری يو بل نه مخالف کړی يعنی په تاسو کی به بې اتفاقی پيدا شي .

(۴) (عن انس (رض) قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم سووا صفوفکم فان تسوية الصفوف من اقامة الصلوة متفق عليه (بخاری شريف ، مسلم شريف) (ايضاً مشکوة شريف ص ۹۸)

ترجمه : حضرت انس (رض) نه روايت دی چې رسول الله (ص)فرمايلی دی : ای خلکو خپل صفونه سيده کوئ ځکه چې د صفونو سيده کول د (اقامت صلوة) څخه دی (يعنی په ښه طريقه د مونځ ادا کولو يو جزء دی) لدينه علاوه نور حديثونه هم شته . لدې مذکوره حديثو څخه ثابتېږي چې صفونه بالکل برابرول ضروری دی . مونځ ګذاران بايد وړاندې وروسته نه وی او په مونځ کی خالی ځای هم نه وی او پدې ذکر شوی . مسئله کی مؤذن صاحب واقعاً معذور وی او د هغه د ښپو داسې تکليف وی چې د هغه په وجه د نورو مقتديانو پشان د سنت طريقی مطابق کيناستی نشي بلکی د ښپې اوږدولو په وجه منځ کی ځای خالی پاتې کېږي نو پدې صورت کی بايد د صف يو طرف او يا آخری صف کی ودرېږی او هلته ودريدو سره به ورته انشاء الله د اول صف ثواب ملاوېږي ، شامی کی دي (تنبيه قال فی المعراج الافضل ان يقف فی الصف الاخر اذا خاف ايذاء احد قال عليه الصلوة والسلام من ترک الصف الاول مخافة ان يؤ ذی مسلما اضعف له اجر الصف الاول به اخذ ابو حنيفة (شامی ص ۵۳۲ ج ۱ باب الامامة)

پدې صورت کی مؤذن صاحب به اقامت لپاره بل سړی ته اجازت ورکړی او يا په کوم ځای کی چې ولاړ وي د هماغه ځای نه مجبوری په وجه اقامت کول جائز دی او يا امام صاحب پخپله اقامت ووايی او بيا به په مصلی باندې ودرېږي که مؤذن صاحب

خاته مصلی غوړوي او د صفونو منځ کی خالی ځای پاتی کېږي او اتصال نه راځی نو دا د کراهت نه خالی نه دی او په حدیثو کی چې د صفونو سیده کولو کوم تاکید راغلی په هغو باندې عمل کولو لپاره رکاوټ او خنډ ګرځی ، فقط والله اعلم.

ـ که رکوع او سجده کولو سره باد خارجېږي نو په ناسته مونځ کول څنګه دی ؟

(۱۹٦سوال) ماته د بادو سخت تکلیف دی په مانځه کی چې کله رکوع او سجدې ته خم نو په خیټه باندې زور راتلو په وجه اودس ماتېږي نو زه په څه طریقه مونځ وکړم ددی را سره ډېر غم دی نو زمونږه لارښونه وکړی مهربانی.

(جواب) که په خیټه باندې زور راتلو سره اودس ماتېږي نو پداسې طریقه مونځ وکړی چې په خیټه باندې زور نه راځی که په رکوع او سجدې سره اودس ماتېږي نو بیا په ناسته باندې رکوع او سجده په اشاره باندې کوه خو د سجدې اشاره به د رکوع نه زیات ښکته وی.

په در مختار کی دی : (و منها القیام) .... (فی فرض) ..... (لقادر علیه) و علی السجود فلو قدر علیه دون السجود ندب ایماؤه قاعداً و کذا من یسیل جرحه لو سجد و قد یتحتم القعود کمن یسیل جرحه اذا قام او یسلس بوله ..... الخ (در مختار مع رد المختار ج۱ ص ۴۱۵ ، باب صفة الصلوة) فقط والله اعلم.

ـ په ناسته لمونځ کونکی رکوع کی زیات ښکته کیدل :

(۱۹۷سوال) که چیرته په ناسته باندې نفل کوی او په رکوع کی دومره زیات ښکته شي چې سجدې ته نژدې شي نو رکوع صحیح کېږي یا نه؟ او مونځ څنګه کېږي ؟ زما په رکوع کی زیات ښکته کیدو باندې یو سړی اعتراض کوی ،

(جواب) حامداً مصلیاً و مسلماً : په ناسته مونځ کونکی سړی باید رکوع پداسې طریقه وکړی چې تندی یې د دواړو زنګنو ته مقابل شي : (و لو کان یصلی قاعداً ینبغی ان یحاذی جبهة قدام رکبتیه فیصل الرکوع) (شامی ۴۱٦/۱ باب صفة الصلوة) او که لدېنه لږ زیات یا کم ښکته شي بیا هم رکوع او مونځ یې صحیح کېږي مګر د رکوع قانون هغه دی کوم چې ذکر شو ، په شامی کی دی (قلت ولعله محمول علی تمام الرکوع و الا فقد علمت حصوله باصول طاء طاءة الرائس ای مع انحناء الظهر ایضاً)) فقط والله اعلم

۹ محرم الحرام ۱۳۸۰ هـ .

د سفر او مسافر په باره کې

امام او مقتدی مسافر یا مقیم:

(۱۹۸ سوال) که چیرته مسافر د مقیم په اقتداء کی هم قصر وکړی نو د مسافر مونځ کېږي یا نه؟

(جواب) که مسافر مقیم پسې اقتداء وکړی نو پوره مونځ به کوی که قصر وکړی نو مونځ يې نه کېږي[1]

(۱۹۹ سوال) که امام مسافر وی او مقتدی مقیم وی نو مقتدی چې پاتی مونځ پوره کوی نو پاتی رکعتو کی فاتحه او سورت به وایی یا نه؟

(جواب) مقیم سړی د مسافر امام له سلام نه وروسته پاتی رکعتو کی نه فاتحه لولی او نه سورت[2].

په سفر کی د سنت مؤکد حکم :

(۲۰۰سوال) د فرض مونځ علاوه په سنت مؤکد (و غیر مؤکد او نوافلو کی قصر شته یا نه؟ وضاحت وکړی.

(جواب) په سنت او نفلو کی د قصر حکم نشته.[3]

(۲۰۱ سوال) په سفر کی د سنتو څه حکم دی وکړی یا پریږدی؟

(جوا ب) د سنتو لپاره د قصر حکم نشته خو دومره سهولت او آسانی شته چې په جاری سفر کی اطمنان نه وی او د ملګرو هم خیال ساتل ضروری وی نو که پدې وخت کی سنت پریدی څه پروا نه لری ، او که ځای ته رسیدلی وي او مطمئن وي نو بیا پرینودل ندی پکار (الفعل افضل حالة النزول والترک حالة السیر) (کبیری (۵۰٦) صفحه فصل فی صلوة المسافر)

---

[1] _ و فی شرح الطحاوی ، و لو ان المسافر سلم علی راس الرکعتین بعد ما اقتدا بالامام او افسد علی نفسه صلاته بالکلام او غیر ذلک لا یجب علیه قضآء الرکعتین الخ فتاوی تاتار خانیة فی صلوة السفر.

[2] _ و ان صلی المسافر بالمقمین رکعتین فسلم و اتم المقیمون صلاتهم کذا فی الهدایة ، صارو امنفر دین کالمسبوق لا انهم لا یقرؤن فی الاصح هکذا فی التبین . فتاوی هندیه صلاة المسافر ج ض ص ۱۴۲.

[3] و لا قصر فی السنن کذا فی المحیط.

(۲۰۲ سوال) پدې مسئله کې علماء کرام څه فرمايي چې زيد د حج بيت الله اراده لري او د خپل کور نه همدا نيت وکړی چې په مکه مکرمه کـې بـه دوه مياشـتی پـاتې کېږم نو پدې صورت کې په لاره باندې قصر وکړی اوکه پوره مونځ ادا کړی؟

(جواب) کوم سړی چې مسيرة ثلاثة ايام يعنی د درې ورځو پـه مسـافه (۴۸) ميلـه پـه سفر روان شي هغه شرعی مسافر دی په هغه باندې په لاره کې قصر لازم دی تر څـو پـه يو ځای کې د (۱۵) ورځو د پاتې کېدو په نيت پاتې نشي، لهذا په مکه مکرمه کې دوه مياشتی پاتې کېدو په نيت سره تلونکی هندوستانی حاجی به هم لاره کې لازمـی قصـر کوی[1] فقط والله اعلم.

د لمونځ قصر کولو لپاره څومره سفر شرط دی؟

(۲۰۳ سوال) زه خپل پلار سره هانسوټ کې پاتی کېږم او د ملازمت په دوران په جمبـو سرکی يو نيم کال پاتې کېږم او د جمبو سرنه هانسوټ تقريباً (۴۸) ميله لری دی نو پـه لاره کې قصر شته يا نه؟

(جواب) کله چې د هانسوټ نه جمبو سر (۴۸) ميله لری دی نو کله چې د جمبو سره په نيت د هانسوټ له آبادی څخه ووځی نو مسافر کرځی او قصر لازمېږي.

(۱۷۴ سوال) تيوس دا دی چې شپږ اوه ورځې پاتې کېږي او بيا ځم نو په هانسوټ کې قصر وکړم يا نه؟ پرون (هانسوټ نه شپږ اوه ميله لری يو کلی تـه تلـی وم نـو هلتـه مـې امامت وکړ او قصر مې وکړ نو مونځ وشو يا دوباره کول يې ضروری دی؟

(جواب) کله چې هانسوټ وطن اصلی دی نو د قصر حکم نشته[2] او د هانسـوټ څخـه شپږ اوه ميله لری هم قصر صحيح ندی که وکړی نو ګنهګـاريږی او پـه قصـر بانـدې ادا شوی لمونځ دوباره کول ضروری دی، نو که د څلور رکعتی مونځ امامت کړی وی نـو دوباره کول يې واجب دی او مقتديان به هم دوباره کوی، په مسئله باندې پوهيدو نـه بغير امامت کول صحيح نه دی، امامت خو لويه ذمه واری ده، نو دی غلطی به د الله

---

[1] من خرج من عمارة موضع اقامة .... قاصداً ..... مسيرة ثلاثة ايام و لياليها ... بالسـير الوسـط مـع لا ستراحات المعتادة ... صلی الرباعی رکعتين وجوبا در مختار علی هامش رد المختار صـلوة المسـافر ص ۷۳۲، ۷۳۵.

[2] و بطل وطن الاصلی بالوطن الاصلی اذا انتقل باهله و لکنه استحدث اهلا ببلدة اخری فلا يطـل وطنـه الاول فيتم فيهما و لا يبطل وطن الاصل بانشاء السفر فتاوی هنديه صلاة المسافر ج ۱ ص ۱۴۲.

ځکه معافي وغواړی . الله تعالی معاف کونکی دی . فقط والله اعلم

د اقامت نیت صحیح کیدو لپاره د یو ځای تعیین شرط دی:

(۲۰۴ سوال) یو دوست مولوی صاحب د مدینی ځخه په دریم ذوالحجة مکه مکرمي ته راغی ، او هغه (۲۰) ذوالحجة باندې (استیمر نه وطن ته راتلونکی ؤ پدې بناء دلته (۱٦ ، ۱۷) ورځی پاتې کېدونکی ؤ پدې وجه مونځ به یې پوره کولو په منی ، عرفات او مزدلفه کی هم په امامت سره پوره مونځ کولو لیکن یو مولوی صاحب سره د خبرو اترو په دوران کی معلوم شو چې مولوی صاحب مقیم ندی ګرځیدی ، چې د وجې تپوس مو ورنه وکړ نو جواب یې راکړ چې ما د اردو یو کتاب کی لیدلی دی خو وجه یې بیان نه کړی شوه کله چې د (۱۵) ورځو نه زیات نیت کړی دی نو د اتمام نه کولو څه وجه ده ؟ قصر ولی کوی ؟ وضاحت وکړئ .

(جواب) پدې مسئله کی مولوی صاحب مسافر دی مقیم شوی ندی ځکه چې مقیم ګرځیدلو لپاره خاص په یو ځای کی (۱۵) ورځی د پاتې کېدو نیت ضروری دی ، او پدې صورت کی چې منی ، عرفات او مزدلفه کی شپږ اوه ورځی پاتې کیدل وی نو په مکه کی پاتی کیدو لپاره فقط یوه لس درلس ورځی پاتې کېږي . او یولس دولس ورځی پاتې کیدو سره مقیم نه ګرځی لهذا هغه مسافر دی پخپله هم څلور رکعته نشي کولی او نورو ته هم امامت نشي کولی[1] که څلور رکعته وکړی نو اګر که مونځ صحیح کېږي مګر دوباره کول یې ضروری دی او قصداً داسې کول موجب د ګناه دی . البته هیره باندې څلور رکعته وکړی نو سجده سهوه کافی ده (رد المختار ۱ /٦۳۸ باب صلوة المسافر) لیکن د مقیم مقتدی مونځ نه صحیح کېږي ځکه چې ددی امام دریم او څلورم رکعت نفل ګرځی او نفل کونکی پسی د فرض کونکی اقتداء نه صحیح کېږي . (لانه اقتداء المفترض بالتنفل) (رد المختار ۱/۷۴۱) فقط والله اعلم.

لنډه او اوږده لاره:

(۲۰۵ سوال) زما د کلی نه د یو دوست کور د ټانګی په لاره (۴۰) میله لری دی او د ریل ګاډی په لاره (۵۰) میله ، یوه دوه ورځی پاتې کېږي نو د مونځ قصر لازم دی یا

[1] _ قوله لا بمكة و منى اى لو نوى الاقامة بمكة خمسة عشر يوما فانه لا يتم الصلوة لان الاقامة لا لكون فى المكانين ... و ذكر فى كتاب المناسک ان الحاج اذا دخل مكة فى ايام العشر و نوى الاقامة نصف شهر لا يصح لانه لا بدله من الخروج الى العرفات فلا يتحقق الشرط بحر الرائق باب المسافر ج ۱ ص ۱۳۲

نه؟

(جواب) پدې مسئله کی که د ریل گاډی په لاره سفر وکړی نو قصر لازم دی او که د ټانګی په لاره کی سفر کوی بیا د قصر حکم نشته ، ځکه چې د درې منزل نه کمه فاصله کی د قصر حکم نشته (رد المختار ۱ / ۷۳۰)[2] والله اعلم.

د سفر احکام کله جاری کیږي ؟

(۲۰۶ سوال) د بهشتی زیور ۲/۴۷ باندې د مسافر مونځ د قصر کولو اوله مسئله کی لیکلی دی چې یوه یا دوه منزله پورې د سفر حکم نه دی نو اوس سوال دا دی چې ایا د دویم منزل په شروع کولو سره دی یعنی (۳۳) میلونه د سفر حکم دی یعنی چې د (۳۳) میلونه تر (۴۷) میلو پورې سفر کوم او کله (۴۸) میله نو د سفر حکم کله دی؟

(جواب) د کوم ځای چې اراده ده که هغه (۴۸) میله لرې نه وی نو د سفر حکم نه دی او چې کله د (۴۸) میله یا لدینه زیات د سفر قصد وی نو شرعی مسافر دی او د کلی له آبادی بیرون کیدو سره د سفر احکام جاری کیږي[3] ، فقط والله اعلم.

که د نیمایی مسافی نه واپسی شی؟

(۲۰۷ سوال) په سفر لاړم مګر درې منزله نه وم تلی چې واپس شوم نو پدې دوران کی قصر وکړم یا نه؟

(جواب) پدې صورت کی قصر به نه کوی ځکه کله چې له درې منزلو نه مخکی واپس شی نو مسافر پاتی نه شوی[1] فقط.

څه وخت قصر وکړی او څه وخت ونه کړی؟

(۲۰۸سوال) وطن مې بهرونج دی مګر ملازمت او وظیفه مې بمبئ کی ده له بمبئ نه (۱۵) سپوږمی باندې برنج ته ورسیدم او درې ورځو نه وروسته واپس بمبئ ته راغلم او دلته (۱۲) ورځی پاتی کیدو نه وروسته د اختر په رخصتی کی بهرونج ته تلل دی نو په

---

[2] ـ و لو لموضع طریقان احدهما مد ة السفر والآخر اقل قصر فی الاول لا الثانی.

[3] ـ قوله و من جاوز بیوت مصره مریداً سیرا و سطا ثلاثة ایام فی برا و بحر او جبل قصر فرض الرباعی بیان للموضع الذی یبدا فیه القصر و لشرط القصر و مدته و حکمه بحر الرائق ، باب المسافر ج۲ ص ۱۲۸

[1] ـ لکن المذکور فی الشرح انه یتم اذا سار اقل بمجرد العزم علی الرجوع و ان لم یدخل مصره لانه نقض للسفر قبل الاستحکام ایضا ص ۱۳۱.

بمبئ کی دولس ورځی پاتې کېدو دوران کی قصر وکړم یا پوره؟

(جواب) پدې صورت کی چې د (۱۲) ورځو پاتې کېدو قصد دی نو قصر به کوی پوره مونځ به نه کوی[۲] فقط والله اعلم.

ـ اصلی وطن ته په رسیدو سره د اتمام څه حکم دی؟

(۲۰۹سوال) جمبو سر زما وطن دی او تجارت لپاره بمبئ کی اوسیږم. د غم ښادی په موقع باندې دوه څلور ورځو لپاره جمبو سر ته ځم او له هغه ځای نه پنځه اوه میله لری کلی ته د خپلوانو کره ورځم نو هلته پوره مونځ وکړم یا قصر؟

(جواب) تاسو مونځ پوره کوئ، جمبو سر ستاسو اصلی وطن دی په وطن اصلی کی قصر نه وی لکه یو مسافر چې خپل اصلی وطن ته رسیدو سره مقیم ګرځی یعني مسافر نه پاتې کېږي[۳] او پنځه اوه میله مسافت سره قصر نه کېږي[۴] البته که د شرعی حد او مسافی مطابق روان شوی یې نو د ښار د حدودو نه وتلو څخه وروسته قصر کول پکار دی، فقط والله اعلم.

ـ وطن اقامت څخه چې اصلی وطن ته راشي نو په لاره کی قصر شته یا نه؟

(۲۱۰سوال) زه تقریباً (۱۳۰) میله د وطن نه لری ملازمت کوم کله چې وطن ته راځم نون د لارې په اوږدو کی دوه مونځونه راځی په وطن کی خو قصر نشته په لاره کی قصر وکړم یا نه؟ ځینی د قصر حکم کوی اوځینی د پوره کولو، لهذا تفصیل سره جواب راکړی،

---

[۲] ـ که چیرته بمبئ کی د ملازمت دوران کوم وخت کی (۱۵) ورځې پاتې شوی وی نو بیا بمبئ وطن اصلی جوړ شوی څو پورې چې وطن اقامت نه دی پرېښی پوره مونځ به کوی، فقط، کوطن الاقامة تبقى ببقاء الثقل و ان اقام بموضع آخر، (بحر الرائق باب المسافر ص ۱۳۶.)

[۳] حتى يدخل مصره او نوى الاقامة نصف شهر بلداً و قرية اى قصر الى غاية دخول المصر او نية الاقامة فى موضع صالح للمدة المذكورة فلا يقصر، بحر الرائق باب المسافر ج ۲ ص ۱۳۱.

[۴] ـ و ذكر الاسبيجابى المقيم اذا قصد مصرا من الامصار وهو ما دون مسيرة ثلاثة ايام لا يكون مسافراً ايضاً ج ۲ ص ۱۲۹.

(جواب) پدې مسئله کې وطن ته تګ راتګ دوران کې قصر کول پکار او ضروري دي . په نور الایضاح کې دي (و لا یزال یقصر حتی یدخل مصره او ینوی اقامة نصف شهر ببلد او قریة) ترجمه : څو پورې چې ښار کې داخل شوی نه وی او یا کوم بل ښار او کلي (۱۵) ورځو د پاتې کیدو نیت نه وی کړی تر هغې پورې به قصر کوی ، باب صلوٰة المسافر (۱۰۸) صفحه .

ـ د وطن اصلی ، وطن اقامت او د شرعی سفر تحقیق:

(۲۱۱سوال) زه د پریج ضلع بهروچ اوسیدونکی یم ، مور پلار وغیره هلته دی او زه فی الحال سون ګړهـ ضلع سوات کی ملازم یم چې زما د وطن نـه (۱۰۰) میلـه لـرې دی دلته تر دوه کـالو پـورې د پـاتې کیـدو اراده ده د کرایـې کـوردی ، اوس سـوال دا د ی‌چې ضلع ځینی ځایو ته سرکاری کار لپاره ځم د (۴۸) میلو نه لری سفر کول راځـی او بیا سون ګړهـ ته واپس راتلو سره دوباره ځم نو پدې دوه خلور ورځو مونځ قصر وکړم یا نه؟ مثلاً په (۲۰) جون ۱۹٦۸ ء کی د سـوات اراده وه نـو د (۲۲) تـاریخ نـه (۲۵) پورې منځنی ورځو کی مونځ قصر وکړم صحیح دی یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی کله چې تا د پریج پرېښودو سره سون ګړهـ وطن اصلی نـدی جوړ کړی نو ستا وطن اصلی پریج دی او سون ګړهـ وطن اقامت دی ، په نور الایضـاح کی دی : (الوطن الاصلی هوالذی ولد فیـه او تـزوج او لـم یتـزوج و قصـد التعـیش لا الارتحال عنه و وطن الاقامة موضوع نوی الاقامة فیه نصف شهر فما فوقه) ترجمه : وطن اصلی هغه دی چې هلته پیدا شوی وی یا یې پکـی واده کـړی وی او یـا یـې د ژونـد تیرولو قصد کړی وی او د هغه ځای نه د تلو اراده نه وی ، او وطن اقامـت هغـه ځـای دی چې هلته د (۱۵) ورځو یـا زیـات د پـاتې کېـدو اراده وی (۱۰۹ صـفحه .... ایضا اعزازیه) لهذا کله چې تاسو د سون ګړهـ نه د دومره لری مسافی قصد کـړی چـې قصـر وربانديې لازم دی نو ته شرعی مسافر یې او څو پورې چې کوم ځـای کـی (۱۵) ورځـو پاتې کیدو اراده ونه کړی نومسافر به یې اوس که واپس سون ګړهـ ته راشی نو دلته بـه هم مسافر یې او مونځ به قصر کوی[1]

---

[1] کله چې سون ګړهـ کی یو څل (۱۵) ورځی قیام وکړی نو بیا وطن اقامت جوړېږي څو پورې چې بل ځای ته لاړ نشي دا به وطن اقامت وي . لهذا کله چې سون ګړهـ کی داخل شوی اګر که د (۱۵) ورځو نه کم د پاتې کیدو اراده وی مسافر نه ګرځی مکمل مونځ به کوی . کوطن الاقامة یبقی ببقاء الثقل و ان اقام بموضع آخر . بحر الرائق باب المسافر ۲ ۱۳۲

په فتاوی عالمکیری کی دی ، و لا یزال علی حکم السفر حتی ینوی الاقامة فی بلدة او قریة خمس عشر یوما او اکثر الباب الخاس عشرا فی صلاة المسافر ج ۱ ص ۱۳۹)
یعنی څو پورې چې په کوم ښار یا قریه کی د (۱۵) ورځو یا زیات د پاتې کیدو نیت ونه کړی تر هغه پورې به مسافر ګڼلی شي.

ـ مسافر د ماسپښین څلور رکعته وکړل:

(۲۱۲ سوال) مسافر د ماسپښین دوه رکعتو په ځای څلور رکعته وکړل څه حکم لري ؟
(جواب) قصداً څلور رکعته کونکی ګنهګاریږی او د مونځ دوباره کول ضروري دی اګر که سجده سهوه یې هم کړی وی ځکه چې د قصداً په صورت کی سجده سهوه نه کافی کیږي او که سهواً څلور رکعته کړی وی نو د سجده سهوه په کولو سره دوه رکعته فرض او دوه رکعته نفل ګرځی پدې شرط چې دوه رکعتونه وروسته قعده کړی وی او که نه فرض باطل ګرځی او دا څلور رکعته نفل ګرځی خو سجده سهوه به هم کوی . په (ما لا بدمنه) کی دی ((آن شخص فرض چهارګانه را دوګانه ګذارد و اګر چهار رکعت کرد پس اګر بر دو رکعت قعده کرده نماز ادا شود و دو رکعت آن فرض و دو رکعت نفل شود و بسبب آمیزش نفل با فرض بزه کار باشد و اګر سهواً این چنین کرد بسبب تاخیر سلام سجده سهوه نه کند . و اګر بر دو رکعت نه نشسته است فرض او تباه باشد و هر چهار رکعت نفل شد و سجده سهوه کند ۵۳)) فقط والله اعلم

ـ که مسافر پوره مونځ وکړی نو دوباره کول شته؟

(۲۱۳ سوال) که چیرته مسافر د قصر په ځای پوره مونځ وکړي نو دوباره کول شته؟ د سجده سهوې په کولو یا نه کولو سره څه فرق راځی؟
(جواب) مسافر لپاره اصل فرض دوه رکعته دی که څلور رکعته وکړی نو دوه رکعته ونه شو . د حضرت عائشه (رض) نه په صحیح سند سره نقل دی چې اول دوه رکعته فرض شوی و بیا د قیام په حالت کی دوه رکعته زیاتولو سره څلور رکعته مقرر شو او د سفر په حالت کی هماغه اصل دوه رکعته پخپل حال پاتې شو دا دوه رکعته په ظاهر کی تخفیف معلومیږي . او پدې بناء قصر ته رخصت او رعایت ویل کیږي. مګر حقیقت دا دی چې اصل همدا دی نو لکه څنګه چې د سحر دوه رکعتونو په ځای څلورم رکعته کول غلط دی همدا شان مسافر لپاره د ماسپښین ، مازدیګر او ماسخوتن دوه رکعتونو په

خای قصداً څلور رکعته کول مکروه تحریمی او باعث د ګناه دی چې دوباره کول یې ضروری دی ، سجده سهوه نه کافی کیږي ، البته که سهواً وکړی نو نه ګنهګاریږي اود سجده سهوی په کولو سره مونځ هم صحیح کیږي ، په شرط ددی چې دویم رکعت باندې قعده کړی وی او که قعده یې نه وی کړی نو فرض یې باطلیږي او څلور رکعته نفل ګرځی خو سجده سهوه به هم کوی ، په (ما لا بد منه) کی دی : (اګر چهار رکعت کرد پس اګر به دو رکعت قعده کرده نماز ادا شود دو رکعت فرض و دو رکعت نفل شود به سبب آمیزش نفل با فرض بزه کار (ګنګار) باشد و اګر سهواً این چنین کرد بسبب تاخیر سلام سجده سهوه کند و اګر بر دو رکعت نه نشسته است فرض او تباه باشد و هر چهار رکعت نفل شد و سجده سهوه کند (۱۵۳) صفحه)

یعنی که چیرته څلور رکعته وکړی نو که چیرته دویم رکعت باندې قعده کړی وی نو دوه رکعته فرض او دوه رکعته نفل ګرځی او فرضو سره د نفلو شاملولو په وجه ګنهګاریږی او که سهواً یې داسې کړی نو د سلام د وروسته کولو په وجه به سجده سهوه کوی ، او که دویم رکعت کی قعده نه وی کړی نو فرض یې باطلیږي او څلور رکعته نفل ګرځی خو سجده سهوه به کوی.

ـ وطن اقامت په سفر سره باطلیږي:

(۲۱۴ سوال) زه منم چې وطن اقامت (سون ګړهـ) نه چې کله د شرعی سفر په اراده باهر ته ځم پدی وخت کی زما وطن باطلیږي پدې وجه واپسی کی که په سون ګړهـ کی د اقامت نیت ونه کړم تر هغې پورې راته وطن اقامت نه ګرځی ځکه چې دا په سفر سره باطل شوی دی نوپدې بناءِ قصر کوم ، ځینی علماء وایی پدې شان قصر کول غلط دی ، پدې سره ماته شک پیدا شوی ، درې منزلونو نه زیات لری مسافه کی مونځ قصر کولی شی ایا دا فرض دی یا واجب ؟

(جواب) ستا کار صحیح دی[1] په (نور الایضاح) کی دی (و یبطل الاقامة بمثله و بالسفر و بالاصلی) یعنی وطن اقامت خپل مثل یعنی په وطن اقامت سره باطلیږي او په شرعی سفر او وطن اصلی سره هم باطلیږي (۱۰۹ صفحه) مسافر لپاره قصر حکم شرعی

---

[1] ـ دا سوال په حقیقت کی د هغه سوال تتمه ده کوم چې لدینه مخکی (وطن اصلی ، وطن اقامت او د شرعی سفر تحقیق) تر عنوان لاندې . دا جواب په هغه صورت کی صحیح دی کله چې د نوکری پرینبودو سره کوم بل خای ته سفر وکړی او که چیرته د څه کار لپاره د سفر په مسافه باندې بل خای ته ځی او واپس سون ګړهـ ته راځی نو د وطن اقامت نه ختمیږي . ددی وضاحت مخکنی سوال کی شوی دی

او واجب دی په (فتاوی عالمگیری) کی دی (والقصر واجب عندنا) یعنی خمونږ په نزد باندې قصر کول واجب دی (۱۳۹/۱) فقط والله اعلم

ـ وطن اصلی په وطن اقامت سره نه باطلیږي:

(۲۱۵ سوال) زه د خپل وطن پرنج حدودو ته رسیدو نه وروسته د مونځ قصر نه کوم نو دا صحیح دی یا نه؟ یو مولوی صاحب استدلال کوی (وطن اصلی به وطن اقامت باطل نشود) نو لدینه معلومیږي چې وطن اصلی کی قصر کول پکار دی او هغه فرمایی : چې رسول الله (ص) به چې مکې مکرمې ته د حج لپاره تشریف وړلو نو قصر به یې کولو او حال دا چې مکه د رسول الله (ص) وطن اصلی دی .

(جواب) پریج ستا اصلی وطن دی لهذا آبادی ته ننوتو سره مقیم گرځې د قیام نیت وی او که نه وی ، اوس د قصر حکم ختم شو ، لهذا ستاسو قصر نه کول صحیح دی ، د مولوی صاحب دا دلیل چې ((وطن اصلی به وطن اقامت باطل نشود)) غلط دی ، صحیح دا دی چې وطن اصلی باطل شود به وطن اصلی ،او ددې مطلب دا دی چې وطن اصلی هغه وخت باطلیږي چې ددې پریښودو سره بل کوم ځای وطن اصلی جوړ کړی شي ، وطن اصلی په سفر او وطن اقامت سره نه باطلیږي (ما لا بد منه (۵۴) صفحه) او که اولنی وطن پریښې نه وی او د کاروبار لپاره کوم بل ځای کی داسې پاتې شي چې هلته کی د ژوند تیرولو اراده وی نو پدې صورت کی هماغه قدیمی وطن ، وطن اصلی دی او دا دویم ځای هم د وطن اصلی په حکم کی دی کوم ځای کی چې د ژوند تیرولو اراده وی ، پاتې شو دا دلیل چې رسول الله (ص) په مکه معظمه کی د وطن اصلی کیدو باوجود قصر کړی دا بالکل غلط دی ، بلکی شرعی مسافر کیدو په وجه قصر کړی دی.

.....هغه مولوی صاحب د هجرت په معنی کی غورندی کړی ، د هجرت معنی همدا ده چې رسول الله د مکې معظمې وطن پریښی ؤ ، مکه معظمه کی دوباره د قیام اراده خو پریده رسول الله (ص) دا هم نه خوښول چې کوم یو مهاجر په مکه معظمه کی وفات شي ، حضرت سعد بن خوله (رض) مهاجر ؤ او د څه ضرورت لپاره مکې معظمې ته تلی ؤ او هلته وفات شو نو رسول الله (ص) به پدې باندې افسوس کولو (بخاری

شریف (۵٦۰) صفحه) کوم مهاجرین چې حج لپاره مکې ته راغلي وو دوی لپاره د رسول اکرم (ص) هدایت دا ؤ چې د آخري طواف نه وروسته له دربې ورځو نه زیات پاتې نشي (بخاري شریف (۵٦۰) صفحه)[2] فقط والله اعلم.

وطن اقامت په سفر سره باطلېږي:

(۲۱٦ سوال) یو سړی له انډیا نه مدرس جوړیدو سره د ری یونین یو کلي ته راغلی او دلته یې څلور کاله وشو اوس (۵۰ . ٦۰)میله سفر کولو سره سینډینس) (SAINTDENIS) کلي ته رسیدلی او هلته درې څلور ورځی مسافر په حیث پاندې اوسیږی او بیا له هغه ځای نه دوه څلور میلمنو سره خپل کلي ته ځی لیکن ددی د سینډینسه وتلو وخت کی دا اراده کړې وه چې خپل کلی کی میلمنو سره دوه ورځی پاتی کېږي او دوه څلور ورځی میلمنو سره د کلي شاوخوا کی دوره کوی نو دغه مدرس اوس پخپل کلی کی مسافر دی یا مقیم ؟ خینی وایی چې خواوشاه کی د ګرځیدو نیت دی نو پدې وجه مسافر دې او خینی وایی چې ددرې کالو په اجازت راغی نو پدې وجه دا کلی دده وطن دی . اوس د چا خبره صحیح ده وضاحت وکړی.

(جواب) پدې مسئله کی مدرس صاحب د ملازمت ځای نه پنځوس شپیته میله مسافت په اراده وتلی دی نو هغه شرعي مسافر جوړ شوی او وطن اقامت باطل شوی دی ، په (ما لا بد منه) کی دی ((وطن اقامت هم بوطن اقامت باطل شود و هم بوطن اصلی و هم به سفر)) ترجمه وطن اقامت په وطن اقامت سره هم باطلېږي او په وطن اصلی او سفر سره هم (۵۴) صفحه) اوس واپس راتلو نه وروسته که پدې کلي کی د (۱۵) ورځو پاتې کیدو اراده نه وی او پدې دوران کی نورو ځایو ته تلو سره د یو دوه ورځو پاتی کیدو اراده هم کوی لکه په سوال کی چې ذکر شوی نو مقیم نه ګرځي بلکي مسافر ګڼلی شي او مونځ به قصر کوی[1] فقط والله اعلم.

---

[1] اللهم امض الاصحابی هجرتهم و لاترد علی اعقابهم لکن البائس سعد بن خولة یرثی له رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یتوفی بمکة باب قوله النبی صلی الله علیه وسلم اللهم امض لاصحابی هجرتهم و مرثیته لمن مات بمکة

[2] قال رسول الله ص . ثلث للمهاجرین بعد الصدر باب الاقامة المهاجر بمکة بعد قضاء نسکه.

[1] د حضرت مفتی صاحب نه سبقت قلمی شوی دا مدرس خو پوره چې ری یونین کلی کی مدرس په حیث اوسیږی وطن اقامت ورته ویل کیږی که بل ځای ته د سفر په موده څه کار لپاره لاړشي او دوباره جې ری یونین ته رازي نو حوکمی وطن اقامت ته رسیدلی اګر چې (۱۵) ورځو نه کم موده لپاره دی مسافر نه پاتې کیږي مکمل مونځ به کوی لما فی البحر کوطن الاقامة یبقی ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر . باب المسافر ۲ ۱۳۲ البته که د ری یونین کلی نه ملازمت پریښودو سره بل ځای ته لاړ شي نو بیا خبره بل ده

ـ وطن اصلی ته ننوتو سره مقیم ګرځی:

(۲۱۷سوال) د ګود هرانه سورت ته تلو (تقریباً ۱۲۵) میله لری دی، او په همدي ورځ له سورت نه ګودهرا ته رسیدو سره لونا واړه ته ټګ هم ؤ (چي تقریباً نه ګودهرانه ۳۵ میله لری دی) نو ماسپښین او مازدیګر په لوناواړه کی قصر کول پکار ؤ یا نه ولي چي مونږه د ګودهرا علاقی نه د سفر په نیت تیر شوی و؟

(جواب) پدي مسئله کی که چیرته ګودهرا ستا وطن اقامت وي نو په لوناواړه کی د ظهر او عصر قصر کول لازم ؤ او که ګودهرا وطن اصلی وی نو ګودهرا ته په ننوتو سره مقیم ګرځی اګر که د سفر نیت يې وی اوس د ګودهرا نه لوناواړه ته سفر کولو سره شرعی مسافر نه ګرځی لهذا مکمل مونځ ضروری دی.

((الثانی ان یدخل وطن الاصلی و لو بنیة السفر فیتم حتی لو خرج عنه فتذکر حاجة قبل ان یسیر ثلثة ایام ترجع لها لزمه الاتمام من حین توجه راجعاً (زاد الفقیر ص ۱۶۹)

فقط والله اعلم.

که مقیم مسافر امام پسي اقتداء وکړی نو د قرائت څه حکم دی؟

(۲۱۸ سوال) که مقیم مسافر امام پسي د ماسپښین، مازدیګر او ماسخوتن مونځونه ادا کړی نو د امام سلام نه وروسته دوه رکعته په څه طریقه وکړی؟ یعنی قرائت وکړي یا نه؟

(جواب) پدي صورت کی بغیر د قرائت نه به دوه رکعتونه ادا کوی: (و لا یقرء المقیم فیما یتم) (زاد الفقیر (۷۰) صفحه) فقط والله اعلم.

ـ د سفر په حالت کی د سنتو حکم:

(۲۱۹سوال) څو ورځی کېږي په ریل ګاډی کي مې د مانبام مونځ جماعت سره وکړ او بیا وروسته مې سنت او نفل وکړ ځکه ي سهولت ؤ مګر زما ملګرو ونه کړل او وي ویل چي سفر کی سنت نفل ګرځی او د نفل کولو ضرورت نشته ما ورته وویل چي په سفر کی یواځی د فرضو قصر کېږي او باقی سنت او نفل که موقع وي نو پوره کول پکار دی، نو تاسو راته ولیکئ چي سفر کی د سنت او نفل څه حکم دی؟

کول يې ضروری دی یا نه؟ وضاحت وکړی (له بمبئ نه)

(جواب) و بالله التوفیق :- په سنتو کی قصر نشته که د اطمنان حالت وی تلوار نه وي او د ملګرو نه د جدا کیدو ویره نه وي او ملګرو ته د انتظار کولو تکلیف هم نه وي نو

مؤکد سنتونه خاص کر د سحر او د ماښام وروستی سنت به نه پرېدی ، البته که چیرته اطمنان نه وی بیا دې نه کوی ، د خینو په نزد باندې که اطمنان هم وی نو بیا هم مؤکد سنت پرېښودل جائز دی لیکن غوره دا ده چې پرې نږدی :

((و لا قصر فی السنة کذا فی محیط السرخسی و بعضهم جوزوا للمسافرین ترک السنة والمختار انه لا یاتی بها فی حال الخوف و یاتی بها فی حال القرار و الا من هکذا فی وجیز الکر دری (فتاوی عالمگیری ج ص ۸۹) (و یاتی) المسافر (بالسنن) ان کان (فی حال امن و قرار و الا) بان کان فی خوف و فرار (لا) یاتی بها هو المختار الخ (درمختار مع الشامی ج۱ ص ۷۴۲ باب صلوة المسافر) و الافضل ان یاتی بسائر السنن الا حال السیر کذا قالوا (رسائل الارکان ص ۱۴۴ ایضاً)) فقط

_که د شرعی مسافی نه وړاندې د واپسی اراده وکړی؟

(۲۳۰سوال) د سورت نه بمبئ په اراده لاړو نو نوساری پورې (تقریباً (۳۰) میله) تلی ؤ چې د واپسی اراده یې وکړه نو اوس دا سړی مسافر دی که مقیم ګرځی ؟

جواب) که د شرعی سفر مسافه (۷۷ کلو میټر او ۲۴۷ میټره) وهلو نه وړاندې سفر بند کړی او د واپسی اراده وکړی مکمل مونځ به کوی ، د سفر نه مستحکم کیدو په وجه قصر جائز ندی : (اما اذا لم یسر ثلثة ایام فعزم علی الرجوع او نوی الاقامة یصیر مقیماً و ان کان فی المفازة فتاوی عالمگیری ج ۱ص ۸۹ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر))

او که د سفر مسافه وهلو نه وروسته واپس نو بیا مسافر پاتی کېږي شو پورې چې وطن ته نه وی رسیدلی او یا کوم خای کی د (۱۵) ورځو د پاتې کیدو نیت ونه کړی ((حتی یدخل موضع مقامه ان سار مدة السفر و الافیتم بمجردنیة العود لعدم استحکام السفر (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۳۲ باب صلوة المسافر) په غایة الاوطار ترجمهٔ درمختار کی دی د مسئلی صورت دا د ی‌چې یو سړی د سفر په اراده د خپل ښار نه ځلور منزله لاړ او روان شو او دوه منزله وروسته د واپس کیدو نیت وکړ نو پدې صورت کی له همدې وخت نه مونځ به پوره کوی او که درې منزله سفر کولو نه وروسته واپس شی نو خپل ښار ته رسیدو پورې به قصر کوی ، شامی ویلی دی : لکه څنګه چې د قصر ابتداء لپاره ښار نه وتل شرط دی همداسې د قصر بقاء لپاره د سفر د مودې پوره کیدل شرط دی (غایة الاوطار ۳٦۱/۱) هدایه اولین (۱۴٦) صفحه) فقط

وطن اقامت يواځې د سفر په نيت سره نه باطلېږي:

(۲۲۱ سوال) د سورت نه بمبئ ته (۳۰) ورځو پاتې كېدو په اراده لاړ او هلته په رسېدو سره سم د (۱۵) ورځو نه زيات پاتې کېدو نيت وکړ مګر په هغه لسو ورځو کې كار ختم شو او د واپسی نيت يې وكړ نو د روانيدو نه وړاندې چې بمبئ كې كوم مونځونه كوی مثلاً ماسپښين او مازديګر پدې كې قصر وكړی يا پوره وكړی ؟ وضاحت وكړی

(جواب) حامداً و مصلياً : دا سړی مقيم شوی ؤ او بمبئ يې وطن اقامت ګرځيدلی ؤ پدې وجه يواځې د نيت په بدليدو سره وطن اقامت نه باطلېږي خو پورې چې سفر نه وی شروع كړی يعنی د بمبئ له آبادی نه خارج شوی نه وی د آبادی پرېښودو نه وروسته د سفر احكام جاری كېږي : ((و يبطل وطن الاقامة بمثله و بانشاء السفر (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۴۳ باب صلاة المسافر) (و لهذا يصير المسافر مقيماً بمجرد النية و لا يصير المقيم مسافر ابالنية الا بالسفر (هدايه اولين ج۱ ص ۱۶۷ كتاب الزكوة) بخلاف المقيم حيث لا يصير مسافراً بالنية لان السفر انشاء الفعل فلا يصير فاعلا بالنية (درمختار) (شرح المختار ج ۱ ص ۸۰ صلوة المسافر)) فقط والله اعلم.

که دويم وطن اقامت په شرعی مسافت باندې نه وی نو اولنی وطن اقامت باطلېږي يا نه ؟

(۲۲۲ سوال) د احقر وطن سورت دی د تعليم په غرض مكمل كال ديوبند كې پاتې شوم او بيا د رمضان المبارك تېوله مياشت مې سهارنپور كې حضرت شيخ الحديث رحمه الله په خدمت كې تير كړ له هغه نه وروسته په اول شوال باندې ديوبند ته ورسيدم او دلته دوه درې ورځې پاتې كيدو سره د سورت د سفر اراده ده نو سوال دا دی چې په ديوبند كې پوره مونځ وكړم يا قصر وكړم؟ منشاء د سوال دا د ی چې وطن اقامت په وطن اقامت سره باطلېږي نو ددوی تر منځ د سفر مسافه كېدل ضروری دي يا نه؟

نوټ : د ديوبند او سهارنپور تر منځ د سفر شرعی مسافه نه ده.

(جواب) وطن اقامت په وطن اقامت سره باطليږی برابره خبره ده چې ددی تر منځ د شرعی سفر مسافه وي او يا نه وی ، لهذا كله چې ته اول شوال باندې ديوبند ته ورسی او دوه درې ورځې تيرولو نه وروسته د سورت د سفر اراده لری نو ته مسافر يې (خكه چې ديوبند وطن اقامت باطل شوی دی) مونځ به قصر كوی : ((و يبطل وطن الاقامة بمثله (قوله بمثله) ای سواء كان بينهما مسيرة سفر اولا . قهستانی (درمختار مع

الشامی ج ۱ ص ۷۴۳ باب صلوة المسافر) (الجوهرة النيرة ج ۱ ص ۸۸ ايضاً) فقط والله اعلم.

ـ قيدی لمونځ کله قصر کوی؟

(۲۲۳سوال) د سلام مسنون نه وروسته د احقر مشر ورور حکومت وخت د (ميسا) لاندې جيل کی بند کړی او (۵۰ ، ۶۰) مسلمانان نور هم ورسره دی ددوی حالت دا دی چې يو څو ورځی وروسته د يو جيل نه بل نقلوی او دا پته هم نشته چې کله به خوشی کولی شی نو پداسې حال کی دوی مسافر دی يا نه؟ که چيرته کله دا ګمان غالب شی چې مونږ به يو ځای کی (۱۵) ورځی يا زيات ساتل کېږو نو دی وخت کی بيا مسافر دی يا مقيم ؟ که دوی شرعی اعتبار سره مسافر وی او قصر نه وی کړی نو د هغو مونځونو قضاء لازم دی يا نه؟ او جيل کی ځينی قيديان داسې وي چې د قيد موده يې معلوم وي او جيل هم متعين وی نو دوی پوره مونځ وکړی يا قصر وکړی ؟ او قصر د کومو مونځونو دی ؟ وضاحت وکړی

(جواب) که چيرته قيدی (۴۸) ميله لری بوتلی شی نو هغه باندې قصر لازم دی او که نه مکمل لمونځ به کوی ، د قصر لازميدو باوجود که غلطی سره پوره لمونځ وکړی او په دوه رکعتو باندې قعده کړی وی نو فرض اداء شوی خو سجده سهوه لازمېږي او که سجده سهوه ونه کړی نو د لمونځ دوباره کول ضروری دی او که قعده ونه کړي نو بالکل لمونځ نه کيږی ، که جيلر د جيل موده (۱۵) ورځې يا زيات معلوم کړی چې دلته به تيروی نو لمونځ به پوره کوی او که نه قصر به کوی ، د خپل ګمان هيڅ اعتبار نشته د ماسپښين ، مازديګر او ماسخوتن لمونځونو کی قصر واجب دی ، سحر ، ماښام او وترو کی قصر نشته او همدا شان د سنتو هم قصر نشته.

((و يشترط الصحة نية السفر ثلاثة اشياء الاستقلال بالحکم الخ (قوله الاستقلال بالحکم) ای الانفراد بحکم نفسه بحيث لا يکون تابعاً لغيره فی حکمه (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۴۶ باب الصلوة المسافر) (والتابع کالمراة مع زوجها الی قوله . و الاسير (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۳۴۶ ايضاً) فيقتصر المسافر الفرض الربائی فلا قصر الثنائی والثلاثی ولا للوتر و لا فی السنن (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۴۵ ايضاً))

فقط

ـ وطن اصلی متعدد (کېن کیدی شي یا نه؟

(۲۲۴ سوال) د احقر اصلی وطن راندیر دی او بیا د مستقل قیام په اراده د راندیر نه بمبئ ته منتقل شوی یم او نن صبا د کاروبار په سلسله کی حیدر آباد کی اوسیږم. اوس که زه دوه ځلور ورځو لپاره بمبئ ته لاړ شم نو مونځ قصر وکړم او یا مکمل؟ همدا شان د احقر کور والا (میرمن) اصلی وطن راندیر دی او دلته ماسره حیدر آباد کی اوسیږی که راندیر ته لاړه شي نو څه به کوی؟ وطن اصلی دوه کیدلی شي یا نه؟ وضاحت وکړی

(جواب) د راندیر په وطن اصلی کیدو هیڅ خبره نشته اوس که چیرته مو دا بالکل پرېښی وی او هیڅ تعلق نه وی پاتی او حیدر آباد مو د همیشه اوسیدو لپاره وطن اصلی جوړ کړي وی نو د راندیر وطن اصلی باطل شوی او چې کله هم میلمستیا یا د کوم ضرورت لپاره راندیر ته ځی او د (۱۵) ورځو نه کم د پاتې کیدو اراده وی نو قصر کول لازم دی او که نه مکمل مونځ به کوی، د بمبئ هم همدا حکم دی او که راندیر وطن اصلی قائم ساتلو سره حیدر آباد یا بمبئ همیشه اوسیدو په نیت وطن اصلی جوړ کړئ نو دواړه ځایونه (راندیر او بمبئ یا راندیر او حیدر آباد) به وطن اصلی وی، وطن اصلی متعدد کیدلی شی او که د همیشه اوسیدو په نیت حیدر آباد یا بمبئ وطن اصلی نه وی جوړ کړی او راندیر نه تعلقات نه وی ختم کړی نو بیا راندیر وطن اصلی دی او حیدر آباد او بمبئ وطن اقامت، کوم حکم چې ستا دی هغه ستا میرمن (ښځی) هم دی[1] فقط

ـ وطن امامت په شرعی سفر سره باطلیږي:

(۲۲۵ سوال) زما اصلی وطن کفلیه دی او بوډهان ضلع سوات کی ملازمت کوم، یو ځل زه د بوډهان نه بارډولی په اراده ووتلم او دا د بوډهان تقریباً (۵۰، ۶۰) میله لری

---

[1] ـ وطن الاصلی هو وطن الانسان فی بلدته و بلدة اخری اخذها داراً و توطن بها مع اهله وولده و لیس من قصده الا و تحال عنها بل التیعیش : ما و هذا الوطن یبطل بمثله لا غیر هو ان یتطو طن فی بلدة اخری و ینقل الاهل الیها فیخرج الاول من ان یکون و طنا اصلي و لو دخله مسافرا لا یتم قیدنا بکونه انتقل عن الاول باهله لا نه لو لم ینتقل بهم و لکنه استحدث اهلا فی بلدة اخری فان الاول لم یبطل و یتم فیها الخ بحر الرائق باب المسافر ج ۲ ص ۱۳۶ و تعتبر نیة الاقامة والسفر من الاصل کالزوج والمولی والامیر دون التبع کالمراة والعبد، والجندی. مراقی الفلاح علی حاشیه طحطاوی باب صلاة المسافر ص ۲۳۱.

دی اول سورت نه راغلم (په سورت کی د تلو اراده وه) بیا بارډولی ته لاړم او هلته مې خپل کار وکړ او یا د سورت نه بوډهان ته ورسیدم او دلته دوه درې ورځو پاتې کیدو سره بیا سورت نه د تلو اراده وه، دا خل بوډهان کی د قیام په دوران مونځونه قصر وکړم یا مکمل؟ زما خیال خو دا دی چې ماته قصر کول پکار دی ځکه چې بوډهان زما وطن اقامت دی او وطن اقامت په سفر شرعی باندې باطلیږي مګر زما یو ملګری وایی چې مکمل مونځ کول پکار دی، تاسو راته جواب راکړی چې زه څه وکړم؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ

(جواب) پدې مسئله کی کله چې ته د ملازمت ځای (بوډهان ضلع سوات) نه (۵۰ یا ۶۰) میله د سفر په اراده وتلی یې نو ته شرعی مسافر جوړ شوی یې او ستا وطن اقامت پدې سفر سره باطل شوی، په مراقی الفلاح کی دی: ((و یبطل وطن الاقامة بمثله و یبطل ایضاً بانشاء السفر و بالعود للوطن الاصلی) (۲۴۹ صفحه) او (ما لا بد منه) کی دی ((وطن اقامت هم بوطن اقامت باطل شود و هم بوطن اصلی و هم به سفر) (ما لا بد منه ۵۴ صفحه).

اوس واپس بوډهان ته رسیدو وروسته که د (۱۵) ورځو پاتې کیدو اراده نه وی او پدې دوران کی نورو ځایو ته د تلو اراده وی لکه په سوال کی چې ذکر دی نو ته مسافر یې او قصر کول ضروری دی[1] مزید تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه پنځم جلد (۱۷۱، ۱۷۲) صفحی اردو وګورئ. فقط والله اعلم.

- صرف یو ځای کی واده کولو سره هغه ځای وطن اصلی جوړیږي:

(۲۲۶ سوال) یو سړی یو ځای کی واده کړی او اوس بل ځای کی اوسیږي چې دده د خسرګنی ځخه شرعی مسافت باندې دی دا سړی کله کله خسرګنی ته ځی نو خسرګنی ځای کی قصر مونځ به کوی یا پوره؟ همدا شان د واده نه وروسته ښځه خپل خسرګنی کی څه وکړی؟ او که مور پلار کره ځی نو څه به کوی پوره یا قصر؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) د واده نه وروسته ناوی رخصت کیدو سره چې خاوند کور ته راشي او هلته مستقل قیام شروع کړی نو مونځ به پوره کوی، همدا شان که مور پلار کره لاړه شي بیا

---

[1] — اشاره به کوی وضاحت مخکی شوی دی (مرتب)

به هم پوره مونځ کوی کله چې خپل مور پلار يې بالکل نه وی پرینبی او که خاوند خسرګنی ته ځی نو قصر به کوی البته د ښځی سره خسرګنی کی اوسيږي نو بيا به پوره مونځ کوی ، په فتاوی قاضی خان کی دی ((المسافر اذا جاوز عمران مصره (الی قوله) ان کان ذلک وطناً اصليا بان کان مولده و سکن فيه او لم يکن مولده و لکنه ناهل به وجعله داراً (ج۱ ص ۷۸ باب الصلوة المسافر))
پدې عبارت کی خان مو لده نه وروسته د سکن فيه او تاهل بـه سـره د جعلـه داراً قيـد دی ددی لحاظ ساتل پکار دی ، فقط.

ـ که مسافر په غلطۍ سره څلور رکعته وکړی؟

(۲۲۷ سوال) د کړی نه يو مولوی صاحب زمونږه علاقه احمد آباد ته راغی او کله نا کله مونځ هم راکوی يو ځل د سورت او بمبئ په اراده احمد آباد ته ورسيد او د پخوانی عادت مطابق امامت وکړ او څلور رکعته يې وکړل په آخره قعده کی ورته شرعی مسافر کيدل ياد شول نو سجده سهوه کولو سره يې مونځ پوره کړ آيا د مقيم مقتديانو مونځ صحيح شو يا دوباره کول وربانديې ضروری دی ؟ وضاحت وکړی خير يوسی.
(جواب) د مولوی صاحب او مسافر مقتديانو لمونځ صحيح دی ليکن د مقيم مقتديانو لمونځ نه صحيح کيږي ځکه چې وروستی دوه رکعته د مسافر امام په حق کی نفل ؤ او مقيم مقتديانو په حق کی فرض، او دا قاعده ده چې نفل کونکی پسې د فرض کونکی اقتداء صحيح ندی شامی کی دی : ((لم يصر مقيماً فلو اتم المقيمون صلاتهم معه فسدت لانه اقتداء المفترض بالمتنفل ظهيرية (شامی ج ۱ ص ۷۴۱ باب صلوة المسافر))
فقط والله اعلم.

ـ په سوال کی ذکر شويو مختلفو صورتونو حکم:

(۲۲۸ سوال) زه د بلساړ اوسيدونکی يم او کاروبار مې بمبئ کـی دی نـو پدې وجه بمبئ کی مې د کرايه کمره نيولی (پير د دوشنبه) نه تر جمعې پورې پنځه ورځی بمبی کی تيروم او هفته او يکشنبه(اتوار) ورځی خپل وطن بلساړ کی تيروم ، اوس سوال دا دی :
(۱) د پير نه جمعې پورې بمبئ کی د اوسيدو په وخت کی اکثر را نـه جماعـت پاتې کيږي نو پدې وجه کمره ځانته مونځ کوم نو قصر وکړم او که پوره؟
(۲) هفتی په ورځ چې کله کوز ته راځم په لاره کی قصر وکړم يا پوره؟

(۳) او هفته او یکشنبه چې خپل کور کې یم دلته قصر وکړم یا پوره؟ وضاحت وکړی
(جواب) په اول او دویم صورت کې به قصر کوی ځکه چې مسافر یې او دریم صورت کې به پوره مونځ کوی ځکه چې بلساړ ستا اصلی وطن دی او وطن اصلی ته داخلیدو سره سړی مقیم ګرځی ، نو پدې وجه اتمام او پوره مونځ کول ضروری دی[1] فقط.

_که روزانه ملازمت لپاره (۵۰) میله لری سفر کوی نو مسافر ګرځی؟

(۲۲۹سوال) زه سرکاری روډ ویز کی ملازم یم ، د ایس ، ټی ، بس ډیپو زما د وطن اصلی نه (۵۰) میله لری دی او زه روزانه اپ ډاون (رفت و آمد) کوم نو کله چې ملازمت ځای ته ورسم نو مونځونه قصر وکړم یا پوره ؟ وضاحت وکړئ
(جواب) پدې مسئله کې وطن اصلی کی به مکمل مونځ کوی او کله چې وطن نه (۴۸) میله لری تلو اراده باندې وځی نو په لاره کی تګ راتګ او هلته رسیدو سره به هم قصر کوی[2] فقط والله اعلم.

_ د ټرک ډریور کله مسافر ګرځی؟

(۲۳۰سوال) یو سړی د ټرک ډریور دی او همیشه ټرک سره د یو ښار نه بل ښار ته او یو ځای کی هم دوه ورځو نه زیات نه پاتې کیږي نو دا به قصر مونځ کوی او که پوره؟
همدا شان کوم خلک چې هوائی جهاز یا د اوبو جهاز کی کار کوی او تل په سفر کی وی نو دوی شرعی مسافر دی یا نه؟ ددوی د مونځونو څه حکم دی؟ وضاحت وکړی
(جواب) د ټرک ډریور چې وطن اصلی نه کم نه کم (۴۸) میله لری تلو اراده وی نو هغه شرعی مسافر دی او قصر کول ورباندې لازم دی ، کله چې خپل وطن اصلی

---

[1] _ و اذا دخل المسافر مصره اتم الصلاة و ان لم ... المقام فيه سواء دخل نية الاجتياز او دخله لقضاء حاجة لان مصره متعين للاقامة فلا يحتاج الى النية جوهرة النيرة ج ۱ ص ۱۰۴ باب صلوة المسافر

[2] و لا يزال حكم السفر حتى ينوى الاقامة فى بلدة او قرية خمسة عشر يوماً او اكثر كـذا فى الهدايـة فتـاوى عالمگيرى صلوة المسافر ج۱ ص ۱۳۹.

ته راشي او یا کوم ځای کی د (۱۵) ورځو نه زیات د پاتې کېدو اراده وکړی نو بیا مقیم ګرځی او مونځونه به مکمل کوی ، همدا شان کوم خلک چې کشتی یا هوائی جهاز کی ملازمت کوی که د وطن اصلی نه (۴۸) میله لری تللو نیت وی نو دوی هم شرعی مسافر دی او قصر ورباندې لازم دی[1] فقط والله اعلم.

ـ مسافر مقیم پسی په قضائی لمونځ کی اقتداء ولی نشي کولی؟

(۲۳۱ سوال) په نور الایضاح کی دی چې مقیم پسې د وخت نه وروسته د مسافر اقتداء جائز ندی ، ددی څه وجه ده ؟ وضاحت وکړی

(جواب) د مسافر د مونځ په وخت کی دننه د تبدیلی صلاحیت شته مثلاً د اقامت نیت وکړی نو دوه رکعتونو په ځای به څلور کوی ، همدا شان که د مقیم اقتداء وکړی نو د امام په تابعداری کی به څلور رکعته کول ضروری کېږي لیکن د وخت په تیریدو باندې دوه رکعته متعین کېږي ، او پدې وجه مقیم کیدو نه وروسته هم دوه رکعته قضاء راوړی لهذا هغه د مقیم اقتداء نشي کولی ځکه چې د امام اوله قعده فرض نه ده پداسې حال کی چې د مسافر مقتدی په حق کی اوله قعده فرض ده، په هدایه کی دی:

((اقتدى المسافر بالمقيم فی الوقت اتم اربعاً لانه يتغير فرضه الى اربع النبعية كما يتغير بنية الاقامة لاتصال المغير بالسبب وهو الوقت و ان دخل معه فی فائتة لم تجزه لانه لا يتغير بعد الوقت لانقضاء السبب كما لا يتغير بنية الاقامة فيكون اقتداء المفترض بالمتنفل فی حق القعدة او القراءة (هدایه اولین ص ۱۴۶ ، ص ۱۴۷ باب صلوة المسافر)) فقط والله اعلم ۷ رمضان المبارک ۱۴۰۰ هـ

ـ مسافر مقیم پسې اقتداء وکړ او بیا پته ولګیده چې مونځ فاسد شوی اوس به څه کوی؟

(۲۳۲سوال) یو مسافر سړی امام پسې مونځ وکړ او وروسته معلومه شوه اوس چې هغه مسافر ځانته دوباره مونځ کوی نو دوه رکعته وکړی یا څلور؟ وضاحت وکړئ

)جواب) که په څه وجه سره مونځ باطل شوی وی او په سجده سهوه باندې هم

[1] رومبی حواله

کار نه کېږي (مثلاً کوم رکن پاتې شوی) نو وروسته به دوه رکعته کوی ځکه چې په اولنی مونځ سره فرض ندی ادا شوی نو د امام تابعداری هم نه پاتې کېږي ((و ان اقتدی مسافر بمقیم اتم اربعاً و ان أفسده یصلی رکعتین)) (فتاوی عالمگیری ۱ ۱۴۲ فی صلوة المسافر) په عمدة الفقه کی دی ((مقیم پسې وخت کی دننه د مسافر اقتداء صحیح ده نو که د مسافرت په وخت کی دننه د مقیم امام اقتداء وکړی نو څلور رکعته به کوی د امام د تابعداری په وجه او که فاسد یې کړی یا په څه وجه سره فاسد شي نو اوس که ځانته یې کوی یا د کوم مسافر اقتداء کی کوی نو دوه رکعته به کوی ، ځکه په کومه وجه سره چې څلور لازم شوی ؤ هغه وجه ختمه شوه او که بیا د مقیم اقتداء وکړی نو څلور به کوی (عمدة الفقه ۴۲۲/۲ د حضرت مولانا شاه زوار حسین رحمه الله کراچی چاپ)

او که فساد داسی وي چې په سجده سهوه کولو سره صحیح کیدی شی نو بیا فرض یې ادا کېږي البته د واجب پاتې کېدو په وجه سجده سهوه واجب ګرځی او د سجده سهوه نه کولو په صورت کی مونځ واجب الاعاده ګرځی ، لهذا که داسې صورت وی نو وروسته به څلور رکعته کوی ځکه چې فرض په اولنی مونځ سره ادا شوی او دا دویم ځل د هغی تکمیل دی ، فقط والله اعلم

ـ که آبادی زیات شي نو د کوم ځای نه مسافر ګرځی؟

(۲۳۳ سوال) نن صبا ښار دومره فراخه شوی چې دېر کلی او علاقې چې مخکی جدا وو اوس ښار سره یو ځای شوی د مثال په طور دهلی ، بمبئ او نور ښارونه ، البته مکمل ښار په مختلف کلیو ، حلقو او کالونیو باندې مشتمل وی چې جدا جدا نمونه لری ، اوس په سفر تلونکی سړی د خپلی محلی یا حلقی د حدود و نه وتو سره مسافر جوړېږی یا د دهلی د ښار له حدودو نه وتو سره مسافر ګرځی؟

که د دهلی له حدودو نه په وتو سره مسافر ګرځی نو بل سوال دا پیدا کېږي چې د دهلی ښار آبادی د بل ښار غازی آباد له آبادی سره لګیدلی دی مګر د آبادی نوم حتیٰ ضلع او صوبه هم بدلېږي نو اوس د دهلی ښار حدود کوم ځای پورې منل کېږي ؟کوم ځای پورې چې سرکاری حد وی او یا کوم ځای پورې چې آبادی رسیدلی ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) د وطن اصلی یا وطن اقامت د ابادی نه وتلو سره شرعی مسافر ګڼل کېږي دویم آبادی اګر که متصل وی مګر هغه دویم آبادی ده د دواړو نومونه بیل دی

حکومت او کارپوریشن والاو د دوارو آبادیو حدود بیل او جدا مقرر کړی پدې وجه دا دواړه مستقل آبادیانی (یعنی ښارونه) شمیرلی شي ، او هغه وخت شرعی مسافر ګرځی چې کله د خپلی آبادی له حدودو نه تیر شي ، او که چیرته متصل کېدو په وجه کارپوریشن والاو دواړه یو کړی وی نو اوس هغه آباد د ښار محله ده او محله د ښار جزء دی لهذا اوس به لدې ځخه تیریدو نه د مسافری احکام جاری کېږي . په شامی کی دی :

(و اشار الی انه یشترط مفارقة ما کان من توابع موضع الاقامة کربض المصر و هو ما حول المدینة من بیوت و مساکن فانه فی حکم المصر یشترط مجاوزتها فی الصحیح)) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۳۰ باب صلوة المسافر)

ـ شرعی مسافرکله ګرځي؟

(۲۳۴ سوال) یو مولانا صاحب د وطن اصلی نه او یا اتیا میله لری مسافه کی ملازمت کوی ، ګویا چې د ملازمت ځای دده وطن اقامت دی اوس دا مولانا صاحب خپل ملازمت ځای (وطن اقامت) نه (۲۵ ، ۳۰) میله یعنی د شرعی مسافې نه کم سفر کوی نو هغه د خپل وطن اصلی له حساب نه شرعی مسافر ګرځی لیکن د وطن اقامت له حساب نه مسافر نه ګرځی ، اوس سوال دا دی چې سفر د کوم ځای نه حسابېږي د وطن اصلی یا وطن اقامت نه؟

(جواب) پدې مسئله کی که د وطن اقامت نه سفر شروع کړی نو مسافر نه ګرځی ځکه چې شرعی مسافه نه جوړېږي[1] او که د وطن اصلی نه سفر شروع کړی نو د شرعی مسافی کیدو په وجه مسافر ګرځی ،فقط والله اعلم.

ـ ډریور او کلینډر لمونځ پوره وکړي یا قصر ؟

(۲۳۵سوال) زه سرکاری بس کی کلینډری کوم مدهی (یو کلی نوم دی) د وانکانیر نه تقریباً (۲۲) کلومیټر فاصله لری هلته تلو سره (۱۲۵) کلو میټره مسافه تګ راتګ کېږي او بیا وروسته شپه په کلیو کی تیروو ، یو ځل چې د مدهی نه ملازمت لپاره ووځو نو یوه دوه ورځی وروسته مدهی ته راتګ کېږي نو زه مونځ قصر وکړم یا

[1] ((من خرج من عمارة موضع اقامته .... قاصداً و لو کافراً و من طاف الدنیا بلا قصد لم یقصر مسیرة ثلاثة ایام و لیالها ... صلی الفرض الرباعی (رکعتین الخ (درمختار مع الشامی باب صلوة المسافر ج ۱ ص ۷۳۲ ، ۷۳٤))

(بوره)
(جواب) پدې مسئله کې کله چې وانکانیر نه د ملازمت په نیت مدهي او له هغه خای نه د (۱۲۵) کلو میتر د سفر په اراده روان شی پدې وخت کی شرعی مسافر شمیرلی شی او قصر به کوی ((د سفر په اراده روان شي پدې وخت کی شرعی مسافر شمیرلی شي او قصر به کوی))
((يقصر الفرض الرباعی من نوی السفر و لو كان عاصيا بسفره اذا جاوز بيوت مقامه و جاوز ايضا ما اتصل به من فنائه ،نور الايضاح ص ۱۰۲ باب صلوة المسافر))
وطن اصلی وانكانير دی نو هلته په رسيدو سره مقيم گرځي او مكمل مونځ به كوی. كه چيرته مدهي يا كوم بل ځای كی (۱۵) ورځو نه زيات پاتې كيدو نيت كړی وی نو بيا مقيم گرځی: ((و لا يزال يقصر حتی يدخل مصره او ينوی اقامته نصف شهر ببلد او قرية (۱۰۳) صفحه ايضاً))
او هغه ځای ته وطن اقامت ويل كيږي لدې ځای څخه شرعی سفر كولو پورې به پوره مونځ كوی ، فقط

(۱) د مقيم په اقتداء كی د مسافر قصر كول (۲) مقيم مقتدی د مسافر امام له سلام نه وروسته پاتې ركعتو كی قرائت وكړی يا نه؟

(۱۳٦ سوال) (۱) مسافر د مقيم په اقتداء كی قصر وكړ نو مونځ يې كيږي يا نه؟
(جواب) (۱) حامداً و مصلياً و مسلماً : كه مسافر مقيم امام پسې ودريږی نو پوره مونځ به كوی كه قصر وكړی نو مونځ نه كيږي[1]
(۲) كه امام مسافر ؤ او مقتدی مقيم نو مقتدی پاتی ركعتونو كی الحمد لله او سورت ووايی يا نه؟
(جواب) مقيم مقتدی به د مسافر امام له سلام نه وروسته پاتې ركعتو كی نه الحمد لله وايی او نه سورت،
((فاذا قام المقيم (الى الاتمام لا يقرا ... (فی الاصح) لانه كاللاحق (در مختار) (قوله فاذا قام المقيم الخ) ای بعد سلام الامام المسافر الخ (رد المختار ج ۱ ص ۷۴۰ باب صلوة المسافر)) فقط والله اعلم.

---

[1] _ و ان قتدی مسافر بمقيم اتم اربعاً و ان افسده يصلی ركعتين الخ فتاوی عالمگيری صلوة المسافر ج ۱ ص ۱۴۲

ـ حنبلی مسافر امام قصر نه کوی نو د حنفی مقیم مقتدی لمونځ کېږي یا نه؟

(۲۳۷ سوال) حنبلی مسافر امام قصر نه کوی هغه پسې د مقیم حنفی مونځ کېږي ؟ بلا کراهت یا کراهت سره؟

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : کوم مسافر امام چې قصر نه کوی هغه پسې د حنفی مقیم مونځ نه کېږي ، په عرفات کی حنبلی امام مقیم کیدو باوجود قصر کوی نو ده پسې د حنفی مقتدی مونځ نه صحیح کېږي که مقیم او که مسافر وی (شامی ۲۳۸/۲ کتاب الحج ، فتاوی رحیمیه ۹۰/۸)).

سجده سهوه

ـ که سورت فاتحه مکرر ولولی څه حکم لری:

(۲۳۸ سوال) که مانځه کی سهواً سورت فاتحه مکرر ولولی نو سجده سهوه لازم دی یا نه؟

(جوا ب) سهواً الحمد لله دوباره ویلو سره سجده سهوه واجبیږي ځکه چې د سورت په ځای کولو کی تاخیر شوی ، او که سورت ویلو نه وروسته سورت فاتحه ولولی نو بیا سجده سهوه لازم ندی ، په (زاد الفقیر) کی دی ((فلو قرا الفاتحة ثم السورة ثم الفاتحة فلا سجود علیه ٦٣ صفحه)) یعنی که الحمد لله لوستو نه وروسته سورت ولولی او بیا الحمد لله ولولی نو سجده سهوه نشته لیکن که چیرته د فرض مونځ آخری دوه رکعتو کی الحمد لله مکرر ولولی نو بیا سجده سهوه نه واجبیږي ، په زاد الفقیر کی دی : ((و کذا قراة الفاتحة مرتین متو الیین فی رکعة من الاولین اما اذا کررها فی الاخر یین فلا یجب ٦٣ صفحه))

فقط والله اعلم.

ـ د فرض مونځ څلور رکعت الحمد لله سره سورت:

(۲۳۹ سوال) که ثلاثی او رباعی مونځ کی په دریم او څلورم رکعت کی د الحمد لله نه وروسته سورت ووایی نو سجده سهوه لازمیږي یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی سجده سهوه لازم ندی:

((و هل یکره فی الاخریین المختار لا (در مختار) قوله المختار لا ای لا یکره تحریماً بل تنزیها لا نه خلاف السنة قال فی المنیة و شرحها (الی قوله) و فی اظهر الروایات لا یجب لان القراة فیهما مشروعة من غیر تقدیر و الاقتصار علی الفاتحة مسنون لا واجب (شامی ج۱ ص ۴۲۷ باب صفة الصلوة قبیل مطلب کل شفع من النفل صلوة)) فقط والله اعلم.

ـ د جمعي په څلور رکعته سنتو کی اوله قعده کی درود شریف ویل څنګه دی؟

(۲۴۰سوال) د ماسپښین او جمعي نه مخکی څلور رکعتی سنتو اوله قعده کی درود شریف ویلی شي یا نه؟

(جواب) د ذکر شوی سنتو په اوله قعده کی درود شریف مه لولئ که په غلطی سره

ولولی نو سجده سهوه وکړئ ، البته د جمعې نه وروسته څلور رکعتې سنتو اوله قعده کې درود شریف ویلو سره سجده سهوه واجب کیدل مسلم (اتفاقی) نه دی د علامه شامی وغیره محققین علماؤ پدې کې اختلاف دی (درمختار مع الشامی ۶۳۳/۱)[1] فقط والله اعلم.

_ غیر مؤکد سنت او د نفلو اوله قعده کې درود شریف ویلی شی :

(۲۴۱ سوال) د مازدیګر او ماسخوتن فرض مانځه نه مخکې څلور رکعته غیر مؤکد سنت دی که ددی اوله قعده کې درود شریف ووایی نو سجده سهوه واجبیږي یا نه؟

(جواب) د مازدیګر او ماسخوتن مانځه نه مخکې څلور رکعته غیر مؤکد سنت او څلور رکعتې نفلو اوله قعده کې د تشهد نه وروسته درود شریف وغیره لوستلی شي او پدې سره سجده سهوه نه واجبیږي ، په در مختار کې دی : ((و فی البواقی من ذوات الاربع یصلی)) ترجمه د ماسپښین او جمعې نه وروسته څلور رکعته سنت مؤکد نه علاوه نور څلور رکعتې غیر مؤکد سنت او څلور رکعتې نفلو په اوله قعده کې د تشهد نه وروسته درود شریف وغیره او دریم رکعت په شروع کې ثناء او اعوذ بالله هم لوستلی شي (در مختار مع الشامی ۶۳۳/۱) فتاوی عالمګیری ۱۱۳/۱))[1] فقط والله اعلم.

_د الحمد لله په ځای التحیات:

(۲۴۲سوال) که د الحمد لله په ځای التحیات یا د التحیات په ځای الحمد لله ولولی نو سجده سهوه لازمیږي یا نه؟

(جواب) او په دواړه صورتو کې د واجب ترک کولو په سبب سجده سهوه واجبیږي[2]

---

[1] _ و لا یصلی علی النبی (ص) فی القعدة الاولی فی الاربع قبل الظهر والجمعة و بعدها و لو صلی ناسیا فعلیه السهو و قیل لا شیئ و لا یستفتح اذا قام الی الثالثة منها لانها لتاکدها اشبهت الفریضة و فی البواقی من ذوات الاربع یصلی قال فی الشامیة تحت قوله و قیل لا الخ قال فی البحر و لا یخفی ما فیه والظاهر الاول زاد فی المنح و من ثم عولنا علیه و حکینه ما فی القنیة . باب الوتر و النوافل .

[1] _ و فی الاربع قبل الظهر والجمعة و بعدها لا یصلی علی النبی صلی الله علیه وسلم فی القعدة الاولی و لا یستفتح اذا قام الی الثالثة بخلاف سائر ذوات الاربع من النوافل کذا فی الذاهدی. الباب التاسع فی النوافل .

[2] _ و اذا قرا الفاتحة مکان التشهد فعلیه السهو و کذلک اذا قرء الفاتحة ثم التشهد کان علیه السهو فتاوی عالمګیری الباب الثانی عشر فی سجود السهو ج ۱ص ۱۲۷ .

_که په صلوة التسبیح کی تسبیح کم او زیات شي؟

(۲۴۳ سوال) که په صلوة تسبیح کی سبحان الله الخ زیات او کم شي نو سجده سهوه شته یا نه؟ او که سجده وکړی نو پدې کې به سبحان الله ووایی یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی د سجده سهوه ضرورت نشته ، پاتې شوی تسبیح به په بل رکن کی پوره کړی لیکن که په رکوع کی تسبیح پاتې شي نو قومه کی به نه پوره کوی بلکی اولنی سجده کی به پوره کړی ، همدا شان په سجده کی پاتی شوی تسبیح بـه جلسـه کی نه پوره کوی بلکی په دویمه سجده کی به پـوره کـوی ځکـه چـې قومـه او جلسـه مختصر ارکان دی که پدغو کی ووایی نو اوږدېږي چې دا ددوی له وضع نه خـلاف دی ، په هر رکعت کی (۷۵) .خلی تسبیح ویل پکار دی لدینه کم نه دی پکار، تفصیل لپـاره شامی باب الوتر والنوافل مطلب فی صلاة التسبیح) وګورئ

_ که امام قرائت کی غلطی وکړی نو سجده سهوه شته یا نه؟

(۲۴۴سوال) امام له درې آیتونو نه مخکې غلطی وکړ او د فتح ورکولو نه مخکـی خپلـه غلطی اصلاح کړ نو پدې صورت کی سجده سهوه لازم ده یا نه؟

(جواب) پدې صورت کی سجده سهوه نده لازم ، مونځ صحیح دی[۲] فقط والله اعلم.

(۱۹۳ سوال) لکه مخکنی سوال کی چې عرض وکی شو د امام نه غلطی وشوه بیا فتح ورکړی شوه او امام فتح واخسته او بیا قرائت ختمولو سره رکوع وکړ ، پدې حالـت کـی سجده سهوه شته یا نه؟

(جواب) پدې صورت کی هم سجده سهوه نه شـته او مـونځ صـحیح دی[۱] فقـط والله اعلم.

_ سجده سهوه دواړه طرفه سلام اړولو نه وروسته:

(۲۴۵سوال) په مانځه کی سجده سهوه واجب شوه خو ورته یـاد نـه ؤ بیـا دواړه طرفـه سلام ګرځولو نه وروسته ورته یاده شوه او پدې وخت کی سجده سهوه کولو او التحیات،

---

[۲] _ ذکر فی الفوائد لو قرا فی الصلوة بخطا فاحش ثم رجع و قرء صحیحاً قال عندی صلاته جـائزة و کـذلک الاعراب فتاوی عالمگیری الفصل الخامس فی زلة القاری ج ۱ ص ۸۲.

[۱] _ بخلاف فتحه علی امامه فانه لا یفسد مطلقا لفاتح اخذ بکل حال قال فی الشامیة تحت قوله بکـل حـال ای سواء قراء الامام قدر ما تجوز به الصلوة ام لا شامی باب ما یفسد الصلوة و ما یکره فیها ج۱ ص ۵۸۲.

درود او دعاء لوستو سره مونځ ختم کړ نو مونځ صحیح شو یا دوباره کول پکار دي؟
(جواب) پدې مسئله کې مونځ صحیح دی دوباره کولو ضرورت نشته[1] فقط.

ـ که سلام اړولو کې سهوه شي؟

(۱۴٦ سوال) مونځ ګذار د ښي طرف سلام ګرځولو په ځای کس طرف سلام وګرځولو نو اوس ښي طرف ته سلام ګرځولو سره دوباره کس طرف ته وګرځوی یا نه؟ او سجده سهوه لازمېږي یا نه؟
(جواب) پواځې ښي طرف ته به سلام وګرځوی کس طرف ته د سلام ګرځولو ضرورت نشته او نه سجده سهوه ضرور ده مونځ صحیح دی (جوهرة ۱/۵۵)[2]

ـ څلور رکعتي فرض مونځ کې چې دریم او څلورم رکعت کې الحمد لله سره سورت هم ووايي څه حکم لري؟

(۲۴۷ سوال) څلور رکعتي فرض مونځ کې چې دریم او څلورم رکعت کې د الحمد لله سره سورت هم ولولي نو سجده سهوه لازمېږي یا نه؟
(جواب) پدې مسئله کې سجده سهوه نشته ، ((و هل یکره فی الاخریین المختار لا (درمختار) (قوله المختار لا) ای لا یکره تحریماً بل تنزیهاً لانه خلاف السنة قال فی المنیة و شرحها ان ضم السورة الی الفاتحة ساهیا یجب علیه سجدتا السهو فی قول ابی یوسف لتاخیر الرکوع عن محله و فی اظهر الروایات لا یجب لان القراءة فیهما مشروعة من غیر تقدیر و الاقتصار علی الفاتحة مسنون لا واجب اه و فی البحر فخر الاسلام ان السورة مشروعة فی الاخریین نفلا و فی الذخیرة انه المختار و فی المحیط وهو الاصح اه والظاهر ان المراد بقوله نفلاً الجواز والمشروعیة بمعنی عدم الحرمة فلا ینافی کونه خلاف الاولی کما افاده فی الحلیة (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۴۲۷ باب صفة الصلوة قبیل مطلب کل شفع من النفل صلاة)) فقط والله اعلم

---

[1] ـ سلام من علیه السجود السهو یخرجه من الصلوة خروجاً مؤ قوفا ان سجد عاد الیه و الا لا ... و یسجد للسهو و لو مع سلامه ناویاً للقطع ... ما لم یحول عن القبلة او یتکلم درمختار علی هامش شامی بـاب سجود السهو ج ۱ ص ۷۰٤

[2] ـ و سلم اولاً عن یساره ناسیاً او ذاکراً سلم عنه یمینه و لیس علیه ان یعید عن یساره و لیس علیه سهو ، باب صفة الصلوة.

ـ که په سجده سهوه کی دوه سجدو په ځای یوه سجده وکړی څه حکم لری؟

(۲۴۸ سوال) امام صاحب د سحر په مانځه کی سهوه شـو او ورسـته د قاعـدې مطـابق سجده سهوه وکړه خو یوه سجده یې وکړه او تشهد ، درود شریف او دوعاء ویلو سره یې سلام وګرځولو نو دا مونځ وشو یا نه؟ د کتابو حوالو سره جواب راولیږي.

(جوا ب) د سجده سهوی لپاره دوه سجدی واجب دی یوه سجده نه کافی کیږي لهـذا مونځ دوباره کولو قابل دی ، ((یجب سجدتان باب سجود السهو (نور الایضاح ص ۱۱۵) (سجدتان) لانه صلی الله علیه وسلم سجد سجدتین لسهو وهو جالس بعد السلیم و عمل به الا کابر من الصحابة والتابعین (مراقی الفلاح ص ۹۳ ایضاً) یسجد للسهو فـی الزیـادة والنقصان سجدتین بعد السلام (الی قوله) و لنا قوله علیه السلام لکل سهو سـجدتان بعـد السلام (هدایه ص ۱۳٦ ج ۱ ایضاً)) فقط والله اعلم.

ـ که مسبوق سهواً امام سره سلام وګرځوی؟

(۲۴۹ سوال) ما نه د مازدیګر رومبی رکعت تیر شوی ؤ او څلورم رکعت باندې کله چـې امام سره سلام وګرځولو نو ما هم په هیره سره دواړه طرف ته سلام وګرځولو بیا راته یـاد شول چې یو رکعت پاتې دی او بیا مې پاتې شوی ادا کوله نو ما بانـدې سـجده سـهوه لازمیږي یا نه؟ که لازم وی نو ولی ؟ او که نه نو څنګه ؟ او که یو طرف تـه سـلام اړولـی وی بیا به څه وی ایا په دې صورت کی هم سجده سهوه لازمیږي؟

(جواب) په غلطی سره چې یو طرف یا دواړه طرفه سلام وګرځوی نو که د امـام سـلام سره ګرځولو نه وروسته ګرځولی وی نو سجده سهوه لازمیږي (ځکه چې انفرادی حالت کی یې سلام ګرځولی دی) او که نه لازم ندی (ځکه چې مقتدی دی او د مقتـدی پـه غلطی سره وربانـدې سجده سهوه نه لازمیږي:-

((و لو سلم ساهیاً ان بعد امامه لزمه السهو و الا لا (در مختار) (قولـه لزمـه السـهو) لانـه منفرد فی هذه الحالة ح (قوله و الا لا) ای و ان سلم معه او قبله لا یلزمه لانه مقتـد فـی هاتین الحالتین ح و فی شرح المنیة عن المحیط ان سلم فی الاول مقارناً لسلامه فلا سهو علیه لانه مقتد به و بعده یلزم لانه منفرد اه (شامی ص ۵٦۰ ج ۱ آخر باب الامامة))

زیاتره داسې کیږي چې د امام له سلام نه وروسته سـلام ګرځـوی او پـدې صـورت کـی سجده سهوه لازمیږي ، فقط والله اعلم.

_ که د فرضو په دریم یا څلورم رکعت کی سورت وواییی څه حکم لری؟

(۲۵۰ سوال) یو سړی د فرض مونځ دریم یا څلورم رکعت کی سورت ولوست نو دې باره کی څه حکم دی ؟ مونځ یې کېږي یا نه؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) د فرض مونځ دریم یا څلورم رکعت یا دواړو کی غلطی سره سورت ولولی نو مونځ یې صحیح دی

د سجده سهوی ضرورت نشته : -

((و ضم سورة فی الاولین من الفرض و هل یکره فی الاخریین المختار لا (در مختار) قوله المختار لا) قال فی المنیة و شر حها فان ضم السورة الی الفاتحة ساهیاً یجب علیه السجدتا السهو فی قول ابی یوسف (رح) لتاخیر الرکوع عن محله و فی اظهر الروایات لا یجب لان القراءة فیهما مشروعة من غیر تقدیر و الاقتصار علی الفاتحة مسنون لا واجب اه (شامی) ج۱ ص ۴۲۷) باب صفة الصلوة)) فقط والله اعلم ، ۹ ذی قعده ۱۴۰۱ هـ

_ که جهری لمونځ کی خفیه او خفیه لمونځ کی جهراً قرائت وکړی سجده سهوه لازمېږي؟

(۲۵۱ سوال) امام په هیره سره جهری مانځه کی خفیه قرائت وکړ او خفیه مانځه کی په زوره نو سجده سهوه لازمېږي یا نه؟ که لازمېږي نو څومره مقدار لوستلو سره لازمېږي؟ وضاحت وکړی.

(جواب) که په خفیه مانځه کی جهراً یا جهری مانځه په پټه بقدر ما تجوز به الصلوة (یعنی درې واړه ایتونو په اندازه) ولولی نو سجده سهوه لازمېږي او لدینه په کم باندې نه لازمېږي ، معاف دی ځکه چې بچ کیدل مشکل دی :-

((والمعتبر فی ذلک مقدار ما تجوز به الصلوة علی الاختلاف لان ما دون ذلک قلیل لا یمکن الاحتراز عنه (الاختیار لتعلیل المختار ج ۱ ص ۷۳ باب سجود السهو) و ان جهر بعض القراءة فی السریة او اخفاء ها لامام فی الجهریة فان کان الجهر و الاخفاء اقل مما تجوز به فهو معفو معسر الاحتراز عنه (رسائل الارکان ص ۹۳ ایضاً)) فقط

_ لمانځه کی پوره الحمد لله واجب دی : -

(۲۵۲ سوال) مخدوم حضرت مفتی صاحب مد ظللکم . السلام علیکم ! په مانځه کی الحمد لله لوستل واجب دی . اوس سوال دا دی که چیرته یو مکمل ایت یا جزء د ایت لوستلو نه پاتې شي نو شرعي حکم یې څه دی؟ ایا ترک د واجب وایو یا نه ؟ او سجده سهوه لازمېږي یا نه؟ وضاحت وکړی جزاکم الله (له سورت نه)

(جواب) دا مسئله اختلافي ده حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد سورت فاتحه ټوله واجب ده او د صاحبینو په نزد د نیمائي نه زیات لوستل د وجوب ادا کیدو لپاره کافی دی او د پاتې حصې پاتې کیدو سره سجده سهوه نه لازمېږي . د امام صاحب قول قوی او احوط دی نو د فاتحې کومه حصه او جزء په پاتې کیدو سره سجده سهوه لازمی کولی شي:-

((قراة فاتحة الكتاب فيسجد السهو بترك اكثر ها لا اقلها لكن فى المجتبى يسجد بترك اية منها وهو اولى قلت و عليه فكل اية واجبة (در مختار) (قوله بترك اكثرها) يفيد ان الواجب الاكثر و لا يعرى عن تامل بحرو فى القهستانى انها بتمامها واجبة عنده و اما عندهما فاكثر ها و لا يجب السهو بنسيان الباقى كما فى الزاهدى فكلام الشارح جار على قولهما (طحطاوى على الدر المختار ج ۱ ص ۳۲۰ باب صفة الصلوة) (قوله و عليه) اى بناء على ما فى المجتبى فكل اية واجبة و فيه نظر لان الظاهر ان ما فى المجتبى مبنى على قول الامام بانها بتمامها واجبة و ذكر الآية تمثيلا لا تقييداً اذا بترك شيئ منها آيت او اقل و لو حرفاً لا يكون آيتا بكلها الذى هو الواجب كما ان الواجب ضم ثلاث آيات فلو قرادونها كان تاركاً للواجب افاده الرحمتى (شامى ج ۱ ص ۴۲٦ ايضاً مطلب فى واجبات الصلوة) (قوله قرائة الفاتحة) قالوا بترك اكثرها يسجد للسهو لا ان ترك اقلها و لم ارما اذا ترك النصف نهر لكن فى المجتبى ، يسجد بترك آية منها وهو اولى (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۱۴۴ و فصل فى واجبات الصلوة) فقط والله اعلم بالصواب.

ـ که د الحمد لله نه مخکې سورت لوستل شروع کړی؟

(۲۵۳ سوال) د الحمد لله نه وړاندې سورت لوستل شروع کړ او بیا ورته یاد شو چې اول خو الحمد لله ویل پکار ؤ نو اوس څه وکړی ؟ سورت پریدی او الحمد لله شروع کړی او بیا وروسته سورت ووایي؟ یا سورت پوره کولو سره الحمد لله ولولی ؟ او پدې صورت کی سجده سهوه لازمېږي یا نه ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) سورت به پریدی او الحمد لله به لولی او بیا به سورت لولی که چیرته د الحمد لله نه مخکې د سورت یو ایت لوستی وي نو سجده سهوه لازمېږي ځکه چې قرائت کی د رکن په مقدار یو ایت لوستو سره موجب د تاخیر دی او که د یو آیت نه کم لوستی وی نو بیا سجده سهوه واجب نه ده چې د سورت فاتحه لوستو کی دومره تاخیر معاف دی: ((و ان قرا السورة قبل الفاتحة او بعضها ثم تذکر یعود الی الفاتحة ثم یقرء السورة و یسجد للسهو لان الترتیب بین الفاتحة والسورة لازم (رسائل الارکان ص ۹۳) (لان الظاهر ان العلة هی تاخیر الابتداء بالفاتحة والتاخیر الیسیر و هو دون رکن معفو عنه تامل (الی قوله) و ان غیر واحد من المشائخ قدر ها بمقدار اداء رکن (شامی ص ۴۲۹ باب صفة الصلوة مطلب فی واجبات الصلوة)) والله اعلم بالصواب.

_ د سلام ګرځولو نه مخکې سجده سهوه وکړه؟

(۲۵۴ سوال) امام صاحب د ماښام دویم رکعت نه وروسته د قعدې کولو په ځای دریم رکعت ته ودرید قیام ته قریب ؤ چې مقتدی فتح ورکړه نو کیناست او په آخر کی یې سجده سهوه وکړه مګر یو طرف ته د سلام ګرځولو نه بغیر وکړه نو د مونځ دوباره کول ضروری دی یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی سجده سهوه واجب شوې ده، د سجده سهوی نه مخکې یو طرف ته سلام اړول پکار دی او که ونه ګرځوی نو پدې سره تنزیهی کراهت لازمېږي مګر مونځ کېږي، دوباره کول یې ضروری نه دی: ((و لو سجد قبل السلام جاز و کره تنزیهاً، درمختار مع الشامی ۶۹۱/۱ باب سجود سهو)) فقط والله اعلم.

_ که امام د سورت فاتحې نه وروسته سوچ او فکر وکړي؟

(۲۵۵ سوال) ځینی وخت امام صاحب د الحمد لله ویلو نه وروسته سورت یو ځای کولو مخکې لږ وخت سوچ او فکر کوي نو پد ې سره مانځه کی څه نقصان راځي یا نه ؟ او سجده سهوه لازمېږي یا نه؟ وضاحت وکړی جزاکم الله.

(جواب) د الحمد لله ختمولو نه وروسته آمین ویلو او د سورت نه مخکې بسم الله الرحمن الرحیم ویلو نه علاوه که چیرته د یو رکن ادا کولو په مقدار یعنی درې ځلی سبحان الله ویلو په مقدار چې چپ پاتې شي او فکر وکړي نو سجده سهوه واجبېږي او که سجده سهوه و نه کړې نو مونځ به دوباره وکړي او که لدېنه وقفه کمه وي نو بیا څه نه لازمېږي :-

((و اعلم انه اذا شغله ذلک الشک فتفکر (قدر اداء رکن و لم یشتغل حالة الشک) بقراة و لا تسبیح) (وجب علیه سجود السهو) درمختار مع الشامی ج۱ ص ۷۰٦ باب السجود السهو))

که سلام کرځولو کې تاخیر وشي نو سجده سهوه لازمېږي یا نه؟

(۲۵٦ سوال) امام صاحب د ماښام د مونځ آخره قعده کی التحیات ، درود شریف او دعاء لوستلو پدې وخت کې یو مقتدی اولنی قعدې په خیال فتح ورکړه یعنی سبحان الله ووېل نو امام صاحب ودرید لیکن کله چې نورو مقتدیانو الله اکبر ووېل نو امام صاحب فوراً کیناست او مونځ یې پوره کړ او سجده سهوه یې ونه کړه ، لیکن وروسته د بهشتی زیور دویمې حصې ۱۹ ، مسئله په لیدو سره مونځ دوبآره کړ ، اوس تپوس دا دی چې امام صاحب نیمایي نه زیات دعاء لوستې وه نو سجده سهوه کول پکار وه؟ دلته ځینی خلک وایي چې مونځ شوی دوبآره کولو ضرورت نه ؤ ځکه چې ټول فرائض ادا شوی دی ، او د مذکور کتاب موافق په عمدة الفقه او بهشتی ثمر کی هم لیکلی دی ، لیکن مونږ وربانديې پوره مطمئن شوي نه یو لهذا تاسو تفصیل جواب ولیکی او ځمونږه شک ختم کړی ، جزاکم الله

(جوا ب) پدې مسئله کی اولنی مونځ ناقص ادا شوې ؤ ځکه چې په سلام کی تاخیر شوی او سلام د مونځ واجباتو څخه دی او د واجب په تاخیر د واجب سره سجده سهوه لازمېږي لهذا سجده سهوه کول ضروری وه چې سجده سهوه یې ونه کړه نو مونځ دوباره کول ضروری دی په در مختار کی دی :-

((و یسجد للسهو فی الصورتین لنقصان فرضه بتاخیر السلام فی الاولی و ترکه فی الثانیة ، در مختار مع الشامی ج۱ ص ۷۰۱ باب سجود السهو)) فقط والله اعلم.

د الحمد لله او څو ایتونو لوستو نه وروسته بیا الحمد لله ولولی؟

(۲۵۷ سوال) زمونږه امام صاحب ماسخوتن مانځه کی الحمد لله او تقریباً شپږ آیتونه تلاوت کړل او وروسته یې دا ګمان غالب شو چې الحمد لله می ندې لوستی پدې وجه یې دوباره الحمد لله ولوست او بیا سورت ولوست ، اول ځل یې غالب ګمان دا ؤ چې الحمد لله نده لوستی او حقیقت کی یې لوستی ؤ نو ګویا چې دوه ځلی الحمد لله او

دوه خلي يې سورت ولوست نو پدې صورت کی سجده سهوه واجبېږي يا نه؟ که واجب دی نو ولې؟ او که نه وي نو ولې؟ تفصيلي جواب وليکی مهرباني.
(جواب) حامداً و مصلياً و مسلماً: د الحمد لله پوره کولو نه وروسته چې د سورت شپږ ايتونه لوستی وی نو بيا د الحمد لله او سورت دوباره لوستو سره سجده سهوه نه لازمېږي ځکه چې د الحمد لله متوالي تکرار سره د سورت په يو ځای کولو کی تاخير راځي او الحمد لله نه وروسته متصل سورت يو ځای کول واجب دی او پدې وجه سجده سهوه لازمېږي، او په ذکر شوی مسئله کی الحمد لله متوالي ندی نو ځکه سجده سهوه واجب نه ده:-
((و لو قراها فی رکعة من الاولیين مرتين وجب سجود السهو لتاخير الواجب وهو السورة کما فی الذخيرة الخ (شامی ج ۱ ص ۴۲۹ باب صفة الصلوة مطلب فی واجبات الصلوة) فلو را ألفاتحة مرتين قبل السورة وجب سجود السهو لتاخير السورة (طحطاوی علی الدر المختار ج ۱ ص ۳۲۱) و کرر الفاتحة فی رکعة الاولیين متوالياً (الی قوله) يجب عليه سجود السهو للزوم تاخير الواجب وهو السورة (الی قوله) و لو قرء الفاتحة ثم السورة ثم الفاتحة لا يلزمه السهو و قيل يلزمه (ايضاً کبيری ص ۴۳۳) و لو قر الفاتحة مرتين فی الاولیين فعليه السهو لانه اخر السورة و لو قرا فيهما الفاتحة ثم السورة ثم الفاتحة ساهيا لم يجب عليه سهو و صار کانه قرا سورة طويلة (الجوهرة باب صفة الصلوة النيرة ج ۱ ص ۷۷))
لدې عبارتو څخه واضح طور ثابتېږي چې ذکر شوی صورت کی سجده سهوه نه واجبېږي، فقط.

_ که د تشهد څه حصه پاتې شي څه حکم لري؟

(۲۵۸) په اوله يا دويمه قعده کی چې د تشهد حصه د لوستو نه پاتې شي نو سجده سهوه لازمېږي يا نه؟ وضاحت وکړی، خير يوسئ.
(جواب) تشهد ټول مکمل واجب دی اکثر يا ځينی حصه پاتې کيدو سره هم سجده سهوه لازمېږي: ((و لز ترک التشهد فی القعدتين او بعضه لزمه السجود فی ظاهر الرواية لانه ذکر واحد منظوم فترک بعضه کترک کله، طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۶۷ فصل فی بيان واجب الصلوة))فقط والله اعلم.

ـ که الحمد لله مالک یوم الدین پورې لوستو سره دوباره ولولي څه حکم لري؟

(۲۵۹ سوال) امام مالک یوم الدین پورې لوستو سره دوباره الحمد لله ولوست نو پدې صورت کې سجده سهوه لازمېږي یا نه؟ زید وایي که یو ایت هم دوباره ولولي بیا هم سجده سهوه واجب ده او بکر وایي چې نیمایي سورت نه زیات لوستو نه وروسته چې دوباره پوره الحمد لله ولولي نو سجده سهوه واجبېږي . تاسو فیصله وکړئ کومه خبره صحیح ده؟ جزاکم الله.

(جوا ب) صحیح دا ده چې که د سورت فاتحې یو ایت هم سهواً پاتې شي نـو سجده سهوه واجب ده ، او د سورت فاتحې په تکرار یا نیمایي نه زیات لوستو سره دوباره لوستو سره هم سجده سهوه واجب ده ، او ذکر شوی صورت کی مالک یوم الدین پورې لوستو سره سهواً دوباره لوستو سره سجده سهوه واجب نه ده[1] دا حکم د هغـو رکعتـو ده چې الحمد لله لوستل پکې واجب وی او په کومو رکعتو کی چې الحمد لله واجب نـه دی ، د هغو دا حکم نه دی[2] فقط والله اعلم.

ـ په وجوب د سجده سهوه کی ټول لمونځونه برابر دي:

(۲٦۰ سوال) امام د تراویحو له دوه رکعتو نه وروسته د قعده کولو پـه ځـای ودریـد او فتح ورکولو سره کیناست مګر سجده سهوه یې ونه کړه او چې تپوس ترینـه وشـو نـو وی فرمایل : چونکی تراویح سنت دی پدې کی د سجده سهوه کولو یا مونځ دوبـاره کولـو ضرورت نشته ، ایا په تراویحو کی که له امام نه داسې کومه غلطی وشـي چـې موجـب سجده سهوې وی نو د سجده سهوی کولو ضرورت نشته ؟ اوکه سجده سهوه ونه کړي نو د مونځ دوباره کولو ضرورت شته یا نه؟ وضاحت وکړی جزاکم الله .

---

[1] ـ و لو قرا الفاتحة الا حرفا او قراء اکثر ها ثم عاد ساهیا فهو بمنزلة ما لو قرا ها مرتین کذا فی الظهیریة فتـاوی عالمګیری الباب الثانی عشر فی سجود السهو.

[2] ـ د ماښام دریم رکعت او څلور رکعتی فرضو آخری دوه رکعتو کی الحمد لله واجب نه دی پدې رکعتـو کی الحمد لله مکرر لوستو سره سجده سهوه نه لازمېږي قال فی شرح المنیة و قیل بالاولین لان الاقصار علی مرة فی الاخرین لیس بواجب حتی لا یلزمه سجود السهو بتکرار الفاتحة فیهمـا سـهواً الخ (شـامی ۱/ ۳٤۰ واجبات الصلوة)

(جواب) د امام صاحب دا خبره چې تراویح سنت دی پدې کې د سجده سهوی یا د مونځ دوباره کولو ضرورت نشته، صحیح نه ده ، مونځ چې فرض وي یا واجب ، سنت وی یا نفل په ټولو مونځونو کی د سجده سهوی حکم یو شان دی ، البته د اختر او جمعې مونځونو کی چې خلک ډیر زیات وي او د سجده سهوی په کولو سره مونځ ګذارانو کی انتشار او تشویش پیدا کېږي او مونځ خرابېږي نو پدې صورت کی سجده سهوه معاف کېږي ، همدا شان که کوم ځای تراویحو کی هم خلک ډیر زیات وي او په سجده سهوه سره مونځ ګذارو کی د انتشار او د مونځ فاسدیدو قوی خطره او ویره وي نو سجده سهوه ساقطېږي او د مونځ دوباره کولو ضرورت هم نشته ،

((والسهو فی صلوة العید والجمعة والمکتوبة والتطوع ان الجمع الکثیر فیما سواهما کذلک کما بحثه بعضهم ط و کذا بحثه الرحمتی و قال خصوصاً فی زماننا و فی جمعة حاشیة ابی السعود عن العزمیة انه لیس المراد عدم جواز بل الاولی ترکه لئلا یقع الناس فی فتنة اه (قوله و به جزم فی الدرر) لکنه قیده محشیها الوافی بما اذا حضر جمع کثیر و الافلا داعی الترک ط (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۰۵ باب سجود السهو) ، طحطاوی علی الدر مختارج ۱ ص ۵۰۰)) فقط

ـ که په سجده سهوه کی مسبوق امام سره سلام وګرځوی څه حکم لری؟

(۲٦۱ سوال) محترم مفتی صاحب مسنون سلام : ستاسو فتاوی رحیمیه ۲۴۷/۱ (د نوی ترتیب مطابق ، د مسبوق ، مدرک او لا حق احکام ، ایا مسبوق امام سره سلام اړولی شي، عنوان لاندې ۱۵۳/۵ کی وګوری (مرتب)) په اردو کی دا فتوی ده ((مسبوق به سجده سهوه کولو کی د امام پیروی کوی مګر سلام به نه اړوي ، اوس سوال دا دی که مسبوق امام سره سلام واړوي نو دا مسبوق به د خپل مونځ په آخر کی سجده سهوه کوي او که مونځ یې فاسدېږي ؟ دلته مونږ سره داسې واقعه شوې ده ، ځینی حضرات وایي چې مونځ یې فاسد شوی ، تاسو حوالو سره جواب راکړی ، جزاکم الله (له سورت نه)

(جواب) مسبوق په سجده سهوه کی خو د امام تابعداری کوي مګر سلام به ورسره نه اړوي ، که مقتدی ته یاد وی چې زما مونځ پاتې دی او سلام وګرځوی نو مونځ یې

فاسدېږي[1] او که په هیره باندې سلام وګرځوی نو مونځ نه فاسدېږي او سجده سهوه هم نه لازمېږي ځکه چې پدې وخت کی هغه مقتدی دی او ددهٔ په غلطی باندې سجده سهوه نه لازمېږي په بدائع کی دی:

((ثم المسبوق انما یتابع الامام فی السهو دون السلام بل ینتظر الامام حتی یسلم فیسجد فیتابعه فی سجود السهو لا فی سلامه و ان سلم فان کان عامداً تفسد صلاته و ان کان ساهیا لا تفسد و لا سهو علیه لانه مقتد و سهو المقتدی باطل فاذا سلم الامام للسهو یتابعه فی السجود و یتابعه فی التشهد ، بدایع الصنائع ص ۱۷۲ فصل فی بیان من یجب علیه سجود السهو و من لا یجب)) فقط والله اعلم

ـ که مسبوق امام سره سلام وګرځوی نو؟

(۲٦۲ سوال) د یو سړی نه د ماسپښین دوه رکعته پاتی شوی کله چې امام د مونځ په ختمیدو سلام وګرځولو نو دې سړی (مسبوق) هم په هیره امام سره سلام وګرځولو بیا ورته یاد شو چې زما دوه رکعته پاتې دی نو فوراً ودرید او خپل پاتې شوی رکعتونه یې ادا کړی اوس پدې سړی آخر کی سجده سهوه لازم ده یا نه؟ وضاحت وکړی.

(جواب) کله چې امام د مونځ په ختمولو باندې سلام ګرځوی مسبوق ته امام سره سلام ګرځول ندی پکار ((و لا یسلم اذا سلم الامام ای للخروج عن الصلوة لان هذا السلام للخروج عن الصلوة و قد بقی علیه ارکان الصلوة ، بدائع ۱/۱۷٦))

که په غلطی سره سلام ګرځولی وی نو که چیرته د امام سلام ګرځولو نه وروسته ګرځولی وی نو سجده سهوه لازم ده (ځکه چې په حالت د انفراد کی سلام ګرځولی دی) او که نه لازم نه ده (ځکه چې دی مقتدی دی او د مقتدی په غلطی سره سجده سهوه نه لازمېږي)

((و لا یسلم اذا سلم الامام (ای للخروج عن الصلوة) لان هذا السلام للخروج عن الصلوة و قد بقی علیه ارکان الصلوة فاذا سلم مع الامام فان کان ذاکراً لما علیه من القضاء فسدت صلوته لانه سلام عمد و ان لم یکن ذاکرا له (ای لما علیه من القضاء) لا تفسد لانه سلام سهو فلم یخرجه عن الصلوة و هل یلزمه سجود السهو لاجل سلامه ینظر

---

[1] ـ دا مسئله خاص طور سره یاد ساتل پکار دی ځینی خلک په مسئله نه پوهېږي او پدې ګمان امام سره سلام ګرځوی چې دوی نه هم سلام ګرځول دی د داسې خلکو مونځ فاسد ېږي دوباره کول یې ضروری دی او په تیر شوی زمانه په مسئله باندې نا پوهی په وجه داسې شوی وی نو د هغو هم اندازه کولو سره قضائي ضرور وه ((و لو سلم علی ظن ان علیه ان یسلم فهو سلام عمدا یمنع البناء . کبیری ۴۲۵ صفحه مصری))

ان سلم بعد تسليم الامام لزمه لان سهوه سهو المنفرد فيقضي ما فاته ثم يسجد للسهو في اخر صلاته ، بدائع الصنائع ج ١ ص ١٧١ ايضاً ، در مختار مع الشام ج ١ ص ٥٦٠ آخر باب الامامة))

زياتره داسې کېږي چې مقتدی د امام نه وروسته سلام ګرځوی او پدې صورت کی سجده سهوه لازمېږي ، د امام نه مخکې يا د امام سره يو ځای سلام ګرځول ډېر کم دی ، فقط والله اعلم.

_ که رکوع پاتې شي يا يواځې يوه سجده وکړی څه حکم لری؟

(۲٦۳ سوال) که يو څوک د رکوع په ځای سجدی ته لاړ شي يا سهواً يواځې يوه سجده کولو سره ودرېږي نو پدې صورت کی د لمونځ د اصلاح کولو څه صورت شته ؟ (حيدر آباد)

(جواب) که لمونځ کی دننه پاتې شوی رکوع او سجده ادا کړی او بيا په آخر کی سجده سهوه وکړی نو د لمونځ اصلاح کيږي :-

((و منها رعاية الترتيب في فعل مكرر فلو ترک سجدة من رکعة فتذكرها في آخر الصلوة سجدها و سجد للسهو لترک الترتيب و ليس عليه اعادة ما قبلها و لو قدم الركوع على القراءة لزمه السجود لكن لا يعتد بالركوع فيفرض اعادته بعد القرائة كذا في البحر الرائق (عالمگيری ج ١ ص ٨١ کتاب الصلوة الباب الثانی عشر في سجود سهو))) فقط والله اعلم ، ١٢ شوال المكرم ١٣٩٩ هـ

_ که په قرائت کی تکرار وکړی نو سجده سهوه لازمېږي يا نه؟

(۲٦۴ سوال) که يو قرائت کی تکرار وکړی له حافظان چې په تراويحو کی کوم ايت باندې بند شي نو بيا تکرار کوی نو سجده سهوه لازمېږي ؟ که دا تکرار له درې ايتونو نه وروسته وکړی او يا مخکې وکړی ، د دواړو يو حکم دی ؟ وضاحت وکړی جزاكم الله

(جواب) پدې صورت کی سجده سهوه نه لازمېږي اګر که د درېو ايتونو لوستو نه وروسته تکرار وکړی او يا مخکې وکړی دواړو صورتو کی سجده سهوه نه لازمېږي ، فقط ٢٧ جمادی الاول ١٤٠٠ هـ

ـ که امام لومړی یا اخره قعده پرېښودو سره په ودرېدو شي او د مقتدی په فتح ورکولو سره کېني نو؟

(۲٦۵ سوال) په څلورم رکعت کی په التحیات لوستو سره امام ودرېدو چې فتح ورکولو سره کیناست او یا اوله قعده پرېښودو سره د سجدې نه پورته قیام ته روان ؤ چې فتح ورکـــولو سره کیناست نو پدې دواړو صورتو کی سجده سهوه لازمېږي یا نه ؟ (حیدر آباد)

(جواب) آخری قعده کولو سره که امام پوره ولاړ نه ؤ بلکی ناستی ته قریب ؤ او فتح ورکولو سره کیناست نو سجده سهوه واجب نه ده ، د اولی قعدی هم همدا حکم دی او که ولاړ وی یا ودرېدو ته قریب وی نو سجده سهوه لازمېږي :-

((و من سهی عن القعدة الاولی ثم تذکرو هو الی حالة القعود اقرب عادو قعدو تشهد لان ما یقرب من الشیئ یاخذ حکمه ثم قیل یسجد للسهو للتاخیر والاصح انه لا یسجد کما اذا لم یقم و لو کان الی القیام اقرب لم یعد لانـه کالقائم معنـی و یسجد للسهو لانـه ترک الواجب و ان سهی عن القعدة الاخیرة حتی قام الی الخامسة رجع الـی القعـدة مـا لـم یسجد لان فیه اصلاح صلاته ، هدایه اولین ص ۱۳۹ باب سجود السهو)) فقط.

ـ په غلطی سره اول ګس طرف ته سلام وګرځولو :

(۲٦٦ سوال) چا په هیره سره اول ګس طرف ته سلام وګرځولو او بیا وروسته ښي طرف ته څه حکم لری؟ وضاحت وکړی جزاکم الله.

(جواب) مونځ کېږي او دوباره ګس طرف ته سلام ګرځول پرې لازم ندی :-

((و لم سلم اولاً عن یساره ناسیاً او ذاکراً یسلم عن یمینه و لیس علیه ان یعیده عن یساره و لیس علیه سهواً اذا فعله ناسیاً ، الجوهرة النیرة ج ۱ ص ۵۵ بـاب صفة الصلوة)) فقط والله اعلم.

ـ اخترونو او جمعې لمونځونو کـی سجده سهوه کـوم وخـت ساقطېږي؟

(۲٦۷ سوال) د اختر په مانځه کی زائد واجب تکبیرونه پاتې شي یا د سجدې سهوی موجب بله کومه غلطی وشي نو سجده سهوه وکـړی یـا مـونځ راوګرځـوی ؟ وضـاحت وکړی.

(جواب) د اخترونو او همدا شان جمعه وغیره مونځو کی چې خلک ګڼ وی چې د سجده سهوی په وجه د انتشار او د خلکو د مونځونو خرابیدو قوی خطره وی نو سجده سهوه ساقطېږي او د لوی تکلیف په وجه دوباره کول هم معاف ګرځي.

((و لا یاتی الامام بسجود السهو فی الجمعة والعیدین دفعا للفتنة بکثرة الجماعة و بطلان صلاة من یری لزوم المتابعة و فساد الصلوة بترکه (مراقی الفلاح ص ۹۴) (قوله بکثرة الجماعة) و اخذ العلامة الوانی من هذه السببیة ان عدم السجود مقید بما اذا حضر جمع کثیر اما اذا لم یحضروا فالظاهر السجود لعدم الداعی الی الترک وهو التشویش (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۲۷۰ باب سجود سهو) در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۰۵ باب سجود السهو)) فقط.

سجده سهوی نه وروسته تشهد ویل ضروری دی یا نه؟

(۲٦۸ سوال) د سجده سهوی نه وروسته التحیات ولولی او که درود شریف او دعاء لوستل کافی دی ؟ که التحیات ونه لولی نو مونځ کیږي یا نه؟ وضاحت وکړی جزاکم الله

(جواب) د سجده سهوی نه وروسته التحیات لوستل ضروری دی که یې ونه لولی نو مونځ خو کیږي مګر واجب پاتې کیږي نو دوباره کول یې واجب ګرځی ، په در مختار کی دی :

((و یجب ایضاً تشهد و سلام لان سجود السهو یرفع التشهد (قوله یرفع التشهد) ای قراءته حتی لو سلم بمجرد رفعه من سجدتی السهو صحت صلاته و یکون تارکاً للواجب و کذا یرفع السلام امداد (در مختار شامی ج ۱ ص ٦۹۲ ، باب السجود السهو) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۵۰ باب سجود السهو) عمدة الفقه ص ۳٦۱ ج ۲)) فقط .

که ماښام یا ماسخوتن آخری رکعتو کی امام الحمد لله په زوره ولولی نو سجده سهوه واجب ګرځی یا نه؟

(۲٦۹ سوال) محترم المقام حضرت مفتی صاحب د امت فیوصهم ! د سلام مسنون نه وروسته عرض دا دی چې ستاسو فتاوی رحیمیه ۲۴۷/۱ (نوی ترتیب مطابق د همدی باب آخر کی د فرض آخری دوه رکعتو کی په زوره قرائت عنوان لاندې ۱۹۷/۵ وګوری (مرتب))

یوه فتوی ده چې که د فرضو په آخر دوه رکعتو کی په زوره قرائت وکړی نو سجده سهوه واجب کرځی ، د بحر الرائق او د طحطاوی حواله ده نو مهربانی وکړی د ذکر شوی کتابونو عبارت نقل کړی ، اوس د غور خبره دا ده چې کله د فرضو آخری دوه رکعتو کی قرائت کول سنت دی نو په زوره قرائت کولو سره سجده سهوه څنګه واجبیږي ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله

(جواب) د فرضو آخری یوه یا دوه رکعتو کی د صحیح قول مطابق الحمد لله ویل سنت دی مګر پدې رکعتو کی اتفاقاً امام لپاره خفیه قرائت کول واجب دی لهذا که امام په زور قرائت وکړی نو د واجب پاتې کېدو په وجه سجده سهوه واجبیږي ، په طحطاوی علی الدر مختار کی دی :

((والجهر للامام والاسرار للکل (فیما یجهر) فیه و یسر (در مختار) (قوله والاسرار للکل) ای للامام اتفاقاً و منفرد علی الاصح (بحر) (قوله و یسر) ای فیما یسر فیه وهو صلوة الظهر والعصر والثالثة من المغرب و الاخریان من العشاء و صلوة الکسوف والاستسقاء (طحطاوی علی الدر مختار ج ۱ ص ۳۲۴ واجبات الصلوة)))

په بحر الرائق کی دی : ((قوله والجهر والاسرار فیما یجهر و یسر فالحاصل ان الاخفاء فی صلوة المخافتة واجب علی المصلی اماماً کان او منفرداً وهی صلوة الظهر والعصر والرکعة الثالثة من المغرب والاخریان من صلوة العشاء وصلوة الکسوف والاستسقاء وهو واجب علی الامام اتفاقاً و علی المنفرد علی الاصح الخ (بحر الرائق ج ۱ ص ۳۰۲ واجب الصلوة)))

او په مراقی الفلاح کی دی :

(و یجب الاسرار فی جمیع رکعات (الظهر والعصر) و لو فی جمعتها بعرفة (و) الاسرار (فیما بعد اولی العشاءین) الثالثة من المغرب وهی والرابعة من العشاء (مراقی الفلاح مع حاشیة طحطاوی ص ۱۳۸ واجبات الصلوة)) فقط والله اعلم.

((و تسن قراءة الفاتحة فیما بعد الاولیین فی الصحیح و روی عن الامام وجوبها و روی التخییر بین قراءة الفاتحة والتسبیح والسکوت))

(۲۷۰ سوال) د تراویح اول رکعت کی د حافظ صاحب سهوه کیدو په وجه سجده سهوه واجب شوه او بیا دویم رکعت کی بل سړی شریک شو ایا دا نوی سړی به سجده سهوه کوی یا نه؟ امام صاحب وایي: چونکی حافظ صاحب اول رکعت کی سهوه شوی

او اقتداء په دویم رکعت کی شوی لهذا پدې نوی شریک شوی باندې سجده سهوه نشته ، دا مسئله په دلیل سره واضحه کړی ، جزاکم الله.

(جواب) دا نوی مقتدی مسبوق دی او د مسبوق حکم دا د ی چې د امام په تابعداری کی سجده سهوه وکړي ، اګر که سهوه دده له اقتداء نه مخکی شوی دی (والمسبوق یسجد مع امامه مطلقاً سواء کان السهو قبل الاقتداء او بعده) (در مختار مع الشامی ۶۹۶/۱ باب سجود السهو)

یعنی مسبوق (کوم چې امام سره یو رکعت وروسته شریک شوی) امام سره سجده سهوه کوی که امام د مسبوق له اقتداء نه مخکې سهوه شوی وی او که وروسته ، البته مسبوق به امام سره سلام نه ګرځوی ، بغیر د سلام ګرځولو نه به سجده سهوه کوی ، ددی به ضرور خیال کوی ، که چیرته مسبوق ته یاد وی چې زما مونځ پاتې او بیا هم امام سره سلام وګرځوی نو مونځ یې فاسدیږي او که سهوا سلام وګرځوی نو مونځ یې نه فاسدیږي او سجده سهوه هم نه لازمیږي ځکه چې هغه مقتدی دی او د مقتدی په سهوه باندې سجده سهوه نه لازمیږي (بدائع۱۷۶/۱ فصل فی بیان من یجب علیه السهو و من لا یجب علیه ، فتاوی رحیمیه ۱۹۱/۵، ۱۹۲) فقط والله اعلم.

_ د مقتدی په سهوه باندې سجده سهوه

(۲۷۱ سوال) که مقتدی نه د امام په اقتداء کی سهوه وشي نو مقتدی به د سلام نه وروسته سجده سهوه کوی؟

(جوا ب) پدې مسئله کی مقتدی باندې سجده سهوه نشته البته که د امام سلام ګرځولو نه وروسته له مسبوق نه د پاتې مونځ په ادا کولو سهوه وشي نو بیا به سجده سهوه کوی ((و سهو المؤتم لا یوجب السجود علی الامام لانه متبوع لا تابع و لا عیه ای و لا علی مؤتم الخ (کبیری) (ص ۴۳۷ فصل فی بیان من تجب علي السهو و من لا یجب علیه) و ان سهی فی ما یقضی بعد فراغ الامام یسجد السهو ایضاً (ایضاً ص ۴۳۸))

_ که په هیره سره سجده سهوه یوه وکړي نو د لمونځ دوباره کول ضروری دي ؟

(۲۷۲ سوال) امام صاحب سهوه کیدو په وجه سجده سهوه وکړه لیکن صرف یوه سجده یې وکړه د مونځ وخت په تیریدو سره ورياد شو چې سجده سهوه هم سهواً یوه کړې وه نو اوس مونځ دوباره په څه طریقه وکړی ایا د ټولو مقتدیانو سره یو ځای وکړی شي او

یا جدا جدا وکری شي ؟ د مقتدیانو جمع کول سکن دی او که د لمونځ دوباره کول ضروري نه وی نو هم راته ولیکی . مهربانی

(جواب) حامدا و مصليا و مسلماً : سجده سهوه لپاره دوه سجدی کول واجب دی لهذا دیوی سجدی په پاتې کیدو سره مونځ ناقص او واجب الاعاده ګرځی .

(و يجب سجدتان الخ باب سجود السهو (نور الایضاح ص ۱۱۵) و ان النقص اذا دخل فی صلوة الامام و لم یجبر و جبت الاعادة علی المقتدی ایضاً (شامی ۱/۴۲۵ باب صفة الصلاة مطلب کل صلاة اديت مع الکراهة التحريم تجب اعادتها)) فقط

پداسې صورت کی که د مقتدیانو خوریدو نه وړاندې وریاد شي نو با جماعت مونځ به راګروی . او خوریدو نه وروسته د ټولو را جمع کول ضروری نه دی جدا جدا راګرځول کافی دی . فقط والله اعلم.

ـ که امام د وتر اخری رکعت کی چپ ودریږی څه حکم لری؟

(۲۷۳ سوال) پدې مسئله کی دینی علماء څه فرمایی چهامام د وترو په دریم رکعت کی چپ پاتې شي او مقتدی الحمد لله نه وروسته فتح ورکړی او بیا امام فوراً د الحمد لله نه وروسته سورت یو ځای کولو سره دعاء قنوت ولولی او مونځ خپل ترتیب سره ختم کړی ، یواځی چپ پاتې کیدو سره سجده سهوه شته؟ او که سجده سهوه هم ونه کړی نو مونځ کیږي یا نه؟ اوکه وتر دوباره کول غواړی؟

(جواب) حامداً و مصليا و مسلماً : درې ځلی سبحان الله ویلو په مقدار چپ پاتې کیدو سره که الحمد لله لوستی وی نو سجده سهوه لازم ده او که سجده سهوه ونه کړی نو د مونځ دوباره راګرځول ضروری دی:

(و اعلم انه اذا شغله ذلک الشک فتفکر قدر اداء رکن و لم يشتغل حالة الشک بقرائة و لا تسبیح ذکره فی الذخیرة و جب علیه سجود السهو (باب سجود السهو در مختار ج ۱ ص ۷۰۶))

او که امام چپ نه وی پاتې بلکی الحمد لله یې خفیه شروع کړی وی که د دریو ایتو لوستو نه وروسته په زوره ولوست نو سجده سهوه لازم ده:-

(والجهر فيما يخافت فیه و عکسه بقدر ما تجوز به الصلوة (در مختار ۱/۶۹۴)) فقط والله اعلم.

د فرض آخری دوه رکعتو کی په زوره قرائت کول:

(۲۷۴ سوال) د ماښام او ماسخوتن دریم او څلورم رکعت کی که امام سهواً په زوره قرائت وکړی نو سجده سهوه به کوی یا نه؟

(جواب) او، سجده سهوه کول واجب دی (طحطاوی ۲۲۴/۱)[1]

(بحر الرائق واجبات الصلوة (۳۵۲) صفحه) والله اعلم.

[1] ـ و منها جهر الامام فیما یجهر فیه والاسرار فی محله مطلقاً واختلف فی القدر الموجب للسهو والاصح انه قدر ما تجوز به الصلوة فی الفصلین، باب سجود السهو واجبات الصلوة.

سجده د تلاوت

د سجدی ایت مکرر لوست:

(۲۷۵ سوال) په رمضان المبارک کی حافظان د قرآن پاک دور کوی یعنی یو حافظ لولی او بل ورته غور نیسي پدې طریقه د سجدی ایت بار بار لوستل او اوریدل کېږي نو یوه سجده به کوي او یا که څومره ځله یې د سجدی ایت لوستی یا اوریدلی هومره ځلی سجدی وکړی؟

(جواب) که د سجدې ایت یو مجلس کی مکرر ولولی نو یوه سجده به کوی نو په ذکر شوی مسئله کی به هم یوه سجده کوی ځکه چې ایت او مجلس یو دی (شامی ۷۲٦/۲)[1] (بحر الرائق ۱۲۵/۲)

_ که د سجدې آیت په اوریدو سره رکوع ته لاړ شي؟

(۲۷٦ سوال) په تراویحو کی امام د سجدې ایت ولوست او سجدی ته لاړ مګر مقتدی د رکوع په خیال رکوع ته لاړ نو دده مونځ او سجده وشوه یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی مقتدی ته پکار دی چې رکوع پریدی او سجدی ته لاړ شي او که رکوع کولو سره بیا سجدې ته لاړ نو مونځ یې هم صحیح کېږي او سجده تلاوت هم ادا کېږي (در مختار شامی ۷۲۴/۱)[2]

_ په مانځه کی سجده تلاوت نه وروسته دوباره سجده لوستل:

(۲۷۷ سوال) حافظ صاحب په تراویحو کی د سجده تلاوت کولو نه وروسته د وړاندنی آیت په ځای دوباره د سجدې ایت ولوست اوس به دوباره سجده کوي یا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی اولنی سجده کافی ده دوباره د سجدی ضرورت نشته او سجده سهوه هم نشته (عالمګیری ۱۲۵/۱)[3]

---

[1] _ قوله و لو کررها فی مجلسین تکررت الاصلی انه لا یتکرر ۱ جوب الا باحد امور الصلاته احتلاف التلاوت او السماع او المجلس ... ما لم یکن للمکاتین حکم الواحد کمسجد والبیت والسفینة الخ باب السجود التلاوة .

[2] _ و تؤی بسجودها کذلک ای علی الفور و ان لم بنو بالاجماع و لو نواها فی رکوعه و لم ینوها المؤتم لم نجزه و یسجد اذا سلم الامام و یعید القعدة ولو ترکها فسدت صلاته باب سجود التلاوة .

ـ که څو حافظان خپلو کې د سجدې ایت ولولی او واوري نو څو سجدې وکړی؟

(۲۷۹ سوال) د رمضان په میاشت کې حافظان صاحبان دور کوي یو لولی او بل یې اوري په دې شان یو بل پسې ټول لولي که د سجدې ایت ولولی نو په ټولو یوه سجده ده یا څومره چې حافظان دی هومره سجدې به کوی ، او همدا شان څو ځله چې اوریدلی وی هومره سجدی به کوی ؟ شرعی حکم واضح کړی ، مهربانی

(جواب) که په یو مجلس کې تلاوت وی او د سجدې ایت هم یوه وی نو صرف یوه سجده واجب ده ځکه چې ایت هم یو دی او مجلس هم (شامی ۷۲٦/۱ ، بحر الرائق ۱۲۵/۲ باب السجود التلاوة) فقط والله اعلم.

ـ په تراویحو کې د سجدهٔ تلاوت اعلان وکړی یا نه؟

(۲۷۹ سوال) په تراویحو کې د سجده تلاوت اعلان کولی شی چې پدې رکعت کې سجده ده ددې شرعی حکم څه دی؟

(جواب) په خیر القرون کې په عربو او عجمو کې زیات نا پوهان او نوی مسلمانان موجود وو خو ددی باوجود د سلف صالحینو څخه دغه اعلان ثابت ندی او حال دا چې هغوی د اسلامی اعمالو په تبلیغ کې نهایت تکړه او د عباداتو په صحیح کولو کې زیات حرصناک وو او فقهاء کرامو هم ددی قسم اعلان هدایت ندی کړی که دا ضرور وای خو لازماً به یې تاکید کولو لکه چې مسافر امام ته خاص طور تاکید کړی چې نورو مونځ ګذارو ته د خپل مسافرتوب اطلاع وکړی ، که د مانځه نه مخکې وی او که وروسته چې ((زه مسافر یم)) ځکه چې دلته ضرورت دی لیکن په سجده تلاوت کې عام طور سره داسې ضرورت نه وی او که بلا ضرورت دا طریقه جاری پاتې شي نو ډېر زیات امکان لری چې لکه څنګه خینو ښارو کې رواج دی چې د جمعې مانځه په وخت کې دا اعلان کولی شي ((الصلوة سنة قبل الجمعة)) یا داسې ویل کېږي ((انصتوا رحمکم الله)) او دویم اعلان سنت یا نیک کار ګڼل کېږي همدا شان د سجدهٔ تلاوت دغه اعلان به هم سنت وګڼل شي

---

* ـ و لو تلاها فی رکعة فسجدها ثم اعدها فی تلک الرکعة لا تجب الثانیة کذا فی محیط السرخسی الباب الثالث عشر فی سجود التلاوة.

حضرت شاه ولی الله رحمه الله تنبیه کړې ده چې مباح شئ ضرور ګڼلو کې د نوری خرابی نه علاوه ددی خبری احتمال هم شته چې مباح مسنون وګڼل شي او غیر مسنون شی مسنون ګڼل د دین تحریف دی (ازالة الخفاء نمبر ۱ مجلس نمبر ۵ فصل) البته که خلک زیات وی لکه په لویو ښارونو کې چې وی چې لری پوری صفونه وی او څه صفونه پورته منزل کې هم وی او هلته د غلطیدو قوی احتمال وی چې خلکو ته د سجده تلاوت پته ونه لګی او د سجدی په ځای رکوع وکړی نو پداسې ځایو کې یقیناً ((الضرورات تبیح المحذورات)) په موجب د اعلان اجازت ورکول کېږي مګر د هر ځای دا حکم ندی دلته ددی (اعلان) ضرورت نشته زما خپله د کلونو تجربه ده لهذا ددی پرېښودل ضروری او ددی پابندی غلط دی ، فقط.

ـ که د مقتدی په فتح امام د سجدی ایت ولولی نو سجده تلاوت یوه ده او که دوه؟

(۲۸۰ سوال) یو دوست تپوس کوی چې د امام صاحب نه د سجدی ایت هیر شو مقتدی ورته فتح ورکړه او بیا امام ایت ولوست نو یوه سجده تلاوت ده او که دوه؟

(جواب) چې امام نه د سجدې ایت هیر شي او مقتدي په لوستو سره فتح ورکړی او بیا امام ولولی او سجده وکړی نو همدا یوه سجده کافی ده ، دوه سجدې نه واجبېږي[1] فقط.

ـ په سورت (ص) کی د سجدهء تلاوت ایت کوم یو دی؟

(۲۸۱ سوال) په سورت (ص) کی سجده تلاوت ((اناب)) باندې ده یا ((حسن مآب)) باندې ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) د محقق قول په بناء غوره دا ده چې ((حسن مآب)) باندې سجده وکړی شي په شامی کی دی : ((و فی ص عند حسن مآب وهو اولی من قول الزیلعی عند و اناب)) (۷۱٦/۱ باب سجود التلاوة) په علم الفقه کی دی : (۱۰) د سورت ص دویم رکوع کی دا ایت (و خر راکعاً و اناب فغفرنا له ذلک و ان له عندنا لزلفی و حسن مآب) پدې ایت کی د ((حسن مآب)) په لفظ باندې سجده ده او د ځینو علماؤ په نزد د

---

[1] ـ اذا تلا الامام آیة لسجدة سجدها و سجد الامامو ..... وان تلا الماموم لم یلزم الامام و لا المؤتم السجود لا فی الصلوة و لا بعد الفراغ منها ، فتاوی عالمگیری سجود التلاوة ج ۱ ص ۱۳۳ .

اناب په لفظ باندې سجده ده مګر دا قول محقق نه دی (در مختار ، علم الفقه (۱۹۵) صفحه دویمه حصه).

ـ که د سجدې یو ایت دوه رکعتو کی ولولی نو څو سجدې واجبېږي ؟

(۲۸۲ سوال) امام د تراویحو اول رکعت کی د سجدی ایت ولوست او سجده یې وکړه او اتفاقاً دویم رکعت کی هماغه ایت بیا ولوست نو اولنی سجده کافی ده او که دویمه لازم ده؟ وضاحت وکړی جزاکم الله.

(جواب) اولنی سجده کافی کېږي په بدائع الصنائع کی دی :-

((و اما اذا کرر التلاوة فی رکعتین انه یکفیه سجدة واحدة وهو قول ابی یوسف الاخیر و فی الاستحسان یلزمه لکل تلاوة سجدة وهو قول ابی یوسف رحمه الله الاول وهو قول محمد و هذا من المسائل الثلاث التی رجع فیها ابو یوسف رحمه الله عن الاستحسان الی القیاس الخ (ص ۱۸۲ فصل سبب وجوب السجدة جلد اول))) فقط والله اعلم.

ـ لمانځه کی د سجده تلاوت نه وروسته درې ایتونه لوستو سره سجده کول:

(۲۸۳ سوال) مانځه کی د سجده تلاوت ایت لوستو سره فوراً سجده ونه کړه ، بلکی له درې ایتونو نه وروسته وکړه نو ادا شوه یا سجده سهوه کول لازم دی ؟ یا مونځ واجب الاعاده ګرځی ؟ وضاحت وکړی مهربانی

(جواب) مانځه کی چې د سجدې ایت ولوستل شي نو فوراً سجده کول واجب دی او که له درې ایتونو څخه زیات لوستو نه وروسته سجده وکړی شی نو قضاء ګڼلی شی او د تاخیر په وجه سجده سهوه واجبېږي ، علی المذهب المختار او که سجده سهوه ونه کړی نو مونځ واجب الاعاده ګرځي ، کومه سجده تلاوت چې مانځه کی واجب شوی وی هغه د سلام ګرځولو نه مخکې بلکې د سلام ګرځولو نه وروسته هم څو پورې د مانځه مخالف کوم حرکت نه وی کړی ، سجده کول پکار دی ، او ددینه وروسته د توبه او استغفار نه غیر د معانی هیڅ صورت نشته ، په درمختار کی دی :-

((فعلی الفور لصیروتها جزءً امنها و یاثم بتاخیر ها و یقضیها ما دام فی حرمة الصلوة و لو بعد السلام و فی الشامی (قوله فعلی الفور) ای فان کانت صلوتیةً فعلی الفور ثم تفسیر

الفور عدم طویل المدۃ بین التلاوۃ والسجدۃ بقراءۃ اکثر من آیتین او ثلاث علی (قوله و یاثم بتاخیرها) لانها وجبت بما هو عن افعال الصلوۃ وهو القرانة و صارت من اجزائها فوجب ادا وها مضیقاً کما فی البدائع ولذا کانت المختار وجوب سجود السهو لو تذکرها بعد محلها کما قد مناه فی بابه عنده قوله لترک واجب صارت کما لو اخرت السجدۃ الصلبیة عن محلها فانها تکون قضاء و مثله ما لو اخر القراءۃ الی الاخریین علی القول بوجوبها فی الاولیین وهو المعتمد. اما علی القول بعدمه فیهما فهی اداء فی الاخریین کما حققناه فی واجبات الصلوۃ فانهم . (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۷۳۳ باب سجود السهو) (و هکذا فی المراقی الفلاح و حاشیة الطحطاوی ص ٢٦٧))

((و فی الغیاثیه و اداء ها لیس علی الفور حتی لو اداها فی ای وقت کان مودیاً قاضیاً کذا فی التاتار خانیة هذا فی غیر الصلاتیة اما الصلوتیة اذا اخرها حتی طالت القرائة تصیر قضاءً و یاثم هکذا فی البحر الرائق ج۱ ص ٨٦، ٨٧ الباب العاشر فی سجود التلاوۃ)).

((و فی موضع اخر : و فی الولو الجیة المصلی اذا تلا آیة السجدۃ و نسی ان یسجد لها ثم ذکر ها و سجد و وجب علیه سجود السهو لانه تارک للوصل وهو واجب و قیل لا سهو علیه والاول الاصح کذا فی التاتار خانیه)) (عالمگیری ج ۱ ص ۸۱ الباب الثانی عشر فی سجود السهو)

په ما لا بدمنه کی دی ((سجده تلاوت که در نماز واجب شده بعد نماز قضا نه سود)) (۷۱ صفحه) فقط والله اعلم.

ــ په رکوع او سجده کی د سجدهٔ تلاوت نیت کول څنګه دی؟

(۲۸۴ سوال) حافظ صاحب په تراویحو کی د سورت اعراف د سجدی ایت لوستو سره رکوع وکړ او سجده تلاوت یې ونه کړ د مانځه نه وروسته تپوس کولو سره حافظ صاحب وویل چې رکوع یا سجده کی د سجده تلاوت وکړی شی نو سجدهٔ تلاوت ادا کېږي ایا دا خبره صحیح ده؟ وضاحت وکړئ مهربانی .

(جواب) په مانځه کی د سجده تلاوت ادا کولو یوه طریقه دا هم ده چې د سجدی ایت لوستو سره فوراً د مانځه رکوع وکړی (لکه څنګه چې پدې سوال کی شوی دی) یا دوه درې واړه ایتونه لوستو سره د مانځه رکوع وکړی او پدې کی د سجده تلاوت نیت هم وکړی نو سجدهٔ تلاوت ادا کېږي که په رکوع کی نیت وکړی نو د مانځه په سجده کی سجده تلاوت ادا کېږي که د سجدې نیت یې کړی وی او یا یې نه وی

کړی ، لیکن که چیرته امام په رکوع کی د سجدهء تلاوت نیت کړی وی او مقتدیانو نه وی کړی نو ددوی سجده نه ادا کیږي ، لهذا پداسې صورت کی امام ته پکار دی چې په رکوع کی د سجدهء تلاوت نیت ونه کړی ، د مانځه په سجده کی د ټولو سجده ادا کیږي :

((و تؤدی برکوع صلوة اذا کان الرکوع علی الفور من قراءة اية او ايتين و کذا الثلاث علی الظاهر کما فی البحر(ان نواه) ای کون الرکوع لسجود التلاوة علی الراجح (و تو دی بسجودها کذلک) ای علی الفور (و ان لم ینو) بالاجماع و لو نواها فی رکوعه و لم ینو المؤتم لم تجزه (قوله لم تجزه) ای لم تجزئية الامام المؤتم و لا تندرج فی سجوده او ان نواها الموتم فيه لانه لما نواها الامام فی رکوعه تعين لها ، افاده ح هذا الخ)) (در مختار مع الشامی ج۱ ص ۷۲۳ ، ج ۱ ص ۷۲۴ باب سجود التلاوة)

پدې ذکر شوی مسئله کی که امام سره مقتدیانو هم په رکوع کی د سجدهء تلاوت ادا کولو نیت کړی وی نو د ټولو سجده تلاوت ادا کیږي او که مقتدیانو نیت نه وی کړی او امام کړی وی نو د مقتدیانو سجده تلاوت نه ادا کیږي او که چیرته امام په رکوع کی نیت نه وکړی نو د مانځه په سجده کی څوک نیت وکړی یا نه د ټولو سجده ادا کیږي (په شرط ددی چې درې ایتونو څخه کم لوستی وی)

د مسئلی نه خلک خبر نه وی پدې وجه غوره دا ده چې سجدهء تلاوت مستقل ادا کړی شی ، د مانځه په رکوع او سجده کی ادا کولو سره خلک په تشویش کی ونه غورځوی که په مسئله باندې عمل کول وی نو بیا دې مونځ گذار مخکی نه خبروي او بیا به عمل کوی ، فقط.

_ سجدهء تلاوت کولو نه وروسته ودریدو سره یوه دوه آیتونو لوستو سره رکوع کول بهتر دی:

(۲۸۵ سوال) پدې مسئله کی علماء کرام او مفتیان صاحبان څه فرمایی چې امام صاحب د ماښام مانځه کی الحمد لله نه وروسته قصداً سورت علق (اقرا باسم ربک) تلاوت کړ او تکبیر ویلو سره فوراً رکوع وکړ او دعوی کوی چې زما دا کار د سنت سره عین مطابق دی نو اوس سوال دا دی چې ددوی دا دعوی او طرز عمل د حدیث او سنت مطابق دی؟ تفصیل سره جواب راکړی ، جزاکم الله خیراً .

(جواب) کله چې امام صاحب دا دعوی کوی چې د سجدهء تلاوت نه وروسته بغیر د څه لوستو نه رکوع کول عین د سنت مطابق دی‌نو ددی دلیل پیش کول پری لازم دی یواځې تشه دعوه کافی نه ده ، د فقهاؤ په نزد دوه درې ایتونو لوستلو نه بغیر رکوع کول د کراهت نه خالی نه دی اګر که مونځ کېږي :-

((و لو کانت تختم السورة فالافضل ان یرکع بها و لو سجدو لم یرکع فلا بد ان یقرء شیئاً من السورة الاخری بعد ما رفع راسه من السجود و لو رفع و لم یقرء شیئا جاز)) (عالمگیری ج ۱ ص ۱۳۳ الباب الثالث عشر فی سجود التلاوة)

((و حاصله علی ما ذکره الفقهاء کما فی البدائع ملخصاً ان المتلوة خارج الصلوة تودی علی نعت سجدات الصلوة والمتلوة فی الصلوة الافضل ان یسجد لها ثم اذا سجد و قام یکره له ان یرکع کما رفع سواء کان آیة السجدة فی وسط السورة او عند ختمها و بقی بعد ها الی الختم قدر آیتین او ثلاث فینبغی ان یقرء لم یرکع فینبغی ان کانت الآیة فی الوسط فانه ینبغی ان یختمها ثم یرکع و ان کانت عند الختم فینبغی ان یقرء ایات من سورة اخری، ثم اه)) (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۲۲ ، ۱۲۳ باب سجود التلاوة) فقط.

ـ د سجده تلاوت د یو ایت د تکرار مختلف صورتونه او حکم یې:

(۱۲۸۱ سوال) د لاندی سوالونو جوابونه پکار دی:-

(۱) امام د الم سجدة سورت و لوست او سجده یې وکړه او بیا په همدې ځای د سهار په مونځ کې همدا سورت ولوست نو بل سجدهء تلاوت پرې لازم دی یا اولنی کړی سجده کافی ده ولی چې ځای ندی بدل شوی؟

(۲) د مانځه نه باهر د سجدی ایت تلاوت کړ او سجده یې نه وکړی بیا په مانځه کی همدا ایت بیا ولوست او مانځه کی یې سجده وکړ نو همدا یوه سجده کافی ده او یا د مانځه نه باهر بله سجده وکړی ؟

(۳) په مانځه کی د سجده تلاوت ایت ولوست او سجده یې هم وکړه او بیا د مانځه نه وروسته همغه ځای کی هماغه د سجدې ایت بیا ولوست نو بله سجده لازمېږي یا نه؟ امید دی چې قانع کونکی جواب راکړئ ، جزاکم الله .

(جواب) (۱) پدې ذکر شوی صورت کی دویمه سجده لازمېږي ، امام او مقتدیانو ته سجدهء تلاوت کول لازم دی:

((اذا کرر آیة السجدة فی مکان متحد کفته واحدة الا فی مسئلة اذا قراها خارج الصلوة و سجد لها ثم اعادها فی مکانه فی الصلوة فانه تلزمه اخری))

یعنی په یو مجلس کی چې د سجدې آیت مکرر ولولی نو یوه سجده کافی کېږي مګر پدې مسئله کې چې د مانځه نه باهر د سجدی ایت ولولی او سجده هم وکړی او بیا په هماغه ځای کی مانځه کی بیا هماغه ایت ولولی نو دویمه سجده پرې لازمېږي .

(الاشباه والنظائر (۱۹۱) صفحه الفن الثانی) ، په مراقی الفلاح کی دی :-

((و لو تلا ایةً خارج الصلوة فسجد لها (ثم) دخل فی الصلوة و (اعاد) تلاوتها (فیها) ای فی الصلوة فی مجلسه (سجده) سجدةً (اخری) لعدم تبعیتها للخارجیة لقوة الصلویة الخ)) (مراقی الفلاح مع حاشیة طحطاوی ص ۲۸٦ باب سجود التلاوت) (ما لا بد منه ص ۷۱)

(۲) په لمانځه کی چې کومه سجده کړی هغه کافی ده بله لازم نه ده:

((و ان لم یسجد اولاً حین تلا او سمع خارج الصلوة (کفته) سجدة (واحدة) وهی الصلوتیة عن التلاوتین لقوتها فی ظاهر الروایة (مراقی الفلاح ص ۲۸٦ ایضاً)) (ما لا بد منه ص ۷۱

مګرپه سجده کولو کی احتیاط دی،لکه چې په طحطاوی علی امراقی الفلاح کی دی :-

((قوله فی ظاهر الروایة و فی روایة النواد ریسجد للاول اذا فرغ من الصلوة لان السابق لا یکون تبعاً للاحق و لان المکان قد تبدل بالاشتغال بالصلوة فصار کما لو تبدل بعمل اخر وجه الظاهر . ان الدخول فی الصلوة فصار کما لو تبدل بعمل اخر . وجه الظاهر ان الدخول فی الصلوة عمل قلیل و بمثله لا یختلف المجلس کذا فی الشرح)) (ص ۲۸٦ ایضاً)

(۳) ظاهر روایت دا دی چې دویمه سجده لازم ده:-

((و کذا لو سجد فی الصلوة ثم اعادها بعد سلامه یسجد اخری فی ظاهر الروایة لعدم بقاء الصلویة حکماً)) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۸٦ ایضاً) فقط والله اعلم.

په سورت ص کی ((اناب)) باندې سجده وکړه څه حکم لری؟

(۲۸٦ سوال) زمونږ پدې ځای کی پرون په تراویحو کی د سورت (ص) په ((اناب)) باندې سجده تلاوت وشوه یو مشر حافظ صاحب وایی چې سجده په ((مآب)) باندې کول پکار دی لهذا دا رکوع دی دوباره ووایی او سجده وکړی او که نه یوه سجده پاتې کېږي اوس تاسو راته ولیکی چې اعاده ضروری ده؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) غوره دا ده چې په سورت (ص) کی په ((حسن مآب)) باندې سجده وکړی شی په ((اناب)) باندې سجده کول د احتیاط خلاف دی په شامی کی دی:
((و فی (ص) عند و حسن مآب)) (وهو اولی من قول الزیلعی عند ((و اناب)) (شامی ۱ ۷۱٦ باب سجود التلاوة)
پدې ذکر شوی مسئله کی په ((اناب)) باندې سجده کړی شوې ده دا د احتیاط خلاف شوی لیکن د دوباره کولو ضرورت نشته ، فقط ۲۴ رمضان ۱۳۹۹ هـ

ـ دوه رکعته پوره کولو سره په نورو دوه رکعتو کی د سجدهٔ تلاوت هماغه ایت بیا ولوست کوم چې اولنو دوه رکعتو کی لوستی ؤ نو دویمه سجده واجب ده یا نه؟

(۲۸۷ سوال) امام د تحراویحو په اول یا دویم رکعت کی د سجدی ایت تلاوت کړ او سجده یې وکړه او دوه رکعته پوره شو او بیا په نورو دوه رکعتو کی سهواً هماغه مخکنی د سجدی ایت ولوست لیکن سجده یې ونه کړه د مانځه نه وروسته د یو مقتدی د تپوس په جواب کی امام صاحب وفرمائل چې اولنی سجده تلاوت د دویم مونځ لپاره هم کافی ده او س تپوس دا دی چې د امام صاحب فرمان صحیح دی یا دویم مونځ کی بیله سجده ضروری ده؟ وضاحت وکړی ، خیر یوسئ.
(جواب) پدې صورت کی دویمه سجده ضروری ده ، په تکبیر تحریمه باندې دویم لمونځ شروع کولو سره حکماً مجلس بدلیږي:
((و لا ن المکان قد تبدل بالاشتغال بالصلوة فصار کما لو تبدل بعمل آخر)) (مراقی الفلاح (۲۸٦) صفحه) فقط ۲۹ شعبان المعظم ۱۴۰۱ هـ

ـ د سجدی د ایت ترجمه لوستو سره سجده واجبیږي؟

((۲۸۸ سوال) سجده تلاوت خو د سجدی ایت په لوستو یا اوریدو سره واجبیږي لیکن که یو سړی د سجدی د ایت ترجمه ولولی نو سجده تلاوت واجبیږي یا نه؟ وضاحت وکړی.
(جواب) واجبیږي ، ځکه چې د همدې ایت مفهوم دی ، په نور الایضاح کی دی :
((و یجب علی من تلا آیة و لو بالفارسیة (قوله و لو بالفارسیة) اتفاقاً فهم او لم یفهم لکونها قرآناً من وجه)) (باب سجود التلاوة مراقی الفلاح ص ۹٦) فقط والله اعلم.

ـ د سجدهٔ تلاوت په ځای فدیه ورکول کېږي؟

(۲۸۹ سوال) یو حافظ صاحب نن نه پنځلس شل کاله مخکې بمبئ ته بـه تـګ راتـګ کولو او په ګاډی کی به قرآن شریف تلاوت کولو مګر تقریباً د سلو قریـب قریـب سجدهٔ تلاوت ورباندې پاتې دی اوس هغه حافظ صاحب بیمار دی ګرځیدلی نشـي ، د دومـره سجدو کولو طاقت نه لری نو اوس څه وکړی که د فدیې په طور غنم ورکړی نو غاړه بـه یې خلاص شي ؟ وضاحت وکړې خیر یوسئ.

(جواب) په ریل ګاډی کی د سجدی ایت لوستل شوی مګر د سجدی کولو موقـع نـه وه پدې وجه ډېری سجدی ورباندې پاتی دی ، خپل ځای ته رسیدو سره کول ضروری وو او تاخیر لپاره استغفار ضروری دی ، او اوس چې د سجدو کولو نه معذور دی نو لکـه څنګه چې د مانځه سجده په اشاره باندې کوي یعنی څـومره چـې ښـکته کیـدی شـي هومره ښکته کیدو سره سجده ادا کولی شی همدا شان په اشاره باندې سجده تـلاوت به هم ادا کولی شی ، خو ددی په ځای فدیه ورکول نه کافی کېږي ، فقط والله اعلم.

سجدهٔ تلاوت :

(۲۹۰ سوال) امام د سجدی ایت ولوست خو سجده یې ونه کړه نو مقتدیان وکـړی یـا نه؟

(جواب) پدې مسئله کی مقتدیان به هم د امام په پیروِی کی سـجده نـه کـوی[1] فقط والله اعلم.

ـ د سجدی له ایت نه مخکې سجده:

(۲۹۱ سوال) حافظ صاحب د سجدی ایت لوستو نه مخکې سجده وکړه نو پـه مانځـه کی نقصان راځی؟

(جواب) او ، نقصان راځی او ددی نقصان پوره کول په سجده سهوه سره کېږي :

((و یجب سجدتان بتشهد و تسلیم لترک واجـب بتقـدیم او تـاخیر او زیـادة او نقـص))

(مراقی الفلاح مع الطحطاوی مختصراً ص ۲۵۰ باب سجود التلاوة) فقط والله اعلم.

---

[1] و ان الامام لو لم یسجد لا یسجد الماموم و ان سمعها لانه ان سجدها فی الصلوة وحده صار مخالف امامـه ، باب سجود التلاوة ۱۲۲/۱.

(... د سجدې ایت لوستو نه بغیر سجده وکړه (۲) د سجدی ایت لوستو باوجود هم مانځه کی سجده ونه کړه

(۲۹۲ سوال) په تراویحو کی امام صاحب سورت علق ولوست او د سجدی ایت پریښودو سره سجدهٔ تلاوت وکړه او مونځ یې ختم کړ نو دا مونځ وشو؟ او دا دواړه رکعتونه تراویحو کی حسابیږي یا نه؟

(ب) په دوه نورو رکعتو کی د سجدې ایت ولوست او سجده یې ونه کړه ددې څه حکم دی؟

(جواب) حامداً و مصلیاً و مسلماً : کله چې د سجدی ایت لوستی نه وی نو سجده هم واجب نه وی پدې بنا کوم سجده یې چی کړی دی هغه فضول او بې ځایه ده لیکن پدې سره مونځ نه فاسدیږي او دغه دوه رکعته هم تراویحو کی حسابیږي ((و اگر در نماز سجده کند ادا نه باشد لیکن نماز باطل نه شود)) (مالا بد منه ۷۱ صفحه)

(ب) په نورو دوه رکعتو کی سجده تلاوت واجب شوی او په مانځه کی دننه ددی ادا کول ضروری دی او چې مانځه کی د ادا کولو نه پاتې شوه نو پدې وجه ساقطه شوه اوس باهر د مانځه نه قضائی نشي کیدی ، او که قصداً پریښودی شی نو سړی سخت ګنهګار یږي :-

((و اذا تلاها في الصلوة سجدها فيها لا خارجها لما مرو فی البدائع و اذا لم يسجد اثم فلزمه التوبة (در مختار) (قوله و اذا لم يسجد اثم) افادانه لا يقضيها قال فی شرح المنية و كل سجدة و جبت فی الصلوة و لم تؤد فيها سقطت ای لم يبق السجود لها مشروعاً لفوات محله اه)) (شامی ج۱ ص ۷۲۲ باب سجود التلاوة)

که په ذکر شوی صورت کی امام د سجدی ایت نه وروسته دوه یا درې ایتو څخه زیات نه ؤ لوستی او رکوع یې کړی ؤ ، او په رکوع کی امام او مقتدیانو د سجدی تلاوت ادا کولو هم نیت کړی وی نو د ټولو سجده ادا کیږي او که امام په رکوع کی د سجده نیت نه ؤ کړی نو بیا په سجده کی بغیر د نیت نه د ټولو سجدهٔ تلاوت ادا کیږي لیکن که درې ایتو څخه زیات لوستو نه وروسته رکوع کړی وی نو سجدهٔ تلاوت نه ادا کیږي لهذا ددې خطاء د الله تعالی نه معافی غوښتل پکار دی :

((قوله نعم لو ركع و سجد لها ای للصلوة فوراً ناب ای سجود المقتدی عن سجود التلاوة بلا نية تبع السجود امامه)) (شامی ۷۲۴/۱) فقط والله اعلم.

په یو مجلس کی د استاذ مختلفو طالبانو څخه یوه آیت سجده اوریدو سره یو سجده واجبږي:

(۲۹۳ سوال) یو مدرس طالبانو ته د قرآن پاک تعلیم ورکوی او د جماعت بندی په وجه پوره جماعت خپل استاذ نه یو سبق آوری او په سبق کی د سجدة تلاوت آیت هم وی هر طالب خپل نوبت کی هغه ایت لولی او استاذ خپل ځای کی ناست وی او د ټولو سبق آوری نو پدې صورت کی استاذ او په جماعت کی بالغ هلکانو باندې یوه سجده واجبږي او که هر څو ځلی چې لوستی وی هومره ځلی سجده واجبږي؟ وضاحت وکړئ.

(جواب) پدې مسئله کی استاذ او بالغ طالبانو لپاره یوه سجده کافی ده، په شامی کی دی:

((و اشار الی انه متی اتحد الایة والمجلس لا یتکرر الوجوب و ان اجتمعت التلاوة والسماع و لو من جماعة)) (شامی ج ۱ ص ۷۲۲ تحت قوله بشرط اتحاد الایة والمجلس باب سجود التلاوة، فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۹۸).

باب قضاء الفوائت

ایا رسول الله (ص) نه لمونځ کله قضا شوی ؤ ؟

(۲۹۴ سوال) پدې مسئله کی دینی علماء څه فرمایی : یو عالم وعظ کی وفرمائل : چې یو خل د نبی اکرم (ص) سترګی مبارکی را خلاصی نه شوی (راویښ نه شو) او پدې وجه لمونځ ترینه قضاء شو او کله چې د لمر وړانګی وربانده ولګیدی نو بیا راویښ شو او قضائي لمونځ یې وکړ ، ایا دا واقعه صحیح ده؟ زمونږ په خیال د رسول الله (ص) داسې هیر او خطا نشي کیدی که واقعه صحیح دی د حوالو سره ددی وجوهات تفصیل سره ولیکئ ، پدې وجه زمونږ په ځای کی اختلاف کېږي ، وضاحت وکړی مهربانی.

(جواب) و بالله التوفیق : بیشکه داسې واقعه شوې ده چې د رسول الله (ص) نه د ویده پاتې کیدو سره لمونځ قضا شوی دی ، رسول الله (ص) بشر او مخلوق دی دی خالق ندی او خوب نه ورتلل یواځی د الله تعالی صفت دی (لا تاخذه سنة و لا نوم) (سورة البقرة) یعنی الله تعالی ته نه جوته او پرکالی راځی او نه خوب ، او د ذکر شوی واقعی سره د نبوت په شان کی ذره برابر فرق نه راځی ، رسول الله (ص) (معاذ الله) سستی او غفلت یا بې پرواهی ندی کړی ، واقعه دا وه چې رسول الله (ص) د صحابه کرامو سره په سفر ؤ د شپې آخری حصه کی یو ځای کی قیام وکړ ډېر زیات ستړی وو پدې بناء رسول الله (ص) وفرمائل : زمونږ د بیدارولو ذمه واری به څوک واخلی ؟ حضرت بلال (رض) وفرمائل : زه به یې واخلم ، حضرت بلال (رض) د مانځه لپاره بیدارولو ذمه وار جوړولو سره رسول الله (ص) او صحابه کرام لږ غونډی آرام لپاره ویده شول ، باوجود ددی چې حضرت بلال (رض) ویښ پاتې کیدوحتی الامکان کوشش وکړ مګر دده سترګی هم پټې شوی او په نتیجه کی د ټولو مونځ قضا شو ، پدې واقعه کی ډېر زیات حکمتونه او مصلحتونه دی ، قضائي مونځ کول او د کولو طریقه یې او ددې عملی نمونه د امت په وړاندې پیش کول لکه چې رسول الله (ص) د اذان او اقامت او جماعت سره مونځ ادا کړ او صحابه کرامو ته یې د تسلی لپاره وفرمائل :

((یا ایها الناس ان الله قبض ارواحنا و لو شاء الله لردها الینا فی حین غیر هذا ... الخ))

یعنی ای خلکو! الله تعالی زمونږه روحونه قبض کړی وو او که الله غوښتلی نو د لمر راختو نه وړاندې (د مانځه په وخت) زمونږه روحونه واپس کړی وای او مونږ به راویښیدلو ، نو کله چې په تاسو کی یو څوک ویده پاتې شي او یا مونځ ترینه هیر شي نو

هغه ته پکار دی چې داسې لمونځ وکړی لکه څنګه چې (ادا لمونځ) کولو ، دا مکمل حدیث په مشکوة شریف کی دی :

((عن زید بن اسلم قال عرس رسول الله (ص) لیلة و وکل بلا لاً ان یوقظهم للصلوة فرقد بلال ورقدوا . الخ)) (مشکوة شریف (٦٨) صفحه قبیل باب المساجد)[1]

ددې حدیث شریف نه دا هم معلوم شو چې مخلوق په هر کار کی الله تعالی ته محتاج دی هیڅوک د الله تعالی د امر نه بغیر هیڅ نشي کولی ، فقط.

- چې قضائي لمونځ پاتی وی او جماعت ودریږي څه به کوی؟

(۲۹۵ سوال) د ماسپښین مونځ یې نه ؤ کړی او د مازدیګر جماعت شروع شو نو اول د ماسپښین مونځ وکړی یا د مازدیګر جماعت کی شریک شي ؟ کوم یو ضروری دی؟

(جواب) که چیرته دا سړی صاحب د ترتیب وی[2] نو ده لپاره ضروری ده چې اول د ماسپښین قضا وکړی او که صاحب د ترتیب نه وی نو اول به د مازدیګر مونځ با جماعت ادا کړی او بیا به د ماسپښین قضا کوی:-

((و لو خاف فوت الجماعة الحاضرة قبل قضاء الفائتة فان کان صاحب الترتیب قضی و ان لم یکن فهل یقضی لیکون الاداء بحسب ما وجب الی قوله . ام یقتدی لا حراز فضیلة الجماعة مع جواز تاخیر القضاء و امکان تلا فیه قال الخیر الرملی لم اراه ثم نقل عن الشافعیة اختلاف الترجیح فیه واستظهر الثانی قلت ووجهه ظاهر لان الجماعة واجبة عندنا او فی حکم الواجب و لذا یترک لاجلها سنة الفجر التی قبل عندنا بوجوبها الخ)) (شامی ج ۱ ص ٦٦٥ باب ادراک الفریضه)فقط.

_ که جماعت کی شریکیدو نه وروسته قضا مونځ وریاد شي؟

(۲۹٦ سوال) یو سړی جماعت کی شریک شو او بیا په مانځه کی وریاد شو چې مخکنی مونځ ترینه پاتی دی نو اوس به څه کوی ؟ وضاحت وکړی ، خیر یوسئ.

(جواب) با جماعت مونځ پوره کولو نه وروسته به قضا مونځ کوی او وروسته کوم مونځ چې امام سره کړی راوګرځوی که چیرته دا سړی صاحب د ترتیب ؤ او که نه ضرورت نشته ، په موطاء محمد کی دی :

---

[1] _ کله چې رسول الله (ص) د خیبر غزا نه واپسې کیدو په لاره کی دا واقعه وشوه او دا واقعه د لیلة التعریس په نوم سره شهرت لری (مشکوة (۱۲۷) ایضاً.

[2] صاحب ترتیب هغه دی چې د بلوغ نه اوسه پورې شپږ مونځونه نه وی قضاء شوی د کفایة المفتی ۴۳۹/۳ . امدا الفتاوی ۵۰۲/۱.

((اخبرنا مالک حدثنا نافع عن ابن عمر انه فلیصل صلوته التی نسی ثم لیصل بعدها الصلوة الاخری (ای التی صلاها مع الامام) قال محمد و بهذانا خذ . الخ (موطا امام محمد ص ۱۰۵ باب الرجل یصلي فیذکر ان علیه صلوة فائتة)) (فتاوی محمدی ص ۸۸) فقط والله اعلم.

(۱) سوال کی ذکر شوی صورت کی مریض باندې د مونځونو قضا لازم دی یا نه؟

(۲) په ژوند کی د مونځونو فدیه ورکول څنګه دی؟

(۲۹۷ سوال) اوس سوال دا دی چې د فالج مریض چې پدې کی عام طور په دماغو باندې زیات اثر کوی او طبیبان او ډاکټران هم دا وایی چې ددی تعلق دماغی رګونو او پټو (اعصابو) سره دی پدې سره د مریض احساس او شعور کافی مجروح کېږي داسې هم نه دی چې شعور او احساس بالکل ختم شي ځینی وخت په خبره پوهېږي او بل سړی هم پیژنی لیکن داسې نه وی چې مکمل شعور او احساس یې په ځای وی هر وخت په یو حال نه وي نو پدې وجه کله مانځه ته یې فکر کېږي او کله بالکل نه کېږي، او کله مانځه د رکعتونو په شمیر هم نه رسي ، نو پداسې سړی مونځ فرض دی یا نه؟ او په ژوند باندې فدیه ورکول صحیح کېږي یا نه؟ دلیل سره وضاحت وکړی دا یوه فرضی مسئله نده بلکی حقیقت دی ، جزاکم الله.

(جواب) که چیرته د یوې ورځی او شپې نه زیات وخت داسې تیر شي چې شعور او احساس یې بالکل نه وی به الفاظ دیګر مسلسل بې هوشه وي نو مونځ ساقطېږي او که نه ، نه ساقطېږي د وخت په پیدا کیدو به مونځونه ادا کوی ، په دې صورت کی قضاء ونه کړی شی نو د فدیې وصیت به کوی ، خو په ژوند کی فدیه ورکول صحیح ندی ، که چیرې اکثر وخت بې هوشه وی او کله په هوش کی هم راځی که چیری د هوش وخت یې مقرر وی مثلاً د سحر په وخت کی په هوش راځی او بیا وروسته بې هوشه کېږي نو دغه هوش اعتبار لری ، او دینه مخکی که بې هوشي یوی ورځی او شپې نه کم وی نو د بې هوشي حکم باطل ګرځی او د مونځونو قضا لازم دی ، او که د هوش وخت یې مقرر نه ؤ بلکی د ورځی په ځینی وخت کی په هوس راته نو دغه هوش اعتبار نه لری یعنی دغه متصل او مسلسل بې هوش حسابېږي ، او که اکثر وخت هوش او حواس یې صحیح وی او ځینی وخت بې هوشه کېږي او دا سلسله جاری وی نو ددې حکم ظاهر دی مونځ نه ساقطېږي او که د رکعتو شمیر په یاد کی ورته نه پاتې کېده خو بل کوم سړی ورته وریاد کړی نو دا هم جائز دی ، په درمختار کی دی :

((و من جن او غمی علیه و لو بفزع من سبع او آدمی (یوماً و لیلة قضی الخمس و ان زادت وقت صلوة) سادسة (لا) للحرج و لو افاق فی المدة فان لا فاقته وقت معلوم قضی و الا لا)) (در مختار).

او په رد المختار کی دی :

((قوله ان لافاقة وقت معلوم مثل ان یخف عنه المرض عند الصبح مثلا فیفیق قلیلاً ثم یعاوده فیغمی علیه تعتبر هذا الافاقة فیبطل ما قبلها من حکم الاغماء اذا کان اقل من یوم و لیلة و ان لم یکن لا فاقته وقت معلوم لکنه یفیق بغتة فیتکلم بکلام الاصحاء ثم یغمی علیه فلا عبرة بهذا الا فاقة ح عن البر)) (رد المختار علی الدر مختار ج ۱ ص ۷۱۴ باب صلوة المریض)

په غایة الاوطار ترجمه در مختار کی دی :

((و من جن. الی قوله . وقت معلوم قضی و الا لا))

کوم سړی چې لیونی یا بې هوشه شو اګر که د کوم ځناور یا د بنی آدم له ویرې نه بې هوشه شوی وی که بې هوشي یې یوه ورځ او شپه ؤ نو د پنځه مونځونو قضایې به راوړی او که بې هوشی تر شپږم مونځ پورې هم اوږده شي نو بیا وربانديې قضایي نشته له وجې د جرح او تکلیف نه، او که په ورځ او شپه کی په هوش راته نو که چیرته د هوش وخت معلوم ؤ نو بیا به قضاء راوړی او که نه قضا پرې نشته مثلاً ورځ او شپه بې هوشه وی او د سحر په وخت په هوش راځی نو اولنی بې هوشه لغوه ده او قضایي راوړل به ضروری وی او که د هوش وخت یې معلوم نه ؤ ، بلکې په ځینی ځینی وخت کی په هوش راځی نو دغه هوش اعتبار نه لری ، کذا فی الطحطاوی (غایة الاوطار ترجمه در مختار جلد اول صفحه ۳۴۸ ، ۳۴۹) او په بحر الرائق کی دی :

((قوله و من جن او اغمی علیه خمس صلوات قضی و لو اکثر لا و هذا استحسان والقیاس ان لا قضاء علیه اذا استوعب الاغماء وقت صلوة کاملة لتحقق العجز وجه الاستحسان ان المدة اذا طالت کثرت الفوائت فیحرج فی الاداء و اذا قصرت قلت فلاحرج والکثیر ان یزید علی یوم و لیلة لانه ید خل فی حد التکرار والجنون کالاغماء علی الصحیح اه)) (بحر الرائق ص ۱۱۷ ج ۲ باب صلوة المریض)

په بدائع کی دی : ((و اما المغمی علیه فان آغمی علیه یوماً و لیلة او اقل یجب علیه القضاء لانعدام الحرج و ان زاد علی یوم و لیلة لاقضاء علیه لانه یحرج فی القضاء لدخول العبادة فی حد التکرار و کذا المریض العاجز عن الایماء اذا فائته صلوات ثم بر

افان كان اقل من يوم و ليلة او يوماً و ليلة قضا و ان كان اكثر لا قضاء عليه لما قلنا فى المغمى عليه الخ)) (بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۴٦ فصل و اما حكم هذا الصلوات الخ) (هدايه اولين ص ۱۴۲ باب صلوة المريض)
په شامى كې دى :
((تتمه) فى البحر عن القنية و لا فدية فى الصلوات حالة الحيوة بخلاف الصوم) (شامى۱ /۷۱۲ باب صلاة المريض) په علم الفقه كې دى :-
((كه چيرته كوم يو مريض په سر باندې اشاره هم نشي كولى نو د هغه نه مونځ وروسته كېږي د صحت نه وروسته به د هغه قضا راوړى ، او كه همدا حالت د پنځو مونځونو څخه زيات وخت پاتې شي نو بيا ورباندې د مونځونو قضاء هم نشته لكه چې د قضا په بيان كې تيرشوى اوكه مريض ته د ركعتو شمير ياد نه پاتې كېږي نو پدې وخت كې هم مونځ ادا كول پرې ضرورى نه دى بلكې د صحت نه وروسته به د هغو قضا راوړى ، البته كه يو سړى ورته وريادوى نو جائز دى ، او همدا حكم د هغه سړى هم دى چې د زيات بوډا نوب له وجې مخبوط العقل ګرځيدلى وى يعنى د بل كس په ښودلو سره د هغه مونځ صحيح كېږي او كه څوک ښودونكى پيدا نشي نو خپل غالب رايې باندې به عمل كوى (نفع المفتى) (علم الفقه ۱۴۰/۲ د مريض او معذور مونځ)
بيمار سړى كوم چې د صفايي او پاكى له اهتمام نه قاصر وى ددى متعلق په فتاوى رحيميه ۴۱۵/٦، ۴۱٦ باندې يوه فتوى ده دا هم ضرور مطالعه كړى (نوى ترتيب مطابق باب الصلوة د نجاستپه حالت كى د مريض سړى او د ښځى مونځ تر عنوان لاندې ۱۵۹/۵ كى (مرتب)) فقط والله اعلم.

ـ بغير د عذر نه لمونځ قضاء كول:

(۲۹۸ سوال) يو سړى مونځ ګذار خو دى مګر د وخت پابندى نه كوى ، ايا هغه بيا هم فاسق او ګنهګار دى؟
(جواب) په شريعت كى د مانځه ډيرزيات تاكيد شوى په مقرره وخت باندې ددى ادا كول ضرورى دى ، د الله تعالى فرمان دى (ان الصلوة كانت على المؤمنين كتاباً موقوتا) ترجمه : بيشكه مونځ په مسلمانانو باندې خپل مقرر وختونو باندې فرض دى (سورت نساء) لهذا بغير د شرعى عذر نه د خپل وخت نه مونځ وروسته كوونكى سخت ګنهګار او فاسق دى.

په صحابه کرامو کی خینی حضرات لکه حضرت عمر ، حضرت ابن مسعود ، حضرت ابن عباس ، حضرت معاذ بن جبل ، حضرت جابن بن عبد الله ، حضرت ابو درداء ، حضرت ابو هريرة ، حضرت عبدالرحمن ابن عوف رضی الله عنهم خو د مونځ پريښودونکی کافر ګڼي.

((اختلف العلماء فی کفر تار کها عمدا فذهب جماعة من الصحابة و من بعد هم الی الکفر اما الصحابة فمنهم عمرو و عبد الله بن مسعود و عبد الله بن عباس و معاذ بن جبل و جابر بن عبد الله و ابو درداء و ابو هريرة و عبدالرحمن بن عوف)) (مجالس الابرار ، مجلس ۳۲۱/۵۱)

په يو حديث کی راځي چې څوک يو مونځ قضاء کړی او بيا قضايي هم راوګرځوی نو هغه به دوزخ کی څو حقبه عذابولی شي او يو حقب (۸۰) کاله دی ((روی انه عليه السلام قال : من ترک الصلوة حتی مضی وقتها ثم قضی عذب فی النار حقباً والحقب ثمانون سنة))

پدې بناء فقهاء کرام ليکی ، د ولادت په وخت کی چې د حامله ښځی د بچی سر راوتلی وي او د مانځه وخت په ختميدو شي نو پدې حالت کی هم مونځ معاف ندی که اودس نشي کولی نو په تيمم سره د بچی د خيال ساتلو سره به مونځ کوی ، د مونځ د قضا کولو اجازه نشته ، او همدا شان څوک چې په سمندر کی دننه تخته باندې وي بيا هم مونځ معاف نه دی ، د اودس اندامونه به په اوبو سره لمدولو سره په اشاره باندې مونځ کوی خو د قضاء کولو اجازه نشته ، او همدا شان د چا چې دواړه لاسونه اوښېې شل شوی وی او داسې څوک سړی ورسره نه وی چې اودس يا تيمم ورته وکړی نو خپل مخ او لاسونه تر څنګلو پورې د تيمم په نيت ديوال پورې وسولوی او مونځ دی وکړی د قضا کولو اجازه نشته.

((ذکر فی الذخيرة ان امراة اذا خرج راس و لدها و خافت وقت الصلوة تتوضا ان قدرت و الاتتيم (الی قوله) و کذا من وقع فی البحر علی لوح و خاف خروج وقت الصلوة يدخل اعضا الوضوء فی الماء بنية الوضوء ثم يصلی بالايماء و لا يترک الصلوة و کذا من شلت يداه و ليس معه احد يوضيه او يتممه يمسح وجهه و ذراعيه علی الحائط بنية التيمم و يصلی و لا يجوز له ترک الصلوة و لا تاخير ها عن وقتها)) (ايضاً ص ۳۲۰)

ځینی فقهاؤ دی پورې لیکلی : چې که څوک په دې پوهیږي که حج ته ځم نو یو مونځ رانه قضاء کیږي نو هغه لپاره حج ته تلل حرام دی نر وی او یا ښځه ځکه د چا چې یو مونځ قضاء کیږي نو د هغه عوض او بدله (۷۰) حجونو څخه کم نه کیږي.
((و من علم انه اذا خرج الی الحج تفوته صلوة واحدة یحرم علیه الحج رجلا کان او امراة لان من یترک صلوة واحدة لا یکفر ها اقل من سبعین حجة)) (مجالس الابرار ، مجلس ۲۰ ص ۱۵۲ و ص ۱۵۳).
لدینه په وخت باندې د مونځ کولو اهمیت معلومیدلی شی، فقط والله اعلم.

ـ د بیمار د لمونځ قضاء او فدیه :

(۲۹۹ سوال) که د بیمار سړی مونځ قضاء شي نو څه حکم لري؟

(جواب) بیمار سړی که په ولاړه مونځ نشي کولی نو په ناسته باندې رکوع او سجدې سره به مونځ کوی او که د رکوع او سجدې کولو هم قدرت نه لری لو په ناسته سره اشاره باندې به رکوع او سجده کوی او که په ناسته هم د مونځ کولو طاقت نلری نو په ستونی ستغ باندې به څملی او زنګنونه به وروی او یا په اړخ باندې څملی او د سر لاندې بالخت کیدی او د سر په اشاره باندې به رکوع او سجده کولو مونځ کوی او که د سر په اشاره باندې هم رکوع او سجده نشي کولی نو بیا به مونځ نه کوی :-

((اذا تعذر علی المریض کل القیام صلی قاعداً برکوع و سجود و ان تعذر الرکوع والسجود صلی قاعدا بالایماء و ان تعسر القعود او ما مستلقیا او علی جنبه والاول اولی و یجعل تحت راسه و سادهٔ لیضیرو جهه الی القبلة لا السماء و ینبغی نصب رکبتیه ان قدر حتی لا یمد هما الی القبلة و ان تعذر الایماء اخرت عنه ما دام یفهم الخطاب)) (نور الایضاح ملخصاً ص ۱۰۴ باب صلوة المریض و ص ۱۰۵)او بیا چې پنځو مونځونو پورې دا حالت وی او بیا ښه شي نو قضا راوړل پرې واجب دي او که په همدې حالت کې وفات شي نو بیا قضاء ضروری نه ده او د فدیې وصیت هم واجب ندی، په فتاوی عالمگیری کی دی:

((و ان مات من ذلک المرض لا شئ علیه و لا یلزمه فدیة کذا فی المحیط)) (۱۳۷/۱ ، الباب الرابع عشر فی الصلوة المریض) او که د پنځو لمونځونو نه زیات همدا حالت پاتې شي نو بیا قضاء نشته معاف دی او همدا شان که د پنځو وختونو نه زیات مجنون یا بې هوشه پاتې شو نو بیا هم ددی مونځونو قضاء او فدیه نشته معاف دی :

((و من جن او اغمی علیه خمس صلوات قضی و لو اکثر لا)) (نور الایضاح (۱۰۵ ، ۱۰۶) باب صلوة المریض) فقط والله اعلم.

نوافل او سنتونه

ـ د ماسپښین جماعت ودریدو په وجه د سنتو په دوه رکعتو باندې سلام وګرځولو نو وروسته څو رکعته سنت کول پکار دی ؟

(۳۰۰ سوال) د ماسپښین رومبنی څلور رکعته سنت شروع کړی چې جماعت ودرید نو پدې وجه په دوه رکعتو باندې سلام وګرځولو او جماعت کی شامل شو نو وروسته دوه رکعته کول پکار دی که څلور رکعته کول ضروری دی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) پدې مسئله کی څلور رکعته سنت مؤکد ادا کول ضروری دی دوه رکعته کافی ندی ځکه چې دا څلور رکعته په یو سلام باندې سنت دی ، په در مختار کی دی :-

((و سن مؤکدا اربع قبل الظهر اربع قبل الجمعة و اربع (بعدها بتسليمة) فلو بتسليمتين لم تنب عن السنة)) (در مختار مع الشامی ج ۱ ص ۶۳۰ باب الوتر والنوافل مطلب فی السنن والنوافل) فقط.

ـ د ماسپښین سنت شروع کړل او بیا جماعت ودرید نو څه به کوی؟

(۳۰۱ سوال) یو سړی د ماسپښین د سنتو نیت وتړی او بیا جماعت ودریږي نو په دوه رکعتو باندې سلام وګرځوی او جماعت نه وروسته یواځې دوه رکعته کول کافی دی یا پوره څلور رکعته کول ضروری دی ؟ او پدې صورت کی په دوه رکعتو باندې سلام ګرځول بهتر دی یا څلور رکعته پوره کول پکار دی ؟ وضاحت وکړی ، جزاکم الله .

(جواب) پدې مسئله کی جماعت نه وروسته څلور رکعته سنت مؤکد کول ضروری دی ، دوه رکعته کافی ندی ، او بل پدې مسئله کی په دوه رکعتو باندې د سلام ګرځولو ضرورت نه ؤ چې څلور رکعته یې پوره کړی وای نو ښه به وه ، او همدا راجح قول دی اګر که په دوه رکعتو باندې سلام ګرځول هم صحیح دی ، په در مختار کی دی :-

((والشارع فی نفل لا یقطع مطلقاً و یتمه رکعتین (و کذا سنة الظهرو) سنة (الجمعة اذا قیمت او خطب الامام) یتمها اربعاً (علی) القول (الراجح) لانها صلوة واحدة و لیس القطع للاکمال بل للابطال خلافاً لما رجحه الکمال)) (در مختار مع الشامی ج ١ ص ٦٦٨ باب ادراک الجماعة)

مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی کفایت الله صاحب نور الله مرقده لیکی :-

(سوال) د ماسپښین د سنتو په متعلق (۵۲۴)

(جواب) د ماسپښین سنت کوم چې د فرض شروع کیدو نه مخکې شروع کړی ؤو که په منځ کې فرض شروع شي نو د سنتو پوره کولو سره به سلام وګرځوی او فرضو کې دی شامل شی لیکن که په دوه رکعتو باندې سلام ګرځولو سره فرضو کې شامل شي او بیا څلور واړه رکعتونه د فرضو نه وروسته وکړی نو دا هم جائز دی ، خو اولنی صورت بهتر دی (مولانا مفتی کفایت الله کان الله له دهلی ، (کفایت المفتی ۲۷۲/۳)) په بهشتی ثمر کی دی : مسئله : د ماسپښین او د جمعې سنت مؤکد که شروع کړی وی او فرض هم شروع شي نو راجح قول دا دی چې سنت پوره کړی (بهشتی ثمر (۱۳۴) صفحه حصه اول) فقط والله اعلم.

ـ شبینه یعنی یوه شپه کی قرآن پاک ختمول څنګه دی؟

(۳۰۳ سوال) د سلام مسنون نه وروسته خبره دا ده چې مونږ د ننـدر یـار خوانـان غواړو شبینه وکړو ددی ترکیب څه دی ؟ یعنی قرآن پاک دی په یوه شپه کـی ختـم کړی شی یا په دریو شپو کی ؟ او په څو رکعتو کی باید خـتم کـړی شـی ؟ پـه شـلو رکعتو کی یا لدینه په زیاتو رکعتو کی ؟ وضاحت وکړی جزاکم الله .

(جواب) پدې زمانه کی مروجه شبینه د کراهت او مفاسـدو نـه خـالی نـه ده یـوه خرابی خو دا ده چې با جماعت نفلو کی قرآن لوستلی کیږي ، او حال دا چـې بـا جماعت نفل (که دوه درې مقتـدیانو څخـه زیـات وی) مکـروه تحریمـی دی ، پـه مجالس الابرار کی دی :-

((و اما لو اقتدی واحدا و اثنان بواحد فلا یکره و فی الثلاثة اختلاف و فـی الاربعـة یکره اتفاقاً (مجالس الابرار ص ۱۳۹ مجلس نمبر ۱۹ (هکذا فـی الـدر مختـال و رد المختار ج ۱ ص ۵۱٦ باب الوتر و النوافل مطلب فی کراهیة الاقتداء فی النفل علی سبیل التداعی الخ)) (و ج ۱ ص ٦٦٣ ، ٦٦۴ باب الامامة) (کبیـری ص ۳۷۹ فصـل فی النوافل).

البته په تراویحو کی صحیح ده په شرط ددی چې قرآن پاک صفا او صحیح ولوستل شي او شهرت مقصود نه وی او مقتدیان سست نه وی[1] او که چیرته څه ناسته وی او خبرې اترې کوی او څه د خوراک څښاک په انتظام کی لګیا وی چې په نتیجه کی د هغوی تراویح هم فوت شي نو بیا جائز ندی ، نن صبا هغه حافظان چیرته دی چې پوره قرآن پاک صاف او صحیح ادا سره ووایی او یوه شپه کی ختم کړی . د یعلمون او تعلمون نه علاوه بل څه باندې سړی نه پوهېږي لهذا دداسې حافظانو لپاره درې ورځو نه کم قرآن پاک ختمول د کراهت نه خالی نه دی.

د صلوة تسبیح طریقه ، ددی فضیلت او مسائل یې:

(۳۰۳ سوال) (۱) د صلوة تسبیح څه فضیلت دی؟ (۲) ددی د کولو طریقه څه ده؟ (۳) ددغه مونځ څه معین وخت شته یا نه؟ (۴) ددې تسبیح په څه طریقه شمیر کړی شی ؟ (۵) که کوم ځای کی تسبیح لوستل هیر شي یا کم شي نو ددی قضا، څنګه وی ؟ تفصیل سره جواب راکړی ، خیر یوسی.

(جواب) رسول الله (ص) دا مونځ خپل محترم تره حضرت عباس (رض) ته ښودلی او فرمایلی دی : چې تاسو دا مونځ وکړی نو الله تعالی به ستا مخکنی وروستنی زاړه او نوی ، په پوهه او ناپوهی سره ، واړه او لوی ، پټ او ښکاره ټول ګناهونه معاف کوی (مشکوة شریف[2] ددی فضیلت له مخې په ټول عمر کی کم نه کمه یوه ځلی دا مونځ کول پکار دی .

(۲) (الف) په احادیثو کی ددې مونځ دوه طریقی ثابت دی (اوله طریقه) د څلورو رکعتو نیت وکړی شی او د ((الحمد لله و لا اله الا الله والله اکبر)) ووایی او د ځینو روایتونو مطابق ((و لا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم)) هم ویل پکار دی بیا په رکوع کی د رکوع د تسبیح نه وروسته همدا کلمات به لس ځلی ، بیا د رکوع نه پورته کیدو سره په قومه کی لس ځلی ، او بیا په سجده کی د سجدې تسبیح نه

---

[1] ـ و یکره للمقتدی ان یقعد فی التراویح فاذا اراد الامام ان یرکع یقوم و کذا اذا غلبة النوم یکره ان یصلی مع القوم الخ فتاوی عالمگیری ، فصل فی التراویح ج ۱ ص ۱۱۹

[2] ـ عن ابن عباس ان النبی (ص) قال للعباس بن مطلب یا عباس یا عماه الا اعطیک لا امنحک لا اخبرک الا افعل بک عشر خصال اذا انت فعلت ذلک غفر الله لک ذنبک اوله و اخره قدیمه و جدیده خطاءه و عمده صغیره و کبیره سرهٔ و علانیته الخ صلوة التسبیح ص ۱۱۷.

وروسته لس ځلې بيا د سجدې نه پورته کيدو سره په جلسه کې لس ځلې ، او بيا په دويمه سجده کې د سجدې تسبيح نه وروسته لس ځلې او بيا دويمې سجدې نه وروسته په ناسته باندې (۱۰) ځلې ولولې ، پدې طريقه هر رکعت کې (۷۵) تسبيح کېږي او په همدې طريقه به نورو رکعتو کې ولولې ، اوله او دويمه قعده کې د التحيات نه مخکې تسبيح ويل کېږي نو پدې طريقه ټول تسبيحات (۳۰۰) کېږي .

(دويمه طريقه) دا ده چې اول رکعت کې ثناء (سبحانک اللهم الخ) لوستو نه وروسته د قرائت نه مخکې (۱۵) ځلې دا کلمات ووايي او بيا د قرائت نه وروسته د رکوع نه مخکې (۱۰) ځلې ، بيا په رکوع کې (د رکوع تسبيح نه وروسته) (۱۰) ځلې ، بيا د رکوع نه پورته کيدو سره په قومه کې (۱۰) ځلې ، بيا په سجده کې (د سجدې له تسبيح نه وروسته) (۱۰) ځلې ، بيا د سجدې نه پورته کيدو سره په جلسه کې لس ځلې . او بيا په دويمه سجده کې (۱۰) ځلې ووايي ، پدې دويم ترتيب کې دويمې سجدې نه وروسته د تسبيح ويلو ضرورت نشته ، پدې شان يو رکعت کې (۷۵) تسبيح پوره کېږي او کله چې دويم رکعت ته ودرېږي نو اول (۱۵) ځلې تسبيح ووايي او بيا به قرائت کوي او بيا د قرائت نه وروسته او رکوع نه مخکې (۱۰) ځلې ووايي او پدې شکل به څلور رکعته پوره کړي ، لدې دواړو طريقو نه او له طريقه د سند له مخې زياته قوي وه مګر دواړه طريقې صحيح او قابل د عمل دي ، کومه طريقه چې آسان بنکاري په هغه دې عمل وکړي او دا هم مناسب دی چې کله يوه طريقه او کله بله طريقه سره ادا کړي ځکه چې دواړه طريقې د حديث او د سلفو له تعامل نه مقول او ماثور دي او پدې صلوة تسبيح کې د الحمد لله نه وروسته اختيار لري چې هر يو سورت وغواړي ولولې ، په ځينوروايتو کې اذا زلزلت ، عاديات ، اذا جاء نصر الله او قل هو الله احد سورتونه نقل دي او په ځينو کې ، الهکم التکاثر ، سورت عصر ، سورت الکافرون او سورت اخلاص (قل هو الله) هم راغلي دي (شامی ۶۴۳/۱)[1]

---

[1] ـ وهی اربع بتسليمة او او تسليمة او تسلمتين يقول فيها ثلثمائة مرة سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر و في رواية و لا حوله و لا قوة الا بالله يقول ذلک في کل رکعة خمسة و سبعين مرة فبعد الثناء خمسة عشر ثم بعد القراءة و في رکوعه و الرفع منه و کل من السجدتين في الجلسة بينهما عشراً عشراً بعد تسبيح الرکوع والسجود و هذا الکفيه هي التي رواها الترمذی في جامعه عن عبد الله بن مبارک احد صحاب ابي حنيفه ..... الرواية الثانية ان يقتصر في القيام علی خمسة عشر مر بعد القراءة والعشرة الباقية ياتي بها بعد من الرفع من

(ب) ددی مونځ کوم معین وخت نشته د مکروهه وختونو څخه علاوه د ورځې او شپې په ټولو وختونو کی کول جائز دی ، البته د زوال نه وروسته ادا کول بهتر دی بیا د ورځې په کوم وخت کی او بیا د شپې (شامی ۱ : ۶۴۳)[۲] (فضائل ذکر)

(ج) دغه تسبیحات به په ژبه هرگز نه شمیری د ژبې په شمیر لو سره مونځ ماتیږي د گوتو په بندونو او تسبیح په لاس کی نیولو سره شمیرل جائز دی مع الکراهت بهتر دا دی چې گوتی پخپل حالت باندې وساتی او په هر تسبیح باندې یوی گوتی ته زور ورکوی. (فضائل ذکر ، غایة الاوطار ، شامی)[۱]

(د) که کوم ځای کی تسبیح هیر شي یا شمیر پوره نشي نو په دویم رکن کی به یې پوره کوی ، البته ددې تسبیح قضاء به په قومه او جلسه کی نه کوی ځکه چې دا واړه رکنونه دی ، ددوی نه وروسته چې کوم رکن دی په هغه کی به پاتې تسبیح وایی . مثلاً په رکوع کی هیر شي نو په اوله سجده کی به پوره کړد همدا شان که اوله سجده کی پاتې شي نو په دویمه سجده کی به پوره کوی او که دویمه سجده کی پاتې وی نو په دویم رکعت کی او که دې کی هم پاتی شي نو په آخری قعده کی به التحیات نه مخکې ووایی .

د فضائل ذکر ، نجات المسلمین ، غایة الاوطار ، غرض دا چې د تسبیحاتو شمیر (۳۰۰) پوره کول پکار دی ، او قصداً زیاتول ندی پکار او که نه د ځینو علماؤ د قول مطابق ددی مونځ چې کوم خاص ثواب دی هغه فوت کیږي او که سهوا بغیر د قصد نه زیات وویل شي نو هیڅ پرواه نشته (نجات المسلمین) اوکه په صلوة التسبیح

السجدة الثاني واقتصر عليها فى الحاوى القدسى والحلية والبحر و حديث اشهر لكن قال فى شرح المنية ان الصفة التى ذكرها ابن مبارك هى التى ذكر ها فى مختصر البحر وهى موافقه لمذهبنا لعدم الاحتياج فيها الى جلسة الاستواحة اذهى مكروهة عندنا باب الوترو النوافل مطلب فى صلاة التسبيح)

[۲] يفعلها فى كل وقت لاكراهية فيه ، باب الوتر والنوافل

[۱] و فى القنية لا يعد التسبيحات بالاصابع ان قدر ان يحفظ بالقلب والا يغمز الاصابع.

[۲] قال الملا على فى شرح المشكاة مفهومه انه ان سها و انقص عدد امن محل معين ياتى به فى محل آخر تكملة للعدد المطلوب اه قلت و استفيدا نه ليس له الرجوع الى المحل الذى سها فيه وهو ظاهر و ينبغى كما قال بعض الشافعية ياتى بما ترك فيما بله ان كان غير قصيم تسبيح الاعتدال ياتى به فى السجود اما تسبيح الركوع فياتى به فى السجود يضا لا فى الاعتدال لانه قصير قلت ركناً تسبيح السجدة الاولى ياتى به فى الثانية لا فى الجلسة لان تطويلها غير مشروع عندنا على ما مرى الواجبات . ايضاً.

کی سهوه شي نو په سجدهٔ سهوه کی به تسبیح نه وایی ځکه چې ددې مونځ ټول تسبیحات (۳۰۰) دی او دا په څلور رکعتو کی پوره شوی دی (ترمذی ، شامی) اوکه چیری شمیره نه وی پوره نو بیا دې سجده سهوه پوره کړی (فضائل ذکر)

_ که تسبیح کم شي نو په سجده سهوه سره پوره کېږي یا نه

(۳۰۴ سوال) د صلوهٔ تسبیح مکمل ادا کولو نه وروسته پته ولګیده چې تسبیحات (۳۰۰) ندی پوره شوی ، نو ایا په سجده سهوه سره به پوره شي؟ او که پدې نه پوره کېږي نو د پوره کیدو څه صورت دی ؟ وضاحت وکړ ئ خیر یوسئ.

(جواب) که چیرته د مونځ مکمل کولو نه وروسته وریاد شي چې تسبیحات کم ویل شوی نو پدې وجه سجده سهوه وربانډې نه لازمېږي ځکه چې سجده سهوه د واجب په پریښودو باندې لازمېږي او تسبیحات واجب نه دی ، نو پدې صورت کی دا مونځ مطلق نفل ګرځی د صلوهٔ تسبیح ثواب نه حاصلیږي (نجات المسلمین د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب دیوبندی رحمه الله) فقط والله اعلم.[۲]

_ تحیة المسجد څه حکم لری؟

(۳۰۵ سوال) کوم جومات کی چې مونږ مونځ کوو نو پنځه وخته مونځونو په وخت کی تحیة المسجد کولی شو ؟ چې د جماعت مونځ ته اوه منټه (دقیقی) پاتی وی نو د سنتو نه مخکې تحیة المسجد کولی شو یا نه؟

(جواب) که مکروه وخت نه وی نو کولی شی ، که جماعت شروع کیدو نه وړاندې ورنه فارغیږی نو وکړی او که نه ، پریدئ دی ، جومات ته بار بار تلونکی ته یو ځل دوه رکعته تحیة المسجد کول کافی دی ، هر ځل کول ضروری نه دی[۱] فقط والله اعلم.

_ تحیة الوضوء کولو نه مخکې کیناستل څنګه دی؟

(۳۰٦ سوال) ځینی مونځ ګذار چې جومات ته راشي اول کینی او بیا ودریدو سره تحیة الوضوء وغیره کوی نو ایا اول کیناستل سنت دی؟

---

[۲] _ مخکنی حواله.

[۱] _ان اصحابنا یکرهونها فی الاوقات المکروهة تقدیما لعموم الحاظر علی عموم المبیح ... قوله و تکفیه لکل یوم مرة ای اذا تکرر دخوله لعذر . شامی ، باب الوتر والنوافل مطلب فی تحیة المسجد ج۱ ص ٦۳۵ ، ٦۳٦.

(جواب) د جومات د آدابو څخه دا دی چې جومات ته داخلیدونکی سړی کیناستو نه مخکې دوه رکعته تحیة المسجد ادا کړی . اول کیناستل مسنون نه دی بلکې خلاف سنت د ی (او که د کوم عذر په وجه کینی نو پروا نشته) په حدیث کې راځی:-

((اذا دخل احدکم المسجد فلیرکع رکعتین قبل ان یجلس)) (صحاح ستة ، مشکوة باب المساجد و مواضع الصلوة الفصل الاول)

یعنی څوک چې په تاسو کې جومات ته داخل شي نو د کیناستو نه مخکې به دوه رکعته وکړی . فقط والله اعلم.

(۳۰۷ سوال) د محلې په جومات کې د سحر مونځ وکړی او بیا بل جومات ته د قرآن پاک تفسیر اوریدو ته لاړ شي او اشراق هم وکړی نو د اشراق ثواب ملاویږي یا نه؟ او یا کوم ځای کې چې مونځ کړی وی هلته اشراق کول ضروری دی ؟ اوکه جومات نه کور ته په ګرمو اوبو اودس کولو لپاره لاړ شي او په کور کې اشراق وکړی نو ثواب ملاویږي ؟ وضاحت وکړئ خیر یوسئ.

(جواب) پدې دواړو صورتو کې د اشراق ثواب ملاویږي خو چې تر اشراق پورې د الله په ذکر کې مشغولوی ، په مرقاة شرح مشکوة کې دی :-

((ای استمر فی مکانه و مسجده الذی صلی فیه فلا ینا فیه القیام لطواف او مطلب علم او مجلس وعظ فی المسجد بل لورجع الی بیته واستمر علی الذکر حتی تطللع الشمس ثم صلی رکعتین))

یعنی تر اشراق پورې د الله تالی په ذکر کې مشغولیدو سره د اشراق مونځ کونکی د ثواب حقدار دی ، که ناست پاتې وی او یا که خانه کعبه کې وی د کعبې طواف وکړی یا د درس په حلقه او یا د وعظ په مجلس کې شریک شي بلکې که خپل کور ته لاړ شي او د اشراق تر وخته پورې ذکر (تلاوت یا تسبیح) کې لګیا وی او بیا اشراق ادا کړی بیا هم د ثواب مستحق ګرځی (مرقاة شرح مشکوة باب الذکر بعد الصلوة الفصل الثانی ۳۶۵/۲) طبع مطبع امدادیه ملتان)[۲]

---

(۲) حواله وړاندې ((د اشراق مونځ لپاره تعیین د ځای شرط دی ؟)) تر عنوان لاندې راځی.

ـ با جماعت تهجد کولو حکم:

(۳۰۸ سوال) تهجد مونځ جماعت سره وکړی یا ځانته؟ د کتابونو حوالو سره جواب راکړی؟

(جواب) د تهجد مونځ به ځانته جدا بغیر د جماعت نه ادا کړی ، جماعت سره ادا کول مکروه دی او که کله نا کله دوه درې کسان بغیر د رابللو او اهتمام نه را جمع شي او جماعت سره ادا کړی نو مکروه نه دی که د امام نه علاوه دوه کسان وی نو په اتفاق سره مکروه نه دی ، او که درې وي نو اختلاف دی او که څلور وی نو په اتفاق سره مکروه دی :

((یکره ذلک علی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد (در مختار) (قوله علی سبیل التداعی) هو ان یدعو بعضهم بعضاً کما فی المغرب و فسره الوافی بالکثرة وهو لا زم معناه (قوله اربعة بواحد) اما اقتداء واحد بواحد او اثنین بواحد فلا یکره و ثلاثة بواحد فیه خلاف بحر عن الکافی (باب الوتر والنوافل مطلب فی کراهة الاقتداء فی النفل علی سبیل التداعی الخ)) (شامی ج ۱ ص ٦٦۴)

او په مجموعه فتاوی سعدیه کی دی :-

(جواب) جماعت در نماز تهجد بتداعی مکروه است و بغیر تداعی که اتفاقاً یک دو کس یا سه کس اقتدی متهجد نمایند مکروه نیست التداعی بان یقتدی اربعة بواحد کما فی الدر و کذا فی الدر مختار ، فاضل چلپی در حاشیه شرح وقایه می آرد الجماعة فی التهجد الذی هی نافلة بدعة قطعاً ، یعنی د خلکو په رابللو سره د تهجد مونځ په جماعت سره کول مکروه دی او بغیر د بللو نه چې یو دوه یا درې کسان اتفاقاً د تهجد کونکی پسې اقتداء وکړی نو مکروه نه دی فاضل چلپی د شرح وقایه په حاشیه کی لیکی چې په جماعت سره د تهجد مونځ کول قطعی بدعت دی (مجموعه فتاوی سعدیه) (۷۲ ، ۷۳صفحی)

او د حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی رحمه الله فرمایی:-

((افسوس هزار افسوس !! بعضی از بدعتها کو در سلاسل دیگر اصلاً موجود نیست درین طریقه علیه احداث نموده اند و نماز تهجد را بجماعت میگزارند اطراف و جوانب در آن وقت مردم از برای نماز تهجد جمع می گردند و بجمیعة تمام ادا می نمایند و این عمل مکروه است بکراهت تحریمی ، جمعی از فقها که تداعی شرط

کراهت داشته اند جواز جماعت نفل را مقید بناحیهٔ مسجد ساخته زیاده از سه کس را باتفاق مکروه گفته اند))

یعني افسوس زر خله افسوس ! د کومو بدعتونو چې په نورو سلسلو (طریقو) کې نوم او نشان قدری نشته هغه پدې طریقه (نقشبندی مشایخو) کې را پیدا شوی د تهجد مونځ جماعت سره ادا کوی او د شاو خوا نه خلک تهجد لپاره را جمع کېږي او ډېر لوی جماعت سره ادا کوی او دا کار مکروه تحریمی دی او د فقهاؤ یوی ډلې چې تداعی د کراهت شرط ګرځولی ددوی په نزد باندې د جماعت جواز لپاره دا قید دی چې د جومات په یو کنج کې وی ، او دریو کسانو نه زیات جماعت سره په اتفاق سره مکروه ویلی دی (مکتوبات امام ربانی اول جلد (۱۳۱) مکتوب (۱۴۴) صفحه)

د ځینو علماؤ په نزد د رمضان د میاشتې تهجد لوی حکم نه وتلی دی لیکن زیاتره محققین علماء ورسره متفق ندی ، لکه فتاوی رشیدیه کې چې دی :-

(سوال) په جماعت سره د نفلو ادا کول او خاص طور په رمضان کې تهجد او اوابین جماعت سره ادا کول جائز دی یا نه؟

(جواب) د نفلو جماعت د هغو ځایونو څخه علاوه چې په حدیث کې ثابت دی مکروه تحریمی دی په فقه کې لیکلی دی که تداعی وی او د تداعی نه مراد څلور تنه مقتدیان کیدل دی ، نو د صلوة کسوف ، تراویح ، استسقاء جماعت صحیح او نور ټول مکروه دی ، کذا فی کتب الفقه ، (فتاوی رشیدیه اول جلد (۴۷) صفحه)

بله فتوی : مسئله : په ځینو کلو او قریو کې دا رواج دی چې په رمضان شریف کې ځینی حافظان د تهجد په مونځ کې خپلو کې قرآن شریف اوری او آوروی او دوه څلور کسه نور هم جماعت کې شریک کېږي او یو د بل کور ته ورتلو سره را بیداروی او ځینی ورځی بغیر د اطلاع نه ټول جومات کې راجمع کېږي نو دا جماعت صحیح دی یا نه؟

(جواب) د نفلو جماعت تهجد وی یا غیر تهجد د تراویحو ، کسوف او استسقاء نه علاوه که څلور مقتدیان وي نو د حنفیانو په نزد مکروه تحریمی دی که پخپله را جمع شوی وی او که رابللی وی او په دریو کې اختلاف دی او په دوه کسانو کې کراهت نشته ، کذا فی کتب الفقه ۵۵/۲) فقط والله اعلم.

ـ که د تهجدو دوه رکعته ادا کولو سره اذان وشي؟

(۳۰۹ سوال) زه د تهجدو شوق لرم يوه ورځ مې د تهجد دوه رکعته نيت وتړل پدې دوران کې اذان وشو ما دوه رکعته پوره کړل او د تحقيق نه وروسته پته ولګيده چې اذان په صحيح وخت شوی ؤ او دوه رکعته په صبح صادق کې ادا شوی دی اوس د سحر سنت وګڼل شي يا نه؟ پدې سوچ کې جماعت ودريد او بغير د سنت کولو نه جماعت کې شامل شو نو منو اوس څه وکړم د سحر د سنتو قضاءشته يا نه؟

(جواب) پدې مسئله کې چې کله يقين راشي چې دوه رکعته صبح صادق نه بعد ادا شوی دی دا دوه رکعته د سحر د سنتو په ځای ودريږي يعنی د سنتو ادا کولو ضرورت نشته (منية ۹۸ صفحه ، کبيری ۳۸۵ صفحه ، شامی ۳۸۸/۱ صفحه)[1] فقط.

ـ نفل مونځ کور کې بهتر دی يا حرم شريف او يا نبوی مسجد کې؟

(۳۱۰ سوال) نفل مونځ په کور کې کول بهتر دی يا حرم شريف او يا نبوی جومات کې؟

حاجی نفل کوم ځای وکړی؟ وضاحت وکړی خير يوسی

(جواب) په کور کې مونځ کول بهتر دی مګر حاجی لپاره په بيت الله شريف او نبوی جومات کې نفل کول افضل دی ځکه چې دا موقع بيا لاس ته نه راځی ، په مرقاة شرح مشکوة کې دی:

((والظاهر ان الکعبة والروضة الشريفة تمثنيان للغرباء لعدم حصو لهما في مواضع آخر فتغتنم الصلوة فيهما قياساً علی ما قاله ائمتان ان الطواف للغرباء افضل من الصلوة النافلة) والله اعلم.

يعنی د جومات نه په کور کې نفل کول افضل دی ليکن نورو خلکو (حاجيانو) لپاره مکه مکرمه او روضه شريفه لدينه مستثنی دی ځکه چې بل ځای ورته حرم شريف نه پيدا کيږي نو دغو مسافرو ته پکار دی چې پدې مقدس ځايونو کې مونځ کول غنيمت وګڼی دا د مجتهدينو امامانو هغه قول پشان دی چې د مکې مکرمې

---

[1] قوله و سنة ولو سنة الفجر حتی لو تهجد برکعتين ثم تبين انها بعد الفجر نائباً عن السنة ، باب شروط الصلوة.

مسافرو لپاره د خانه کعبې طواف د نفل مونځ نه افضل دی (مرقاة شرح مشکوة طبع ملتان ۱۸٦/۳) فقط والله اعلم.

د ماسخوتن نه مخکې څلور رکعته سنت مؤکد دی یا غیر مؤکد ؟

(۳۱۱ سوال) د ماسخوتن نه مخکې څلور رکعته سنت حدیث نه ثابت دی یا بې اصل دی ؟

(جواب) د ماسخوتن نه مخکې څلور رکعته غیر مؤکد سنت او مستحب دی ..... د حدیث او د سلف صالحینو له تعامل نه ثابت دی بې اصل ندی ، په مظاهر حق کې دی ، رسول الله (ص) فرمایلی دی : څوک چې د ماسخوتن مانځه نه مخکې څلور رکعته وکړی لکه چې هغه پدې شپه کې تهجد کړی وی او څوک چې د ماسخوتن نه وروسته څلور رکعته وکړی لکه چې هغه د قدر په شپه کې مونځ وکړی .

ـ رواه سعید بن منصور و فی سنة ع ح و برهان شرح موهب الرحمان (مظاهر حق ۳۸۱/۱)

((و ندب اربع قبل العشاء لما روی عن عائشه رضی الله عنها انه علیه السلام کان یصلی قبل العشاء اربعاً ثم یصلی بعدها اربعاً ثم یضطجع)) (مراقی الفلاح فصل فی بیان النوافل ص ۷۵)

((و عن عائشه رضی الله عنها انه علیه الصلوة والسلام کان یصلی قبل العشاء اربعاً ثم یصلی بعد ها اربعاً ثم یضطجع (الاختیار شرح الختار باب الوتر والنوافل ص ۲۲ ج ۱) و اما الاربع قبل العشاء فلیست بسنة لعدم المواظبة فکانت مستحبة الخ)) (عینی شرح کنز باب الوتر والنوافل ص ۴۷ ج ۱)

و به روایتی بعد نماز مغرب بست رکعت آمده و پیش از عشاء چهار رع مستحب است (مالا بد منه (٦۹) صفحه) فقط والله اعلم.

د تهجد د لمونځ صحیح وخت:

(۳۱۲ سوال) د تهجد د مونځ صحیح وخت کوم یو دی؟

(جواب) د تهجد د مونځ وخت ماسخوتن مانځه نه وروسته تر صبح صادق پورې دی د حضرت عائشه (رض) نه په صحاح کې روایت دی چې رسول الله (ص) تهجد په اول د شپې کې هم په نیمه شپه کې هم او په آخر د شپې کې هم کړی دی

مگر په آخر کی به یې زیاتره په آخر د شپې کی کول د شپې چې هر څومره ناوخته کېږي هومره رحمتونه او برکتونه زیاتېږي او دشپې اخری شپږمه حصه د ټولو نه زیاته غوره ده ، د تهجد لفظ ترک هجود یعنی ترک د نوم نه مشتق دی یعنی د خوب وخت او د ماسخوتن نه وروسته ټول د تهجد وختونه دی (مکتوبات شیخ الاسلام نمبر ۷۷ ، ۲۰۲ صفحه)

ـ فرض لمونځ په ذمه پاتې وی او نفلو کی لګیا وی:

(۳۱۳ سوال) که د چا په ذمه باندې فرض مونځونه د څو کالو باقی وی او هغه سړی فرض مونځونه ، نه ادا کوی بلکې په نفلو کی لګیا وی نو دا نفل جائز دی یا نه؟

(جواب) فرائض د اصل او بیخ نه شاخونه نشي پاتې کېدی همدا شان نوافل هم بغیر د فرائضو نه بې بنیاد او بې حقیقت دی او لکه څنګه چې شاخونو په جرړې او بیخ سره ښایسته وی همدا شان نوافل هم فرضو سره نور علی نور په درجه کی وی لکه چې په حدیث قدسی کی دی :

((و ما تقرب الی بالنوافل حتی احبه الخ))

یعنی او زما بنده زما د خوښی شیانو (عملونو) څخه کوم یو عمل په ذریعه ماته دومره نشي نزدې کیدی لکه څومره چې د هغو شیانو ادا کولو سره قریب کېږي کوم چې ما ورباندې فرض کړی دی او زما بنده د نوافلو په ذریعه ماته را نزدې کېږي تر دی پورې چې هغه زما محبوب جوړ شي او کله چې زما محبوب جوړ شي نو بیا زه د هغه غوږونه جوړ شم چې اوریدل پرې کوي او د هغه سترګې جوړ شم چې لیدل پرې کوي او د هغه لاسونه جوړ شم چې نیول پرې کوی او چی د هغه ښپې جوړ شم چې تلل پرې کوی او که ما نه سوال وکړی د هغه سوال پوره کوم او ې څه رانه وغواړی هغه شئ ورته ورکوم او که ما نه پناه وغواړی نو هغه ته (د افاتو او بلیاتو) نه پناه ورکوم ، (بخاری شریف)

او که فرائضو کی څه کمی او نقصان وی نو د نوافلو په ذریعه پوره کولی شی لکه چې په حدیث کی دی :

((فان انتقص من فریضة شیئ قال الرب تبارک و تعالی انظروا هل لعبدی من تطوع فیکمل بها ما انتقص من الفریضة ثم یکون سائر عمله کذلک))

یعنی که د کوم یو بنده فرض مونځونو کې څه کمی وی نو الله تبارک و تعالی فرمایي : وګورئ زما بنده سره نوافل شته؟ که وی نو د هغوی په ذریعه د فرض مونځونو کمی پوره کولی شي او بیا وروسته پاتي اعمال روژه ، زکوة وغیره هم پدې طریقه حساب ورسره کېږي یعنی د فرضو کی او خالی په نفلی شیانو سره پوره کولی شي (مشکوة) په هر حال بنده د هر څه نه زیات الله تعالی ته په فرضو سره نژدیکت حاصلوی نوافل په دویمه درجه کی دی او فرائضو سره فایده ورکوی او بغیر د فرائضو نه ددوی هیڅ حقیقت نشته حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی فرمایی : ((نوافل را در جنب فرائض هیچ اعتبار نیست اداء فرض از فرائض در وقتی او اوقات به از اداء نوافل هزار ساله است اگر چه بنیت خالص ادا شود ، هر نفلیکه باشد از صلوة و صوم وفکر و ذکر و امثال اینها الخ)) یعنی د فرضو په مقابل کی د نفلو هیڅ اعتبار نشته ، یو فرض ادا کول د زرو کالو نفلو ادا کولو نه بهتر دی اګر که هغه زرو کالو نفل په خالص نیت سره ادا شوی وی که هغه نوافل روژه ، زکات ، ذکر و فکر وغیره وی.

حضرت عمر فاروق فرمایی : که توله شپه ویښ وی او د سحر مونځ جماعت لرینه پاتي شي لدینه هغه بهتر دی چې توله شپه ویده وی او د سحر مونځ جماعت سره ادا کړی ، د زکات په نیت یو دانګ (٦ رتی) ورکول د هغه سرو زرو له غر نه بهتر دی کوم چې نفلی صدقه ورکړی شوی وی (مکتوبات امام ربانی ۳٦/۱) او حضرت امام ربانی نور علاوه کوی:-

((در ادا فرض اهتمام تمام باید نمود و در حل و حرمت احتیاط باید فرمود و عبادات نافله در جنب عبادات فرائض کالمطروح فی الطریق اند و از اعتبار ساقط اند اکثر مردم این وقت در ترویج نوافل اند . و در تخریب فرائض در ایتان نوافل عبادات اهتمام دارند و فرائض را خوار و بې اعتبار شمرند))

یعنی خاص طور د فرائضو په ادا کولو او حل او حرمت کی ډېر اهتمام او احتیاط پکار دی او نفلی عبادات د فرائضو په مقابله کی داسې دی لکه په لاره کی پریوتی څیز چې هیڅ اهمیت نلری (مګر) پدې زمانه کی اکثر خلک نفل رواج کوی او فرائض خوار او بې اعتباره ګڼی ، (مکتوبات ۱۵۴/۲)

لهذا د چا په ذمه چې د فرضو قضاء وی هغه ته پکار دی چې ددې د ادا کولو فکر وکړی او د نفلو په ځای قضا شوی مونځونه وکړی ځکه چې قیامت کی د فرضو باره

کی تیوس کیږي او د فرضو کامل او مکمل ادا کولو نه وروسته چې څومره نوافل ادا کړی شی بهتر دی ، کوم اندامونه او طبیعتونه ، لاس ، ښپې ، سترګی ، غوږونه وغیره د نیکیو سره اموخته کیږي او ګناهونه پریږدی ، خوش قسمته دی هغه خلک چې په عمل نامو کی یې د فرضو سره نفلونه هم موجود دی ، لکه څنګه چې بغیر د فرائضو نه نوافل مقبول ندی همدا شان د فرائضو څخه د ځینو ادا کول تر هغې پورې کافی نه وی څو پورې چې ټول ادا نه کړی، په حدیث کی دی :

((اربع فرضهن الله فی الاسلام فمن جاء بثلاث لم یغنین عنه شیئاً حتی یاتی بهن جمیعاً الصلوة والزکوة و صیام رمضان و حج البت))

یعنی څلور شیان الله تعالی په اسلام کی فرض کړی دی څوک چې لدی څلورو نه درې ادا کړی هغه ورته څه فایده نه کوی ، څو پورې چې ټول نه وی ادا کړی ، مونځ ، زکات ، روژه او حج د بیت الله (مسند احمد) داځکه چې کوم مسلمان باندې الله تعالی څومره شیان فرض کړی دی پدې فرضو باندې د اسلام قصر (محل) قائم دی لدې فرضو څخه د یو فرض پرېښودو سره هم د دین محل خطره کی پریوځی لکه څنګه چې د محل ځینې ستنې پریوتو سره په نورو سنتو کی هم سستی او کمزوری راځی ، پدې وجه حضرت عبد الله بن مسعود (رض) وفرمایل : ((و من لم یزک فلا صلوة له)) یعنی کوم سړی چې زکات ادا نه کړی د هغه مونځ هم نه قبلیږي ، فقط والله اعلم.

ـ د اشراق مونځ لپاره تعیین د مکان شرط دی:

(۳۱۴ سوال) د محلې په جومات کی د سحر مونځ وکړی او د قرآن پاک د تفسیر اوریدو لپاره بل جومات ته لاړ شي او هلته د اشراق مونځ وکړی نو د اشراق اجر و ثواب ورته ملاویږي یا نه؟ ایا فرض مونځ کولو سره په هماغه ځای باندې اشراق مونځ کول ضروری دی ؟ که د جومات نه کور ته استنجاء یا په ګرمو اوبو سره اودس کولو لپاره لاړ شي او په کور کی د اشراق مونځ وکړی نو د اجر و ثواب حقدار دی یا نه؟

(جواب) د اشراق د پوره فضیلت او مکمل ثواب هغه سړی مستحق ګرځی چې د سحر مونځ جماعت سره په جومات کی ادا کړی یا د عذر په وجه کور کی وکړی او په هماغه ځای باندې کینی او د الله تعالی په ذکر کی مشغول وی او چې کله د مکروه وخت ختم شي دوه یا څلور رکعته صلوة الضحی ادا کړی ، او کوم سړی چې

د تفسیر اوریدو لپاره بل جومات ته لاړ شي او په وخت باندې د اشراق مونځ وکړي هغه هم د اشراق فضیلت بیا مومی مګر نستبا کم همدا شان هغه سړی هم چې طبعی عذر (استنجاء یا اودس) په وجه کور ته تګ لپاره مجبور شي او د حاجت نه فارغیدو سره دنیوی کار کی مشغولیدو نه مخکې مونځ کوی هغه هم د اشراق له ثواب نه ، نه محرومیږي ، او دې تګ راتګ ته مسجد کی د پاتې کیدو درجه ورکړې کیږئ ، او لکه څنګه چې معتکف لپاره طبعی حاجت په بناء د جومات نه وتل د اعتکاف منافی ندی دې لپاره هم منافی ندی.

((قال قال رسول الله (ص) من صلی الفجر فی جماعة ثم قعد یذکر الله ای استمر فی مکانه و مسجده الذی صلی فیه فلا ینا فیه القیام لطواف او لطلب علم او مجلس وعظ فی المسجد بل و کذا لو رجع الی بیته و استمر علی الذکر)) (حتی تطلع الشمس ثم صلی رکعتین) (مرقاة باب الذکر بعد الصلوة . مطبوعه ملتانی ص ۳۶۵)

((مخفی نماند که قعود در جای نماز شرط کرد ای اګر برخیز دو بجای دیګر به نشیند این ثواب بر آن مرتب نګردد چنانچه ظاهر فحوای کلام است ، اما اګر برخاستن و در جای دیګر نشستین برای دفع ریا و حفظ حضور بود از باب تکمیل و تتمیم خواهد بود و حکم تکلم بخیر دارد و بعض محققین ګفته اند که ثواب ذکر و خلوت باقی است اما شاید که آنچه ثواب مصابرت و جزای مرابطت ست مخصوص . بقعود در مصلا باشد)) (شرح سفر السعادة ص ۹۵۱) (اشعة اللمعمات ص ۴۲۳ ج ۱ باب الذکر بعد الصلوة ، اشعة اللمعات ص ۵۵۳ ج ۱)

ف :- او بیا به کینی او د الله تعالی په ذکر کی به مشغول وی پخپل جای نماز او خپل جومات کی په کوم کی چې مونځ کړی دی او د طواف یا طلب د علم یا مجلس د وعظ لپاره بل جومات ته تلل ددی منافی نه دی ، او همدا شان که کور ته لاړ شي او په ذکر کی مشغول شي د هغه هم دا ثواب کیږي چې د لمر ختو نه وروسته مونځ وکړی یعنی چې لمر د یوې نیزی په اندازه پورته شي بیا مونځ وکړی چې مکروهه وخت ختم شوی وی او دیته د اشراق مونځ ویل کیږي الخ (مظاهر حق کتاب الصلوة باب الذکر بعد الصلوة ۳۲۰/۱) او بل ځای کی دی :-

ف :- کوم سړی چې ناست ووسی الخ مصلا علی قاری له شرح نه داسې معلومیږي چې ددې څخه مراد همیشه په ذکر او فکر او نیک کار کی مشغولیدل دی لکه تعلیم او تعلم ، وعظ نصیحت ، د بیت الله طواف کول یعنی د سحر مونځ څخه فارغیدو نه

وروسته تر دې پورې چې دوه رکعته صحيح مونځ وکړی‌او ددې تر منځ د خير خبرو نه علاوه نه وی کړی نو د هغه صغيره گناهونه معاف کېږي او احتمال لری چې کبيره هم معاف کړی شی ، انتهی ، نو ددې له تقرير نه دا معلومېږي چې دا وينا چې د مانځه په ځای باندې به ناست ووسی وايی د مثال په توگه فرمايلی دی او مراد د الله تعالی په ذکر کی او نيک کار کی مشغوليدل دی ، او حضرت شيخ ليکلی دی چې د ضحی نه مراد د اشراق مونځ دی او په حديثونو کی د ضحی نه د ثابت او اشراق دواړه احتمال لری ، او ظاهر د حديث نه دا معلومېږي چې دا ثواب هغه وخت ملاوېږي چې د مانځه په ځای باندې ناست وی او که خلوت کی په عبادت مشغول شی دا ثواب نه ملاوېږي ، او د مشائخو په وصيتونو کی دی : چې که د پريشانی يا د ريا خطره وی نو خلوت ته دې لاړ شي او ذکر کی مشغول شي او علماؤ ليکلی دی چې پدې وخت کی به قبلی ته مخامخ کيناستل نه پريدی او که خوب ورشي نو دفع دې کړی ، (مظاهر حق کتاب الصلوة باب الضحی ۴۲۶/۱)

ـ د سنت کولو نه بغير فرض شروع کړی څه حکم لری؟

(۳۱۵ سوال) د سحر فرض شروع کيدو وخت کی را ياد شول چې سنت پاتی دی پدې وخت کی فرض ماتولو سره سنت وکړی يا نه؟

(جواب) نه، سنت لپاره به فرض نه ماتوی ((و لو ذكر فی الفجر انه لم يصل ركعتی الفجر لم يقطع)) يعنی فرض مونځ کی ورياد شو چې سنت ندې کړی نو سنت لپاره دې فرض نه ماتوی (بحر الرائق ۴۸/۲ باب الوتر والنوافل) فقط والله اعلم.

ـ د وترو نه وروسته نفل په ولاړه وکړی يا په ناسته؟

(۳۱٦ سوال) د وترو نه وروسته دوه رکعته نفل په ولاړه کول افضل دی يا په ناسته ؟ د رسول الله (ص) عمل څنګه ؤ ؟ دوی (ص) به په ولاړه کول يا په ناسته ؟ د ستند کتابونو په حوالو سره جواب راکړی جزاکم الله.

(جواب) د وترو نه وروسته دوه رکعته نفل په ولاړه کول افضل دی ، د رسول الله (ص) ارشاد دی چې په ناسته نفل کونکی ته نيم ثواب دی ، او د رسول الله (ص) نه دواړه طريقی ثابتی دی ليکن رسول الله (ص) ته په ناسته کولو کی هم پوره اجر و ثواب ملاويدو دا د رسول الله (ص) خصوصيت ؤ چې پدې کی هم امت ته تعليم ؤ چې ودريدل فرض ندی امت ته تعليم ورکول د نبوت له واجباتو څخه دی

نو د رسول الله (ص) په ناسته نفل کولو کی هم د واجبو ادا کول دی او ددی ثواب نفلو نه زیات دی:-

((قال ابن حجر و من خصائصه علیه السلام ان ثواب تطوعه جالسا الخ) مرقاة المفاتیح ملتانی ص ۱۲۷ ج ۳ باب الوتر) اجر غیر النبی صلی الله علیه وسلم علی النصف الا بعذر ، (در مختار ص ٦٥٣ ج ۱ باب الوتر والنوافل) (قوله اجر غیر النبی صلی الله علیه وسلم) اما النبی صلی الله علیه وسلم فمن خصائصه ان نافلته قاعداً مع القدرة علی القیام کنا فلته قائماً ففی صحیح مسلم عن عبد الله بن عمر قلت حدثت یا رسول الله انک قلت صلاة الرجل قاعداً علی نصف الصلوة و انت تصلی قاعداً قال اجل و لکنی لست کاحد منکم بحر ملخصاً ای لانه تشریع لبیان الجواز وهو واجب علیه)) (شامی ص ٦٥٣ ج ۱ ایضاً)

البته د ځینو بزرګانو نه نقل دی چې که یو څوک د سنتو متبع د وترو نه وروسته دوه رکعته کله ناکله پدي نیت په ناسته وکړی چې رسول الله (ص) په ناسته کړی دی زه هم د هغه په پیروی کی په ناسته کوم نو څه د تعجب وړ ندی چې هغه ته د خپل نیت مطابق پوره اجر و ثواب ملاو شي ، لکه په ما لا بد منه کی چې دی ((و بعد وتر دو رکعت نشسته خواندن مستحب است (٦١ صفحه)) لیکن د حدیث له مخې په ولاړه کونکی د پوره ثواب او په ناسته باندې کونکی د نیم ثواب حقدار دی ، فقط والله اعلم.

– د مازدیګر نه مخکې د نفل لمونځ ثواب:

(۳۱۷ سوال) د مازدیګر مانځه نه مخکې د دوه یا څلورو رکعته نفلو ثبوت شته یانه؟ ځینی خلک وایی چې بلا دلیل دی ، وضاحت وکړی.

(جواب) د مازدیګر مانځه نه مخکې څلور یا دوه رکعته نفل مستحب دی د روایاتو نه ثابت دی بې دلیله نه دی ، په مالا بد منه کی دی : ((و پیشین از نماز عصر دو رکعت یا چهار رکعت مستحب است (٦٠ صفحه) او په شرح نقایه کی دی :

((و حبب ای ندب الاربع قبل العصر لما روی ابو داؤد و الترمذی و قال حدیث حسن عن ابن عمر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رحم الله امرءاً صلی قبل العصر اربعاً و یقول علی کان علیه السلام یصلی قبل العصر رکعتین رواه ابو داؤد و رواه الترمذی و احمد و قال اربعاً و لما رواه الطبرانی بسند حسن عن ابن عمر رضی الله عنه و مَن صلی قبل العصر اربعاً حرمه الله علی النار و حبب قبل العشاء و بعده

الخ ، شرح نقايه ص ۱۰۰ باب الوتر والنوافل ، و اما العصر فليس فيه سنة مؤكدة الا ان المندوب ان يصلى قبلها اربع ركعات او ركعتين لما روى ابن عمر رضى الله عنه قال ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال رحم الله امرء صلى قبل العصر اربعا و عن امير المؤمنين على كرم الله وجهه قال كان يصلى رسول الله صلى الله عليه وسلم قبل العصر ركعتين رواهما ابو داؤد و ان شاء صلاهما بتسليمتين لما روى عن امير المؤمنين على كرم الله وجهه قال كان النبى صلى الله عليه وسلم يصلى قبل العصر اربع ركعات يفصل بينهن بالتسليم على الملائكة المقربين و من تابعهم من المسلمين والمؤمنين رواه الترمذى و قال الفقهاء المندوب ان يصلى قبل العشا اربع ركعات و سمعت مطلع الاسرار الا لهية مجمع العلوم . العقلية والنقلية ابى قدس سره يقول لم يوجد ذكر هذه الاربع فى كتب الحديث و لكن كان هو رحمه الله مواظباً عليها حتى مات رحمه الله تعالى (رسائل الاركان ص۱۳۳ ، ص ۱۳۴ ايضاً) فقط والله اعلم بالصواب .

ـ د مازديګر اوماسخوتن نه مخکې څلور رکعته کول پکار دى ؟

(۳۱۸ سوال) يو سړى د مازديګر او ماسخوتن نه مخکې سنت شروع کړى او جماعت ودريدو په وجه په دوه رکعتو باندې سلام وګرځاو نو سنت ادا کيږي يا نه؟ د مازديګر او ماسخوتن نه مخکې څلور رکعته سنت دى يا دوه رکعته کول هم کافى دى ؟ وضاحت وکړى خير يوسئ.

(جواب) که موقع وى نو څلور رکعته وکړئ او که موقع نه وى يا څه عذر وى نو دوه رکعته هم کافي دى ، د مازديګر او ماسخوتن نه مخکې څلور رکعته او يا دوه رکعته دواړه کولى شى ، په در مختار کې دى :-

((و يستحب اربع قبل العصر و قبل العشاء و بعدها بتسليمة و ان شاء ركعتين)) (درمختار) ((و قوله و يستحب اربع قبل العصر لم يجعل للعصر سنة راتبة لانه لم يذكر فى حديث عائشة المار بحر ، قال فى الامداد و خير محمد بن الحسن والقدورى المصلى بين ان يصلى اربعاً او ركعتين قبل العصر لاختلاف الآثار (قوله و ان شاء ركعتين) كذا عبر فى منية المصلى و فى الامداد عن الاختيار يستحب ان يصلى قبل العشاء اربعاً و قبل ركعتين و بعدها اربع و قيل ركعتين اه والظاهر ان الركعتين ... المذكور تين غير المؤكدتين)) (شامى ج ۱ ص ۶۳۰ ، ص ۶۳۱ مطلب فى السنن والنوافل)

((و ندب ای استحب (اربع) رکعات (قبل) صلوة العصر لقوله صلی الله علیه وسلم من صلی اربع رکعات قبل العصر لم تمسه النار و ورد انه صلی الله علیه وسلم صلی رکعتین و ورد اربعا فلذا خیره القدوری منهما اربعا الخ)) (در مختار و شامی ج ۱ ص ۶۳۰ مطلب فی السنن والنوافل)

په عمدة الفقه کی دی : ((څلور رکعتی سنت مؤکد (یعنی د ماسپښین او جمعې نه مخکی او د جمعې نه وروسته سنت) په یو سلام سره ادا کول سنت مؤکد دی یعنی څلور واړه په لوستو سره د څلورم رکعت نه وروسته سلام وګرځوی او که دا په دوه سلامونو سره ادا کړی (یعنی په دوه رکعتو باندې سلام وګرځوی) نو هغه ددغو سنتو په ځای نه ادا کېږي پدې وجه دوباره به سلام سره ادا کړی)) (عمدة الفقه ۲۹۷/۲ ، ۲۹۸) فقط والله اعلم.

نوټ : د ماسپښین نه مخکې سنت شروع کړی وی او جماعت ودرېږي نو بهتر دا دی چې څلور رکعته پوره کولو سره سلام وګرځوی.

ــ د ماسپښین او جمعې نه مخکی څلور رکعته سنت په یو سلام سره یا دوه سلام سره ؟

(۳۱۹ سوال) د ماسپښین نه مخکې څلور رکعته سنت مؤکد یو سلام سره کول ضروری دی یا په دوه سلامونو سره هم کولی شی ؟ او چې سنت شروع کړی بیا د جماعت ودریدو په وجه په دوه رکعتو باندې سلام وګرځوی نو بیا وروسته دوه رکعته کول کافی دی یا څلور رکعته وکړی ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) د ماسپښین نه مخکې چې کوم څلور رکعته سنت مؤکد دی دا په یو سلام سره ادا کول پکار دی که په دوه رکعتو کی سلام وګرځوی نو دا سنت نه شمېرېږي وروسته به څلور رکعته په یوه سلام سره کوی:-

((و اربع قبل الظهر الی قوله (بتسلیمة) لتعلقه بقول و اربع و قال الزیلعی حتی لو صلاها بتسلیمتین لم تنب عن السنة)) (قوله بتسلیمة) ... و عن ابی ایوب کان یصلی النبی صلی الله علیه وسلم بعد الزوال اربع رکعات فقلت ما هذه الصلوة التی تداوم علیها فقال هذه ساعة تفتح ابواب السماء فیها فاحب ان یصعد لی فیها عمل صالح فقلت افی کلهن قراة قال نعم فقلت بتسلیمة واحدة ام بتسلیمتین فقال بتسلیمة واحدة رواه الطحاوی و ابو داؤد والترمذی و ابن ماجة من غیر فصل بین

الجمعة والظهر فیکون سنت کل واحد منهما اربعا الخ)) (در مختار و شامی ج ۱ ص ۶۳۰ مطلب فی السنن والنوافل)

په عمدة الفقه کې دی : ((څلور رکعتی سنت مؤکد (یعنی د ماسپښین او د جمعې نه مخکې او د جمعې نه وروسته سنت) په یو سلام سره ادا کول سنت مؤکد دی یعنی څلور واړه ادا کولو سره په څلور رکعت باندې سلام وګرځوی او که دا یې په دوه سلامونو سره ادا کړی یعنی په دوه رکعتو باندې یې سلام وګرځولو نو دغه سنت نـه ادا کېږي . بېدې وجه دوباره په یو سلام سره به یې ادا کړی (عمدة الفقـه ۲/ ۲۹۷ ، ۲۹۸) فقط والله اعلم.

نوټ د ماسپښین نه مخکې سنت شروع کړی وی او جماعت ودرېږی نو بهتـر دا دی چې څلور رکعته پوره کولو سره سـلام وګرځـوی (وګـورئ فتـاوی رحیمیـه ۳۱۵/۵ ، ۳۱۶).

ـ په څلور رکعتوی نفلو کی اوله قعده کی تشهد نه وروسـته د درود او دعا ویلو ګنجائش :

(۳۲۰ سوال) په څلور رکعتی نفلو کې اوله قعده کی د تشهد نه وروسته درود شریف او دعاء او دریم رکعت کی ثناء او اعوذ بالله ویل څنګه دی ؟ وضاحت وکړی

(جواب) نوستلی شی ، په مراقی الفلاح کی دی :-

((بخلاف الرباعیات المندوبة فیستفتح و یتعوذ و یصـلی علـی النبـی صـلی الله علیـه وسلم فی ابتداء کل شفع منها و قال فی شرح المنیة مسئلة الا ستفتاح و نحوه لیست مرویة من الائمة و انما هی اختیار بعض المتاخرین)) (مراقی الفلاح مـع طحطـاوی ص ۲۱۴ ، فصل فی النوافل)

په در مختار کی دی : ((و فی البواقی من ذوات الاربع یصلی علی النبی صـلی الله علیه وسلم و یستفتح و یتعوذ و لو نذر لان کل شفع صلوة (و قیل) لا یاتی فی الکل و صححه فی القنیة)) (قوله و قیل لا الخ قال فی البحـر و لا یخفـی مـا فیـه والظـاهر الاول زاد فی المنح و من ثم عولنا علیه و حکینا ما فی القنیة بقیل)

((فیقال هنا ایضاً لا یصلی و لا یستفتح و لا یتعوذ لو قرعه فی فسط الصلوة لان الاصل کون الکل صلاة واحدة للاتصال و اتحاد التحریمة و مسئلة الاستفتاح و نحوه لیسـت

مروية عن المتقدمين و انما هی علی اختيار بعض المتاخرين الخ)) (در مختار ، وشامی ص ٦٣٣ ، باب الوتر والنوافل) (عمدة الفقه ص ۳۱۰ ، ص ۳۱۱ ج ۱) فقط.

ـ څوک چې تهجد لپاره نشي پاڅيدلی هغه لپاره د ماسخوتن نه وروسته څلور رکعته د تهجد په نيت کول:

(۳۲۱ سوال) يو سړی د تهجدو شوق لری مګر د تهجدو په وخت کی عام طور سره نشي رابيدار يدی او کله کله را پاځيږي ، که دا سړی د تهجدو په نيت د ماسخوتن نه وروسته دوه څلور رکعته وکړی ايا د تهجدو ثواب به ورته ملاو شي ؟ وضاحت وکړی خير يوسئ.

(جواب) پدې مسئله کې که چيرته هغه سړی د ماسخوتن مانځه نه وروسته دوه رکعته سنت ادا کولو نه وروسته څو رکعته نفل وکړی نو انشاء الله د تهجدو سنت به ادا شي په شامی کی دی :

((و ما كان صلوة العشاء فهو من الليل و هذا يفيد ان هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلوة العشاء فهو من الليل و هذا يفيد ان هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلاة العشاء قبل النوم اه)) (شامی ج ۱ ص ٦٤٠ باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل)

او مراقی الفلاح کی دی :

((و ندب اربع بعده ای بعد العشاء لما روينا و لقوله صلی الله عليه وسلم من صلی قبل الظهر اربعاً كان كانما تهجد من ليلته و من صلاهن بعد صلوة العشاء كان كمثلهن من ليلة القدر)) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۱۳ باب الوتر فصل فی بيان النوافل) فقط والله اعلم.

ـ د تهجد په دوران کی د چا په ليدو سره د خوشحاليدو څه حکم لری؟

(۳۲۲ سوال) يو سړی تهجد کوی او د مونځ په دوران کی د مانځه کی څوک راشي او د مونځ ګذار په زړه کی دا راشي چې دا سړی به وايی چې فلانی ډېر مونځ

گذار دی او ددې سرې په راتلو رکوع او سجده هم په ښه شان سره ادا کوی لیکن بیا یې په زړه کې وګرځی چې دا خو ریا کاری کیږي نو ددی عبادت څه حکم دی؟
جواب : د تهجد په مونځ باندې د چا په خبریدو پدې وجه خوشحالیدل چې زه به ورته دیر مونځ گذار ښکارم او د هغه په زړه کی به زما عظمت پیدا شي . دا شیطانی وسوسه ده لدینه خپل زړه پاکول پکار دی ، او د چا په لیدو سره رکوع او سجده اوږدول او په ښه شان سره ادا کول ریا کاری او د ثواب نه محرومیدل دی او د مواخذی قابل دی اعاذ نالله . ذکر شوی صورت خو ریا کاری کی داخل دی ، البته که په زړه کی یواځی پدېوجه خوشحال شی چې زما په لیدو سره هغه سره هم د عمل توفیق پیدا شي او عمل وکړی نو ماته به هم ثواب وشي او یا خوشحالی طبعاً وی چې د الله تعالی په فضل سره ماته د عمل توفیق راکړی شو او هغه زه په ښه حالت باندې ولیدم او زما په عمل باندې به ګواه وی نو دا صورت په ریا کاری کی داخل ندی ، په مشکوة شریف کی یو حدیث دی :
((عن ابی هریرة (رض) قال قلت یا رسول الله صلی الله علیه وسلم انا فی بیتی فی مصلای اذا دخل علی رجل فاجبنی الحال التی رانی علیها فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم رحمک الله یا ابا هریرة لک اجر ان اجرا لسرو اجر العلانیة ،رواه الترمذی)) (مشکوة شریف ص ۴۵۴ باب الریاء والسمعة)
ترجمه : حضرت ابو هریرة (ر ض) فرمایی ما رسول الله (ص) ته عرض وکړ یا رسول الله (ص) زه خپل کور کی په مصلی باندې مونځ کی لګیا یم چې پدې وخت کی یو سرې راشي او زه پدې خبره خوشحال شم چې زه یې د مونځ په حالت کی ولیدم (نو زما دا خوشحالیدل په ریا کی شماریږي یا نه؟) رسول الله (ص) وفرمایل: ابو هریرة : په تا دې الله تعالی رحم وکړی ته ددوه ثوابونو مستحق شوی یو د خفیه او بل د ښکاره کیدو ، حاشیه د مرقاة په حواله نقل کړی :
((قوله فاعجبنی الحال الخ قیل معناه فاعجبه رجاء ان یعمل من راه بمثل عمله فیکون له مثل اجره والاظهر ان اعجابه بحسب اصل الطبع المطابق للشرع من انه یعجبه ان یراه احد علی حالة حسنة و یکره ان یراه علی حالة قبیحة مع قطع النظر ان یکون ذلک العمل مطمحاً للرؤیا و مطمعاً للسمعة فیکون من قبیل قوله صلی الله علیه وسلم من سرته . حسنته . و ساته . سیئته . فهو مومن ۱۲ مرقاة)) (مشکوة شریف ص ۴۵۳ . حاشیه نمبره ۸ :

په مظاهر حق جدید کی دی په ظاهره دا معلومېږي چې حضرت ابو هريرة (رض) پدې خبره خوشحاله شوی چې هغه سړی د مانځه په حالت کې لیدلی نو ددی سبب د حضرت ابو هريرة (رض) هغه پاکه جذبه وه چې زما په مانځه باندې لیدو سره به دې کی هم زما د پیروی شوق پیدا شي او دې هم زما په شان مونځ وکړی . او یا د خوشحالی سبب یې دا ؤ چې ددهٔ د مانځه حالت د یو سړی په وړاندې د نیکی لاره راښکاره کړه او دې سړی ته د مانځه طرف ته د راغب کیدو ذریعه جوړ شو ، لکه چې فرمایلی دی ((من سن سنة حسنة فله اجرها و اجر من عمل بها)) نو ده ته دا د خوشحالی توقع په ځای ؤ چې کله دا سړی مونځ کوی نو ثواب به یې ماته هم کېږئ ، لیکن زیات صحیح قول دا دی چې پدې موقع باندې د حضرت ابو هريرة خوشحالیدل د هغه طبعی خواهش تکمیل ؤ کوم چې د شریعت په نظر کې غوره او محبوب دی یعنی د هر انسان دا طبعی خواهش وی چې ما دې خلک په ښه حالت باندې ووینی هیڅ یو کس دا نه خوښوی چې څوک دې ما په بد حالت کې ووینی او ظاهره ده چې ددې طبعی خواهش په بنیاد په ریا کاری ندی بلکې د قلب سلیم تقاضا او د پاکیزګی په خیال باندې وی نو دا خبره ددې ارشاد نبوی عین مطابق ده چې ((من سرته حسنته و ساته سیئته فهو مؤمن)) او د الله تعالی هم ارشاد دی ((قل بفضل الله و برحمته فبذلک فلیفرحوا هو خیر مما یجمعون)) لهذا د مؤمن شان همدا دی چې هغه د نیکو اعمالو او احوالو په توفیق حاصلیدو باندې خوشحال شي ، یوه خبره دا هم ویل کېدی شي چې د حضرت ابو هريرة (رض) خوشحالیدل د احساس شکر په طور ؤ چې زه ددې سړی په ذریعه د مسلمانانو تر منځ د عبادت او توفیق سره وپیژندل شوم او د یو مونځ ګذار په صفت یاد شم او د هغو خلکو په ډله کی د حسابیدو موقع نصیب شوه چې د مونځ په شان اهم عبادت او د اسلام تولو نه لوی رکن قائم کوی او یو مسلمان ددی خبرې ګواه جوړ شو ، دا قول د حدیث ددې الفاظو چې ((اجر السر و اجر العلانية)) مفهوم سره زیات قریب دی (مظاهر حق جدید ۱٦٦/٦ د ریابیان) او په شامی کی دی :-

((قوله من صلی او تصدق الخ اعلم ان اخلاص العبادة لله تعالی واجب والریا فیها وهو ان یرید بها غیر وجه الله تعالی حرام بالاجماع للنصوص القطعية و قد سمی علیه الصلوة والسلام الریاء الشرک الاصغر .... الی قوله .... و قال العلامة العینی فی شرح البخاری الاخلاص فی الطاعة ترک الریاء و معدنه القلب اه و هذا النیة لتحصیل

الثواب لا لصحة العمل . الی . و کذا لو صلی مرائیاً لکن الریاء تارة یکون فی اصل العبادة و تارة یکون فی وصفها والاول هو الریاء المحیط للثواب من اصله کما اذا صلی لاجل الناس و لو لا هم ما صلی و ما لو عرض له ذلک فی اثناء ها فهو لغو لانه لم یصل لاجلهم بل صلاتهم کانت خالصة لله تعالی والجزء الذی عرض له فیه الریا بعض تلک الصلوة الخالصة نعم ان زاد فی تحسینها بعد ذلک رجع الی القسم الثانی فیسقط ثواب التحسین بدلیل ما روی عن الامام فیمن اطال الرکوع لا دراک الجائی لا للقربة حیث قال اخاف علیه امراً عظیماً ای الشرک الخفی کما قاله بعض المحققین الخ)) (شامی ج۵ ص ۳۷۵ ، کتاب الحظر والاباحة ، فصل فی البیع) فقط.

صلوة الوتر

ـ امام په په وترو کی دعاء قنوت ونه لوست او رکـوع تـه لاړ او مقتدیان ځینی رکوع ته لاړ او ځینی نه نو څه حکم لری؟

(۳۲۳ سوال) امام صاحب د وترو په دریم رکعت کی د دعاء قنوت نـه بغیـر رکـوع تـه لاړل مقتدیانو فتح ورکړه بیا هم امام صاحب په رکوع کی پاتې شو او مذبـذب ؤ پـدې وجه رکوع کی زیات تاخیر وشو او بیا وروسته امام په سجده سهوه کولو سره مونځ پـوره کړ ، ځینو مقتدیانو نه رکوع وکړ او نه دعاء قنوت ولوست او مونځ یې پوره کـړ او ځینـو مقتدیانو دعاء قنوت ونه لوست خو رکوع یې وکړ پدې صورت کی د کومو مونځ وشو او د کومو ونه شو ؟ او که د ټولو مونځ فاسد شو ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.

(جواب) پدې مسئله کی د امام مونځ صحیح شوی او چا چې امام سره یـا د امـام لـه رکوع نه وروسته رکوع کړی د هغو هم مونځ شوی د راګرځولـو ضـرورت نشـته ، لـیکن کومو مقتدیانو چې رکوع ندی کړی د هغوی مونځ د فرض پاتې کیدو په وجـه نـه دی شوی ، راګرځول یې ضروری دی ، دعاء قنوت لپاره د رکوع نه قیـام تـه واپـس کیـدل ضروری نه دی ، که دعاء قنوت سهواً پاتې شي نو په سـجده سـهوه سـر کـار کیږي ، د دعاء قنوت سهواً پاتې کېدو څلور صورتونه دی (۱) په رکوع کی دعاء قنوت ولولی (۲) د رکوع په پریښودو سره واپس قیام وکړی او دعـاء قنـوت لوسـتو سـره دوبـاره رکـوع وکړی (۳) دوباره رکوع ونه کړی (۴) دعاء قنوت نه پـه رکـوع کـی ولـولی او نـه لـه رکوع نه وروسته پ ودریدو کی ویلولی پدې څلورو صورتو کی سجده سهوه کولـو سـره مونځ کیږي ، در مختار کی دی :

((و لو نسیه ای القنوت ثم تذکره فی الرکوع لا یقنت فیـه لفـوات محلـه و لا یعـود الـی القیام فی الاصح الا نه فیه رفض الفرض للواجب فان عاد الیه و قنت و لم یعد الرکوع لم تفسد صلوته لکون رکوعه بعد قرائة تامة و سجد للسهو قنت او لا لزوال محله)) (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۶۲۷ باب الوتر والنوافل) (فتاوی عالمگیری ج ۱ ص ۱۱۱) فقط.

ـ بغیر د رمضان نه په جماعت سره وتر ادا کول څنګه دی؟

(۳۲۴ سوال) بغیر د رمضان نه وتر په جماعت سره ادا کولی شو یا نه؟ وضاحت وکړی

جواب) بغیر د رمضان نه په جماعت سره وتر کول مکروه تحریمی دی :-
((و لا یصلی الوتر بجماعة الا فی شهر رمضان و معناه الکراهة دون عدم الجواز لانه نفل من وجه و لانه لم ینقل عن النبی صلی الله علیه وسلم و لا عن احد من الصحابة فتکون بدعة مکروهةً)) (کبیری ص ۴۳۰ الباب الثامن فی صلاة الوتر) فقط والله اعلم.

- په وترو کی امام صاحب سهواً اوله قعده پریښوده او ودرید او بیا فتح ورکولو سره قعده وکړه نومونځ نه فاسدیږي همدا مفتی به قول دی :

(۳۲۵ سوال) زید په رمضان کی وتر کول چې اوله قعده یې ورنه هیره شوه او پاڅیدو او بیا د مقتدیانو په فتح سره واپس کیناستو نو دې د فرضو نه واجب طرف ته راوګرځیدو اوس دا مونځ په سجده سهوه سره صحیح کیږي یا نه؟ او که صحیح نه وی نو ولې ؟ او که صحیح وی لکه ستاسو فتاوی رحیمیه اردو ۱۱۱/۱ کی دی ((مونځ صحیح کیږي لیکن غلط کار کونکی ګرځی ، ځکه چې دا د فرضو نه واجب طرف ته واپس کیدل ندی بلکی تدارک لپاره دی)) لیکن د فتاوی عالمگیری اردو عبارت ددی خلاف معلومیږي : ((د وترو حکم د امام محمد رحمه الله په نزد هغه دې کوم چې د نفلو دی (د نفلو حکم دده په نزد دا دی چې که دریم رکعت ته ودریدلی وی نو قعدی طرف ته دی راشي او آخر کی به سجده سهوه وکړی) او د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد پدې کی هم قیاس او استحسان دی ، استحسان دا دی چې پدې کی مونځ نه فاسدیږي او قیاس دا دی چې (مقتدی ته واپس کیدو سره) مونځ فاسدیږي او همدا مختار (غوره) دی (فتاوی عالمگیری (۱۱۵) صفحه اردو و ترجمه)) اوس ستاسو جناب په خدمت کی دا عرض دی چې عالمگیری کی فساد ته مختار لیکلی او تاسو عدم فساد لیکلی نو مفتی به قول کوم یو دی ؟ راته یې ولیکی تر څو څمونږ اشکال لری شی ، وضاحت وکړی خیر یوسی.

(جواب) دا مسئله مختلف فیها ده ، راجح دا ده چې قعدې ته واپس کیدو سره مونځ نه فاسدیږي مګر سړی خطا کار ګرځی :-
((فلو عاد الی القعود بعد ذلک تفسد صلوته لرفض الفرض لما لیس بفرض و صححه الزیلعی و قیل لا تفسد لکنه یکون مسیئاً و یسجد لتاخیر واجب وهو الاشبه کما حققه الکمال هو الحق)) (در مختار و شامی باب سجود السهو ج ۱ ص ۶۹۷) (فتح القدیر ج ۱ ص ۴۴۵ ایضاً) (مراقی الفلاح مع طحطاوی ص ۲۷۱ ایضاً) فقط والله اعلم.

ـ د وترو اول رکعت کی سورت اعلی ، دویم کی سورت الکافرون او دریم کی سورت اخلاص لوستل مستحب دی مگر همیشه والی به نه کوی:

(۳۲٦ سوال) کبیری شرح منیه کی لیکلی دی چې د وترو اول رکعت کی سبح اسم او دویم کی قل یا ایها الکافرون او دریم کی قل الله احد لوستل مستحب دی لکه چې د حضرت ابی بن کعب (رض) او د حضرت عائشه (رض) له روایت نه ثابت دی او د تعلیم الاسلام څلورمه حصه کی هم حضرت مولانا مفتی کفایت الله صاحب همدا لیکلی دی نو پدې بناء که کوم سړی د مسئلی نه واقف دی او پدې مستحب باندې همیشه عمل کوی نو کولی شی یا نه؟ او بل په رمضان المبارک کی چې وتر جماعت سره کېږي امام مسئله پوره او مکمل شان سره مقتدیانو ته واضحه کړی او بیا ورباندې عمل کوی یعنی د رمضان په ټوله میاشت کی په وترو کی همدا سورتونه لولی نو لوستلی شی یا نه؟ ایا د رسول الله نه په وترو کی لدې سورتونو څخه علاوه د نورو سورتونو لوستل ثابت دی؟ وضاحت وکړی ،

(جواب) د وترو اول رکعت کی سورت اعلی دویم کی الکافرون او دریم کی سورت اخلاص لوستل مسنون او مستحب دی د رسول اکرم (ص) نه پدې طریقه لوستل ثابت دی لیکن حضور پدې باندې همیشه والی ندی کړی لهذا پدې باندې همیشه کول زیاتی دی او لدینه د وجوب وهم او د باقی سورتونو هجران لازمیږي ، په شامی کی دی :-

((قوله بل يندب قرائتهما احياناً قال فی جامع الفتاوی و هذا اذا صلی الوتر بجماعة و ان صلی وحده يقرء كيف يشاء اه . الی قوله . و مقتضاه اختصاص الكراهة بالامام و نازعه فی البحر بان هذا مبنی علی ان العلة ابهام التفصيل والتعيين امام علی ما علل به المشائخ هجر الباقی فلا فرق فی كراهة المداومة بين المنفرد و الامام والسنة والفرض فتكره المداومة مطلقاً لما صرح به فی غاية البيان من كراهة المواظبة علی قرائة السور الثلاث فی الوتر اعم من كونه فی رمضان اماماً أولا. الی قوله . و ايضا ذكر فی وتر البحر عن النهاية ج انه لا ينبغی ان يقرء سورة متعينة علی الدوام لئلا يظن بعض الناس انه واجب اه)) (شامی ج ۱ ص ۵۰۸ باب الامامة)

او بل خای باب الوتر کی لیکي:

,, قوله والسنة السور الثلاث ای الاعلی والکافرون والاخلاص لکن فی النهایـة ان لتعیـین علی الدوام یفضی الی اعتقاد بعض الناس انه واجب وهو لا یجوز لو قراما ورد به الآثـآر احیاناً بلا مواظبة یکون حسناً بحر الخ ،، (شامی ج ۱ ص ۶۲۳ باب الوتر والنوافل)
د وترو په درې واړه رکعتو کی نور سورتونه لوستل هم مسنون دی لکه اول رکعـت کـی اذا زلزلت الارض ، دویم کی انا اعطیناک الکوثر او دریم کی قل هو الله احد ، په عمدة الرعایة علی شرح الوقایة کی دی :-
,, قوله و سورة ای سورة شاء . الی قوله . و ورد ایضاً انه کان یقرء فی الاولی سبح اسـم و فی الثانیة قل یا ایها الکافرون و فی الثلاثة قل هو الله احد ذکره الترمذی و ورد ایضـاً انه کان یقرء فی الاولی الهکم التکاثر و انا انزلناه فی لیلة القدر و اذا زلزلت و فی الثانیة والعصر و اذا جاء نصر الله و انا اعطیناک الکوثر و فی الثالثة قل یا ایها الکافرون و تبـت و قل هو الله احد ، اخرجه احمد و غیره الخ ،، (عمدة الرعایة حاشیه نمبر ۳ ص ۲۰۰ باب الوتر) فقط والله اعلم ۲۵ رمضان المبارک ۱۳۹۸ هـ

ـ تهجد ګذار لپاره هم رمضان کی وتر جماعت سره کول افضل دی :

(۳۲۷ سوال) په رمضان المبارک کی د تراویحو جماعت سره ثبـوت لیکلـو سـره ددی خبرې وضاحت وکړی چې یو سړی د شپې آخری نورانی حصه کی تهجد کوی نـو دې سره وتر د تراویحو وروسته جماعت سره کـول پکـار دی یـا جماعـت پریـدی او وتـر د حدیث مطابق د شپې آخری مونځ جوړولو سره د تهجدو نه وروسـته وکـړی ، پـه دواړو کی کوم یو افضل دی ؟ (له لندن نه)
(جواب) په رمضان المبارک کی د شلو رکعتو تراویحو با جماعت ثبوت د فتاوی رحیمیه اول جلد اردو ، انګریزی او ګجراتی ژبو کی مفصل بیان شوی دی (په نوی ترتیب کی د تراویحو لپاره مستقل باب دی په هغه کی وګوری (مرتب))
او لنډه دا ده چې رسول الله (ص) دوه شپې شل رکعته تـراویح او وتـر جماعـت سـره صحابه کرامو سره ادا کړل بیا د تراویحو فرض کیدو لـه ویـرې پرېښـودل ، حـافظ ابـن حجر عسقلانی رحمه الله د امام رافعی نه نقل کړی :
,, انه (ص) صلی بالناس عشرین رکعة لیلتین فلما کان فی اللیلة الثالثـة اجتمـع النـاس فلم یخرج الیهم ثم قال من الغد انی خشیت ان تفرض علیکم فلا تطیقونها ،،

حافظ ابن حجر ددې روایت نقل کولو نه وروسته فرمایی .
((متفق علی صحته)) ددې روایت په صحت باندې د ټولو محدثینو اتفاق دی (تلخیص الجبیر ۱ ۱۱۹)
د حضرت عمر فاروق (رض) په زمانه کی به حضرت ابی بن کعب (رض) صحابه کرامو او نورو ته (۲۰) رکعته جماعت سره تراویح ورکول د هغه وخت نه تر ننه پورې د ټولو اسلافو او اخلافو تعامل د تراویحو او وترو په رمضان کی جماعت سره ادا کول دی ، لهذا تهجد گذار شخص لپاره هم افضل همدا دی چې وتر جماعت سره ادا کړی ، جماعت به نه پریدی :
((و صلوته مع الجماعة فی رمضان افضل من ادائه منفردا آخر اللیل فی اختیار قاضی خان قال هو الصحیح و صحح غیره خلفه (نور الایضاح ص ۱۰۰ باب الوتر)
او په مراقی الفلاح کی دی ((لانه لما جازت الجماعة کانت افضل و لان عمر رضی الله عنه کان یؤمهم فی الوتر (الی قوله) و فی الفتح والبرهان ما یفید ان قول قاضی خان ارجح لانه صلی الله علیه وسلم او تربهم فیه ثم بین عذر الترک وهو خشیة ان یکتب علینا قیام رمضان و کذا الخلفاء الراشدون صلوه بالجماعة)) (مراقی الفلاح شرح نور الایضاح ص ۷۴ ایضاً) فقط والله اعلم.

ـ د وترو ادا کولو نه وروسته پته ولګېده چې د تراویحو دوه رکعته واجب الاعاده دی نو څه حکم دی؟

(۳۲۸ سوال) په رمضان کی د (۲۰) رکعتو تراویحو نه وروسته وتر وکړ وروسته پته ولګېده چې د تراویحو دوه رکعته د غلطی په وجه واجب الاعاده دی لهذا هغه دوه رکعته یې دوباره وکړل او پدې خیال سره چې وتر د تراویحو نه وروسته کولی شی نو هغه ادا کی شوی وتر به صحیح او معتبر نه وی نو وتر یې دوباره جماعت سره ادا کړ نو دا صحیح وشو یا نه؟
(جواب) مخکې ادا کړی شوی مونځ صحیح او معتبر ؤ دوباره کول ښه ونه شو ، په نور الایضاح کی دی : ((و یصح تقدیم الوتر علی التراویح و تاخیره عنها)) (یعنی د وترو تراویحو نه مخکې ادا کول هم صحیح دی او وروسته ادا کول هم صحیح دی (فصل فی التراویح ص ۱۰۵) لهذا د تراویحو شلو رکعتو نه وروسته ادا کړی شوی وتر معتبر او صحیح دی ، فقط والله اعلم.

د وترو په دریم رکعت کی چې امام سره شریک شي هغه به دوباره دعاء قنوت وایي یا نه؟

(۳۲۹ سوال) په رمضان شریف کی چې د وترو په دریم رکعت کی امام سره شریک شي هغه سړی د پاتې شوی رکعتو په ادا کولو کی دعاء قنوت دوباره ولولی یا نه؟

جواب) چا چې امام سره دریم رکعت نیولی وی یعنی د دریم رکعت په قیام یا رکوع کی امام سره شریک شوی وی هغه لپاره د پاتې شوی رکعتونو ادا کولو وخت کی دوباره دعاء قنوت لوستو ضرورت نشته :-

((و لو ادرک الامام فیَ رکوع الثالثه من الوتر کان مدرکاً للقنوت فلا یاتی به فیما سبق به (نور الایضاح ص ۱۰۰ ، ۹۹ باب الوتر) و اما المسبوق فیقنت مع امامه فقط و یصیر مدریکاً بادراک رکوع الثالثه (در مختار مع شامی ج ۱ ص ۲٦۸ باب الوتر والنوافل قبیل مطلب فی القنوت النازله))فقط والله اعلم.

ـ په رمضان کی څوک چې ماسخوتن لمونځ ورکوی ایا ضروری دی چې وتر هم ورکړی؟

(۳۳۰ سوال) په رمضان شریف کی چې کوم امام ماسخوتن مونځ ورکړی بل څوک وتر جماعت سره ورکولی شی؟

(جواب) څوک چې فرض لمونځ ورکړی وتر به هم ورکوی دا بهتر دی خو ضروری نه دی چې امام راضی وی نو وتر بل څوک هم ورکولی شی، لیکن بلا وجه دا عادت جوړول ندی پکار[1] فقط والله اعلم.

ـ تهجد ګذار وتر جماعت سره وکړی؟

(۳۳۱ سوال) تهجد کونکی په رمضان کی وتر د تهجدو نه وروسته وکړی یا جماعت سره وکړی کوم یو افضل دی ؟

(جواب) تهجد ګذار لپاره هم افضل دا دی چې رمضان کی وتر جماعت سره وکړی . په نور الایضاح کی دی : ((و صلوته مع الجماعة فی رمضان افضل من ادائه منفرداً

---

[1] و اذا جازت التراویح بامامین علی هذا لوجه جاز ان یصلی الفریضة احدهما و یصلی التراویح الآخر و قد کان عمر رضی الله تعالی عنه یؤمهم فی الفریضه والوتر و کان ابی یؤمهم فی التراویح کذا فی السراج الوهاج فتاوی عالمگیری، فصل فی التراویح ص ۱۱٦) .

اخر الليل فی اختيار قاضی خان قال هو الصحيح و صحح غيره خلافه (ص ۱۰۰ باب الوتر) (هو الصحيح) لانه لما جازت الجماعة كانت افضل و لان عمر رضی الله عنه كان يومهم فی الوتر)) (مراقی الفلاح ص ۷۴ ايضاً فقط والله اعلم.

ـ كه د ماسخوتن مونځ د فاسديدو يا بغير اودس نه كولو په وجه دوباره وكړی شو نو د وترو دوباره كول ضروری دی يا نه؟

(۳۳۲ سوال) خمونږ جومات كی امام صاحب د ماسخوتن او وتر مونځ وركوی او د تراويحو لپاره جدا حافظ دی امام صاحب پسې مو ماسخوتن او وتر وكړل مگر سحر ته د ماسخوتن مونځ فساد معلوم شو نو پدې صورت كی د وترو اعاده هم ضروری ده يا نه؟

(جواب) پدې مسئله كی د وترو راگرځول ضروری نه دی ، په مالا بد منه كی دی : مسئله : اگر عشاء بفراموشی بی وضوء خواند و سنت و وتر باوضو خواند ، همراه عشاء سنت باز خواند و اعادۂ وتر نكند و نزد صاحبين وتر را هم اعاده كند ، يعنی په غلطی سره د ماسخوتن مونځ بې اودسه وكړ او سنت او وتر يې په اودس سره وكړل نو د امام اعظم رحمه الله په نزد ماسخوتن سره د سنتو اعاده هم پكار ده او وترو اعاده نشته او د صاحبينو په نزد د وترو اعاده هم شته (مالا بد منه ص ۴٦) فقط والله اعلم.

ـ د وترو په مانځه كی مسنون قرائت :

(۳۳۳ سوال) په فتاوی رحيميه ۲۳۱/۵ ، ۲۳۲ كی تاسو د وترو په مانځه كی مشهور او مسنون قرائت (اول ركعت كی سورت اعلی دويم كی سورت كافرون او دريم كی سورت اخلاص) نه علاوه نور مسنون سورتونه هم د عمدة الرعاية په حواله سره ليكلی دی مگر د عمدة الرعاية په عبارت باندې صحيح پوه نه شوم ، لږ وضاحت وكړی جزاكم الله.

(جواب) په عمدة الرعاية كی دی : ((و ورد ايضا انه كان يقرء فی الاولی الهكم التكاثر ، و انا انزلناه فی ليلة القدر ، و اذا زلزلت و فی الثانية والعصر و اذا جاء نصر الله و انا اعطيناك الكوثر و فی الثالثة قل يا ايها الكافرون و تبت يد او قل هو الله احد اخرجه احمد و غيره الخ)) (عمدة الرعاية حاشيه شرح الوقاية باب الوتر)

پدې عبارت کی د وترو د مسنون قرائت درې صورتونه بیان کړی دی
اول صورت اول رکعت کی سورت الهکم التکاثر ، دویم کی والعصر ، دریم رکعت کی قل یایها الکافرون.
دویم صورت :- اول رکعت کی انا انزلناه فی لیلة القدر ، دویم کی اذا جاء نصر الله په دریم کی تبت یدا ابی لهب.
دریم صورت :- اول رکعت کی اذا زلزلت ، دویم کی انا اعطیناک الکوثر او په دریم رکعت کی قل هو الله احد . فقط والله اعلم.

ـ جماعت سره وتر :

(۳۳۴ سؤال) یوه بجه د میاشت د بنکاره کیدو اطلاع ورسیده او بیا تراویح او وتر جماعت سره وکړل او حال دا چې د ماسخوتن مانځه سره ځانته وتر کړی ؤ نو ایا دویم ځل جماعت سره د وترو کول ضروری دی یا اول ځل ادا کړی شوی کافی دی؟
(جواب) کومو خلکو چې وتر کړی ؤ هغوی لپاره جماعت سره د وترو کول ضروری نه ؤ البته چا چې وتر نه ؤ کړی د هغوی ځخه یو امام جوړیدو سره جماعت سره کولی شی ، فقط والله اعلم.

ـ که د وترو دعاء ورته یاد نه وی :

(۳۳۵ سوال) که چاته دعاء قنوت یاد نه وی په وترو کی به څه وایی ؟
(جواب) د دعاء قنوت یادولو کوشش به جاری ساتی تر یادیدو پوری به اللهم اغفرلي درې ځلي وايی او که دا هم نه ورځی نو درې ځلی دې یا رب ووایی:
((و من لا یحسن دعاء قنوت المتقدم قال الفقیه ابو اللیث رحمه الله تعالی یقول اللهم اغفرلی و یکررها ثلاث مرات (الی قوله) و یقول یا رب یا رب یا رب ثلاثا ذکره الصدر الشهید)) (مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص ۲۱۰ ، باب الوتر رد المختار ج ۱ ص ٦۲۴) فقط والله اعلم.

(دعاء قنوت سره درود لوستل :

(۳۳٦ سوال) یو سړی وایی چې په وترو کی دعاء قنوت سره درود شریف ویل مستحب دی ، ایا دا خبره صحیح ده؟

(جواب) او، په وترو کی دعاء قنوت پوره کولو سره اللهم صلی علی محمد و علی آل محمد لوستل مستحب دی
((و یصلی علی النبی (ص) به یفتي)) (در مختار مع الشامی باب الوتر والنوافل ۶۲۳/۱) فقط والله اعلم.

ـ مقتدی دعاء قنوت پوره کړی یا نه؟

(۳۳۷ سوال) مقتدی دعاء قنوت لا پوره کړی نه وه چې امام رکوع ته لاړ نو اوس مقتدی څه وکړی ؟
(جواب) پدې مسئله کی مقتدی به د امام پیروی کوی خومره دعاء قنوت چې لوستی وی هغه کافی ده
((و لو رکع الامام قبل فراغ المقتدی من قرائته القنوت او قبل شروعه فیه و خاف فوت الرکوع مع الامام تابع امامه)) (باب الوتر طحطاوی ص ۲۱۱) فقط والله اعلم.

ـ که دعاء قنوت پاتې شي؟

(۳۳۸ سوال) مقتدی لا دعاء قنوت نه وه شروع کړی چې امام رکوع ته لاړ نو مقتدی څه وکړی ؟
(جواب) مقتدي لا دعاء قنوت نه وه شروع کړی چې امام رکوع وکړ یا امام نه دعاء قنوت هیر شي او رکوع وکړی پدې صورت کی که مقتدی دعاء قنوت لوستو سره امام سره شریک کیدی شی نو ودې لولی او که نشي شریک کیدی نو بیا دې پریدی
: ((ایضا و لو ترک الامام القنوت یاتی به المؤتم ان امکنه مشارکة الامام فی الرکوع لجمعه بین الواجبین الامکان و ان کان لا یمکنه المشارکة تابعه لان متابعته اولی)) (طحطاوی ص ۲۱۱) فقط والله واعلم.

ـ که په وترو کی دعاء قنوت لوستل هیر شي؟

(۳۳۹ سوال) امام په وترو کی دعاء قنوت پریښودو سره رکوع وکړ نو څه حکم یې دی ؟ وضاحت وکړی خیر یوسئ.
(جواب) په سجده سهوه کولو سره مونځ صحیح کیږي ، په رکوع یا قومه کی دعاء قنوت لوستل منع دی او که ولولی بیا هم سجده سهوه کول پکار دی ، او که امام د رکوع نه دعاء قنوت لپاره ودریږی او دعاء قنوت لوستو سره دوباره رکوع وکړی نو

دا دويمه رکوع لغوه دی (ځکه چې اولنی رکوع صحیح ؤ) لهذا کوم مسبوق چې بدې دويمه رکوع کې امام پسې اقتداء وکړی نو د هغه دا رکعت نه حسابيږي:
((و لو نسيه ای القنوت (ثم تذکر فی الرکوع لا يقنت) فيه لفوات محله (و لا يعود الی القيام) فی الاصح لان فيه رفض الفرض للواجب (فان عاد اليه وقنت و لم يعد الرکوع لم تفسد صلوته) لکون رکوعه بعد قراءة تامة (و سجد للسهو) (در مختار)
((و فی الشامية حتی لو عاد و قنت ثم رکع فاقتدی به رجل لم يدرک الرکعة لان هذا الرکوع لغو)) (شامی ج ۱ ص ٦٦٧ ، باب الوتر والنوافل) فقط والله اعلم .

تمت بالخير.